همدا چې د جارو شویو عناصرو هر یو خپل اطلاعات منتقل کړه «پاک» کولی شي د هرې نوې رڼا په مقابل کې، چې پیدا کوي یې حساس شي، دغه عمل ته «لوستل» پرله پسې او یو پر بل پسې سریع پروسه ده.

یو تصویر یا کامل قاب په هره ثانیه کې (۲۵ یا ۳۰) ځله جارو کیږي؛ د ګټې اخېستونکو خطوطو شمېر د تلویزیوني سېستم په ستندردونو کې د استفادې وړ

دي؛ د سارې په توګه: 525 خطه او 725 خطه د۸۱۹خط سره تړاو لري. د هر خط يا نقطې د جارو کولو سرعت تر هغې تېز او سريع دی چې زموږ سترګه د هغې تشخيص باندې قادره ده، نو د دې لپاره هر څه، چې سترګو ته راځي د هغې د پايلې حاصل دی؛ يعنې د شکلي مستطيل مجموعه د مشخصو افقي خطونو څخه.

د تصوير د سترګې د کموالي لپاره الکترونيکي بريکه لومړی د تصوير طاق خطونه يعنې ۱، ۳، ۵، ۷ جارو کوي دغه د جارو وهلو پيدا شوې طريقه د ملاحظې وړ طريقې باندې په فضا کې د انتقال وړ څپو د استفادې وړ سپما کوي او د دې سبب ګرځي، چې ډېر زيات استيشنونه د يوه باند څخه ګټه اخلي.

د ويدويي سيګنال بيا بدليدل په تصوير باندې نسبتاً ساده پروسه ده. د آخذې د ټيوب داخلي پوسته د فاسفورسو يا فلورسنت په پوډرو باندې ککړه ده، نوموړې ماده د الکترون د ټکر په اثر تحريک کيږي او نوري فوتوګانې تشعشع کوي. يو الکتروني ټوپک په اخيستونکي ټيوب کې مشابه الکترونيکي جريان د کمرې ټيوب ته توليدوي. دغه جريان داسې ده، چې په تلويزيوني حساسه ماده باندې ککړه صفحه د کمرې د جارو کوونکي پيوب د باريکی سره همزمان د ستوډيو په داخل کې جارو کيږي، افقي او عمودي همزمانه تپي الکتروني باريکي تر خپل کنټرول لاندې ساتي.

کله چې الکترونيکي باريکه د آخذې د څراخ صفحه جارو کوي نوموړې صفحه د هغې په مسير کې روښانه کيږي، ولې د باريکي قدرت په نقطه کې تغيير کوي، د هغې نقطې رڼايی هم په تناسب سره تغيير مومي. د ويډيويي سيګنال په واسطه د تصوير ټيوب د باريکي په تنظيم سره د روښانه او تيارو نقطو طرحې

د تلويزيوني صفحې د فاسفورس پر ماده باندې رابنکاريږي، چې د صحنې د تيارو او روښنايي سره، چې د کمرې په واسطه اخيستل شوي وي متناسب دي.

نوموړی تصوير پناه کيږي او بل تصوير د هغې ځای نيسي ولې د جارو وهلو باريکه داسې سريع عمل کوي، چې زموږ سترګې د دې ځای نيونې يا ځای ناستی د تعقيب څخه عاجز دی او په پای کې موږ پرته له الوتنې يعنې پرته له ټوپ وهلو څخه واضح تصويرونه ليدلی شو.

د (A) په الکترونيکي باريکه کې د تصويري ټيوب يو ټوپک توليديږي، چې شدت يې د تصويري سيګنال په حرکت کې دی. کله چې الکتروني باريکه تصويري صفحه له يوه اړخه او يا له يوې څېرمې موازي خطوطه يو له بل سره نږدې ورسره جارو کوي دا د فاسفورس او فلورسنټ د لايې روښانه کېدو باعث ګرځي. د سيورې نمونه داخلي تصوير د رڼايۍ سره بيا رغوي. د (قاب) هر تصوير په 525 خط کې (30) ځله په هره ثانيه کې جارو کوي. په اروپا کې 625 خط (50) ځله په ثانيه کې د باند قوي او د تصوير ټوپ وهلو د کموالي د حفظ لپاره لومړی طاق خطونه او ورپسې جفت خطونه د هغوی پرمنځ کې جارو کيږي يعنې تصوير په يو او بل کې اوبدل کيږی. په ساده سيستمونو کې تلويزيون دغه په يو او بل کې اوبدل شوي تصوير تغيير مومي يو د بل سره تصادفي اوبنکاره اوبدل تصوير ته تاوان رسوي.[۸:۱۲۸]

**۹،۱- رنګه تلويزيون**

په رنګه تلويزيون کې د اخيستونکي ټيوب سطحه په منظمو نقطه يي طرحو پر درې ډوله فاسفورس باندې پوښل شوې ده، کله چې الکترونيکي باريکه د هغو سره ټکر کوي تحريک کيږي او پر درې رنګونو لکه سور، شين، او آبي باندې

تشعشع کوي دغه لومړني رنګونه بیا د نورو رنګونو سره جمع یا یو ځای کیږي او د هغو څخه پراخوالی منځته راوړي.

هر رنګ کولی شي د رڼا په مختلفو برخو لکه سور، شین، او آبي باندې تجزیه کړو، د دغې پروسې اصول تر یو حده لکه د تور او سپین تلویزیون په شان دي. د صحنې تصویر د عدسیې کمرې له لارې په دریوو جلاوو رڼا مسیرونو باندې ویشل کیږي او له دغې لارې وتلې رڼا د سرو، شنو، او آبي صافیو سره ټکر کوي، د تورې او سپینې کمرې ټیوب چې د هرې صافې شاته ځای پر ځای شوې د هر صافي شوي تصویر د رڼایی او تیارې په نسبت عکس العمل ښيي او مشابه ویډیویي سیګنال تولیدوي، نو په دې اساس د کمرې ټیوب صحنې د سور، شین، او آبي درې رنګونو اطلاع او د هرې نقطې د رڼایی مقدار عرضه کوي.

ځیني د رنګي اخذو د ځانګړو مدارونو لرونکې، چې په خپل سر او د ویډیویي سیګنال د پیچلتیاو سره چې د اخذې لېږدوونکو ته را پیدا کیږي تصحیح کوي، د صحنې دغه رنګه مدارونه په خپل سر د ځایي سیګنالونو پر اساس د عمودي فاصلې ببرته رنګ تنظیموي. (۹:۲۲۴)

1. سپینه څوکه (سرولاسیون نوکه)
2. توره نوکه
3. د تورم رنګ
4. شاتنی (د خوب ځای یا ارمګاه) د شا په درشل کې
5. د افقي خط سره ملګرې تپه
6. شاته درشل
7. د وخت جوړونکې سطحه
8. حذف کوونکې سطحه

9. پرستال
10. توره سطحه
11. سپينه سطحه، اطلاعات، تصوير د هر خط په انتها کې او هر حذف شوی ميدان او وخت جوړونکي زياتيږي.

دغه عمل تضمينوي، چې تلويزيوني سېستم له کمرې نيولې تر ټيوب او تصوير پورې په يوه وخت يو د بل سره جارو کوي، وړوکی رنګه تورم (په فريکونسی پورې اړونده د حاملې څپې لاندې) د رنګ د ځای سيګنال وړاندې کوي.

د دوفام د آيينې د څپو په واسطه ښکاره او واضح تصوير په دريوو (۳) نورو لارو باندې ويشل کيږي او سرې، شنې، او آبي برخې نوی طيف پوښوي. د کمرې ټيوبونه (۱،۲،۳) اړوند سيګنالونه ايجادوي، دغه سيګنالونه کولی شو په همدې بڼه منتقل کړو او داخلي رنګه تصوير د بيا رغونې لپاره بېرته هغوی سره راټولوي.

سره له دې د رنګه تلويزيون د وړاندې کولو لپاره چې په رنګ وهلو کې هم بيا رغول کيږي پيچلی سېستم او واسطې ته اړتيا لري. (NTSC) پال PAL يا سيکام SECAM دغه دنده د رمزګاري په وسيله او ځانګړو سيګنالونو رڼايي له دې رنګ سره حاصليږي او رنګ وهل اخذې د سيګنال روښانه اجزاوو ته ځواب وايي.

په منيتور يا رنګه اخذه کې جلا اجزاوې سرې (R)، شنې (G) او آبي (B) په يو رمز خلاصوونکې باندې بيا لوستل کيږی او هر سيګنال د الکترونيکي باريکی د قدرتونو د کنترول پورې اړونده د اخذې په تصويري ټيوب کې ورڅخه استفاده کيږي.

د ټیوب صفحه د دریوو فاسفوري (نقطه يي يا رڼايي) جدارونو څخه تشکيل شوې، چې د الکتروني باريکی سره ټکر په صورت کې تحريک کيږي او سور، شين، او آبي رنګونه راپورته کوي دغه سرې، شنې، او آبي الګوګانې ډېر وړوکي ادغام کوي او هغه د مخلوطې رنګ په صورت ګورو، چې دغه نقطې شديدې فعالې شي په سپين يا خاکستري رنګ باندې را څرکنديږي.

رنګه تصويري ځراغ درې مختلف ډولونه لري:

1. د نقطه يي نقاب ټوپک (سيوری لرونکی نقاب)
2. د دقيقو خطونو لرونکی مودل او سوری لرونکی نقاب
3. تک ټوپک رڼا کولی شو په سرو، شنو، او آبي باندې تجزيه کړو.

د دغو زياتو شويو لومړنيو رنګونو متناسب مخلوط زياتره رنګونه بيا رغوي، دغه مخلوطه غالباً د دريم رنګ صورت هم ياديږي نو په دې اساس ژېړ په آبي، ګلابي په سره او بنفش په شين باندې وي.

لاندې رنګ د سره، شين، او آبي ترکيب څخه لاسته راځي. د روښنايي عامل د هغوی کميت څخه ليرې کيږي.

1. که يوازې يو فاسفورس فعال شي نو د تلويزيون صفحه په لاندې لومړني رنګ سره ظاهريږي.
2. که دوه يا درې فاسفورس يو د بل سره ترکيب شي سوری رڼايی او متغيرې درجې د رنګ له نري کيدو څخه (د سير تغيير کول) حاصليږي؛ د سارې په توګه سو نري شوی په نارنجي بڼه يا ټينګ ژېړ= قهوه يي.

کله چې د رنګي مواردو څخه ګټه اخیستل کیږي (مرکب یا رنګ) د سطحې ظاهري رنګ په حقیقت کې رڼا ده، چې وروسته د جذب شوې سطحې څخه باقي پاتې کیږي، نو په دې اساس د مخلوطه کیدو پروسه تفریقي پروسه ده. (۲۷۵:۱۰)

**۱،۱۰- د تصویر جزئیات**

ډیر واړه جزئیات، چې په یوه تصویر کې د تفکیک وړ دي په دې ډول تعینیږي، چې یو سیستم په کوم سرعت سره کولی شي د چارو لویه پروسه کې د یوې رنګمایي څخه بلې رنګمایي ته تغییر ومومي؟ دغه تغییري نرخ د پرېکونسیو پرحسب اندازه کیږي (۴) میګاهرتز د (۵۲۵) سیستم خط لپاره (۵) میګاهرتز د (۶۲۵) خطي سیستم لپاره ټول د (ویډیو فلم) سیستمونه د تصویري جزئیاتو د محدودې د یو حد اکثر لرونکی دی. (د ښکاریدو یا د تفکیک قدرت )په تلویزیون کې دغه موضوع اساساً د یو شمیر تصویري خطوطو تر تاثیر لاندې څیړیږي. ولې په نهایت کې د تصویر ښکاریدو قدرت او یا د تصویر تفکیک د ویډیویي دستګاوو په کړنو پورې له عدسیې څخه د اخذې د تصویري ټیوب پورې تړلي دي. د تصویر په راښکاره کیدو کې نوي یا بې شمیره عوامل موثر دي، له هغې جملې څخه د رڼا اچونې تضادونه نا رابلل شوې رڼاګانې په عدسیه کې، عدسیه د اسان متن د عمل کشف، د تصویر واضح کول، د ویډیویي وسایلو ډولونه، د هغوی د استعمال طریقه او نور نو له دې کبله یو ناشفاف تصویر او نور زیات دلایل لري.

د تلویزیوني سیستم قدرت د جزئیاتو د تفکیک لپاره د «کارتهات» په وسیله ازمایل ستندرد تنظیم کیږي، چې د لاس رسی وړ اطلاعات د موندلو وړ وي او د تفکیک د سیستم زیاتره قدرت راڅرګندوي. دغه اندازه اخیستنه (یو شمیر تصویري خطونو) شمیر چې د تصویر په ارتفاع کې د تفکیک وړ دي ښکاره

وي. په ۵۲۵ خط کې معمولاً (۳۲۰) خط (۴) میګاهرتز د خپرو شوو جزئیاتو زیاتره ښکاروونکي دي، د ترلي مدار سېستم تفکیک حد اکثر (زیاد حد) کولی شي (۶۴۰) خط (۸) میګاهرتز دی. (۸۵:۱۱)

**د تلویزیوني کمرې تیوب**

لولو چې د تلویزیوني کمرې د الکترونیکي تیوب پیچلتیا یوازې په احاطه (یا دایره) د ویډیویي مسؤولینو د پام وړ ده، اما د هغې کړنې د صفحې جوړونې په اجزاوو کې د خپرونې پر تولیدي امکاناتو مستقیم تأثیر لري. د موجودو عیبونو له جملې څخه ځینې یې په دا ډول وسایلو کې ذاتي وي او ځینې نور یې د هغو د کړنو په طریقه منځ ته راځي. د تکنالوجی په پرمختګ سره د کمرې نوي ډولونو تکامل موندلی دی (۱۱۳:۱۲).

**د اورتیکون ایمېج تیوب Image Orthicon**

له ډېرو کلونو راهیسې د تور او سپین تلویزیونونو اساس ګڼل کیده. د یو سلسله فني ستونزو په وجود سره د هغې په پکار وړنه په رنګه سېستم کې یو طرف ته پرېښودل شوي دي او د کمرې ساده ترین یې په ځانګړو خصوصیاتو سره پراختیا موندلې ده (۱۴:۱۲).

**ویډیکون تیوب**

د کمرې دغه تیوب ارزان، د اتکا او اعتبار وړ دی او اوږد عمر لري او د تلویزیون په زیاتره سېستمونو کې او همدارنګه په تلویزیون او د فلم په نمایشي دستګاه کې پکار وړل کیږي د هغه کم حساسیت زیات رڼا ته اړتیا لري (۱۱۴:۱۳).

**د سربو د اکسید کمرې تیوب**

د رنګه تلویزیونونو په کمرو کې په دې ورستیو کې د استفادې وړ دی؛ حساسیت یې ویدیکون له تیوب نه زیات دی او د ثابتې رنګمایې عکس العمل لري. د هغو په لومړنیو نمونو کې، د دغه تیوب عکس العمل د سره رنګ په انتها کې ضعیف و او د تصویر د هستې په شا وخوا کې زیات دي، ولې نن ورځ د هغې نوي نومونو کې دغه ستونزه حل شوې ده (۱۴:۱۲۴).

**ساتیکون تیوب**

یو له هغو تیوبونو څخه دی، چې روښانه آینه او تارګېټ لایه یې «تلوریوم ژوسنیک سلیوم» څخه تشکیل شوې، چې نسبت د سربو اکسید تارګېټ ته ثبات لرونکی اوږد عمر لري. نومړی تیوب تصویر ډېر ښه ښکاروي او یو لاسي خیالي عکس العمل لري. البته د یادولو وړ ګڼو دا چې: د کمرې رڼا تیوبونه تر اوسه د شاملېدو او تکامل په حال کې دي، په مناسبو شرایطو کې د رڼا سطحه او تضادونو پایله به ډېره ښه وي. په داسې حال کې چې شرایط په مطلوب حد کې نوي، سره له دې، چې ممکن دی چې د خپروني محتوا د لیدونکو د پاملرنې لپاره کافي وي. ولې تصویري کیفیت د مفاهیمو د اتکا لپاره موثر وي او د خپرونې د رالویدلو موجب شي.

د کمرې د تیوبونو نور ډولونه چې طرحه شوي عبارت دي له: جالنیکون، پایسکون، نیوویکون، اوهاي منسیکون، د دیو دسیلیکون تارګېټ او د دیو ټوپک تیوب، چې زیاتره دغه تیوبونه د کمرې د مصارفو لپاره د حمل وړ پیژندل شوي (۱۵:۲۵۳) .

**۱۱،۱- د تلویزیون ستوډیو**

د تلویزیون مدرنې ستوډیوګانې مختلف شکلونه لري، د دغو ستوډیوګانو ځینې یې یوازې یوه دستګاه د فلم د نمایش (تلی سینما) او یوه تلویزیون کمره لري؛ په

داسې حال کې، چې ستړې سټوډيوګانې د پيچلو فني امکاناتو لرونکې دي، ولې يو شی، چې پر ټولو سټوډيوګانو کې سره مشترکه وجه لري هغه يوازې حاکم توليد دی، چې هغه ټول کارکوونکي او د خپرونې برابروونکي په بر کې نيسي.

دوه پوښتنې د يوې خپرونې په برابرولو کې وجود لري:

1. ايا خپرونه د راتلونکې خپريدو لپاره ثبت کيږي.
2. يا په هماغه لحظه کې په مستقيم ډول به خپاره شي؟

هغه فهم او درک، چې د يوې خپرونې د برابرولو لپاره زمونږ لپاره ځانګړې اهميت لري. په لومړي ګام کې د سټوډيو په شا وخوا کې د صحنې طراحي هنر په سترګو ليدل کيږي: (خونې يا اطاقونه) پرته له سقف څخه د دريوو ديوالونو سره بايد يعنې د يوه اوږي باغ د صحنې يوه برخه، چې په منظم ديکور سره برابر شوي دي، بيا وروسته لومړی شی، چې په سترګو ليدل کيږي د صحنې زيات ښراغونه دي، ديکور ته متصل ځوړند ښراغونه او يا هم د سټوډيو پر ورغوي باندې ځای پر ځای شوي او د دغو ښراغونو هر يو په خورا دقت سره او په دقيقه زاويه بندئ سره قرار لري او لزوماً د ځانګړي منظور لپاره پکار وړل شوي دي.

سره له دې چې د سټوډيو لويوالي او د زياتو کسانو موجوديت سره سره يو حيرانوونکی سکوت په هر ځای کې حاکم (اندک) اواز وجود لري او دا د



سټوډيو اکوستکي ديوالونو د دليل په اثر دی (۱۶:۱۷۴).

## ۱،۲۱- د تلويزيون سټوډيو او پر هغې کې موجود وسايل

د تلويزيون سټوډيو يو ستر اطاق ياخونه ده، چې د هر ډول بهرني اوازونو او اهتزازاتو نه په امان کې وي يعنې هيڅ ډول اوازونه، حرکت يا خوځښت ونه شي کولی، چې هغې ته ور داخل شي حتی که يو لوی ټانګ د هغې په ګاونډ سرک [illegible] و د هغې [illegible] خت کې [illegible] بانډې پيل کول هم لازمي دي، چې څو داني سټوډيوګانې ولرو، په سټوډيوګانو کې بې شمېره څراغونه پکار اچول کيږي، چې ځينې يې قوي رڼا او ځينې نور يې ضعيفه او متوسطه رڼا توليدوي، چې هره يوه يې د اړتيا پر بنياد پکار وړل کيږي، د دې لپاره چې نومړي څراغونه زيات حرارت توليدوي او تر حده زيات د سټوډيو د ګرموالي سبب ګرځي، بناءً په سټوډيو کې د تهويې يا د حرارت د مخنيوي مکمل الات او وسايل وجود لري، چې د هر ډول اواز د توليد څخه پرته کار کوي. د تلويزيون په سقف يعنې چت کې ځوړند وي او همدرانګه د مانيټور (Monitor) لوډسپيکرونو Loudspeakers غوږکيو Headphones او نورو مشاهده کيږي.

۱:۱ انځور: ديوې سټوډيو نما راښيي
https://www.cgtrader.com/3d-models/interior/other/virtual-tv-studio-chat-set-19



(شکل ۲:۱)https://www.flatpyramid.com/3d-models/architecture-3d-models/scenes/virtual-tv-studio-news-set-1/

د تولید د کنټرول د خونې بڼه او معماري تر اوسه یوه سلیقوي مسئله ده، په یو شمېر تلویزیوني سټوډیوګانو کې ټول خلک او لازم فني وسایل په یوه لوي اطاق کې د یو او بل په خوا کې ځای پر ځای کیږي، دغه طریقه د افرادو د نږدیوالي موجب ګرځي، ولې له بل اړخ ممکن دی دغه متفاوت فعالیتونه یو د بل سره تداخل وکړي او د مسوولیتونو تمرکز له منځه یوسي، نو له دې کبله ځینې تلویزیوني اسټیشنونه دې ته ترجیح ورکوي، چې د کنټرول د تولید لپاره جلا ځایونه د تصویر د کنټرول اطاق یا ویډیو او یا د اواز کنټرول اطاق په نظر کې نیسي.

د تلویزیون سټوډیو د کنټرول د تولید له اطاق څخه د دوه پنډو شیشو یا پنجرو له لارې لیدل کیږي، په ځیني مرکزونو کې د کنټرول اطاق یا خونه د سټوډیو څخه

لوړه سطحه کې قرار لري. هر هغه څه، چې د کنټرول په دغې خونه کې زیات تر سترګو کېږي منیټورونه دي، نوموړي منیټورونه په مسلسل ډول د سټوډیو د کمرو تصویرونه او د نورو تصویري سرچینو څخه ننداري ته وړاندې کوي. د دغو منیټورونو پرمخ کې توپیروي منیټورونه لیدل کیږي، چې د نهایي منیټور Final Monitor په نوم مشهور دي. کارګران د خپرونې د تداوم په نظر کې نېولو سره کومه، چې د برابرولو په حال کې دي هغه تصویرونه، چې له نوموړو منیټورونو څخه غوره شوي دي له مختلفو لارو هغه په نهایي منیټور کې راښکاروي. د نهایي منیټور تصویر څرنګه، چې ثبت شوی هماغسې خپرېږي او هغه لوډسپیکر، چې د کنټورل د خونې په یوه برخه کې قرار لري د خپرونې اواز ورڅخه اوریدل کیږي.

د نوموړو منیټورونو د انعکاس لپاره ستر مېز (د تصویرونو د ترکیب مېز) په نوم قرار لري، چې د هغې پرمخ زیاتې کلي یا سویچونه وجود لري او د خپرونې دایریکټر یا پروډیسر د نوموړي مېز تر شا قرار لري. د خپرونې ډاریکټر یا پروډیسر د خپرونې د وخت مسؤول د کمرې د تصویرونو یادونه عکاسانو ته کوي. د خپرونې ډاریکټر د مایکروفون له لارې د ترکیب د مېز اطلاعات او د کمرې حرکات او د افرادو فعالیتونه سټوډیو ته ورکوي، او کله پخپله د تصویرونو ترکیب د مېز سره سروکار لري او د تصویرونو د بدلولو او انتقال لپاره د مېز پرمخ د مختلفو کلیو څخه ګټه اخلي، په زیاتره مډرنو تلویزیوني سټوډیوګانو کې دا دنده نورو افرادو ته سپارل کیږي او د خپرونې د سرعت او ګټورتوب لپاره باید خپل حواس د خپرونې د پرمخ وړلو د هدایت سره سم تمرکز کړي. یو بل کس، چې ډایرکټر د غوره شوو طریقو د سرته رسولو او د تصویر د بدلولو مسؤولیت په غاړه لري دا د (ترکیب مسؤول) یا تخنیک ډایرکټر نومیږي.

تخنیکي ډایرکټر د تلویزیوني خپروني د تخنیکي کارکوونکو د فعالیت مسؤولیت په غاړه لري. نوموړی سر بېره پر تخنیکي مشورو کولی شي د کمرو په استقرار او پکار وړنه، د کمرو په تعویض یعنې بدلولو، د تصویرونو په ترکیب، د تخنیکي اړخونو تعقیب د یو مساعدې خپرونې په برابرولو، او مختلفو تصویري سرچینو ته رسیدل او نورې دندې په غاړه لري.

د تخنیک ډایریکټر د نورو تخنیکي ملګرو او همکارانو سره د یوې تلویزیوني خپرونې په برابرولو کې فعاله برخه لري.

1. د لایټ یا رڼا مدیر د یوې خپرونې د رڼا اچونې او طراحې مسوؤل دی، ځیني وختونه د ویډیویي تصویرونو پر کیفیت باندې هم نظارت کوي.
2. د صحنې طراحي، چې د صحنو د تعقیب د طرحو مسوؤلیت لري.
3. (کریمور) چې د لوبغاړو د ځېرو جوړونه تر نظر لاندې لري.

د تخنیک ډاریکټر د داخلي اړیکې له لارې یعنې (Headphone) په واسطه کولی شي د خپل ټیم د هر یو سره اړیکه ټینګه کړي. شکل

د یوې خپرونې اړوند تولیدي فعالیت په یوه خونه او دیوه مېز پرمخ صورت مومي. د تصویرونو تنظیم او نور په سټوډیو کې په بله خونه کې سرته رسیږي.

**۱، ۱۴- د تصویر د تخنیکي کنټرول خونه**

د تکنالوژۍ پرمختګ د اړیکو په اړه د تلویزیوني کمرو پر جوړښت باندې هم تاثیر غورځولی دي، نن ورځ د تلویزیون حساسو او پیچلو کمرو تنوع او تعجب لرونکي دي، په دې برخه کې د سټوډیو نه بهر د یوې خپرونې د برابرولو په اړه د حمل وړ تلویزوني کمرې د کمرې متصدي ته دا امکان ورکوي چې په یوازې توګه د تلویزیوني خپرونو تولید سرته ورسوي او تصویر او اواز یوې

بلې نقطې ته وروسوي، اما معمولاً په سټوډيوګانو کې چې د سترو کمرو څخه ګټه اخلي، نومورې کمرې عموماً په هايدروليک پايو (پرستال) او يا هم په څرخ لرونکو دريوو پايو باندې نصب شوي او څو تاريزه کېبل يې د سټوډيو د ديوالونو له لارې د تصوير اواز واحدونو (CCU) ته، چې په تخنيکي کنټرول خونه کې قرار لري وصل کيږي، په دغه ځای کې د کمرو تصويرونه تنظيم کيږي او بيا وروسته د تصويرونو ترکيب مېز ته راګرځي؛ د تصوير د توليد د کنټرول په خونه کې مناسب تصوير ثبت او د خپرېدو لپاره ورڅخه غوره کيږي، په ځينې تلويزيوني مرکزونو کې د تخنيکي کنټرول او د توليد د فرمان خونه په مستقل ځای کې قرار لري او د څو سټوډيوګانو د تصويرونو کنټرول واحدونه هلته قرار لري. شکل

د خپرونې د توليد د مسوؤلينو د فعاليت د مداخلې يا تداخل نه د ډډه کولو په منظور په جلا خونو کې د توليد کنټرول، اواز کنټرول او نورې مختلفې رڼاګانې متمرکزې وي، د منيټورونو هر يو د يوې ځانګړې تصويري سرچينې سره وصل دي ۱-۲-۳-۴- کمرې او تيلي سينما دستګاه د ويډيويي نوار نمايش (TV) ويډيويي ځلاګانې (E) د سلايډونو دستګاه (S) او (F) د توليد دستګاه يعنې د الکترونيکي حروفو يا هم د خپرونې د عنوانونو (CA) له سټوډيو نه بهر د تصويرونو سرچينه (R) د نمايش پر وړاندې يا مخکې منيټور (PV) او نهايي منيټور (L).

کارکوونکي: ډاريکټر (D) د ډاريکټر مرستيال (DA) د تصويرونو د ترکيب مسوؤل (SW) تخنيک ډايريکټر (TD) د رڼايي يا نور اچونې مسوؤل (L) د تصويرونو د تنظيم مسوؤل (V) د اواز د تنظيم مسوؤل (A) د اواز متصدي (دکسټ صفح)

دستګاوې: د صوتي خونه د خپریدو دستګاه (AT) د صفحې د خپریدو دستګاه (ګرامافون) لوډسپیکر، ساعت او د ثبت د ځراغونو شاخصونه.

د اواز د کنټرول خونه: د اواز د کنټرول خونه هم د تولید د کنټرول په خوا کې قرار لري، یوه شیشې پنجره ده. په دې ځای کې د تصویرونو د ترکیب مسوؤل د اواز د کنټرول د ستر مېز شاته ناست وي، چې پاملرنه یې د اواز د کنټرول کلیو ثانیه ګر ستنو ته وي، چې اواز لوړ او ټیټ نه شي. اواز اخېستونکی د خپرونې د اواز د کیفیت او د هغې د کنټرول د حجم او د هغې د تطبیق د نهایي تصویر سره د داخلي سېستم په مرسته د اواز سېستم (متصدي یوم) ته لاربښوونه کوي. د اواز د کنټرول په خونه کې یو بل کس د «ګرامافون» د صفحې په خپریدو او له صوتي نور سره سروکار لري، د اواز د صفحې څخه یو الوتونکی اواز اوریدل کیږي، د تقویه کوونکي صوت دستګاه او الکترونیکي واحدونو ایجاد د دغې مجموعې تکمیلوي، له بله اړخه اواز اخیستوونکی کولی شي، چې د خپرونې د ډاریکټر فرمانونه او فرمایشونه هم د تصویر او د اواز کیفیت د همغږۍ لپاره د داخلي اړیکو د سېستم له لارې واوري.

په ځینو تلویزیوني سټوډیوګانو کې د مقناطیسي ثبت لپاره جلا خونه ځانګړې کیږي په دې صورت کې غوره شوي تصویرونه د تولید د کنټرول په خونه کې وروسته د تنظیم څخه د تخنیکي کنټرول په خونه کې د مقناطیسي ثبت خونې ته منتقل او پرهغې ځای کې د پیچلو دستګاه وو په واسطه ثبت کیږي؛ البته د ثبت په یوه تلویزوني مرکز کې مختلفې برخې د تولید په برخه کې شریکې دي، د دغو برخو له جملې څخه د ګریم خونه، د دیکور هټۍ، د ګرافیک هټۍ، د فلم او عکاسۍ لابراتوار، ارشیف او نورو نومونه واخلو.

همدا ډول د تلويزيون ستر مرکز يعنې په وړوکې بڼه، چې مساحت يې (330) متر مربع طول او عرض يې د 15 څخه تر 22 مترو او د چت ارتفاع يې 9 متره وي. متوسطې سټوډيوګانې چې مساحت يې (672) متر مربع طول او عرض يې د 24 څخه تر 28 مترو او د چت ارتفاع يې 10 متره او باالخره ستره سټوډيو چې مساحت يې (1024) متر مربع او طول او عرض يې 32 څخه 32 او د چت ارتفاع يې 13 متره وي.[۷۸:۱۷]

**۱، ۱۵- له سټوډيو نه بهر د خپرونې استول**

د تلويزيون د سپکو وسايلو له پيدايښت نه وړاندې، د تلويزيون او ويډيويي خپرونو جوړونه په تلويزيوني سټوډيوګانو او د فرمان په متحرکه خونه او (سيار واحدونو) چې د ساده خپرونې لپاره ورڅخه ګټه پورته کيدله، سرته رسيده؛ ټول دغه ويډيويي ثبت امکانات په ستندر تلويزيوني کمرو باندې خپريدلې (سټوډيويي کمرو) باندې مجهزې وې، له بل اړخه د فلم ټيمونه د فلمبردارۍ په (16) ملي متره کمرو سره زياتره خبري رپوټونه او مستندې خپرونې به يې برابرولې.

د اوياومو کلونو په لومړيو کې سيال تلويزيون او راډيو پلي مرکزونو د ويډيويي ثبت وړ تلويزيوني ثبت کمرو ته مخه کړه، دا حرکت د دې باعث شو، چې د تلويزيون خپرونو توليد د زيات انعطاف څخه برخمن شي، د تکنالوژۍ سريع پرمختګ د اجتماعي تحولاتو سره يو ځای هره ورځ به يې بهترين کيفيت وړاندې کوه، په زياترو تلويزيوني خبرونو کې ويډيويي سپکې کمرې د فلمبردارۍ د کمرو ځای ناستې شوې، يو شمېر اطلاعات د تلويزيون صنعت د پکار وړنې لپاره زياتوالی وموند او هر يوه يې ځانګړی مفهوم د تلويزيوني خپرونې د برابرولو لپاره په برکې درلود.

– الکترونيکي ژورناليزم Electronical Journalism (EJ)

- د تلويزيوني خپرونو رپوټ Electronic News Report Gathering
- ورزشي تلويزيوني رپوټElectronic Sports Gathering

د اړتيا وړ الكترونيكي امكانات تر زيات حده د خپرونې په ډول پورې اړه لري د سارې په توګه امكان لري د يوې بهرنۍ ويډيويي خپرونې د توليد په همغږۍ كې بايد مجهز، كامل، د اړتيا وړ مسايل وي لكه يوه سنګينه ورزشي خپرونه.

د يوه لنډ رپوټ د برابرولو لپاره احمتالاً د زلزله وهلو لپاره د تطبيق وړ كم وزن امكاناتو ته اړتيا وي، نو په دې لحاظ په زيات ګمان راډيويي اوتلويزيوني مركزونه د خپرونې د برابرولو د سېستم لپاره پراخ امكانات په واک كې لري.[۳۵۲:۱۸]

**۱, ۱۶- د متحرک فرمان خونه (په سياره بڼه د ستوډيو نه بهر د خپرونې برابريدل اوخپريدل)**

د ستوډيو نه بهر خپرونه كې د تصوير او اواز د ثبت امكانات په سترو ټيلرو يا موټرو كې ثبت كيږي، د ثبت دغه برخه د يوه كامل تلويزيوني مركز د اواز او تصوير د كاملو امكاناتو سره وي (د تصوير د تركيب دستګاه د رڼا مېزونه د اواز د ثبت دستګاوې او تصوير، د سلايډونو د تصويرونو دستګاوې او نور) په دې برخه كې د يوې خپرونې د توليد سېستم كيداى شي تر 5 ستندردي تلويزيوني كمرې، چې د پېښې د ځاى په شا وخوا كې تيت شوې دي كنټرول كړي.

د خپرونې د ثبت دغه برخه كيداى شي د يوې موقتي ستوډيو او يا د كنټرول د خونې په عنوان پكار واچوو او يا د هغې وسايل پكار واچوو او د پېښې پر ځاى كې نصب كړو. د خپرونې محتوا د راتلونكي ثبت د استفادې لپاره د مايكرويو

د خطوطو پواسیله د تلویزیون د متسقیمې خپرونو د خپریدو (Micro View) استول کیږي. د سنګینو تلویزیوي خپرونو په برخو کې، چې له سټوډیو څخه بهر برخو کې شاملیږي دغه ځانګړتیاوې د تصویر او ثبت له امکاناتو نه برخمنې دي.[۱۹:۳۹۵]

**۱, ۱۷- له سټوډیو نه بهر د ثبت موټرونه**

د ثبت دغه امکانات د جوړولو او جمع کولو سېستم دی، چې د فرمان د یوې خونې څخه د ثبت په موټر کې تشکیل شوی، دغه سېستم کې حمل وړ کمرې، سټوډیویي کمرې، تلویزیوني ستندرد ثبت شامل دي، د موستاژ لپاره نور وسایل د تصویرونو لحظه، بیا کتنې او صوتي وسایل هم په دغو موټرونو کې وجود لري؛ خپرونه کولی شو د (2) انچه کېسټو پرمخ ثبت کړو نو بیا وروسته هغه په تلویزیوني مرکز کې مونتاژ شي او یا هغه په مستقیم ډول د مایکروویو په تلویزیوني مرکز ته واستول شي. د ثبت د موټرونو کړنې، له سټوډیو څخه بهر د تلویزیوني خپرونو برابرول، د ورزشي تلویزیوني خپرونو ثبت او د تلویزیوني خبرونو رپوټ. شکل

1. د کمرې تصویر، چې ممکن وي د لاس په واسطه حمل شي او یا هم په درې پایې باندې نصب وي او انتقال وړ وګرځي.
2. د یوه کم وزنه فرستندي د انتقال برخه بطري لرونکی، چې د هغې بورډ د (8) کیلو مترو سره په مستقیم تماس کې وي.
3. دوه طرفه کېبل د ثبت د نقلیي په وسیله.
4. د حمل وړ د ثبت دستګاه.
5. د حمل وړ پشقاب د 60 څخه تر 120سانتي متره غږ تصویرد نقلیې وسیلې څخه د فرستندي مرکزي ریلي استېشن ته استوي، د دغې وسیلې برد 16 څخه تر24 کیلومتره دي، په ځینو وختونو کې

يو الکفتر د ثبت د نقلیې وسیلې په منځ کې عنوان په واسطه او مرکزي ریلي دستګاه کې دنده سرته رسوي.

6. صوتي او تصویري سیګنالونه د ریلې د پشقابي انتنونو په واسطه د مرکزي ریلي استیشنونو څخه اخیستل کیږي او بیا خبري مرکز ته استول کیږي.
7. په خبري مرکز کې سیګنالونه تقویه کیږي
8. **د مرکزي ریلې استیشني او خبري مرکز په منځ کې دوه اړخیزه اړیکه ټېنګه وي، یعنې د خپرونې د همغږۍ لپاره[۲۰:۳۹۵].**

**۱، ۱۸- د حمل وړ وسایل**

په دغه سېستم کې د حمل وړ پوه رنګه کمره د ویډیویي ثبت د کوچنۍ دستګاه سره متصل کیږي او تر لازمو اصلاحاتو وروسته خبرونه د نهایي خپریدو او تدوین لپاره مجهزې ویډیویي ثبت دستګاه ته منتقل کیږي، ولو چې د دې سېستم تصویري کیفیت د ستندرد له حده څخه کمه وي، ولې د هغې مزایا د خبرونو په سریع رپوټ کې د ستندرد لاندې تصویري کیفیت تر شعاع لاندې راولي.(۲۱:۳۹۷).

**۱، ۱۹- سیار مرکز**

د ځینو سیارو مرکزونو ډولونه د یوې یا دوه سپکو تلویزیوني کمرو لرونکې او د ثبت د یوې وړوکې ویډیویي دستګاه لرونکي (VTR) یوه انچه وي او په خبرونو او همدارنګه د تجارتي اعلاناتو ډېر پکار وړل کیږي. خپرونه د ویډیویي ثبت دستګاه په واسطه ثبت کیږي او یا د مایکروویو د خطوطو له لارې تلویزیوني مرکز ته استول کیږي؛ سیار وسایل کولی شي د یوه فرعي واحد په عنوان د تصویر او اواز د لیږدولو لپاره د یوه متحرک فرمان اطاق ته هم پکار

راشي، د ساري په توګه، د اسپ ځغاستې او يا سيکل ځغلولو د سيالۍ پر وخت کې فلمبرداري.

**۱، ۲۰- کوچنی سيار مرکز**

دا ډول مرکزونه د اخباري سريع رپوټونو د استفادې لپاره جوړ شوي وي، يوه يا دوه سپکې کمرې او يوه وړوکې د ويډيويي ثبت، دستګاه لري، د دغې مرکز کمرې اواز او تصوير د کېبل له لارې او يا مايکروويو وړو فرستنددیو په واسطه ملاتړی مرکز ته انتقالوي، په اصلي سيار مرکز کې د نظر وړ خپرونه ثبتيږي او يا د تقويت سټېشن مرکز ته استول کيږي او له هغې ځای څخه خبري مرکزونو ته منتقل کيږي. په مرکزي سټېشن يا اصلي سيار مرکز کې صوتي او تصويري سېګنالونه اصلاح کيږي او بيا ثبت کيږي.(۲۲:۳۹۹).

**۱، ۲۱- د سټوډيو څخه بهر د يوې خپروني د اجرا څرنګوالی**

**دغه عمل کولی شو په لاندنيو طريقو سره د استفادې وړ وګرځوو:**

1. خپرونه د پېښې په ځای کې ثبت او بيا د ځانګړو پيکونو (Pek) په واسطه د تيليفون فرستندي مرکز ته استول کيږي. د سيار مرکز په راستنيدو سره به سيار مرکز ته تحويل شي. هغه طريقه، چې نن ورځ رواج لري د يوه يا دوو انفرادي کمرو لرونکې ده، چې يوه يې د ويډيويي دستګاه (VTR) نه بيله وصل ده او د تصوير انتقال په منځ کې هيڅ ډول قطع سرته نه رسيږي. په دغه طريقه کې په ويډيو او نورو پورې اړونده د مونتاژ ټول اعمال د توليد په وروستۍ مرحله کې سرته رسيږي.
2. خپرونه د پېښې پر ځای کې ثبت او د ريلې دستګاه له لارې تلويزيوني مرکز فرستندی ته انتقاليږي. په ليرې پرتو سيمو کې چې د ځمکې

لوړوالی او ټيټوالی د تصويري سيګنالونو د نقطې په نقطې د ارسالولو مانع ګرځي يعنې د اړوندو نقطو شتون لکه تپې او غرونه امکان لري، چې دا اړتيا ولري ترڅو د خپرونې تر ليږدولو مخکې تلويزيوني مرکزونه، نقطه په نقطه مناسب سيار مرکز ته منتقل شي.

3. په ژوندۍ بڼه خپرونه، د مايکروويو په واسطه (معمولاً د سپوږمکيو د استيشنونو په مرسته يا هم هليکوپټرو) په واسطه تلويزيون مرکز ته استول کيږي، ترڅو په هماغه وخت کې خپور شي. ولوچې ځينې سيار مرکزونه له کافي تجهيزاتو نه برخمند دي، ولې زياتره کوچني سيار مرکزونه لکه د تلويزيوني خبرونو د رپوټ واحدونه د خپرونې د توليد او تخنيکي کنټرول لپاره (VHF) د دوه اړخيزه په دوامداره توګه د تلويزيون مرکز سره حفظ کوي. کله، چې توليدي ټيم يا ګروپ له سيار مرکز څخه ليرې ځای پر ځای شوي وي، له دغې سيار مرکز څخه د تکراروونکو استيشنونو په عنوان د تصوير او اواز (د پيدا کيدو او انتقال) د کنټرول لپاره ګټه اخلي.

1.لومړی موضوع د ڤيدونو د همغږۍ په واسطه بررسي کيږي.

2. د ويډيو د ثبت دستګاوې په زماني رمز سره د هر ډول مونتاژ او تکثير لپاره اماده کيږي.

3. د مونتاژ په خونه کې د خپرونې مسوؤل تصويري او صوتي مواد تر خپل نظر لاندې لري او لازمي مقطع د اېډټ او حذف لپاره ياداشت کوي.

4. مونتاژ د خپرونې د مسوؤل د ياداشت په استفادې سره نوار يا کېسټ سرنوک کوي.

5. د خبرونو مختلفې برخې د کارتربج نوارونو پرمخ د خپرولو لپاره اماده کیږي.(۲۳:۲۴۰).

**۱، ۲۲- له ستوډیو نه بهر د کمرې استفاده**

**هغه تلویزیوني کمرې، چې د ستوډیو نه بهر پکار وړل کیږي، په څلورو ګروپو وېشل شوي:**

1. د ستوډیو سترې کمرې: دغه کمرې د تلویزیوني ثبت په کامله ځانګړتیا او تخنیکي او هنري ځانګړو پارامترو باندې جوړې شوي.
2. سترې د حمل وړ کمرې: د حمل وړ دغه کمرې په مناسب حجم سره غالباً له متنوعو تجهزاتو نه برخمنې وي، چې د هغو بر وسیع کوي د مختلفو سېستمونو لرونکې، عدسیه او نما پیدا کوونکې دي. سترې د حمل وړ کمرې د ستوډیو په داخل کې او د ستوډیو نه بهر خپرونو لپاره د استفادې وړ دي.
3. سپکې کمرې: دغه کمرې په ستوډیو کې د بهرنیو ګزارشونو (رپوټونو) او خبري خپرونو لپاره په هغه موقعیتونو کې، چې لايې د حمل 69 کمرو لپاره اړتیا ده طرح شوې دي.
4. وړې د حمل وړ ارزان قیمته کمرې: دا ډول کمرې د کیبلي تلویزیون په منظور او حتی د ځینو هغو خپرونو لپاره، چې له ستوډیو نه بهر کار کوي جوړې شوې دي.
   1) درې پایه د پام د شا پرمخ
   2) د کمرې ځانګړی برج
   3) سپک وزن پرستالونه
   4) سپکه درې پایه.
   5) د لاس په ذریعه د حمل وړ کمرې

6) هایدرولیک سکوګانې په نقلیه وسایلو پورې متصل (وصل)
7) هلیوکوپټرونه.(۳۹۹:۲۲).

**د تلویزیوني خپرونې په تولید کې د درې ډوله اېډېټ سره مخامخ کېږو:**

1. د خپرونې ثبت سره همزمان ویډیو ایډیټ (د خپرونې په جریان کې د تصویرونو ترکیب).
2. د ویډیویي کېسټ (نوار) ایډیټ د تولید څخه وروسته مرحله کې.
3. د فلم تدوین

**۱، ۲۳- د ایډیټ ماهیت او اهمیت**

**ایډیټ په لاندې مواردو پورې اړه لري:**

1. د یوې نما تغییر بلې نما ته او د هغې د وخت څرنګوالی.
2. د تصویر د وخت تغییر، سرعت او طریقه.
3. د نماګانو د طول ترتیب.
4. د تصویر او اواز د مناسب تداوم حفظ.

دغه مواد د خپرونې د تغییر څرنګوالی او جذابیت باندې مستقیم او د تشکیل شویو عواملو احساسي تاثیر لري.

**د «هرتس» له هنري نظره، د مونتاژ بالقوه توانایي او امکانات ډېر پراخه دي:**

1. یوه تلویزیوني خپرونه کولی شو په یوې کمرې سره برابره کړو، او بیا وروسته هغه د ماهرانه مونتاژ په واسطه نامحدوده تنوع یا رنګارنګي سره لیدونکي ته زماني او مکاني تغییرات القأ یا راونغاړي.

2. مونتاژ په دې باندې قادر دی هغه پېښې، چې په متفاوتو زماني او مکاني تغییراتو کې پېښیږي د یو او بل په مقابل کې ځای پرځای کړي اوهمدارنګه مونتاژ کولی شي د ښکارولو په وخت تړلي وښيي یا هغه لنډ کړي.
3. مونتاژ کولی شي خپرونې ته اطلاعات ورداخل یا یې له هغې څخه حذف کړي، دغه ځانګړنې په مختلفو بڼو را ظاهریږي. اصلاح یا حذف یا سانسور، د بل ایډېټ له طرف کیدای شي، چې اړین او اضافي موارد په (مسلسل) ډول یو اړخ ته پرېږدي. ایډېټ د دې وس لري، چې ترڅو دوه کاملاً متضاد فکرونه او یا غیر مترادف د یو او بل په خواکې ورته کیږدي.
4. ایډېټ د صحنې د عواملو په منځ کې متقابلې اړیکې ایجادوي. هغه اړیکه، چې ممکن هیڅ وجود ونلري.
5. ایډېټ هغه عامل دی، چې د غوره کولو پر اساس او دغه غوره کولو د کیفیت د څرنګوالي پر اساس، چې کولی شي د لیدونکي عکس العمل او تاثیر د پېښو څخه تر تاثیر لاندې راولي.(۲۴:۱۰۹).

**۱، ۲۴- د تلویزیون ډاریکټراو ایډېټ**

د فلم جوړونې په صنعت کې ایډیټر یو متخصص او د هغه ملګري یې د ایډېټ د تکتیک اجرایي مسوؤلیت په غاړه لري. هغوی د فلم تر ایډت وروسته نهایي پایله د بررسي او تعقیب لپاره کارګرانو ته وړاندې کوي او تر هغې وروسته نهایي ایډت وروسته د تولید مرحلو څخه د نمایش لپاره برابریږي.

د تلویزیون په صنعت کې ډایرکټر همزمان د خپرونې ایډیټور دی، په ځانګړي توګه که هغه د خپرونې د ثبت په وخت کې د تصویرونو د ترکیب پر میز کار کوي.

په زیاتره تلویزیوني خپرونو کې حتی کله، چې د تصویرونو د ترکیب مسوؤل یا تخنیک ډاریکټر د خپرونې د ډاریکټر تر نظر لاندې دنده لري، دغه دنده کولی شي، د ایډیټ پروسه د ثبت پر جریان کې او یا په بل عبارت په هغې (لحظه) کې کامليږي؛ ځرنګه چې دوه ځلي ایډیټ کیږي، نو د ویډیو پرمخ باندې اړتیا باید چې یوازې او یوازې تکمیلي او اصلاحي اړخ ولري.

په دې ترتیب د مناسبو نماګانو واردول او یا د غیر اړینو لحظو حذف کول د ژوندۍ خپرونې په برابرولو کې چې د ثبت په وخت کې ډایرک خپریږي د نظر وړ لاس رسی، او د حساسیت لرونکو اعمالو سرته رسول د زیات حساسیت لرونکي دي.

د تلویزیون ډایرکټر د یوې خپروني په برابرولو کې مختلفې طریقې لري، د هغو ځیني د تصویر په علامو اېښودلو سره، د تصویر ټول انتقالات تعینوي او ځیني نور بیا د تصویر د لیږدولو طریقه او ایډیټ د تمرین په وخت کې مشخص کوي او یا هم د ثبت او خپرېدو پر وخت کې په دې برخه کې تصمیم نیسي.

د تلویزیون ډایرکټر د تصویري منیټورونو په دوامداره کتو سره، چې د سټډیو د مختلفو سرچینو تصویرونه ښیي، د خپل نظر وړ تصویر په مناسب وخت کې غوره کوي او یا د تصویرونو د ترکیب د مېز کم فشار سره هغه اصلي ځای ته لیږدوي، امکان لري چې نماګانې مخکې تر مخکې په دقیقه توګه تعین شوې وي او یا هم د تصویر اخېستونکو کمره مینانو په واسطه غوره شي او پر همغه وخت کې د ویډیویي فلم څخه ګټه اخیستل کیږي، هغه د ثبت پروخت کې په دقیقو محاسبو سره هغه وخت یې د خبر د تداوم مسیر ته واردوي یا بیا وروسته د ثبت ختم څخه د ثبت وخت ورزیاتوي.

له هغه ځايه، چې منيټورونه، د تصويرونو ليږدول په دايمي توګه تصويري سرچينې ننداري ته ږدي، د ټولو کمرو حرکتونه او مختلفې تصويري سرچينې، د تماس په کال کې فلمونه او نورې برخې د ليدلو وړ دي او ډايريکټر د خپل زړه په خوښه انتخاب سره د تصويرونو له دغې مجموعې څخه د خپرونې جوړولو ته روح ورکوي، له بلې خوا ډايريکټر د خلکو په هدايت سره او د غوره شويو تصاميمو او موجودو انساني عواملو په همغږۍ سره د تلويزيوني خپرونو په جوړونه کې خپلې موخې ته رسيږي او اهميت بايد لاسته راوړي، د تلويزيوني صنعت د پيدايښت په لومړيو کې، خپرونې په ژوندۍ بڼه خپريدې، په دې ترتيب هغه تصميمونه، چې ډايريکټر د ثبت په جريان کې د بېرته راګرځيدلو وړ نه وي.

د مقناطيسي کېسټو پر مخ د ثبت په راتللو سره، د تلويزيوني خپرونو په برابرولو کې مختلف تکتيکونه ممکن شول، چې د ژوندۍ خپرونې په برابرولو کې غير عملي وه، د دا ډول طريقې ښودل د ويډويي نوار (کېسټ) په امکاناتو او پراخوالي او پيچلتيا پورې اړه لري، مختلفې طريقې، چې د تلويزيوني خپرونې په برابرولو کې د استفادې وړ ګرځي عبارت دي له:

1. د خپرونې مستقيم ثبت: په دغې تلويزيوني طريقې کې د مقناطيسي کېسټ پرمخ په کامل ډول ثبت صورت مومي، مقناطيسي کېسټ (ويډيو) د مستقيم ثبت او مسايلو په عنوان پکار وړل کيږي تر څو د هر ډول خپرونې طرحه کول د بيا خپرېدو لپاره د هغې په نهايي بررسي سره مکمن شي، د ايډېټ دغه طريقه د تصويرونو د ترکيب د مېز پر مخ د خپرونې د اجرا کولو په وخت کې سرته رسيږي او خپرونه د نوموړې مرحلې په پای کې د خپرولو لپاره اماده کيږي.

2. دوه ځلي برداشتونه: د تلویزیون په دغه طریقه کې په معمولي ډول لومړی د کېسټ پر مخ ثبت صورت مومي، ولې هغه برخې، چې د شکلونو لرونکي دي د لوبغاړو په اجراء کې د خپرونې د تخنیکي مسایلو برابرول خپرونه بیا ثبت او د غیر ضروري خپرېدو ځای نیسي د تکراري ثبت برداشتونه او عملي د هغوی ځای نیول لازمي دي، چې ایډېټ یې وروسته له ثبت څخه راشي، د سارې په توګه د نماګانو په داخل کې سرته ټکان ورکول د مخالف یا موفقیت په علامو د اړتیا وړ عکس العمل نماګانو ته وي.

3. ناپیوسته ثبت: د تلویزیوني خپرونې په دغه طریقه کې په مختلفو فعلونو او نماګانو باندې وېشل او هر یوه یې په جلا توګه ثبت کېږي کله کله ځو برداشتونه د یوې پېښې څخه ثبت کېږي او ډاریکټر یوه متناسبه نما د هغو له منځ څخه غوره کوي، د دغو فعلونو طول یا نماګانو ته تغییر ورکوي، د تصویرونو د ترکیب د مېز پر مخ سرته رسوي، بیا وروسته ویډیویي کېسټ د ایډېټ پر وخت کې فعلونه اوغوره شوې برخې ممکن دي، د ځو نماګانو سره شامل وي، په ترتیب سره د یو او بل په څنګ کې قرار لري ترڅو خپرونه کامله شي، همدارنګه په دغې برخه کې د خپرونې صوتي ځلا د اصلاح وړ ده او کیدای شي مختلف اوازونه (د متن لپاره موسیقي) او صوتي اثارو د مختلفو صوتي کېستونو څخه ویډیویي کېسټ ته منتقل کړو، له بلې خوا ځانګړی تصویري انعکاس د ایډېټ شوي کېسټ پرمخ اجراء کېږي.

4. د یوې پارچې ثبت تصویري سرچینې: په دې ځای کې د هرې تصویري سرچینې وتل (VTR) د مقناطیسي ثبت دستګاوو سره په

جلا توګه وصل کيږي، نو په دې لحاظ عملاً د ترکيب مېز د تصويرونو څخه ګټه اخيستل کيږي او د تصوير ټول انتقالات د ايډېټ په مرحله کې تر ثبت وروسته سرته رسيږي. د ايډېټ په دغه طريقه کې ويډيويي کېسټ د کمپيوټر د پيچلې دستګاه په مرسته، چې د مقناطيسي ثبت له دستګاه سره وصل ده، سرته رسيږي، نو له دې کبله د خپروني د جوړوني د ايډېټ عمليه په دقيقه توګه محاسبه شوې او د الکترونيکي پېچلو دستګاوو موجوديت ته به اړتيا ولري.(۲۵:۳۲۲).

**۱، ۲۵- په کلي توګه د تلويزيون په خپرونو کې درې ډوله ايډېټ پکار وړل کيږي**

**په تلويزيون کې د قطع عمل**

قطع د تصوير د انتقال ساده بڼه ده، د دوو موقعيتونو کړني بلا فاصله يوه د بل سره په اړيکه کې وي، ناڅاپي تغيير سريع او قوي تاثير تدريجي تغيير په ليدونکي کې لري، نو له دې کبله د زيات طاقت لرونکي دي، په څو دلايلو يې بلې نما ته قطع کوو:

1. د تاکيد لپاره
2. د هدايت يا پاملرنې لپاره، له موضوع څخه متفاوت لوري ته.
3. د موضوع د حرکت په وخت کې د ځانګړو ديدګاوو د حفظ لپاره.
4. د نما د طولاني کېدو د مخنيوي لپاره.

قطع لکه د نورو توليدي کړنو په شان بايد د موخې لرونکي وي، يوه قطع پرته له علت څخه د تصوير پر دوام له وقفې سره مخ کوي او کيدای شي، چې مخکې نماګانې په کاذب ډول منځ ته راوړي، ولې ځيني نور بيا په دې عقيده دي، چې مخکې قطع د عملي تصوير ته ورته دي، چې د انسان سترګه يې د موضوع د

تغيير په وخت کې او د ليدلو په وخت يې سرته رسوي ولې دا بايد ذکر کړو، چې نومورې دوه عمليې يو او بل ته څه ورتوالی نه لري؛ دا ځکه، چې د انسان سترګه په کاملې پوهې سره د محيط شا او خوا ته حرکت کوي او له دې سره يو ځای په درستي سره جهتونه پيدا کوي.

**قطع:** پاملرنه د يو ځای نه بل ځای ته منتقل کوي، نو په دې اساس ليدونکی اړ دی، چې د هرې نوې نما دوام ورک او تغيير کړي، نو په دې اساس په سريع قطع کولو کې، د تصويرونو ذهني تعقيب د ليدونکي په واسطه به ستونزمن کار وي. په هغو ځايونو کې، چې نماګانې کاملاً نامشابه يو د بل سره قطع کيږي، نو ليدونکي به د نماګانو د اړيکې د تداوم د ستونزو له درک سره مخامخ شي.

**په څو طريقو سره کولی شو، چې له مخکې نماګانو سره اړيکه ټينګه کړو:**

1. ويل: پېژندل يا راتلونکې نما ته اشاره.
2. پېښه: د علت او معلول د اړيکې برقرارول.
3. ورته موضوع: (شخص) په هرو دوو نماګانو کې.
4. صوتي تداوم. (۲۶:۲۲۶).

**۱، ۲۶- د تصوير تدريجي پيدا کول او محوه کيدل (ښکاره کيدل او پټيدل)**

**د تصوير تدريجي پيدا کيدل:** نومورې مرحله د پېښې د ادامې لپاره سريزه رامنځ ته کوي، که دغه تدريجي پيدايښت د تصوير د تلويزيون پر صفحه ورو وي نو دا د يوې مفکورې د پيدا کيدو ښه القاء کوي يعنې رانغاړي، د تصوير سريع پيدا کيدل لږ غوندې ورو د عمل قطع رامنځ ته کوي.

**د تصوير تدريجي محوه (پټېدل):** د تصوير سريع محوه او سريع انتقال په توروالي سره لکه د پېښې د پای لپاره پکار وړل کيږي، په داسې حال کې، چې د تصوير محوه په ورو توګه پېښې ته په ارامۍ سره د پای ټکی ږدي.

**تدريجي محوه او را پيدا کيدل د تصوير (ورکيدل او ښکاره کيدل):** د دې طريقې د دوو فعلونو پيوند د پېښې په تګ لارې کې وقفه رامنځ ته کوي، د آهنګ حالت او ضرب په نسبي سرعت سره د تورروالي زمان او عمل د هغو په منځ کې اړيکه لري، کولی شي د تصوير د دا ډول انتقال څخه د دوو فعلونو د اتصال دوام، اهنګ د ضرب د وخت لپاره، چې مقصد يې د زمان تغيير په مکان کې دی ګڼه واخلي، د داسې دوو محرک څخه ډکې صحنو د انتقال په منځ کې، چې په وقفه يي توګه عمل کوي، چې د دايمي پېښې په پېښېدو باندې تاکيد کوي؛ څرنګه، چې دوې مرحلې د پېښې د پای لپاره قطع او د پېښې د پيل لپاره قطع وقفه يي لاسته راشي، بل شی به نه وي يوازې د يوې نما د حذف يا لابراتواري اشتباه تغيير به وي.

1. د قطع ترکيب، د نوې نما تدريجي پيدايښت باندې تاکيد کوي.
2. د قطع او محوې ترکيب د بصري تاکيد حالت لري او معمولاً د ولاړو نماګانو د يوې برخې څخه ګټه اخيستل کيږي لکه: تصويري لوحه او نقاشي.(۳۲۷:۲۳).

**۱، ۲۷- يو او بل ته تيرېدل د يوه تصوير تدريجي محوه کول په بل تصوير کې**

د دوو تصويرونو تيرېدل دا په حقيقت کې د دوو تصويرونو پيدا کيدل او محوه کيدل په يوه وخت کې دي، يو تصوير محوه يا نابوديږي او بل تصوير را پيدا کيږي، په مرحله کې دوه موجود تصويرونه په يوه لحظه کې پر يو بل باندې برابر او په يوه وخت کې د لېدلو وړ دي او بيا وروسته په زيات ښکارېدو سره يو په بل پسې محوه کيږي، د دوو تصويرونو تيرېدل يو له بل څخه د تصوير د نرم انتقال څخه دي، چې د پېښې په بصري سير يا تګ لوري کې وقفه منځ ته نه راځي، د تصويرونو سريع تيرېدل د يو او بل څخه معمولاً د پېښې په نژدې کولو دلالت کوي.

(موازي پېښنه) کله، چې د یو بل څخه په تیرېدو کې ورو یا سست والی راشي نو په زمان او مکان کې توپیرونه رانغاړي؛ معمولاً د دوو تصویرونو تیرېدل یو له بل څخه د متوالي نماګانو د پرتلنې لپاره وړل کیږي.

1. سریع یا تېز تیرېدنه.
2. سلو یا ورو تیرېدنه.

**۱، ۲۸- سریع قطع**

په لومړۍ مرحله کې د مختلفو نماګانو د قطع اندازه د تصویرونو د انتقال موخې، انګیزې، د نماګانو تداوم او تطبیق پورې اړه لري؛ سره له دې، چې زیاتره د تصویرونو د ترکیب مېزونه د تصویر د سریع قطع کولو لپاره او د زیاتو امکاناتو لرونکي دي، ولې له بصري نظره د داسې عمل انعکاس ازارونکی دی او ډېر محدوده پکار وړنه لري؛ له بل طرفه د یوې صحنې نماګانې سریع قطع په یو او بل کې د نویو تصویرونو سره مخ کیږي او ډاریکټر اړ وي، چې ورته او یا تکراري تصویرونو څخه ګټه واخلي.

د تصویرونو د سریع قطع عمل د پیوسته پېښنو په منځ کې تولیدي ټیم کیدای شي تر فشار لاندې راولي، دا ارقام د خپرونې په تولید کې ستونزه نه حلوي.

د تلویزیون په ثبت کې لکه فلم، د قطع د سرعت هر ډول امکانات وجود لري، لکه څومره، چې لحظه یي امکانات یعنې اجراء شوی تصویر انتقالات د تصویرونو د ترکیب د میز په منځ کې کم وي او اضافي نماګانې راتلونکي ایډېټ لپاره لنډې وي، د ویډیویي کېسټ ایډېټ به دقیق وي ولی زیات وخت ته به اړتیا ولري.(۲۷:۳۲۹).

**۱، ۲۹- د تصویرونو د ترکیب میز**

په لومړي سر کې د تصویرونو د ترکیب مېز پېچلې دستګاه په نظر کې راځي مختلفې طرحې او نمونې د اوس لپاره ورڅخه د تلویزیوني تخنیکي کړنو لپاره ګټه اخېستل کیږي.

**۱، ۳۰- د تلویزیون د ترکیب مېز د مختلفو برخو لرونکی دی**

1. هغه تجهیزات، چې د هغو په مرسته کولی شو، چې د تصویر مختلفې سرچینې یو او بل ته (قطع) یا سوتېچ کړو یا هغه یو له بل سره یو ځای کړو، د نظر وړ تصویر غوره کول د ثبت لپاره او یا هم د هغې غوره کول د خپرېدو لپاره.
2. د بټنو قطارونه د تصویر د انتقال لپاره په مخکې لېدونکو منیټورونو کې نوموړي منیټورونه د ټولو تصویرونو د ښکاره کولو لپاره دي، چې د ټولو تصویرونو بررسي، د نماګانو ترتیب او لیدل پکې سرته رسیږي.
3. ځانګړې برخه، چې (ویډیویي) تصویرونو ته انعکاس ورکولو ته ځانګړې شوې وي او د هر ډول نماګانو تجمع او تغییر د رامنځ ته کېدو امکان لري، لکه د تصویرونو رایپ کول، استرت کول په خپرونه کې.
4. له لېرې لارې څخه د کنټرول احتمالي امکانات، د سلایډونو نمایشي دستګاه، د فلم نمایشي دستګاه، تیلي سینما، د ویډیو د ثبت او خپرولو دستګاوې (له سرچینو څخه د تصویرونو د مخکې او شاته وړلو، توقف په لاره اچول سرچینې څخه).
5. د خپرونې په منځ د عنوانونو ورداخلولو امکانات، ترکیبي رنګونه او نور.

6. هغه برخې، چې غوره شوې مجرا ښکاره کوي او پر کمرې پورې اړوند څراغونه، او د تصویر منیټور، د (فرمان څراغونه) روښانه کوي.(۳۰۱:۲۸).

**۱، ۳۱- د تصویرونو د ترکیب میز اصلي کړني**

**د تصویرونو د ترکیب د مېز اصلي برخې په لاندې توګه دي:**

1. **قطع او سوتېچ:** د تصویر تدریجي محوه، تصویر پیدا کېدل، د تصویر تیرېدل، او تصویري سرچېنو یو له بل سره ښودل.
2. **د سرچینې زیاتوالی او کموالی ښودل د تکمو یا اړوند د لاستې په واسطه:** (فیل لاستی او د یو او بل څخه د تیرېدو لاستي).
3. **د تصویونو سرچینې د مجموعې په منځ کې قطع:** د تصویرونو د ترکیب مېزونه په مختلفو ډولونو او اندازو او پېچلتیاو او مختلفو امکاناتو سره وجود لري، د تصویرونو د ترکیب د مېز اساسي امکانات عبارت دي له: د قطع تکمي سوتېچ، چې د متقابلو تصویري قطع منځ ته راوړي، د تصویر ترکیبي قید لاستي، چې د هغې په مرسته کولی شو د تصویري سرچینې وروستي تصویر یو د بل څخه تېر کړو او یا یو یې محوه کړو او بل رامنځ ته کړو.

د تصویرونو د ترکیب میز رایجه بڼه، دوه خطه، څلور خطه، په تکمه یي ردیف یوه د تصویر سرچینه دوه چنده وي، په ځیني نویو طرحو کې د تکمې یا سوتېچ د هر ردیف لپاره د ترکیب مسؤول کولی شي د پیچلي تصویر انعکاس د هغې حافظې ته ورکړي او کله، چې لازم وګڼي ورڅخه ګټه پورته کړي.

د تصویرونو د ترکیب دا ډول میز د تکمو د قطارونو لرونکی لکه A-B او C-D وي، دغه حالت کولی شي د کمرې د تصویرونو ترکیبات

په یو لړ تکمو کې لکه A او B کې تنظیم کړي او همدارنګه په دویم لړ کې د C او D تکمې، چې د قطعي په اعمالو سره او یا هم د تصویرونو د یو بل څخه د تیرېدلو همکاري سرته ورسوي، قید لاستی په نوموړي مېز کې د دوه سري یا دوه سره لرونکي کلي ګانو تصویري پایله یو او بل ته پوهوي.(۲۹:۱۳۰۱).

**۱، ۳۲- په تلویزیون کې د ایډېټنګ د مراحلو اساسات**

1. **غوره کول:** په (Editing) کې مطلب په دې برخه کې په دې معنا دی، چې ترڅو هغه مطالب، چې غواړو ویې کاروو او یا هغه مطالب، چې نه یې غواړو ویې کار وو غوره کړو، چې که زموږ غوره شوي مطالب د خوښې سره مطابقت ولري نو پکار ده، چې په زړه پورې صحنه یا شات له معنا ډک منسجم او معتبر غوره کړو.
2. **پیوستول یا اړیکه ورکول:** د مطالبو تر غوره کولو وروسته باید په داسې ډول وصل یا اړیکه ورکړل شي، چې د وصل توکو یو تسلسل او یوالی په مفهوم کې وي او د هغې تأثیر ولیدل شي، هر تصویر او هم اواز باید د یوې معنا او مفهوم لرونکی وي، وروسته تر هغې کله، چې د ایډېټنګ مرحلې ته ور داخل شو نو په نتیجه کې باید د دوو عنصرو او مطالبو په منځ کې باید جوړښت او ترکیب وي، ترڅو یو ځانګړی جریان رامنځ ته شي او د تولید د یو کلي معنا او مفهوم باعث شي، دا د دې لپاره هر کله، چې د یو مطلب او یا د یوه قسمت یوه برخه په یوازې توګه واخېستل شي پرته له معنا به وي.
3. **د یو سلسله وضایحو یو ځای کیدل د ایډېټنګ په اړیکه کې:** د یو واضح تسلسل رامینځته کیدل داسې دي، چې یو راډیویي او تلویزیوني پروګرام او یا یو فلم د مختلفو مواردو او عناصرو څخه جوړیږي.

پکار ده، چې نوموړي مواد Edit شي؛ کله چې ایډېټ شول نو یو احساس او اړیکه ایجاد شي نو په داسې حال کې باید منتاژ هم دغه احساس په ځان کې ولري، نو دلته دي، چې لېدونکي او اورېدونکي احساس وکړي، چې مواد او عناصر په زیاتې همغږۍ سره ایډېټ شوي او صحي او درست حالت کې قرار لري، په اړه یې تاسو کولی شئ چې مختلفې لارې او چارې د مطالبو د بیان لپاره که غواړئ یې چې وایې ورئ پیدا کړئ.

**4. د Editing نقش او رول:**

A. سبب معنی او مفهوم کیږي.

B. سبب احساسات او هیجان کیږي.

C. د لېدونکو او اورېدونکو په فهم او درک کې مرسته کوي.

D. د اورېدونکو او لېدونکو توقعاتو ته ځواب ورکونکی کیږي.

**5. په درک او فهم کې مرسته کول:**

په خپرونه کې د Editing په کار وړنې سره د اورېدونکو او لېدونکو لپاره دا آمر د دې باعث ګرځي، چې په نتیجه کې به د خپرونې درست فهم د ځان سره ولري، لاندې الفاظ په یوې خپرونه کې د ورستیو او صحي لاسته راوړنو او توقعاتو ځواب ویونکي دي او د ایډېټنګ پر وخت کې باید ورته پاملرنه وشي:

1) د خپرونو د پیل او ختم لپاره د صحنو او یا shot غوره کول.

2) د هغه شي ارایه کول یا وړاندې کول، چې لیدونکي د هغې د پوهېدلو لپاره اړتیا لري.

3) د خپرونې په پیل کې باید د زیاتو جزیاتو څخه ډډه وشي.

4) په مشخصه لحظه او وخت کې د صحي او درستو معلوماتو وړاندې کول د (اسکرپټ مطابق).
5) د لیدونکي لپاره د کنجکاوۍ ارزول.
6) اډیتور باید په راډیو او تلویزیون کې اواز، تصویرونو او ځانګړو افکټونو د تأثیر په اړه فکر وکړي.
7) اډیتور د خپرونې لپاره زیاتو جزیاتو ته باید پاملرنه وکړي.
8) د TV په خپرونو کې د ایډېټنګ غوره شوي عناصر د پلان سره سم یو د بل سره یو شي او ترتیب ورکړل شي.
9) د دغو پوښتنو له پیل نه مخکې اډیتور، پروډیوسر او کارګردان باید ورته ځواب ورکړي، چې څه غواړي؟ څه ډول یې غواړي؟ او په څه ډول یې سرته ورسوي؟ ترڅو په یوه خپرونه کې درست مقاصد او محتویات ځای پر ځای شي.

**د راډیو په کار کې څلور عمده شیان اړین دي، چې هغه باید په تخته ولیکل شي:**

1. تصویر.
2. اواز.
3. متن.
4. د دوام وخت.

**د تلویزیون د مونتاژ پکار کې کوم اړخونه باید په نظر کې ونیسو:**

الف: د خپرونې نه مخکې د څه ډول Shot یا صحنې پوهیدل.

ب: د خپروني لپاره درسته مطالعه او موادو پېژندل په دقيقه توګه، د پيغام لپاره مناسب انتخاب چې غواړو يې ورسوو اماده کړو.

ج: د هر شاټ محتويات په دقيقه توګه مطالعه کړو ترڅو منظم ترکيب جوړ کړو.

د: د مغلقو او ساده شاټونو توپير کول.

هـ: د شاټونو منتاژ يو تخنيکي عمليات نه دي، بلکې پر يوې خپرونه کې بنسټيز رول زمان او فضأ لري.

و: فضأ، وخت، د ګرافيک ترکيب، صحنې، د اواز ترتيب او د صحنې طراحي د مونتاژ پکار کې بنسټيز رول لري او د مونتاژ پکار کې زده کول (القاء) خپرونې ته رنګارنګي وربښي.

ز: د غم، خندا او ترحم د موضوعاتو پيدا کول د مونتاژ پروخت کې.(۳۰:۲۷۵).

**ولې صحنو ته تغيير ورکوو؟**

A. د مونتاژ پر وخت کې د مثبتو او منفي نقطو د واضح کولو لپاره.
B. د تازه معلوماتو ارايه يا وړاندې کول.
C. د مونتاژ پروخت کې د مختلفو زاويو څخه د يوه حقيقت ښودل.
D. څرنګه دوه مختلفې نظريې په اړيکه کې کوو.
E. د فکري نظرياتو په واسطه تعجبورو مسايلو ته د لېدونکو پاملرنه د بيا لپاره جلب کول.

## ۱، ۳۳- د مونتاژ قوانین

A. لیدونکی باید د څېرې ارتقاء په داسې ډول تعقیب کړي، چې داسې احساس رامنځ ته نه شي لاره قطع شوی وي.
B. لیدونکي باید مضطرب یا پریشان نه شي، هغه باید د داستان د تسلسل او صحنې څخه خوند واخلي.
C. په یو او بل کې د حرکاتو اړیکه د تسلسل احساس ورکوي، لیدونکي باید دا احساس ونه کړي، چې حرکت پرته له فساد یا تباهي څخه جریان لري.
D. د دوو شاټونو پرمخ کې د تسلسل ساتل.
E. په فضأ او زمان کې د لیدونکي د موقعیت تعین.

**Cutaway:** د قطع د هر عمل لپاره یو ډول قوانین پکار وړل او استعمالیږي. Cutaway باید داستاني تسلسل حفظ کړي او باید په تعادل کې وي او لاندې موارد په دې موضوع کې ارزښت لري.

a. د سهو تفصیلاتو ښودل.
b. د ښه مونتاژ عمل باید، چې احساسات راوپاروي.
c. د ماتو تاثیراتو او تسلسل نه باید ګټه واخلو.
d. د یوې اړیکي ایجادول د تصویر شاټ او د جریان د شاټ په منځ کې.

بالاخره لیدونکی چې د مونتاژ د عمل پر وخت کې دا احساس نه کړي، چې دا یو واقعي داستان دی په هر مونتاژ کې دوه شاټونه باید یو ډول نه وي، که دوه میډیم شاټ هم مونتاژ کړو، نو د مونتاژ له نظره سم کار نه دی، مونتاژ باید د لیدونکو له نظره مونتاژ ورو کړي.

### ۱، ۳۴- د تلویزیون انتن

انتن یا اخیستونکی په تلویزیون کې ځانګړی ارزښت لري؛ ځکه چې سر بېره پردې، چې انتن په دې باندې قادر وي چې د پارازیتو د داخلیدو منعکسه څپو په وسیله له موانعو څخه مخنیوی وکړي.

په کلي توګه یو انتن عبارت دی د مرکب مواد د مقاومت څخه، چې څپه په معنې فریکونسي سره تشدیدوي او هغه څپه په حد اکثر قدرت سره له ځانه وباسي، معمولاً انتنونه او یا په اصطلاح نور عملي رادیاتورونه په داسې ډول جوړ وي، ترڅو وکولی شي چې ایجاد شوي الکترونیکي میدان له یوه حجم څخه ډېره توسعه ورکړي.

د تلویزیون انتن د راډیو انتن برعکس راډیو انتن، چې جوړونه یې زیات دقت ته اړتیا نلري، د تلویزیون د مهمې برخې یوه برخه تشکیلوي او د هغې جوړښت ډېر دقیق وي او د هغې په جوړولو کې باید، چې ځانګړي اصول مراعت شي، یو ښه او دقیق انتن کولی شي د یوې یا دوو طبقو ځای ناستی یعنې M.F شي.

*په اړیکه تاکید*: کمره د یوه شخص څخه د کور د بام شاته ښکته لور ته تیلیت کوي ترڅو په جاده کې د هغه په قربانۍ باندې متمرکز شي.

***د Tilt اساساً حرکت:*** پورته خوا ته هیجان لرونکی احساس ته د پاملرنې زیاتوالی، انتظار، وړاندوینه او اُمید دي، برعکس د Tilt حرکت ښکته خوا ته د پاملرنې او هیجان کموالی نا اُمیدي کیدل، خفګان، د انتقادي بررسي سره ملګري دي.

***ډالي Doliy*** : هغه وسیله ده، چې د څلورو څرخونو پر مخ په ارام او نرمه توګه شاته او مخکې حرکت کوي، فلم اخیستونکی او حتی د فلم اخیستونکی

معاون په نوموړي وسيله پر کمره باندې سوريږي، نوموړې وسيله کولی شي د الکترونيکي نېرو په واسطه او يا د کوم شخص په توانايي سره په حرکت راولو.

***د ديد زاويه Angle of View:*** د فلمبردارۍ د اخيستلو يوه اصطلاح ده، چې د ديد په ډګر کې جګه يا وتلې نما چې د عدسيې په غوره کولو سره او له موضوع څخه د کمرې د فاصلې لپاره يقيني کيږي نسبت ورکول کيږي، د ديد زاويه د يوه خلاص ديد څخه (لېرې نما) تر يوه تړلي ديد زاويې (نږدې نما) پکې شامليږي.

***زوم Zoom:*** د زوم حرکت ته وايي لکه جګه يا لوړه نما يا وړوکې نما د صحنې يوه برخه پرته د کمرې د هيڅ ډول واقعي حرکت څخه، د زوم عدسيه په ورزشي پېښه کې په هغو حرکتونو او موقعيتونو او پکار وړنو کې لازم ده چې پرته د وقفې راتللو څخه د عدسيې د بدلولو لپاره د ثانيي کانوني فاصلې څخه، چې د عدسيې کانوني فاصلې ته تغيير ورکړي، لکه څنګه، چې کولی شو د انسان له سترګې څخه نږدې تصوير برابر کړو او يا دا چې د هغه ټول اندامونه د تصوير په وړوکې ناحيه کې ځای پر ځای کړو.

د زوم د عدسيې ښيګڼې دادي، چې د هغې په مرسته کولی شو، چې د خپلې خوښې زاويې په سرعت سره غوره کړو، له بل طرفه دا امکان وجود لري، چې د کمرې له حرکت نه پرته موضوع د ځانګړي قاب جوړونې لپاره تنظيم کړو د زوم نما د ديد زاويه د يوې تړلې نما څخه خلاصې نما ته تغيير ورکړي.

***سوپر Super:*** د دوو تصويرونو چاپ ته د يو بل پر مخ ته سوپر وايي.

سېنک کول*Synchronize* : د اواز او تصوير همغږي کول په دقيقه توګه چې دې ته سېنک کول وايي.

***صحنه Scene:*** د یوه ترکیب شوي فلم له واحدو څخه یو شمېر نماګانې، چې د یو او بل سره تړلې وي دا د (Location) یا ډراماتیکې پېښې له لارې د یو او بل سره پیوند خوړلی وي، رامنځ ته کیږي او د پېښې وخت او ځای د هرې صحنې په پلان کې یو شی دی.

***ضرب یا ګام Pace:*** د شخصیتونو د داخلي حرکت ضرب یا ګام او د فلم راتلونکی او رېتم، چې د تدوین په واسطه ایجادیږي پکې شامل دي، تند حرکت په کادر او لنډو نماګانو کې او د یو تند ضرب خلاص او ملایم حرکت د کادر په داخل کې او د یوې ضربه طویلې نماګانې په وړوکې او محدود فلم کې ایجاد وي.

*اهنګ ضرب:* کیدی شي وکولی شو د اهنګ ضرب د خپروني د احساس د پرمختګ په عنوان تعریف کړو، په کلي توګه د اهنګ ضرب سلو پر وقار، آرامی، تفکر، غور او ژور احساس باندې دلالت لري او د تند اهنګ ضرب د خشونت، هیجان او بې نظمي بیانوونکي دي.

***فرېم په ثانیه کې Frames per Second:*** یا هم کدر په ثانیه کې د یوه فلم ستندرد سرعت په یوه ثانیه کې ۲۴ فرېمه تعین شوي دي.

***فوکس Focus:*** هغه نقطې ته وایي، چې پر هغې کې د رڼا شعاع وروسته د موضوع له انعکاس او انتقال او له عدسیې څخه د یوه تصویر د تېریدو د تشکیل په قصد په واضحه توګه د یوې موضوع په تشکیل سره نه دایرېږي یا لکه یعنې داغ د نقطو څخه د فلم پرمخ را نه شي.

***قطع Cut:*** په سینما او تلویزیون کې ساده ترین ډول د اړیکې ده، پلان پای ته رسیږي او بلا فاصله بل پلان پیل کیږي، د فلم مونتاژ کولو ته هم قطع وایي.

***کپشن Caption:*** افراد د رسامۍ د لوحې سره یو ځای په سنتدرد اندازې سره، چې د تصویر قاب پرمخ یو پر درېمه بښکته لور ته ښکاره کیږي معرفي کوي.

*کروما کي:* نوموړی نوم یوې الکترونیکي طریقې ته ورکړل شوی دی، چې په هغې کې د دوو یا څو تلویزیوني کمرو تصویرونه او یا د بلې هرې وسیلې وسایل، چې تصویر ایجادوي، د بېلګې په توګه د فلم د تصویر د تېرولو دستګاوې د تلویزیوني څپو سره او نور په یو او بل کې ادغام کړي، څرنګه، چې د نوموړو تصویرونو جلا کول یو د بل څخه د تشخیص وړ نه وي.

د دې سېستم د کنټرول دستګاه یوه الکترونیکي کلي ده، کله چې د تصویر د متن یو رنګ د هغې په مقابل کې راشي نو په اتوماتیک ډول د رنګ پر ځای کې تشه فضأ ایجادیږي، د ساري په توګه که آبي رنګ لپاره سېستم ایجاد شوی وي، نو په تصویر کې، چې هر چېرته آبي رنګ موجود وي الکترونیکي کلي د دې باعث ګرځي، چې د آبي رنګ ثبت شوې برخه کې ثبت نه شي او د هغې پر ځای په بل ځای کې د تصویر دویمه برخه ثبت شي.

***کلوز آپ Close Up:*** د نږدې نما څخه عبارت ده، د ساري په توګه کله، چې له انسان څخه واخیستل شي او د کادر ټول صورت ډک کړي، نږدې نما په سینما کې د تاکید په توګه او زیاتره د څېرې په حالاتو کې ورڅخه کار اخلي او په نوموړي حالت کې یوازې د لوبغاړي حالت یې په څېره کې ښودل کیږي، ترڅو یو ځانګړی احساس، چې کارګردان د هغې تاکید کوي ننداړچي ننداړې ته وړاندې شي.

***ګرافیک Graphic:*** تصویري ګرافیکونه په تلویزیوني خپرونو کې د استفادې وړ تصویري عواملو څخه دي، دا ځکه چې نوموړي اطلاعاتي عوامل په خلص

او ساده توګه په لحظو کې لېدونکو ته ښيي، د نوموړو عواملو په مرستې سره کولی شي د موضوع پرمختګ او پراخوالی د موضوع پر منځ کې ایجاد او اړیکه وروښیي د فهم وړ او په زړه پورې ارقام او پېچلي مطالب به ساده کړي.

***اوږد شاټ Long Shot:*** دا ډول شاټ معمولاً هغه وخت د استفادې وړ ګرځي، چې مقصد ورڅخه یوازې د انسان ښودل وي، نه د انسان عظمت او فضايي القاء؛ یا په بل عبارت کله، چې وغواړو د انسان پر وجود تاکید وکړو نو په دې وخت کې د کلي فضأ او محیط څخه بېل یو فلم پیلوو، دا به تر هغې ګټور وي، چې Long shot څخه ګټه واخلو، د افرادو د اجتماع په ښودلو کې یا هغه اطاق، چې څو کسان د مېز په شاو خوا کې ناست وي یا د یوې لېږې نما پارک لپاره د Long shot نما بهترینه او مشهوره نما ده.

***متوسط شاټ Medium Shot:*** په متوسطه نما کې هنرمند له کمرې څخه پورته د تصویر په قاب کې راځي، په کُلي توګه د نیمې تنې څخه پورته تصویر ته میډیم شاټ Medium shot وايي، دا ډول پلان د صحیح استفادې وړ موارد هغه وخت وي، چې وغواړو د مختلفو افرادو په منځ کې اړیکه د نما په تعقیب تشدید کړو.

***مونتاژ Montage:*** (مونتاژ) فرانسوي لغت دی چې د نښلولو په معنا د یوه فلم د قطعاتو جفت او ترکیب کول د بیان لپاره د تدوین له لارې د استفادې وړ ګرځي.(۳۱: ۳۸۰).

***ایډېټور Editor:*** هغه کس دی، چې د مونتاژ مسوؤلیت په غاړه لري او یا یې تدوین کړي.

***نرېشن Narration:*** دغه کلمه هغو کلماتو ته ویل کیږي، چې د یوه شخص په واسطه ویل شوې وي او د اړتیا وړ اطلاعات د فلم پر مخ په مستقیم ډول

ننداړچي ته بيانوي اطلاق کيږي، داستان ويوونکی امکان لري پخپله د فلم شخصيتونو څخه وي او يا دا چې د فلم نه بهر د نظر وړ اطلاعات ننداړچي ته وړاندې کړي.

***د شاټ جزئيات Detail Shot:*** چې يو اصلي جز په يوه صحنه کې معمولاً د يوې نږدې نما په استفادې سره ښکاره وي، جزئي نما هغه طريقه ده، چې عناصرو ته برجستوالی وربخښي، چې په صحنه کې ورته چندان پاملرنه، نه ده شوې، د سارې په توګه يو تړلی موټی يعنې سوک د يوې تفنګچې سره وهل ټکول، کله چې دا ډول نما د اصلي پېښې څخه وي او بيا وروسته په داخلي پېښه کې پيوند وخوري هغې نما ته «منځنی نما» ويل کيږي.

***هوايي شاټ Air-shot:*** هغه شاټ ته وايي، چې د طيارې يا هليکوپټر له داخل څخه د منظرو د وړاندې کولو په قصد له پورته خوا څخه يا هغه منظرې، چې د هوايي پېښې څخه اخېستل شوی وي، د دې له نمونو څخه د الوتونکي مرغه سترګه د يوې ټيټې صحنې څخه ده، دغه هوايي شاټونه غالباً په داستاني فلمونو کې د تندې پېښې په تند ريتم لکه د جېمز باند فلمونه د استفادې وړ ګرځي.

***تدريجي محوه Fade:*** د يوې صحنې څخه د حرکت لپاره يوه انتقالي وسيله يا د صحنې لپاره فعل يا کوم بل فعل کله، چې تصوير د پردې  پر مخ په تدريج سره مخ په توريدو شي نو تدريجي محوه رامنځ ته کيږي، هغه صحنه چې د تصوير پسې محوه کيږي مخکې راځي، چې امکان لري په ناڅاپي توګه يا په تدريج سره راښکاره شي.

***له يو بل نه تېرېدنه (همګذری) Dissolve:*** د يوه شاټ مدغم کيدل په بل کې، د يوه شاټ پای د بل پيل چې يوه وخت کې د فعلي تصوير ټول راتلونکی تصوير خلاصيږي، په داسې حال کې، چې له يوې نقطې څخه تصوير په تدريج

سره محوه کيږي او له هماغې نقطې څخه بل تصوير په ورو ورو په هماغه نسبت کې ليدل کيږي، تر هغه ځايه، چې د لومړي شاټ څخه کوم اثر باقي نوي پاتې او يوازې راتلونکې نما لرو، تر يوه وخت دغه ادغام د کنټرول وړ ده، چې د فريم پربنسټ تعين کيږي، څرنګه، چې د يو بل څخه د تېريدو وخت په معمول ډول دوه ثانيې دي، چې د اړتيا په صورت کې امکان لري زيات يا کم شي، د دوو تصويرونو يو د بل څخه تېريدل په حقيقت کې دوو مرحلو سرته رسول، پيدا کېدل، او محوه کېدل د دوو تصويرونو په يوه وخت کې دي، تصوير محوه کيږي په داسې حال کې چې بل تصوير رابشکاريږي.

په دغې پروسه يا مرحله کې دوه موجود تصويرونه، چې په يوه لحظه کې يو پر بل باندې منطبق او په مسلسل ډول د ليدو وړ دي (ورکيدل) او هم ډېر زيات رابشکاره کيدل د يو بل محوه کيږي.

د تصويرونو د يو بل څخه سريع تېريدل معمولاً د پېښې په نږدې والي باندې دلالت کوي (موازي پېښه) په داسې حال کې چې سلو يا ورو کېدل د يو بل څخه د تېريدو پر وخت کې په وخت او ځای کې توپيرونه القاء کوي.

***راش Dailies:*** کله، چې فلمي فلمبرداري پيل شي د تل په شان يوه ورځ وروسته هر هغه څه، چې يوه ورځ مخکې ثبت شوي وي يا فلمبرداري شوې وي هغه د بيا ځل لپاره ګوري دغه فلم ته راش وايي.(۳۲:۳۳۵).

## ۱، ۳۵- د افغانستان د تلویزیون د تخنیکي وسایلو په اړه لنډ معلومات (pending)

### تلویزیون په افغانستان کې



۳،۱ انځور: په افغانستان کې د تلویزیون بنسټ

د اسد د میاشتې په ۲۴ نیټه یعنې په ۱۳۵۵ هـ لمریز کال د اګست میاشتې په لسمه نیټه چې د ۱۹۷۴ میلادي کال سره سمون خوري، د تلویزیون د تخنیکي وسایلو تړون د جاپان له هېواد سره د بلا عوضه مرستو یعنې ۹۵۰ میلونه جاپاني (ین) په ارزښت د ملي تلویزیون د ریاست او د «کمناتسو ګوشو» جاپاني کمپنۍ ترمنځ لاس لیک شو.

د تلویزیون د ټرانسمیټر او سټوډیوګانو د جوړېدلو کار د ۹ میاشتو په اوږدو کې یعني ۱۳۵۶ هـ ش کال کې سرته ورسید او د تخنیکي وسایلو منتاژ ته برابر شو.

هغه تخنیکي وسایل، چې د جاپان د حکومت د بلا عوضه مرستو له لارې برابر شوي په لاندې ډول دي:

ټرانسمیټر، دوه سټوډیوګانې د دوو تلویزیوني کامرو سره، ماسټر کنټرول خونې، ویډیو ټیپ ریکارډر او تیلي سیني د ثبت او کنټرول د خونې څخه بهر د خپرونې د ثبت لپاره یوه ګرځنده مجهزه دستګاه یعنې او بي وي OBV کومه چې په

دریوو تلویزیونو کامرو باندې سمباله وه او د خبرونو د راټولولو لپاره ځانګړې شوې وه.

د ۱۳۵۵ هـ ش کال د وري د میاشتې په لومړیو کې د افغانستان تلویزیون په خپلو امتحاني خپرونو پیل وکړ، د تلویزیون د کارکوونکو شمېر شاوخوا ۶۰ تنه وو، نوموړو کارکوونکو د هېواد څخه بهر په لنډ مهاله تخنیکي کورسونو کې برخه اخیستې وه، لومړنۍ خپرونې یې د جاپاني مشاورینو تر څارنې لاندې، د راډیو افغانستان د کارکوونکو په مرسته پرمخ بیولې.

**۱، ۳۶- د ملي تلویزیون امتحاني خپرونې**



۴،۱ انځور: د افغانستان تلویزیون په

ذوقي، علمي، کارتوني فلمونه، موسیقي او داسې نورې خپرونې یې خپرولې او لږه موده وروسته د جمعې په شپه به یې خبرونه هم خپریدل. دغه مرحله د غوایي د میاشتې له ۷ نیټې څخه تر ۱۳۵۷ هـ ش کال پورې دوام درلود، د غوایي د میاشتې له ۷ نیټې څخه وروسته یې په خپرونو کې لنډه وقفه رامینځته شوه، د همدغه کال د زمري د میاشتې په ۱۸ نیټه بیا تلویزیون په خپلو امتحاني خپرونو پیل وکړ، دا چې د زمري میاشتې ۲۸ نیټه زمونږ د هېواد د استقلال او د آزادۍ د ورځې سره سمون خوري نو د همدې ورځې په ویاړ د تلویزیون خپرونې رسماً اعلان شوې؛ په پیل کې مرکزي تلویزیون تعلیمي خپرونې خپرولې او د خپرونو وخت دوه ساعته وو؛ کله، چې نوي وسایل ولګیدل او د او بي وي OBV دستګاه وپیرودل شوه، نو د تلویزیون د خپرونو په چوکاټ کې ماشوم، ځوانانو د ذهني سیالیو، نمایشنامې،

هنري فلمونه، مستند فلمونه، خبرونه، مرکې او د موسيقي خپرونو ته هم پکې ځای ورکړل شوی وو؛ د تلويزيون خپرونو حجم په ۱۳۵۸ هـ ش کال کې د څلورو ساعتونو څخه زيات شو او په ۱۳۵۹ لمريز کال کې د نوموړو خپرونو وخت پنځو ساعتونو او شل دقيقو (۵،۲۰) ته اوچت شو او په ۱۳۶۰ لمريز کال کې ۲۵ دقيقې نورې هم د خپرونو وخت زيات شو، چې ټول وخت د خپرونو پنځو ساعتونو او پنځه څلوېښت دقيقو (۵،۴۵) ته ورسيد او په ۱۳۵۸ لمريز کال کې تلويزيون د يوې نوې دستګاه په پيرودلو سره، چې د خپرونو په ثبت او ايډيټ کې ورڅخه کار اخېستل کيده يعنې او بي وي OBV کوم چې د بوش د کمپنی ساخت وه، نوموړې دستګاه په پنځو کمرو باندې سمبال وه، چې ټول ټال ارزښت يې ۲۷۷۲۸۴۰ مارکو ته رسيده تقويه شوه او د خپرونو شمېر کې يې هم زياتوالی راووست.

او همدارنګه د مارس دستګاه په کار اچولو سره، چې په ۱۹۸۰ ميلادي کال کې د وخت د شوري اتحاد په مرسته ولګيدله، د کابل تلويزيون ته يې دا فرصت (موقع) ورکړه، چې سربېره په ژونديو خپرونو په ۱۹۸۰ ميلادي کال کې د اولمپيا سپورتي لوبې هم د شوروي اتحاد څخه خلکو ته په ژوندۍ بڼه خپرې کړې او همدارنګه د شوروي د تلويزيون او نورو تلويزيونونو خپرونې او نورې نړيوالې پېښې به يې په ژوندۍ بڼه هم خپرولې.

ملي تلويزيون د شمشاد د ثابتې دستګاه په لګيدولو سره ډېر زيات پياوړی شو، د دغې دستګاه په لګيدول سره سربېره په مخابراتي تلکس او تلګرام کې مرکزي تلويزيون د دې جوګه شو، چې خپلې خپرونې د مصنوعي سپوږمکيو له لارې هم برابرې کړي.

په ۱۳۶۳ لمريز کال د تلويزيون خپرونې په کندهار، هرات، ننګرهار، غزني، خوست، بدخشان، فراه، او غور ولايتونو کې د دوو ساعتونو لپاره په يوه شپه او ورځ کې پيل شوې او د ۱۳۶۵ کال تر رارسيدو پورې د تلويزيون د خپرونو لمن د يوې کوچنې دستګاه په لګيدلو سره د کونړ، هلمند، بغلان او بلخ ولايتونو ته هم پراخې شوه.(۱۴:۳۳).



د ملی تلويزيون د نشراتو او ستويوګانو ودانی (شکل۵:۱)

د ۱۹۹۲ ميلادي کال څخه وروسته د کورنۍ جګړې په ترڅ کې د تلويزيون لېږدونکې دستګاوې په کابل او د هېواد په نورو ولايتونو کې شديدې زيان منې شوې وې، خو د تلويزيون خپرونې په خورا ټيټ کيفيت او کميت سره رواني وې، د ملي راډيو تلويزيون دروازې د طالبانو د حکومت د لومړۍ ورځې څخه بندې شوې او د راډيو افغانستان خپرونې کومې، چې په يوه شپه او ورځ کې ۵۳ ساعتونو ته رسيدې، شپېږو ساعتونو ته راښکته شوې او د خپرونو محتوا هم کاملاً په بل رنګ شوه او ټولې تعليمي، اقتصادي، اجتماعي او تفريحي خپرونې حذف شوې.

کله چې په کابل کې د طالبانو حکومت ماتې وخوړه نو د تلويزيون يوه لېږدونکې دستګاه د کابل او د هېواد په نورو ولايتونو کې وجود نه درلود په هغې لومړنيو ورځو کې د پنجشېر څخه يوه وړوکې د کم طاقت لرونکې لېږدونکې تلويزيوني دستګاه د خپرونو لپاره کابل ته راوړل شوه، له دې سره د راډيو تلويزيون خپرونې په يوه محدوده ساحه کې بيا پيل شوې.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د هماغې لومړنۍ ورځې څخه نوموړو نیمګړتیاوو ته پاملرنه لرله او له نړیوالو دوستانو سره یې په پرله پسې ډول اړیکې ټینګې کړې او د همدغو اړیکو په نتیجه کې یې وکړای شول، چې مناسب طاقت لرونکې د راډیو تلویزیون لیږدونکې دستګاوې هېواد ته واردې او په کار یې واچوي.

په همدې لړ کې په ۲۰۰۳ میلادي کال کې د جاپان له حکومت سره یو لړ اړیکې ونیول شوې او د هغې په نتیجه کې یوه اندازه مالي او تخنیکي مرستې یې وکړې، چې د هغو ارزښت ۲۶ میلونه امریکایي ډالرو ته رسیده، د همدغو مرستو له امله د ملي راډیو تلویزیون د بیا رغونې کار پیل شو، چې د هغې لومړنۍ مرحله د انتخابي حکومت څخه د مخه وه، چې په دې مرحله کې د مرکزي تلویزیون د سټوډیوګانو نوي کول هم شامل وو، چې د ۲۰۰۴ میلادي کال په ورستیو کې بشپړې شوې.(۳۴:۲۰).

## ۱، ۳۷- د منتخب حکومت له راتګ څخه وروسته د ملي تلویزیون بیا رغونه

1. د مرکزي تلویزیون د بیا رغونې دویم پړاو، چې په هغې کې د اسمایي د غره په سر د لېږدونکې دستګاه (ترانسمیټر) او د هغې د ودانۍ بیا رغونه شامله وه، تکمیل شوې او د یوې لېږدونکې دوه کیلو واټه دستګاه په نصب کولو سره نه یوازې دا چې د تلویزیون د سېګنال د پوښښ ساحه په کابل کې د ملاحظې وړ ارتقا وکړه، بلکې د تلویزیون د سېګنال کیفیت سل په سلو کې ښه والی وموند.
2. د هندوستان د هېواد د مرستو په استفادې سره ملي تلویزیون په کابل کې د UPLINK د دستګاه په نصب کولو باندې موفق شوو.

Statelite - Insat3A

Location - 93.5 dog.e

Transponder - 93.5 dog.e

Uplink Frequency 6354 Mhz to 6363 Mhz c Bond

Polarization Linear HOR



د ملی تلویزیون د ثبت او خبر ونو دستګاه

نوموړی سټېشن د مخابراتي سپوږمکۍ له لارې د Insat-3 یو

تلویزیون کانال او دوه راډیویي کانالونه نه یوازې افغانستان کې بلکې د منځنۍ اسیا، شمالي افریقا او د هندو چین شبه قاره یې تر خپل پوښښ لاندې راوستې.

3. سربېره پردې مرستو د منتخب حکومت له جوړېدو څخه را په دې خوا د هندوستان هېواد په مرسته د متوسط موج د احیا کولو د بیا رغونې کار د کابل د یکه توت په ساحه کې او په جلال اباد کې د تلویزیون د سټېشن د بیا رغونې کار تر لاس لاندې ونیول شو، د سل کیلو واټه متوسط موج د دستګاه کار د سمتي انتنونو په شمول او د هغې د ودانۍ کار تر سره شو او په خپل فعالیت یې پیل وکړ.

نوموړې دستګاه پر ۶۰۸۵ او ۶۱۰۰، ۶۲۳۰، ۷۲۰۰، ۱۱۸۰۵، ۱۰۲۷۰ فریکونسیو باندې خپلې خپرونې کوي.

په دې صورت کې د افغانستان بهرنۍ خپرونې، چې د لنډ موج د له منځه تللو په اثر د ۱۹۹۲ م کال څخه را په دې خوا په ټپه دریدلې وې د اوس لپاره بیا په ډېرو نړیوالو معتبرو ژبو باندې له سره پیل شوې.

د جلال اباد د تلویزیون د بیا رغونې او د نوموړي ولایت په پنځو ولسوالیو کې د ریلي د دستګاه د لګیدلو کار بشپړ شوی دی؛ د جلال اباد تلویزیون چې د UPLINK موبایل لرونکی سټېشن دی د هغې په واسطه د نوموړي ولایت د تلویزیون خپرونې په ګرد افغانستان او منطقه کې د لېدلو وړ دي، همداراز د هندوستان د هېواد د مرستو په لړ کې چې پر هغې کې د کوچنیو ودانیو او د لېږدونکو دستګاوو Down Link د ۲۰۰ کیلو واټ په طاقت د هېواد په ۲۴ ولایتونو کې د لګېدلو کار د ۲۰۰۵ میلادي کال په نیمایي کې پیل شوی و.

نوموړې پروژه د بلخ، فارياب، خوست، کنړونو، جوزجان، بدخشان، نيمروز، ميدان وردگ، او په سرپل کې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې او د هغې کار د لوګر په ولايت کې جريان لري، په خورا افسوس سره بايد ووايو، چې د نوموړې پروژې د تطبيق کار د نورستان، زابل، او اورزګان په ولايتونو کې د امنيتي ستونزو له کبله نه ده پيل شوی.

**د Down Link د سېستم مشخصات په لاندې ډول دي:**

1. Down Link Frequency 4132 MHz Liner Vertical
2. Sybol Rate 400
3. Down Link Dish Size 8+012 ft
4. Video Channel one
5. Audio Channel two.




هند هیواد په مرسته د UPLINK نوی دستگاه

4. د افغانستان ملي راډيو تلويزيون له انتخابي حکومت څخه را په دې خوا په دې باندې وتوانيد، چې د ايټاليا د حکومت مرستې راجلب کړي، د نوموړو مرستو لاسته راوړل د کابل د يونيسکو د دفتر له لارې د حکومت لاس ته ورغلې، د نوموړو مرستو له امله د مرکزي راډيو تلويزيون سټېشن او د ولاياتو لکه

کندهار، مزار شریف، او هرات سټیشنونه د انترو له شبکې سره وتړل شول او د راډیو تلویزیون خبري مرکز په کابل کې په عصري وسایلو باندې سنبال شو او د نوموړو مرستو نه په استفادې سره د انګلیسي، کمپیوټر، او انټرنېټ کورسونو مرسته چې ۷۰۰۰۰۰ زرو امریکایي ډالرو ته رسیږي لا تر اوسه همداسې بې ګټې پاتې دي هیله ده، چې د کابل د یونسکو دفتر سره د اړیکو په نېولو سره د هغې د اعتبار نیټه چې د جون د میاشتې د ۲۰۰۸ میلادي کال وروستۍ نیټې ته دې تمدید شي ترڅو وکولی شي د نوموړو پیسو څخه په موثره توګه ګټه پورته شي.

داسې په نظر کې دي، چې د نوموړو مرستو له پیسو څخه او بي وي OBV وپیرودل شي او د دې ترڅنګ یو شمېر نور تخنیکي وسایل هم باید د نوموړو مرستو له پیسو څخه ملي راډیو تلویزیون ته وپیرودل شي او پر دې سربېره د خبرونو د برابرولو لپاره تعلیمي کورسونه او د دیجټال د تخنیکي سېستم په اړه ځیني کورسونه او نړیوال سیمینارونه هم دایر شي.



5. سربېره پردې د یونسکو د اداري لخوا او د هغوی په مرسته د ځوانو ژورنالیستانو د تربیې لپاره یو مرکز د ملي راډیو تلویزیون په انګړ کې په ټولو وسایلو باندې سمبال جوړ شو چې همدا اوس د ځوانو ژورنالیستانو په چوپړ کې دی.

6. یو له ډېرو مهمو کارونو څخه دا دی، چې د منتخب حکومت له راتلو څخه را په دې خوا د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د پاملرنې وړ وګرځید، هغه دا وه چې د ملي راډیو تلویزیون د ارشیف خوندي ساتل و. د ملي راډیو تلویزیون ارشیفونه سره له دې، چې د طالبانو د واکمنۍ په وخت کې ورته زیات تاوان ورسید او لږ تر لږه پنځلس سوه ۱۵۰۰ ساعته بهرنۍ موسیقي د ارشیف طالبانو له منځه وړې ده. ولې د ملي راډیو تلویزیون د ارشیف په وطن مینو کارکوونکو په مرسته هغه یې د نورو زیاتو بربادیو څخه وژغورل شو.

څرنګه چې د ۱۳۷۱ هـ لمریز کال څخه راورسته د ثبت شویو ارشیفي موادو د ساتلو لپاره مساعد (برابر) شرایط نه وو او ثبت شوي مواد د نابودۍ او خرابۍ سره مخ ول، ملي راډیو تلویزیون د نوموړو قیمتي فرهنګي میراثونو د اهمیت او د هغې د ساتلو لپاره د فرانسې INA په مرسته په کال ۲۰۰۳ م کې (د جیتالایزیشن) پروژه باندې پیل وکړ او همدا اوس اوس د تلویزیون د ثبت شویو ارشیفي موادو (جیتالایزیشن) له مخکنیو فرمټونو څخه په نوي فرمټونو باندې پیل شوی، او د ۱۷۰۰ ساعتونو په شاو خوا کې ثبت شوي مواد په نوې طریقه دجیتالایزشین شوې.

دجیتالایزشین په اړوند تخمیناً پنځه څلوېښت زره ساعته ثبت شوي مواد د راډیو تلویزیون په ۲۰۰۶ م کال کې INA فرانسوي موسسې سره لاسلیک شوې او د راډیو د ارشیفي ثبت شوو موادو دجیتالایزشین کار د INA له خوا تازه پیل شو، سربېره پردې American Institute of Afghanistan په مرسته د افغانستان د ملي راډیو تلویزیون د موسیقۍ دجیتالایزشین د نومبر په میاشت کې په ۲۰۰۶م

کال په ورستیو کې پیل شوی تر اوسه پورې یې د ۳۰۰ ساعته افغاني موسیقي د راډیو تلویزیون له ارشیف څخه دجیتالایزشین کړې ده.

7. دغه ټول پورتني مواد، چې د هغو ذکر وشو او د ملي تلویزیون انساني قوې، د طالبانو د واکمنۍ پرمهال د زغم نه وړ صحنه زغملې ده، کله چې نوموړی گروپ د واک په گدی کیناست د ملي تلویزیون کارکوونکي کومو چې کلونه یې کار کړی و او د هغوی په تربیه کې د دولت په ممیلیاردونو مصارف شوي وو او ډېر لایق او با تجربه کدرونه ول او هر یو ته یې فامیل او بچیان په غاړه ول په ډېرې بې رحمۍ سره رخصت کړل او ورته وویل شول، چې نور مونږ نه تلویزیون او نه د هغو کارکوونکو ته اړتیا لرو او راډیو یې یوازې د خپلو فرمانونو ابلاغ او موعظو ته وقف کړله.



د ملي تلويزيون د نشر ستوډيو (شکل ۱۰۸)

د هېواد په لسګونه پروډيسران، ډايرکټران، ويډيوګرافان، انجينران، او د ډليزو رسنيو موثر ترين اطلاعاتي وسايل او کدرونه د دندې پرېښودلو ته اړ شول او بهرنيو هېوادونو ته يې مخه کړه، د نوموړو کدرونو يو زيات شمېر لا تر اوسه هم خپل هېواد ته نه دي راستانه شوي، او شايد په راتلونکي وخت کې هم راستانه نه شي؛ د نوموړو ستونزو را برسېره کيدو د خپرونو په کيفيت باندې مستقيمه اغېزه درلوده، نو په دې برخه کې انتخابي حکومت کوټلي ګامونه پورته کړل او په لسګونو تعليمي کورسونه يې په مرکز او ولاياتو کې د نړيوالو راډيو تلويزيونو د سازمانونو په مرسته لکه DW، CFI، NHK، BBC او نورو لکه د اسيا او پاسيفيک او يونسکو براډکاسټينګ په مرسته د هېواد په داخل او بهر کې په مختلفو برخو کې داير شول، ترڅو وکولی شي، چې د هغوی د مسلکي پوهې سطحه لوړه شي او ورځخه ښه ګټه واخلي؛ د نوموړو اقدماتو تاثير د لومړنۍ لويې جرګې تر پوښښ لاندې راوستل او د اساسي قانون لپاره د لويې جرګې جوړيدل د جمهوري رياست انتخابات د پارلمان انتخابات له تخنيکي او نشراتي پلوه ډېرې ښې خپرونې، چې د عالي کيفيت لرونکې وې په سترګو کيده او په سرلوړۍ سره بايد ووايو، چې په کابل کې د راډيو د خپرونو حجم له شپږو ساعتونو څخه ۳۲ ساعتونو

او ۳۰ دقیقو ته په یوه شپه ورځ کې په دوه چینلونو کې (93Khz) FM او MW (1107Khz) د تلویزیون د خپرونو حجم له صفر څخه اتلس ساعتونو او دېرشو دقیقو ته په یوه شپه ورځ کې ورسید. (۴۱:۳۵).

**۱، ۳۸- لنډیز**

تلویزون پرته له شک څخه د رسنیو د کورنۍ په منځ کې خورا ګټور او مؤثره رسنۍ پیژندل شوې ده، تلویزون د شلمي پیړۍ د اختراعاتو څخه ګڼل کیږي، د هغه د تکامل مرحلې زیاتې لوړې ژورې لیدلي دي، چې په پیل کې له میخانیک څخه پیل شوی دی یا د لومړنیو تلویزیونونو په ساختمان یعنې جوړښت کې د روټینګ ډیسک (Routing Disk ) د لوحو او اینه لرونکو لوحو څخه د تصویر د لیږدولو او اخیستلو په اړه ګټه پورته شوې، ولې د ښه کیفیت نه لرلو په نسبت د قناعت وړنه وه، په دې اړه د فزیک پوهانو هڅې وشوې بالاخره د مې په نهمه نیټه(۱۹۱۱)picture Tube او په( ۱۹۲۰ )م کال د کمرې لومړنۍ څراغ چې په چارجي سیستم یې کار کاوه، رنګه تلویزیوون، د تلویزون د کمرې ټیوبونه، د تلویزون سټوډیو، د سټوډیو نه بهر د ثبت وسایل، د سیار مرکزونو، ایډیټ او د هغو ماهئیت، د تلویزیون د خپرونو منتاژ، د تلویزیون انتن او د هغې نور مراحل، د افغانستان تلویزیون تخنیکي وسایلو په اړه لنډو معلوماتو ته پکې ځای ورکړل شوی دی.

**۱، ۳۹- پوښتني**

لومړی پوښتنه : د لومړنیوتصویري تیوبونو د ساختمان مفکوره (pictureTube) په نني بڼه:

الف: د یوه روسی فزیک پوه لخوا وړاندي شوه.

ب: د یوه الماني فزیک پوه لخوا وړاندي شوه.

ج: د یوه امریکایي فزیک پوه لخوا وړاندي شوه.

د: د یوه بریتانوي فزیک پوه لخوا وړاندي شوه.

دویمه پوښتنه: پاول نیپکو(paulvipkow) الماني په

الف: ۱۸۱۷م کال کي داسأ په نوم یونابغه سیستم جوړ کړ.

ب: ۱۸٦۰م کال کي اسأ په نوم یونابغه سیستم جوړ کړ.

ج: ۱۹٤۰ م کال کي داسأ په نوم یونابغه سیستم جوړ کړ.

د: ۱۸۸۰ م کال کي داسأ په نوم یو نابغه سیستم جوړ کړ.

دریمه پوښتنه: ولادیمیرزرکین په:

الف: ۱۹۱۸م کال کي ایکونوسکوپ (iconoscope) جوړکړ.

ب: ۱۹۲۷م کال کي ایکونوسکوپ(iconoscope) جوړکړ.

ج:۱۹۲۰ م کال کي ایکونوسکوپ(iconoscope) جوړکړ.

د:۱۹۱۹م کال کي ایکونوسکوپ(iconoscope) جوړکړ.

څلورمه پوښتنه: دړنا شعاع دسترګي شبکي ته دیوه حالت څخه رارسیږي دسترګي په شبکه کي یوکیمیاوي ماده ده

الف: دپانتګراف په نوم رامنځ ته کیږي.

ب: دقزحیه په نوم رامنځ ته کیږي.

ج: دفوتوکیمیکل په نوم رامنځ ته کیږي.

د: دعمودونو په نوم رامنځ ته کيږي.

پنځمه پوښتنه: دسترګي په شبکه کي دوه ډوله انساج وجود لري،چي عبارت دي له عمودونواومخرطونوڅخه چي تعداد يي ميلينونو ته رسيږي:

الف: دمخرتونو دنده سترګوته حرکت ورکول دي.

ب: دمخرتونو دنده يوازي دشيانو ليدل دي.

ج: دمخرتونو دنده درنګونوثبت اويوله بل څخه توپير کول دي.

د: دمخرتونودنده دسترګو حفاظت اوساتل دي.

شپږمه پوښتنه: دتلويزيوني سيستم دقدرت دجزياتوتفکيک:

الف: دستا پاچ پواسطه ازمايل کيږي.

ب: تايمرپواسطه ازمايل کيږي.

ج: دکارتهات پواسطه ازمايل کيږي.

د: دليتر پواسطه ازمايل کيږي.

اوومه پوښتنه: دهندوستان دهيواد په مرستويه استفادي سره دکابل په ملي تلويزيون کي:

الف: دشمشاد دستګاه نصب شوو.

ب: دمير دستګاه نصب شوو.

ج: ديوف لينک uplink دستګاه نصب شوه.

د: دولينک دستګاه نصب شوه.

اتمه پوښتنه: په ۲۰۰٦م کال کي دافغانستان دديجيتلايزيشن په اړه تضمينآ پنځه څلويښت زره ساعته ثبت شوي مواد:

الف: دامريکا متحده ايالاتو USA سره لاسليک شوو.

ب: دجاپان له هيواد سره لاس ليک شوو.

ج: دفرانسي INA هيواد سره لاس ليک شوو.

د: دايتاليا له هيواد سره لاس ليک شوو.

نهمه پوښتنه: دافغانستان دملي راډيوتلويزيون دموسيقي ديجيتالايزيشن دنومبر مياشت په ۲۰۱٦ کال په ورستيوکې:

الف:دفرانسي له هيواد سره لاس ليک شوو.

ب: دجاپان له هيواد سره لاسليک شوو.

ج: ايتاليا له هيواد سره لاسليک شوو.

د: دامريکامتحده ايالاتو له انستيتوت  سره لاسليک شو.

لسمه پوښتنه: دننګرهار ولايت تلويزيوني،دستګاه چې دuplink موبايل لرونکي دستګاه ،چې دهندوستان دهيواد دبالا عوض مرستوپه ترڅ کې جوړشوي داد:

الف: دافغانستان په زياتره ښارونوکې اوريدل کيږي.

ب: په ټول ننګرهار کې اوريدل کيږي.

ج: په ټول افغانستان اومنطقه کې اوريدل کيږي.

د: د ننګرهار په ځينوولسواليوکې اوريدل کيږي

**۱، ۴۰- ماخذونه**

۱: ارشیف ملي راډیوتلویزیون افغانستان،ریاست پلان،تلویزیون ملي افغانستان.

۲: بالدوین، هانتلي، ترجمه شاسبي، حمیدگر.(۱۳۸۳)چگونه اگهي تلویزیوني بسازیم. انتشارات سروش. اداره کل پژوهش هاي . سیما تهران.

۳: تیرل، رابرت، ترجمه، رحیمیان، مهدي.(۱۳۷۱). ژورنالیزم تلویزیوني. انتشارات صدا وسیمایي جمهوري اسلامي ایران.

۴:: حیدري، زبیح اله.(۱۳۹۰).رهنمایي تولید برنامه هایي تلویزیوني.انتشارات عازم مطبعه عازم.

۵ حیدري، زبیح الله.(۱۳۹۰).رهنماي تولید برنامه هاي تلویزیون.انتشارات عازم.مطبعه عازم.

۶: سون،میلرجرالد.ترجمه رحیمیان،مهدي.(۱۳۸۰).فن برنامه سازي تلویزیون.سروش،تهران.

۷: سون،جرالد میلر.ترجمه غلام رضا طبا طبایي.(۱۳۸۱).تولید وکارگرداني درتلویزیون.چاپ وصحافي.شرکت چاپ ونشر لیلي،تهران.

۸: وجدي،عبدالجلیل.(۱۳۸۷).دخبر او نظر نړۍ.کاروان مطبعه کابل.

۹: نوربخش،عبدالعظیم.(۱۳۸٤).تخنیک تلویزیون.اطلاعات رایج درسینما وتلویزیون.چاپ فوتو کاپي.سید حبیب الله.پوهنتون کابل.

۱۰: نوربخش،عبدالعظیم.(۱۳۸٤).تخنیک تلویزیون.چاپ.فوتو کاپي سید حسیب الله دروازه مقابل پوهنتون کابل.

| پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب |
|---|---|---|---|
| ۱ | ج | ۶ | ج |
| ۲ | الف | ۷ | ج |
| ۳ | الف | ۸ | ج |
| ۴ | ج | ۹ | د |
| ۵ | ج | ۱۰ | ج |

# دوهم څپرکی

## ۲، ۱- د تلویزیون تولید

**موخې**

۱– په دې برخه کې زموږ موخه دا ده، چې موږ وکړی شو خپلو لوستونکو، مینوالو او د دې مسلک همکارانو ته دا ورزده کړو چې څنګه دوی کولي شي د یوې خپرونې په چمتو کولو لاس پورې کړي؟ موادو او وسایلو څخه ګټه واخلي په دې اړه مو پوره توضیحات او معلومات ذکر کړي، ترڅو چمتوال پرته له ستونزو خپلو موخو ته ځان ورسوي.

۲– د تولید کارکوونکي د دې سره بلد شي، چې د یوې خپرونې سره څرنګه برخورد وکړي، کوم نزاکتونه په نظر کې ونیسي، څرنګه ورته خپرونه برابره کړي او تر ټولو مهم دا دي، چې د خپرونې سوژه او مینوال یعنې خپلو مخاطبانو ته کومې خپرونې چمتو کړي په دې به پوره پوه شي.

۳– مینوال یا محصلان باید د مرکې کولو په تکتیکونو ډولونو یا راپور او پروفایل لیکنې سره بلد شي او د هغې د ثبت وسایلو سره پوره بلدتیا او اشنایي پیدا کړي او د رسنیو منابع او خبري اژانسونو سره د اړیکو پالل زده کړي.

د یوې خپرونې د تولید لپاره د اړتیا وړرفضأ، وسایل او ظرفیتونه په پام کې نیول کیږي دا ځکه، چې خپرونې له سټوډیو څخه بهر تولیدیږي، چې زیات کار او وسایلو ته اړتیا ده. په سترو تلویزیوني شبکو کې، خورا زیات امکانات لري. د همدې برخې او کار لپاره بیلا بیل کسان ګمارل کیږي، خو په وړو شبکو کې

زیاتره کارونه پروډیوسران، ډایرکټران او د فلم اخیستوونکي ترسره کوي، تلویزیون پر خبري توکو سربیره نورو زیاتو تولیدي خپرونو ته هم اړتیا لري چې د مخاطبانو ذوقونه وربانديې خړوبوي، په دې څپرکي کې مخاطب څوک دی؟، د پیغام او متن ترمنځ اړیکه، څومره او کله پیغام ورسیږي، د لیدو د ځواک زاویه، د سوژې مطالعه، نوښتګر فکر، اقتصادي عمل، تلویزیوني فیچر څه شي دي، د کیسې قالب، پیکج، ګډه خپرونه، خبري مستند، له خبر اخوا، د خلکو غږ، واکس پاپ، سونډبایټ کلیپ څنګه واخلو، پروفایل او تاریخ، پروفایل او تذکره، پروفایل او خاطره، پروفایل او شخص ریپوټ، پروفایل او ځانګړې ژوره مرکه، مور څو ډوله پروفایل لرو، خبري پروفایل، انلاین پروفایل، مرکه څنګه وکړو، میداني مرکه، خبري مرکه، د مرکې ډولونه، معلوماتي مرکه، د مرکې د اطلاعاتو د ثبت وسایل، د مرکې په میتود کې اجرایي کتنې، خبري سرچینې، څنګه اجرآت وکړو، دولتي او نادولتي سرچینې، پروفایل څنګه ولیکو، پروفایل ګډ ادبي ژانره، د برنامه ریزي اصول، له تولید پرته د خپرونې مراحل، او نورو توکو ته یکې ځای ورکړل شوی او هره یو یې توضیح او تحلیل شوي دي.

## ۲، ۲- د تلویزون تولیدي خپرونې

تلویزون په خبري موادو سر بیره نورو زیاتو تولیدي خپرونو ته هم اړتیا لري، چې د مخاطبانو ذوقونه وربانديې خړوب شي او هم لږ تر لږه تلویزون خپلې ۲۴ ساعته خپرونې ورسره راوړي. په تلویزیوني خپرونو کې د خپرونې د پروډېو سر لومړنی ګام څه، څنګه، چاته، ولې، څومره، څه وخت شېړو بنسټیزو پوښتنو ته ځواب ویل دي.

یو شمیر کسان کیدی شي په دې فکر شي، چې ولې په ټولو خبري او ژورنالیستي ژانرونو کې په دې شپږو پوښتنو ټینګار کېږي؟. ځواب روښانه دی، ځکه د خبریال بنسټ د اطلاعاتو پر خپراوي ولاړ دی او اطلاعات عامه افکاروته لیږل کیږي، چې په تلویزیون کې یې د مخاطبانو په نوم یادوي.

**۲، ۳- مخاطب څوک دی؟**

یو پیغام د تولید څخه تر خپریدو پورې خپل ټول پړاوونه تر مخاطبانو د رسیدو لپاره طی کوي، موږ د پیغام (Massage) د یوې سرچنې (Source) او چینل (Channel) د پیغام د لیږونکي په توګه خپلې ټولې تولیدي کړنې د مخاطب ( Recover) د رضایت لپاره تر سره کوو. د ځانګړي او عام، موافق او مخالف، داخل او بهر مخاطب پیژندل د تلویزوني پروډیوسرانو او لیکوالانو لپاره یو مهم اصل دی. د عامه ذهنیت او مخاطب قناعت د خبر یالی د شپږو واړو پوښتنو ځوابول دي. دا شپږ هغه پوښتنې دي چې انسان یې پر خبري ژورنالیستي مسائلو سربیره د ژوند په ګڼو نورو اړخونو کې هم له ځانه پوښتي او باید چې ځواب شي.

د پروډیوسر یا چمتوکوونکي په توګه ستاسې لومړنۍ پوښتنه څه ده چې د خپرونې بڼه، طرح او موضوع پکې روښانه کیږي؟. په څنګه کې تاسې د خپل پیغام د انتقال څرګندتیا غوره کوئ، چې څه ډول او په کوم قالب او بڼه کې مخاطبانو ته ورسیږي، خو، چا ته پوښتنه له مخاطبانو سره تړلې ده، ځکه تاسې، چې هر څه تولیدوئ د خپلو مخاطبانو لپاره یې تولیدوئ او د مخاطب پوهنې بحث په ژورنالیزم او عامه اړیکو کې خورا مهم بحث دی. پروډیوسر او لیکوال د خپلې خپرونې له تولید نه مخکې ځان د مخاطب په توګه د مخاطب په ذوق، سلیقې، اړتیاوو، ځای، کولتور، د ټولنیزي رسنۍ مقام او په نورو ځانګړنو

ځان پوهوي او بیا تر دې وروسته د مخاطب نه د دغسې پراخې مطالعې په رڼا کې خپل تولید کوي. له مخاطب پوهنې نه پرته تولید، لیکل او خپرول پر یخ لیکل دي. تاسې باید چې خپل مخاطب وپیژنئ او د هغه د غوښتنو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره خپرونه تولید کړئ. هیڅ رسنۍ او پروډیوسر د ځان لپاره خپرونه نه برابروي، د هغه موخه مخاطبان دي او کله چې موخه هغوی دي، په کار ده چې د هغوی په اړه ژوره څېړنه او مطالعه ولري.[۱:۱۵۹]

**۲، ۴- د پیغام او موخې ترمنځ اړیکه**

هر پیغام تر شاه یوه موخه لري او مور خپلې موخې ته د رسیدو لپاره د موجودو وسایلو څخه کار اخلو، د خپرونې په تولید کې موخه او پیغام دواړه روښانه وي او تولید د همدغو دوو ټکو پر محور باندې راڅرخي. ستاسې د سوژې د انتخاب ډول، لیکلاره، قالب، پیغام، او د انتقال څرنګتیا باید تاسې خپلې موخې ته ورسوي. مور د پیغام او چینل سره د اړیکو څرنګتیا له مخې څو ډوله مخاطبان لرو، چې یوه ډله یې موافق او مخالف او دوه نورې یې اداري کارکوونکي او له ادارې څخه بهر کسان دي. په تلویزیون کې زمور مخاطب د ادارې په داخل کې نه، بلکې له ادارې نه بهر دي. دغه مخاطب کیدای شي زمونږ له پیغام سره یا به موافق وي او یا به مخالف وي، خو د چمتوال یعنې پروډیوسر دنده دا ده چې مخاطبانو ته له اړتیا سره سم پیغام واستوي. د نوموړي پیغام د استولو ډیره ښه لاره د خپرونې قالب دی. مور څه ډول خپل پیغام ولیږدوو؟ د خپرونې په ډول د پروفایل په ډول؟ د مستند او که د یوې تفریحي خپرونې په بڼه؟ دغو پیښو ته ځواب موندل پروډیوسر ته دا وړتیا ورکوي، چې د خپرونې د تولید چارې پیل کړي.[۲:۱۶۲]

**۲، ۵- څومره اوکله پیغام ورسیږي؟**

په هره خپرونه کې وخت او د محتوا لپاره د خپرونې کچه ټاکل مهم دي.

چمتوال یا پروډیوسر د خپلو مخاطبانو اړتیاوې او وخت په پام کې نیسي او د شتو امکاناتو په لرلو سره خپرونه چمتو کوي. مخاطبان یا اوریدونکي د خپرونې محتوا، کچه او په ټاکلي وخت ستاسو پیغام ته منتظر دي او که په خپل وخت مو ورته پیغام ونه رساوه خپلې موخې ته نه رسیږئ.

په ټولنیزو تلویزوني چینلونو کې د خپرونې متن په بیلا بیلو بڼو لیکل کیږي. د خبري برخې په اړوندو ژانرونو مو بحث وکړ، اما ځینې داسې خپرونې هم شته، چې متن ته اړتیا نه لري، خو د وړاندې کولو ځانګړی هنر او تګلاره لري. دا ډول خپرونې، خبرې اترې، ګردي میزونه، مناظرې او لوبې، متني لارښود ته اړتیا نه لري، خو ځیني نورې خپرونې لکه په سټیډیو کې په ژوندۍ بڼه د یوه مستند پر مخ لږ تر لږه د انځور او انځورونو غږونو پیښو تر منځ د تړاو لپاره یو تړاویز متن ته اړتیا لري، ډیر ځله د یوه چا په ذهن کې د خپرونې لپاره ډیره ښه طرح وي، خو د کاغذ پر مخ یې نه شي راوړلی، په داسې وخت کې پکار ده چې له لیکوال څخه مرسته وغواړي چې ذهن میشتې طرحې یې پر کاغذ پلې کړي.

هغه رسنۍ چې د ډرامې او سریال په څیر کرکټرونو ولاړې خپرونې تولیدوي، اړې دي چې د کرکټرونو لپاره غورچاڼ ته مخه وکړي. دا ډول خپرونې، فلم پانې او ډرامه لیکنې ځانګړي سبکونه غواړي، چې په دغه کتاب کې زمونږ د بحث محتوا نه جوړوي.

**۲، ۶- د لیدو ځواک او زاویه**

د خبر، رپوټ او فیچر د لیکلو په برخه کې د سوژې په موندلو باندې اوږده بحثونه شوي او دا د یوې تو لیدي خپرونې په سوژه موندنه کې هم له تاسې سره مرسته کوي.

په سوژه موندنه کې ترټولو مهم شی د لیدو ځواک دی، چې دا د خبریال د شپږم حس سره تړاو لري. شپږم حس د هغو مسایلو درک کول دي، چې عام خلک یې له درک څخه عاجز دي او یا هم ارزښناک ټکي پکې نه شي پیدا کولی. د لیدو قدرت سره یو ځای د لیدو لوری او زاویه Viw Angle هم مهمه ده، دا د دې لپاره چې هر څوک له یوې ځانګړې زاویې څخه موضوع یا پیښې ته ګوري، خو د خبریال یا د پروډیوسر لیدل باید عمومي وي او هر څوک باید، چې خپل لید او زاویه پکې وګوري. د یوې فابریکې سوځیدل به هغه کارکوونکو او مسوولانو ته زیانمنه وي چې په کې بوخت وي، ولې عام خلک او لارویانو لپاره ښایي دومره مهمه نه وي. د یوه ژورنالیست او لیکوال په توګه تاسې مکلف یاست چې د فابریکې د خلکو لیدلوری او زاویه عامه کړئ او هغه ته له هغې زاویې څخه وګورئ چې نور کسان د هغې د کتو وس نه لري او یا نه وربانديې پوهیږي.

د فابریکې سوځیدل به د شیانو بیې څومره لوړې کړي؟

څومره کارکوونکي به ورسره بیکاره پاتې شي؟

د خامو موادو څومره کارکوونکي به بیکاره پاتې شي؟

څومره ترانسپورت په دې فابریکه کې په کار بوخت وو؟

دا هغه څه دي چې ستاسې د سوژې زاويې ته پراخوالی ورکوي او د يوه ځانګړي پاړکې پرځای عامه ذهنيت تر اغيز لاندې راولي.

پرډيوسر او برابروونکی بايد سوژې او موضوع ته له خپلې زاويې څخه ونه ګوري بلکې ځان د مخاطبانو په قطار کې وګڼي.

**۲، ۷- وخت او موخه**

پيغام په ځانګړو وختونو کې د يوې ځانګړې موخې لپاره استول کيږي.

تاسې چې د خپلې موضوع لپاره کومه موضوع ټاکئ په دې باندې غور وکړئ، چې ستاسې اصلي موخه پکې څه شی دي؟ په څه ډول د خپلې موخې د لاسته راوړلو لپاره خپل پيغام ورسوئ؟ څه وخت خپل پيغام ورسوئ؟ کوم وخت يې د خپرولو لپاره مناسب دی؟ د شپې لخوا او که د ورځې لخوا؟ نيم ساعت او که يو ساعت؟ او په دې باندې ښه غور وکړئ، چې ټاکل شوې موضوع د توليد په څلورو پړاونو ( د مطالبو د راغونډولو، ډلبندۍ او متن ليکلو او ويډيويي ايډيټ) لپاره څومره وخت ته اړتيا شته، ايا سوژه او سناريو مو په يوه اونۍ کې د پلي کيدو وړ ده؟.

آيا مستند يا مستند پروفايل مو په ۱۴ ورځو کې توليديږي؟، که چيرته ځواب مثبت وي نو پخپله سوژه باندې کار پيل کړئ، خو که چيرته ځواب منفي وي پکار ده چې د خپلې سوژې لمنه رالنډه کړئ او يا هم پر بله سوژه غور وکړئ او نوموړې سوژه درسره حفظ کړئ.

**۲، ۸- د سوژې مطالعه**

سوژه لوستل (Subject study) تاسې ته يو پراخ ليد لوری درکوي. څېړنه، مرکه او مشاهده په ټولو ژورنالستيکو ژانرونو کې يو ګډ اصل دی او تاسې د خپلې سوژې په مطالعه کې د هغې ټولې خواوې راسپړلی شئ.

**۱ـــــ۹:د سوژې د لوستلو پروخت بايد لاندې ټکي په نظر کې ونيسئ:**

۱: ايا د تلويزيون لپاره توليد وړ ده؟

۲: د مخاطبانو پوښتنو او غوښتنو ته ځواب ويلی شو؟

۳: موضوع راښکونکې او تازه ده؟

۴: له دې نه مخکې خو به چا پرې کار نه وي کړی، او که پرې کړی يې وي نو په څه ډول توپير يې بايد توليد کړم؟

۵: د مخاطبانو سره د اړيکو د ټينګښت مخامخ لاره ( مخامخ کمرې ته خبری، کتل، په سوژه بحث او د کمرې پرځای له نندارچيانو سره دخبرې) وړ ده؟

۶: موضوع د ادارې او مخاطبانو لپاره څه ګټه کوي؟

۷: څومره لګښت يا مصارف وربانديې راځي او يا څومره عايد وربانديې ترلاسه کولی شو؟

۸: دمخاطبانو قناعت پکې تر لاسه کيږي او که نه؟

۹: په ښه شوې موخه اسانه ارزښتناکه او د لاسته راتللو وړ ده؟

د سوژې په انتخاب، مطالعه، په پلي کولو کې د پروډيوسر امکانات او فرصتونه تر خبريال څخه ډير دي، دا ځکه چې پروډيوسران د خپرونو ډول ته په نظر کې

نیولو سره د یوې خپرونې لپاره پوره یوه اونۍ او آن یوه میاشت وخت لري. تلویزیوني خپرونې له دریوو لید لورو په دریوو بیلا بیلو برخو ویشل کیږي.

د لید توکو visual elements له مخې: د خپرونو د وړاندې کولو ډول، شاټ بندي او دا ډول نور مسایل پکې شاملیږي.

ی اوډون توکو Visual elements له مخې: د سټوډیو او شالیدونو ځانګړنې او نورې تصویري ښکلاوې په کې راځي.

د منځپانګې د توکو content Elements له مخې: د روایت او کیسې ډول، ډراماتیک پیل، انځوریز پیل، په Establishing shots پیل او داسې نور.[۳:۱۶۳]

**۲، ۹- له سوژیې تر انځوره**

د خپرونې لپاره د اړتیا وړ فضا، وسایل او ظرفیتونه په پام کې نیول کیږي، دا ځکه چې ځینې خپرونې له ستوډیو ځخه بهر تولیدیږي، چې زیات کار او مسایلو ته اړتیا لري. په سترو تلویزیوني شبکو کې، چې خورا زیات امکانات لري د هرې برخې او کار لپاره بیل بیل کسان ګومارل کیږي خو په وړو شبکو کې زیاتره کارونه پروډیوسر، ډایرکټر او د فلم اخیستونکی ترسره کوي.

پروډیوسر په خپله خپرونه کې د تصویر ډول، ځرنګتیا، د انځورونو تنوع، مخاطبانو سره د انځوري اړیکو ډول، ثبتي یا ژوندي خپرول، او دا ډول نور مسایل مخکې تر مخکې ځیري او یوه انځور پاڼه هم جوړوي. موږ په تلویزیونونو کې ډول ډول خپروني لرو چې په ټولیز ډول د روزنیزو، بوختوونکو، ننداریزو، ترکیبي او ارشیفي خپرونو تر سرلیکونو لاندې خپریږي. دا هره خپرونه ځانګړی انځور، سټوډیو، دیکور( کروماکي) بڼو یا لرګین توکي،

فضا او نورې ځانګړنې لري، چې پروډیوسران او د خپرونو لیکوالان یې په پام کې نیسي.

که تاسې د الجزیرې، بي بي سي او سي ان ان په څېر د سترو شبکو خبري سرویسونو ته ځیر شئ، نو د تولید یوه ستره ډله یا ګروپ پکې کار کوي. دا ډول شبکې په هره برخه کې مسلکي کسانو ته اړتیا لري او له یوې کمرې څخه بلې کمرې ته او یا له یوه انځور څخه بل انځور ته تګ ټول په یوه منظم او کاري پلان سره ترسره کوي او په ځینې مواردو کې انځور پاڼې ته اړتیا لري. تلویزیوني خپرونو کې بیلا بیل جوړښتونه او قالبونه په کار وړل کیږي، چې په توکو کې مرکې، تمثیل، نظر، موسیقي، بحث، تحلیل، سیالي، روایت، رپوټ، پکیج، طبیعي غږ او انځور څخه جوړونه، ګرافیک، تلیفوني اړیکه، ټولنیزې شبکې، ارشیف، خبري ژوندي کانفرانسونه، کلیپ، سونډبایټ، ګرافیکي متن، انځور، نقشه، کارتون او نور شامل دي.

### ۲، ۱۰- نوښتګر فکر Innovative thinking

په تلویزیوني خپرونو کې تر ټولو ستره ستونزه موضوعاتو او مسایلو ته سرسري کتل او پر عمومي مسایلو بحث کول دي. ډېر ځله د چمتوال خبریال ذهن په دوو کلیشواو تکراري قالبونواو جوړښتونو کې بوخت وي، خو خپله د خپرونې لپاره پر نوښت فکر نکوي، او موضوع ورنه په جزیاتو د سپړنې پرځای عمومي Generdize کیږي.

د تکنالوژي او انساني فکر له پرمختګ سره یوځای د څېړنې لارې هم بدلې شوې دي. اوس مهال څېړنې له شخصي تجربو، نړیوال پر مختګ او نویو پر مختیا وو سره یو ځای دي، نو زموږ پروډیوسران هم باید له زړو چوکاټونو

ووځي، خبرونه په یوه قالب او یوه چوکاټ کې رانه ولي او د هرې خپرونې لپاره له امکاناتو سره سم متفاوت قالب، چوکاټ او سبک وګوري.[۴:۱۶۶]

## ۲، ۱۱- اقتصادي عمل Economic action

په تلوزیوني خپرونو کې اقتصادي فکر له دوو اړخونو سنجول کیږي:

لومړی زمونږ خپرونه ځوک ګوري او څه ته اړتیا لري؛ که په یوه کمره مین کیږي، دوه او درې ولې یووړل شي؟ که چیر ته ډیکور لپاره یو نوښتګر او تکړه ترکاڼ ولرو، نور نو دې ته اړتیا نشته چې سیټ آپ او دیکور په لسګونو زره افغانۍ لګښت وکړو، که یو ښه کروما ټریکاسټر Trickster تاسې ته دیوه متحرک او قیمتي سیټ کار درکوي، دې ته څه اړتیا ده، چې په هر سیټ کې سکرین او بګراونډ جوړوئ او په سلګونه زره افغانۍ ولګیږي. دویم تلویزیوني خپرونې یو کلتوري اوفرهنګي تولید دی او د(( یوځل مصرف)) مسله باید پکې خورا دقیقه وڅیړل شي. موږ په ژوند کې دمګړۍ ګڼ داسې توکي لرو، چې یو ځل مصرف دي خو د دغو توکو پرتولید هم دومره لګښت نه وي شوی، چې د خرڅ له بیې نه ورته قیمت ګران پریوځي.

که د تولویزیون له پروډیوسر یا چمتوال سره دا فکر وي، مالونه او تولیدات یو ځل مصرف دي، په لګښت کې یې باید اقتصادي اووسئ، خو که یو ځل مو خپرونه په دې ارادې چې سپانسر یې په لوړه بیه ملاتړ کوي، چې یوکلیوال پکې د غواوو په یوه فارم  د کابل ښار په شبوکیو سیمه کې هم موندل کیږي. د خپرونې تر تولید مخکې د مخاطبانو ارزول او د هغوی د اړتیاوو درک، د مارکیټ ځار او ځیرل او دغسې د خپرونې لپاره مناسب بازار موندل، د رسنۍ په ځانګړې توګه تلویزیون لپاره حیاتي ارزښت لري. که په هره خپرونه کې له ۵۰ څخه تر ۵۰۰ زرو افغانیو پورې لګښت راځي او عاید او مخاطب ونه لري،

دوام يې د تلويزيون اداري ملا ماتوي. دا د هر تلويزيون د بازار موندنې څانګې مسوولیت دی، چې تر خپرونې مخکې خپرونې ته بازار پیداکړي او بیا په تولید پیل وکړي.

د خپرونې په هکله سروې، د مخاطبانو پوښتل یا feedback د خپرونې ارزول او په خپرونه کې تنوع راوستل هغه څه دي چې هره رسنۍ یې باید په پام کې ونیسي او لږ تر لږه له درې میاشتو څخه تر یوه کاله باید له ډیکور نیولې تر خپرونې او بڼې، محتوا او چلوونکي پورې پر ټولو مسایلو بیا کتنه وشي.

د فلم، سریال، مستند او دغه راز د نورو قیمتي خپرونو تولید په حقیقت کې د کلتوري لوري پانګونه ده، چې د خرڅلاو او صادراتو لپاره تولیدیږي. زموږ تولیدات باید د دې جوګه وي، چې پر کورني مارکیټ او مخاطب سربیره، سیمه یز او نړیوال مارکیټ او مخاطب هم د ځان پرلور ورمات کړي. په لویدیځ او زموږ شاه وخوا هیوادونو کې دې مسلې ته د دیني پیري هسې پاملرنه کیږي او نه یوازې دا چې (( کلتوري سوداګري)) کوي بلکې خپل مذهب، سیاست، کلتور، او فرهنګ هم له دې لارې نورو ملتونو ته صادروي.

د اوس لپاره د افغانستان او یو شمیر نورو هیوادنو له کورنیو تلویزیوني شبکو نه د څو لسیزو وړاندې وخت ترکیي او هندي سریالونو خپریږي او د ورځې ورباندې هره خپرونکې رسنۍ لسګونه زره افغانۍ ګټه کوي. دا په دې مانا چې پر دغو سریالونو شوې پانګونه له څو لسیزو تیریدو سره سره ورځ تربلې نوي مارکیټونه پیدا کوي. (۵:۱۶۶)

**۲، ۱۲- تلویزیوني فیچر څه شی دی؟**

فیچر feature د یوه نرم خبري ژانر په توګه پر چا، چیرې، او څه افرادو، ځایونه او پیښو تمرکز کوي. دلته د کله، ولې، چیرته پوښتنو ځوابول حتمي نه

دي، ځکه دغه پوښتنې په سخت خبر او خبري رپوټونو کې پيداکيږي، فيچر يوازې د پيښې پر مهمو اړخونو خبرې کوي، څيړنه ستاينه او نوښت د فيچر ليکنې ځانګړنې دي.

په فيچر کې د يوې پيښې د ورستيو جزياتو د وړاندې کولو هڅه نه کيږي، بلکې موضوع ته له يوې بيلې او ژورې زاويې څخه کتل کيږي. په فيچر کې د خبريال کوښښ پر دې وي، چې مخاطبان د يادې موضوع يا پيښې له کومو زاويو څخه چې خبر نه دي خبرو کړي او څنګه کولی شي يو داسې اړخ ورکړي چې د هغوی خبري تنده او ذوق دواړه خړوب کړي. دلته د خبري تندې او ذوق ګډ راتګ په دې مانا دي، چې فيچر يوګډ خبري او ادبي ژانر دی په ادبي اړخ کې موږ د مخاطبانو ذوق خړوبوو.

فيچرونه تر سختو خبرونو اوږده وي، ځکه چې فيچر د خبر اپوټه د موضوع منځ ته نفوذ کوي او د جزياتو د سپړنې پر ځای پر څو مهمو ټکو تمرکز کوي. په سختو خبرونو او رپوټونو کې خبريال د خبر شپږګونې پوښتنې د سر چپه هرم په ډول د خبر يا رپوټ په پيل کې راوړي، خو په فيچر کې د موضوع د پيښې پر نوي اړخ تمرکز کيږي او د خبري ليد پرځای فيچري ليد پيلوي.

**۲، ۱۳- فيچر په څه وليکو؟**

په تلويزيوني خبري فيچرونو کې موضوع د ارزښت او نرمو سوژو ( Soft subjects ) پر بنسټ غوره کيږي. د يوه چا د ژوند په اړه سپړنه، ټولنيز او د انساني راښکون مطالب، ورځني او ژور مسايل، د پيښو شاليد يعنې بګراونډ او دا ډول نور موضوعات د فيچر ځانګړنې او سوژې جوړوي. فيچر زياتره پر هغو موضوعاتو باندې جوړيږي چې بيړني نه وي، په دا ډول شننه او سپړنه کې

د ورځې تازه تصويرونه، ويډيو ارشيفونه، غږونه او په ځينې مواردو کې موسيقي کارول کيږي.

د فيچر لپاره متن د مستند فلم په سبک ليکل کيږي، او د کيسې صحنې يو تر بله سره نښلوي. فيچر ډير راښکونکی او په زړه پورې وي او د خبرو پرمنځ يا پای کې خپريږي، خو هغه فيچرونه چې وخت يې له ۱۰ دقيقو څخه ډيريږي له خبره اخوا (Insidestory) برخې ته پريښودل کيږي.

د فيچر توکي په دريو ځيزونو مشاهده، مرکې او شا ځمکه کې راغونديږي. په مشاهده کې خبريال په پيښه کې حضور مومي، په يوه ځانمرگي بريد کې د وژل شويو کسانو د کورنيو له غږو سره دهغو په جنازو کې گډون کوي، بچيانو او ميرمنو سره يې غږيږي، د دا ډول بريدونو پرشاه ځمکه وغږيږي، چې تراوسه څومره دا ډول بريدونه شوي او څومره خلک پکې وژل شوي دي. کيدای شي د ملکي خلکو مرگ ژوبلې په تړاو يې د بشري حقونو کميسيون مسؤولان وغږوي او د پوځي مرگ ژوبلې په اړه د کورنيو او د فاع چارو وزارتونو ويانندويان وغږوي. پر دې سربيره د واکسپاپ په ډول د عامو خلکو نظرونه او د هغو خلکو خاطرې چې له دا ډول بريدنو څخه روغ رمټ وتلي دي هم د خپل فيچر يوه برخه وگرځوي.

خبريال خپل نظر د راغونديو شويو اطلاعاتو په رڼا کې د فيچر په پای کې د ستنداپ په توگه وړاندې کوي.(۶:۷۶)

**۲، ۱۴- د کيسې قالب**

د رپوټونو، سرختونو او خبرونو په پرتله په فيچر کې د موضوع او پيښې توکي په متفاوت ډول ځای پرځای کيږي، کيدای شي په سرکې تاسې څو انځورونه

راوړئ، او بیا ورپسې خپله کیسه راوړئ یا هم کیدای شي لومړی کیسه پیل کړئ او پرې انځور سره یو ځای اوازونه یا غږونه راوړئ.

په ټولیز ډول د رپوټ لپاره غوره شوی کیسه بیز سبک د فیچر لپاره هم کارېږي، فیچرنه په ورځپاڼوکې له ۵۰۰ څخ تر ۲۵۰۰ کلیمو، په مجلو کې تر ۲۵۰۰۰، په انلاین رسنیو کې له ۲۵۰، په راډیوګانو کې له ۲۵۰ څخه تر ۵۰۰ او په تلویزیون کې ۲۵۰ څخه تر ۳۰۰ کلیمو پورې لیکل کېږي. په تلویزیوني فیچر کې خبریال د راښکون ډېرې وسیلې لري لکه ګرافیکي طرحې، ویډیو، بیلابیلې صحنې، سټنډاپونه او داسې نور.

## ۲، ۱۵- پکیج package

تاسې په بازار کې بیلابیل خوراکي توکي اخلئ، او په یوه کڅوړه کې یې اچوئ، وروسته چې کور ته راځئ ټول سره جلا کوئ، او په دې کې غوره کوئ چې بیګا ته کوم شیان پاخه کړئ، پکیج هم دغسې یو شی دی، پکیج پراخو مخاطبانو ته د خبرو د لیږد یوه نوې او نوښتګره لاره ده.

پکیج د خبرونو یوه داسې کڅوړه ده، چې د خبر کرکټرونه، خبرې اترې، تفریح او بیلابیل نور توکي پکې ځای پرځای کېږي. پکیج په خپله سپېړیزه او تشریحي وینا نه ده خو په اډانه کې یې د یوې موضوع د حقیقي اړخونو او اغیزو له لارې یې کیسه وړاندې کېږي. په تلویزیون کې زیات مروج پکیجونه په تولنیزو سوژو راڅرخي. په ژمي کې د ښوونځیو د ماشومانو بوختیا وې، په کابل کې د پارکونو د نه شتون ستونزه، په باران او واوره کې د کابل ښار د سرکونو بد وضعیت او د اوبو ډنډونه او همدا ډول نور ټولنیز مسایل د پکیجونو سوژې جوړوي.

پکیجونه زیاتره په یوه ټاکلي محور او موضوع راڅرخي او د څیړنې لاره خپلوي، په سیاسي او ټولنیزو پکیجونو کې د ټولو اړخونو خبرې راخیستل کیږي، که خبریال د مقابل لوري پر پکیج او انځور بریالی نه شي، د اندول ساتنې په موخه یې تلیفوني او یاهم متني نظر راخلي.

پکیج چې مونږ یې د فیچر لیکنو(soft news) یوه برخه ګڼلی شو، په داسې ډول کیږي، چې د مخاطب راښکون تر پایه ورسره وساتي. پکیجونه زیاتره په هغو حالاتو کې کارول کیږي، چې په خبرو، رپوټ او مرکه کې چې موضوع په سمه توګه ونه سپړل شي او یا دا چې موضوع پیچلې وي، خو په دې نه ارزي چې ټوله خپرونه ورته ځانګړې شي.

د پکیج لپاره خبریالان خورا زیات توکي راټولوي، بیلابیلې مرکې، د سیمې او سوژې مختلف انځورونه هغه څه دي، چې خبریالان یې په غوره کولو کې له ستونزو سره مخامخ وي، ځکه هغه پر دې فکر کوي، چې کومې مرکې او انځورنه وباسي، چې د وخت په دې موده کې خپله کڅوړه وتړي.

د خبري ساعتونو پکیجونه زیاتره له ۴ دقیقو څخه زیات وي خو تر خبري ساعتونو وروسته د خبرونو په اوږدو کې تر ۸ دقیقو پورې هم اوږدیدای شي. ښه پکیج د خبریال له نوښت او ښې مرکې سره تړلی دی. په پکیج کې ټول شوي نظرونه باید د رپوټ له موضوع سره اړخ ولګوي او تازه وي. په ننني نړۍ کې خبریالان خپل زیات توکي ویډیویي، متن، او نریشن په خپله لولي او سرته یې رسوي او آن په زیاتو مواردو کې د کمره مین او ویډیو اډیټر دنده هم پخپله پرمخ وړي.

له متن لیکلو نه مخکې پر دې څیزونو باندې غور وکړئ:

څه غواړئ، چې په پکیج کې یې وړاندې کړئ؟

ایا موضوع مو د پکیج لپاره وړ ده؟ درنه ده رپوټ ورنه نه شي؟

په لومړنیو توکو یې کار وکړئ، یو څه ورته راغونډ کړئ.

خپلې پوښتنې چمتوکړئ، د څه په اړه پوښتنې کوئ؟

په خپل وخت مرکې ته ورشئ.

د خپلې موضوع انځورونه ( B-roll) چمتو کړئ، د موضوع د مرکچیانو دفتر، اداري او داسې نور.

د مرکو په وخت کې ښه غوږ شئ، څه وایئ او که کوم شی او مواد مو په زړه نه وي بیا بیا پوښتنه وکړئ.[۷:۷۷]

**۲، ۱۶- د پکیج متن څنګه ولیکو؟**

د پکیج سره متن لیکل خورا مهم دي، ځکه چې د یو متن لپاره پکیج د همدغه متن پربنسټ ډلبندي کیږي.

په پکیج کې او یا هم پر بل هر خبري تلویزیوني ژانرونو کې د متن لیکل د کار د پای پړاو دی. له پکیج لیکلو وړاندې د کلیپونو او انځورنو انتخاب او د پکیج د جوړښت خاکې ته وخت ورکول کیږي. په خبري پکیج کې پیل منځ او پای درې واړه مهم دي او خبریال خپل ستنداپ مهم پکې ورکوي.

په پکیج کې تاسې غږ او ویډیو دواړه په پام کې نیسئ، څه چې د مخاطبانو په غږ کې اورئ هغه ورته په انځور کې هم وښیئ، د پکیج لپاره زیات هغه کلیپونه او سونډبایټونه غوره کیږي، چې د کیسې د پرمخ وړلو سره مرسته کوي. تاسې دغه کلیپونه د متن له لیکنې څخه مخکې کیپچر کوئ او په متن کې ورته ځای پریږدئ. که ستاسې مرکچي په دویمه یا دریمه ژبه خبرې کوي، نو پکارده چې

خبرې يې د متن اصلي ژبې ته وژباړئ او په يوه جلا کس ( ښځينه غږ په ښځينه، او نارينه غږ په نارينه غږ کې) يې ولولئ.

د بيلګې په توګه که تاسې د کابل په ښار کې د بارانونو پر مهال د سړکونو پر وضعيت پکيج جوړوئ، په دغه پکيج کې لومړی تاسې د هغو ډنډونو او اوبو انځورونه اخلئ چې په سړکونو او لارو يې د موټرو او خلکو تګ راتګ له ستونزو سره مخامخ کړی دی. ګاډي، خلک له ډنډونو او اوبو څخه په 10افغانيو پورې کوي، دغه هلکان او په ګاډيو کې پورې کيدونکي کسان ستاسې پکيج لپاره غوره مرکچيان دي، تاسو په طنزيه ډول سټنداپ ورکوئ، چې له يوې خوا باران او کنډوکپر سړکونه خلکو او موټرو ته ستونزې جوړې کړې دي، له بله پلوه يو شمير کسان له هرې ستونزې نه په ګټې خپله روزي کټي.[۸:۷۹]

**پکيج له دريو برخونه جوړيږي:**

۱: پيل

۲: تمرکز( د موضوع سپړل، دلايل وړاندې کول او د پايلې اعلان).

۳: پای ( د خبر لنډيز او پوښتنو ته ځواب ويل، او د پيښې د اړخونو تر منځ ټکر).

د پيل او تمرکز په برخو کې خبريال د پيښې له صحنې څخه د پيښې يو لړ جزئيات ورکوي. بيا وروسته موضوع سپړل کيږي، او خپله خبري زاويه ټاکي. په منځنۍ برخه کې د لومړنۍ برخې په عيني ځيزونو تميږي او يو يو سپړل کيږي. دې برخې ته د پيښې عيني کول هم وايي او په اصلي انځور سره ثبتيږي. دلته په پيښه کې د ښکيلو اړخونو خبرې، د عيني شاهدانو څرګندونې يا واکسپاپ

هم راوړل کیږي. پکیج چې زیات خلک یې خبري رپوټ هم بولي، د مسوولو چارواکو په خبرو، دلایلو او پایلې اخیستو سره پای ته رسیږي.

**د خبري پکیج د سکلیټ بیلګه:**

پیژندګلویز انځور. Establishing shots له ۱۰ څخه تر ۱۵ ثانیو پورې.

ستېنډاپ یا P TC له ۲۰ څخه تر ۲۵ ثانیو پورې.

غږ او انځور Video sound له ۲۵ څخه تر ۳۰ ثانیو پورې.

مرکې یا sound bites ۲۰ څخه تر ۲۵ ثانیو پورې.

پیل یا Bridge له ۲۰ څخه تر ۲۵ ثانیو پورې.

وا کسپاپ Vox pop له ۱۵ څخه تر ۲۰ ثانیو پورې.

وروستی Standup له ۲۰ څخه تر ۲۵ ثنیو پورې.

راښکونکي انځورونه Establishing shots له ۱۰ څخه تر ۱۵ ثانیو پورې.

په دې توګه زمونږ خبري رپوټ یا News package ۱۴۰ ثانیي یا هم څه کم درې دقیقې کیږي.[۹:۸۰]

**۲، ۱۷- ګډه خپرونه یا Combines program**

ترکیبي خپرونې یا Combines program خاص تعریف نه لري، ځکه بیلابیل ژانرونه پکې کارول کیږي، خو موږ په تلویزیون کې دوه ډوله دا ډول خپرونې لرو. یوه یې خبري ګړۍ خپرونې دي، چې خبر، رپوټ، مرکې، ګردی میز، تلیفوني اړیکي، سکایپ، فیچر ژانرونه، مستند او دغسې نور پکې کاریږي دا ډول خپرونې زیاتره په خبري چینلونو کې رواج لري. دویم ډول ګډې

خپرونې، غیر خبري تفریحي او روزنیزې دي، چې د ویندویانو متفاوت وینابیز او انځوریز حرکت، بیلابیلې سیالۍ، ننداري، خبرې اترې، مرکې، شعر او ترانې، د مخاطبانو ګډون او فیچري توکې پکې شامل دي. دا ډول خپرونې د نړۍ په ګڼو تلویزیونونو کې رواج دي او د پراخو مخاطبانو د ذوقونو په پام کې نیولو سره خورا زیات مخاطبان هم لري.

کله کله بیړنۍ پېښې کیږي، یا هم یوه مهمه او تازه پېښه رامنځ ته کیږي. تلویزیوني مدیران په داسې حالاتو کې ګډې ترکیبي خپرونې جوړوي چې په دا ډول خپرونو کې رپوټ، مرکه، تلیفوني اړیکې، د پېښې عیني شاهدان، له سیمې نه د خبر یا ژوندۍ اړیکه، د خبر خونې له مدیر یا شنونکي سره دوه کسیزه مرکه، په فیسبوک او نورو ټولنیزو شبکو کې د خلکو تبصرې او دا ډول نور مطالب یوځای کیږي.

دا مها ل د خبر خونې یوه ستره برخه کارکوونکي د بیړنۍ تازه پېښې پر پوښښ بوختیږي، خو یوه بله برخه د خبر خونې پر نورو چارو ګومارل کیږي.[۸۱: ۱۰]

## ۲، ۱۸- خبري مستند News Documentary

موږ په خپلو رسنیو کې خورا کم یا په نشت برا برمستند لرو. زموږ د مخاطبانو په ذهن کې هم مستند یوازې پر ځانګړو موضوعاتو ( د ژویو نړۍ، ځمکه او ستوریو) تمرکز انځور شوي دي. په خبري مستند کې ډیر ځله پخپله خبریال د یوه مرکزي کردار یا راوي په توګه برخه اخلي او په بیلابیلو صحنو کې حاضریږي. دا ډول حضور او په سختو حالاتو او شرایطو کې د اطلاعاتو حصول او بیا له مخاطبانو سره د هغو ویش، خبریال ته په مستند کې د مخاطبانو

د اتل ډول ورکوي. خبري مستند موخه دا دی، چې یوه پیښه، موضوع او سیاسي مسله له تحلیل او څیړنې سره یو ځای وړاندې کړي.

د نړۍ ستری تلویزیوني شبکې CNN الجزیره BBC او دا ډول نورې رسنۍ ځانګړي خبري مستندونه او مستند لري، چې له ۳۰ څخه تر ۴۰ دقیقو او یا هم کله ډیر وخت اخلي.[۱۱:۸۲]

**۲، ۱۹- له خبر اخوا یا Inside storu**

په خبرونو او خبري رپوټونو کې د خبریالانو تمرکز د پیښې پر شپږو پوښتنو وي او هڅه کوي چې دغو پوښتنو ته ځوابونه ومومي، خو له دې اخوا ډیر نور مسایل هم دي، چې څیړلو ته یې اړتیا ده.

هره پیښه تر شاه نورې پیښې زیږوي او دغه پیښې چې زیاتره یې په سافټ بڼه کې تولیدیږي، تر خبري بولیټونو وروسته، له خبر اخوا او ماوراء خبر Inside story په نومونو ځانګړو خپرونو کې د فیچر، ځانګړي رپوټ، پکیج خبري مستند، مرکې او ګردي میز یا سکایپ او تلیفوني تماس په اډانه کې خپریږي.

په تفریحي او ټولنیزو چینلونو کې خبرونه ډیری د ساعت او ځانګړي خبري بولټین پر بنسټ ویشل کیږي او د پیښو سپړنې ته هومره پام نه کوي، خو په خبري چینلونو کې دې مسلې ته زیات ارزښت ورکول کیږي، ځکه دلته د فیچر ځانګړي رپوټ او مستند د وخت په تړاو بندیز نه شته. په خبري چینلونو کې سخت خبرونه او د هغو رپوټونه په خبري سرویس کې د سرټکو او بولیټن په چوکاټ کې خپریږي، خو له خبري بولیټین او سختو خبرونو وروسته ځانګړې خبري کیسې، نیوز پکیج، فیچر او یو نیم مستند خپروي، له خبر اخوا کې زیاتره د سختو خبرونو پرجزیاتو او بیلا بیلو زاویو خبرې کیږي.

موږ په خبري بولتين کې قطر ته د ولسمشر اشرف غني پر سفر سخت خبر او رپوټ لرو، خو په ماورا خبر کې يې تحليل او سپړنه کوو. دلته د سفر پر ارزښت، لاملونه، اتکلي پايلو او نورو پېښنو او مسايلو غږېږو، دلته کيدی شي له موږ سره شنونکي، د چارو کارپوهان په تليفون باندې د ولسمشر وياند، د سوداګريي خونې کوم چارواکي او يا هم عامه ليدونکي وي. له خبر اخوا په تلويزيونونو کې توپير کوي. يو شمير رسنۍ يو مضوعي عمل کوي او يو شمير نورې هغه څو موضوعي دي. د بيلګې په توګه د کابل نيوز نن او خبر او نظر يو موضوعي سپړنې دي، خو په طلوع نيوز فرا خبر خپرونه څومره موضوعي ده.

## ۲، ۲۰- د خلکو غږ Vox pop

د خلکو غږ يا واکسپاپ د لاتيني کلمې Vox papule اصطلاح ده چې په رپوټونو، پکيجونو او فيچرونو کې زيات کارول کيږي.

واکسپاپ زياتره د ورځنيو مسايلو په اړه د عامو خلکو نظر وي، او له ۲۰ څخه تر ۴۰ ثانيو پورې اوږديږي. په واکسپاپ کې مرکچيان نوي کسان وي او زياتره په ناڅاپي ډول له مرکو سره مخ کيږي. کيدای شي تاسې په ښار کې له شاه وخوا اوو کسانو سره د واکسپاپ لپاره خبرې کړې وي، خو د رپوټ لپاره مو يوازې د دريو کسانو خبرې د خپريدو وړ وي.

يو شمير خبريالان په خپلو رپوټونو او فيچري کڅوړو کې واکسپاپ ته ډير ارزښت ورکوي، خو ځينې نور له دا ډول مرکو نه ډير بد وړي، که حقيقت ووايو واکسپاپ کله کله تر ځانګړې مرکې هم سختيږي، ځکه چې خلک ډير لږ د تلويزيون د کمرې پرووړاندې خبر ورکولو ته چمتو کيږي، په واکسپاپ کې خلک ډيری له يوې څرګندې پوښتنې سره مخ کيږي او مرکچيان يې هم زياتره

عام خلک او محصلان وي. ستاسې پوښتنه کيدی شي داسې وي: ولسي جرګې وزيران استيضاح نه کړل، يو شمير وکيلان وايي د جرګې ځينو غړو بډې( رشوت) اخستی دی؟ ښاروالي سرکونه جوړوي، تاسې له ښاروالي نه څه غواړئ؟

د واکسپاپ اخيستل په دې هم ستونزمن دي، چې تاسې نا څاپي د يو چا په وړاندې دريږئ او خپله موضوع ورسره مطرح کوئ، مقابل اړخ په رواني او اروايي لحاظ خبرونو ته چمتو نه دی او له تياري پرته د خپلو خبرونو د څرنګتيا په تړاو ويريږي. تلويزيوني واکسپاپ له راډيويي او نورو هغو ځکه جنجالي دی چې دلته پر سکرين د يوه کس يا شخص څېره ښودل کيږي او هغه د خپلو خبرو پر وړاندې يو ډول مسووليت انګيري.

د ښيړې انتقادي خبريالی Critical Journalism پراختيا او په سافټ نيوز چوکاټ کې د توليدي رپوټونو زياتيدو پر سياست د خلکو باور يا عامه ذهنيت زيانمن کړی او ډير لږ دې ته چمتو کيږي چې د يوې سياسي مسلې په اړه خپل نظر ووايي. په انتقادي خبريالی کې عمومي پرنيسپ پرواکمن سياست نيوکې دي او دا چې سياست د خبر او ژورناليزم موضوع او بنسټ جوړوي، پرخبرونو او رسنيو کې هم اغيزمن دی. تاسې به ډير ځله په ښارکې له خلکو اوريدلي وي چې (( پريږده بابا، سياست ټول دروغ دي )) (( زه که نظر درکړم څوک غوږ ورته ږدي، ورکوه يې)) دا له همدې انتقاد وزمه واکمن وضعيت نه د سياست پر تړاو د خلکو اشتباه ده چې اغيز يې خبر او نورو رسنيو ته هم سرايت کوي. واکسپاپ په يوازې سر ستاسې په درد نه خوري، ځکه چې دا ديوې موضوع په اړه د خلکو ليد لوري او عامه ذهنيت ښي.

په واکسپاپ کې خبریالان مکلف دي چې خپلو مرکچیانو ته تر هر څه وړاندې موضوع وسپړي، د خبرو روحیه ورکړي او د ملګرتیا او صمیمیت په فضا کې ترې نظر واخلئ، هیڅکله هم توند خویه مه اوسئ او نه هم داسې فکر کوئ، چې واکسپاپ سره پر مرکچیانو او په تلویزیون کې د هغوی د انځور د خپریدو احسان ورباندې کوئ، کیدای شي ځینې بد مغزه کسان مو خبرو ته غوږ کیږدي او سپکو سپوروته یې زړه وي په دې صورت کې تاسې بحث مه کوئ، خو کوښښ وکړئ، چې ارامه یې کړئ، وخاندئ او لهجه مو نرمه کړئ، یا مخ ورنه واړوئ او له بل چا سره په خبرو پیل وکړئ. ستاسې واکسپاپ د مستند لپاره نه دی، چې موقعیت او لوکیشن یې له موضوع سره متناسب غوره کړئ، تاسې فیچر، رپوټ یا پکیج ته غږ راوړئ او دا مهمه ده، چې له غږ او شور لرې موقیعت ورته غوره کړئ. په واکسپاپ او سونډبایټ اخیستو کې د موقعیت تغییر مهم دی، ځکه پر یوه ځای د ځو کسانو نظر اخیستل مخاطبان ستومانه کوي.[۱۲:۸۴]

**۲، ۲۱- سونډبایټ او کلیپ څنګه واخلو؟**

سونډبایټونه او کلیپونه په تلویزوني خپرونو او رپوټونو کې زیات کارول کیږي. د وخت د مدیریت په پام کې نیولو سره لنډ او روښانه سونډبایټونه ستاسې کار ډیر اسانه کوي، سونډبایټ او کلیپ تاسې له ځانګړې مرکې جلا کولی شي. د کلیپ د اخیستلو پر مهال موږ له درې ډوله کسانو سره مخامخ کیږو:

یوه ډله کارپوهان، چاراوکي او مسوولان پر موضوع مسلط او Up date دي. له تاسې نه کیدای شي وپوښتي، چې د موضوع پر کوم اړخ درته وغږیږي، دویمه ډله کارپوهان پر موضوع نه پوهیږي او له تاسې معلومات غواړي. دا ډول کسان تاسې ته له فرمایش سره سم کلیپ درکوي، خو څومره چې شونې وي

له دا ډول کسانو سره له مرکې ډډه کوئ. دریمه ډله هغه کارپوهان دي، چې خپل نظر لري او غواړي، ستاسې د رپوټ، پکیج او فیچر محور وګرځي. دا ډول کسان باید په لاربنودو، سپریزو او ننګوونو پوښتنو د خپل اصلي موضوع پرلور بوځئ.[۱۳:۸۶]

**۲، ۲۲- پروفایل او تاریخ**

پروفایل او تاریخ په فني توګه یو له بله بېل یعنې جلا ډولونه دي، خو یو لړ ګډې ځانګړنې هم لري، چې نوموړې دوه بېل ډولونه سره نږدې کوي، په تاریخ کې وخت راسپړل کیږي او نوموړې راسپړنې ته لیکوال د دوربین له لارې ګوري.

د ژوند نور پاتې اړخونه پکې راسپړي، خو پروفایل کې تمرکز پر شخص او فرد وي او بیا د ذره بین له لارې څېړل کیږي، که چېرته د تلویزیوني کمرې په ژبه وویل شي، تاریخ(long shot) او پروفایل کلوز(close) دي.

د تاریخ موضوع زمانه وي او له ولس، ټولنې او ژوند څخه د فرد په لور حرکت کوي، خو په پروفایل کې موضوع شخص او له شخص څخه بیا د ملت، ټولنې او زمانې په لور ځي.

په تاریخ کې د فرد په لور حرکت څکه کیږي، چې تاریخ په پیړیو او عصر کې غځیږي او بیا د عصري او زماني شخصیتونه او د هغوی فعالیتونه څېړي، خو په پروفایل کې تمرکز په شخص وي او په کومه زمانه او عصر کې چې اوسېږي، د هغوی یو تاریخې نچوړ هم پکې وړاندې کیږي، دلته موخه د ټول تاریخ وړاندې کول نه دي، بلکې د تاریخ هغه برخې راسپړل کېږي، چې د پروفایل د کریکټر ژوند پکې له مهمو پړاونو تېریږي، یا هغه په خپله د تاریخ په یو پړاو کې رول لوبوي.[۱۴:۹۰]

**پروفایل اوتذکره :**

تذکره یو ادبي ژانر دی او د پروفایل په پرتله د شخص په لنډه ادبي پيژندګلوي بسنه کوي. په تذکره کې د یو شخص د نیوکې روحیه کمزورې وي او یوازې د هغه د هنر او کمال په څرنګتیا خبرې کیږي.

تذکره تردیره د شاعرانو، اولیاء کرامو او... پيژندګلوي او د هغوی د اثارو بیلګو ته ځانګړې کیږي. په پښتو ژبه کې پټه خزانه، تذکره اولیاء او داسې نور کتابونه یې غوره بیلګې دي.

په تلویزیوني تذکروکې د پروفایل برعکس د کس ژوند لیک د لنډې مرکې، ګرافیکي طرحو، ویډیو او انځور، یا د هغه د اثارو په بیلګو سره کیږي.

په تذکره کې د شخص د پيژندګلوي بڼه کرونولوژیکه یا ترتیبي وي. د ترتیبي بڼې بېبګړه داده، چې د شخص د ژوند بېلا بېل پړاوونه پکې په منظمه توګه راځي. د بېلګې په توګه څوک نه وایي، چې علامه عبدالشکور رشاد پر ۱۹۲۰ کې زیږدلی دی، ځکه چې هغه وخت نه علامه وه او نه رشاد .

دا کولای شو د هغه د مرګ په مهال ولیکو، چې علامه عبدالشکور رشاد د لیندۍ (قوس) میاشتې پر ۱۱مه نیټه په حق ورسید.[۹۱:۱۵]

**پروفایل او خاطره:**

خاطره د لیکوال ورځنۍ مشاهدې او تجربې دي، په خاطراتو کې لیکوال د خپلو شخصي عقایدو، تمایلاتو او لیدنو، کتنو بیان کوي، تلویزیوني خاطرې د تذکرې په شان د ناستې او ولاړې مرکې په بڼه کیږي او که مهمې او ارزښتناکې وي، تلویزیوني پروډیسران تمثیلي بڼه هم ورکولای شي.

په خاطره کې له تاسې سره خپل پخواني زاړه کورته ځي او هلته د خپل وړکتوب کيسې درته کوي، په دې مانا، چې خاطره په تلويزيون کې د يو جلا ژانر په پرتله تر ډيره د پروفايل په خدمت کې ده، او کوښښ کيږي، چې د پروفايل کرکټر هغو سيمو ته انتقال کړي چې هغه پکې د ژوند بيلا بيلو خاطرې لري، او د هغو يادونه وکړي.

د پروفايل او خاطرې ترمنځ توپير په دې کې دی، چې په پروفايل کې موضوع د شخص پيژندګلوي او د هغه د ښيګڼو او بدګڼو يادول دي، همدا راز د پروفايل ژبه ستايني او انتقادي دواړه اړخه خپلوي، خو خاطرات، چې پخپله له ليکوال نه سرچينه اخلي، د انتقاد پکې لږ شونتياوي.

د سياستوالو ګڼ داسې کتابونه خپاره شوي، چې خپلې خاطرې يې پکې ليکلي خو ځانونو ته يې کله هم بد پکې نه دي ويلې.

د پروفايل نثر د خاطرې په شان ساده، صميمي او بې تکليفه وي. دلته د جملو پاراګرافونو او توکو د تنظيم، اندول، تلوسې او اطلاع په برخه کې د مخاطب ذوق او اړتياوې په پام کې نيول کيږي.[۱۶:۹۲]

**پروفايل او شخصي رپورټ:**

پروفايل او شخصي رپورټ دوه سره ورته ژانرونه دي، په شخصي رپورټ کې د پروفايل په شان د يوه راښکونکي شخص د شخصيت د ځانګړنو، اثارو، کړنو سپړنه او ستاينه کيږي.

نوموړی کس کيدای شي سياستوال، تاريخ پوه، فرهنګپال وي، شخصيتي رپورټ له يوې ژورې مرکې سره ورته والی لري، ځکه په دا ډول مرکو کې د شخصي

رپورټ په شان د اړوند کس سلوک، کړه وړه، ژوند دود، حرکات، ولولې، غبرګونونه، انګیزې او نورې ځانګړنې انځوریږي.

په ژوره مرکه او شخصي رپورټ کې زیاتره توکي له شخص سره د مرکې له لارې ترلاسه کیږي، خو په پروفایل کې بیا په پوښتنو سربیره د کس یا شخص په اړه له بیلا بیلو سرچینو څخه ګټه اخیستل کیږي، دغه راز د شخص د ژوندانه تجربو، سړو تودو، اثارو، ژوند لیک او نورو بوختیاوو په اړه پلټنه او څیړنه کیږي.[۱۶:۹۳]

**پروفایل او ځانګړې ژوره مرکه:**

کیدای شي تاسې له خپل مرکچي یا اړوند اتل شخص سره کینئ او یوه سپړونکې مرکه ورسره وکړئ، نوموړې مرکه هم یو پروفایل یا شخصي ژوند لیک کیدای شي، په ځانګړو مرکو کې مهم شخصیتونه غوره کیږي او بیا د هغوی د ژوندانه د بیلابیلو اړخونو پوښتنه او سپړنه  کیږي، ان تر دې چې د رنګونو، خوراک، جامو او نورو توکو د انتخاب په اړه هم غږول کیږي. کوم رنګ دې خوښیږي؟ کومې جامې ډیرې اغوندې او ...

ځانګړې مرکې  د ډیالوګي بڼې له امله زیاتره وخت  په زړه پورې او بریالي پروفایلونه وي.

په دا ډول مرکو کې، چې  د پروفایل یو ډول دی، خبریال له خپل مرکچي سره په موټر کې ځي او پر بیلابیلو مسایلو یې پوښتې، پر بایسکل او اس ورسره پر بیلا بیلو ځایونو ګرځي او معلومات ور څخه اخلي، دلته له مرکچي سره ځیني هغه مسایل هم مطرح کیږي، چې دواړه اړخونه ژور بحث په لور وړي.

موږ څو ډوله پروفایل لرو؟

د رسنیو بنې، د خبریالانو سبک او کرکټرونو ځانګړنو او ډول ته په پام سره پروفایل په څو بیلابیلو ډولونو کې تعریف کیږي، خو تر ټولو مشهوره یې هغه ده، چې په تلویزیوني خپرونو کې رواج لري، شخصي پروفایل او ګرځنده مرکې پروفایل دي، په لاندې کرښو کې په لنډه توګه د پروفایل پر ځینو ډولونو رڼا اچول شوې ده.[۱۸:۹۳]

## څیړنیز (investigative) پروفایل:

اوږده یا څیړنیز پروفایلونه د شخص له پیژنګلوي نه د ټولنې، ملت او په ټولنه او ملت کې د هغه د رول په لور حرکت کوي.

په دا ډول پروفایلونو کې، چې بشپړ کتاب او مستند ترې جوړیږي، د یو شخص د ژوندانه ټول اړخونه، بریاوې، ناکامي او د هغو عوامل راسپړل کیږي، په دغو پروفایلونو کې د لیکنې بنسټ پر څیړنه ولاړ وي او اصلي کردار د بیلابیلو اړخونو په اړه څیړنې او پلټنې کیږي.

د اوږدو پروفایلونو پر وړاندې لنډ هم شته، چې په لنډو ژوند لیکونو، چې بیوګرافي او پیژند پاڼې پکې راتللی شي، د یو شخص لنډه پیژندګلوي راوړل کیږي. د یوه وزیر، والي او دغسې بل کس د چارو لاسته راوړنو شخصي ژوند او نورو اړخونو په اړه معلومات، څیړنه او له هغه سره مرکې د لنډو ژوند لیکونو بنسټ جوړوي، دا ډول ژوند لیکونه زیاتره په فیچري توګه لیکل کیږي او ټوله موخه یې د شخص او مخاطب ترمنځ د اړیکو ټینګښت دی.

## خبري (News) پروفایل:

خبري پروفایل (News Profile) زیاتره خبري بڼه لري، لکه د پخواني پاچا ظاهرشاه مړینه، په ټاکنو کې د لومړي ځل لپاره د بارک اوباما بریا، د حمزه بابا

مرګ، د فرهاد دریا، سردار علي ټکر له نوي البوم سره د هغه هنري پروفایل او داسې نور...(۱۹: ۹۴ )

## انلاین پروفایل (Online profile):

اوسني رواجي انلاین پروفایلونه (Online profile) ډېر کوچني او د یوه اعلان یا تبلیغ په څېر وي؛ د انلاین پروفایل موخه د ځان پر لور د مخاطب راښکون وي او دا زیاتره پخپله د شخص لخوا لیکل کیږي؛ دغه پروفایلونه خبري او ادبي ارزښت نه لري؛ خو په تبلیغاتي ډګر کې د شخص د شهرت لامل کیدای شي.

په دغسې پروفایلونو کې یوازیتوب (چې یوازې یو کس معرفي شي) صراحت او ژر پوهیدل اړین توکي دي.(۲۰: ۹۵)

### انلاین پروفایلونه له دریوو برخو څخه جوړیږي:

1. سرلیک (Head line)
2. منځپانګه (Contents)
3. پای(End)

د انلاین پروفایل سرلیک باید دومره زړه راښکونکی او په زړه پورې وي، چې په دریو ثانیو کې د مخاطب نظر ور خپل کړي؛ که ستاسې یا ستاسې د تلویزیوني پروډیوسرانو او نورو کارکوونکو پروفایلونه لیکل کیږي، دا ځانګړنه مو پکې له یاده ونه وځي، ځکه سرلیک په انلاین نړۍ کې د مخاطب او متن ترمنځ د اړیکو د ټینګښت یوازینۍ لاره ده؛ په زړه پورې فیچري سرلیکونه د مخاطبانو په راښکون کې ستر رول لوبوي، خو سرلیک باید له متن سره منطقي تړاو ولري؛ یا په بله توګه، د متن د موخې او پیغام رسونې لوډسپیکر و اوسي،

همدا راز د انلاین پروفایل محتوا او منځپانګه او پای باید له تلوسې ډک او راښکونکی وي.( ۲۱: ۹۵ )

**په انلاين پروفايل کې څو نور ټکي:**

په انلاين پروفايل کې بايد له تکراري شيانو څخه ډډه وکړئ؛ که همدا اوس تاسې ۳۰انلاين پروفايلونه وګورئ، نو خامخا به دا په کې ووينئ چې «په پښو تګ سره مې مينه ده، په ځانګړي کس پسې ګرځم، د يو ښه ملګري په لټه کې يم» او... يا داچې زه ۲۷کلن يم، په کابل کې ژوند کوم، يو نيم متر قد او تور ويښتان لرم، نوي ماډل موټر مې ډير خوښيږي، يو کور، يوه مور او يو هم تور سپی لرم.

دا ډول پروفايلونه په انلاين نړۍ کې خورا زيات دي، موخه او پيغام يې هم يوازې په شخص پورې محدود وي؛ دا يوازې د خپل ځان د تبليغ او شهرت د لاسته راوړلو لپاره پکار وړل کيږي.( ۲۲: ۹۵)

**د پروفايل ليکنې او توليد په برخه کې بايد لاندې ټکي په نظر کې ونيسئ:**

**خپله موضوع (شخص) وپيژنئ:**

زياتره خبريالان دا فکر کوي، چې څو ساعتونو کې يو چټک پروفايل کيسه ليکلای شي، خو دا اصلا دومره ساده نه ده، که تاسې د ورځپاڼې لپاره پر يوې فرهنګي خبرې باندې پروفايل ليکئ، کيدای شي ډير کار وغواړي، خو که د تلويزيون لپاره پر يوې سياسي څېرې باندې پروفايل جوړوئ، يوازې د ساتونکو له خوا ستاسې د وسايلو چک کيدل هم نيم ساعت وخت اخلي؛ تاسې تليفون ته په څومره وخت کې ځواب ورکوئ؟ هغه څه وخت فرصت لري، چې له تاسې سره مرکه وکړي، درسره وګرځي او ستاسې د سناريو مطابق عمل

وکړي.؟ په افغانستان کې، چې امنیتي وضع د نورو هیوادونو په پرتله ډیره کړکیچنه ده، د سیاسي چاړواکو پروفایل جوړول ډیره زړه خوږیني لري او په همدغه ترڅ کې راښکونکی کار دی.[۹۶:۲۳]

**شخص په عمل کې وګورئ:**

په کور یا دفتر کې ناست د یو چا په اړه پروفایل لیکل او له کتابونو او یا نورو ارشیفي موادو څخه پکې استفاده کول اسانه کار دی، خو د مخاطبانو لپاره به زړه راښکونکی نه وي، که چیرته وغواړئ یو په زړه پورې تلویزیوني پروفایل ولیکئ، نو پکار ده، چې د خپل اصلي کرکتر ورځني فعالیتونه له نږدې وګورئ، اوعملا په صحنه کې خپله حضور ولرئ؛ که چیرته د یو استاد یا پوهاند په اړه یو پروفایل جوړوئ، نو تر هر څه د مخه باید په پوهنتون کې یوه ورځ د هغه درس یا لیکچر ته په صنف کې کینئ او پوښتني ورڅخه وکړئ، او نور محصلان پوښتنو ته و هڅوئ؛ که کوم هنرمند یا سندر غاړي ته ورځئ نو پکار ده، چې له نږدې یې سندره واورئ او داسې نور؛ خلک ستاسې په خوله باور کوي، یایې نه کوي، خو که تاسې د پروفایل اتل په خپله په تصویر کې او عمل کې وګورئ، نو لیدل او کتل به یې ورته راښکون وي.

که چیرته ولسمشر اشرف غني له تاسې سره د پروفایل لیکنې لپاره د فوټبال یا کرکټ لوبه کوي، یا د وزیرانو په شورا کې ناست وي او خبرې کوي، او په کور کې د خپلې کورنۍ له غړو سره ډوډۍ خوري او تاسې هم ورسره شریک کیږئ او ورنه پوښتئ چې کوم خوراکونه یې خوښیږي او کوم شی تاسې پخولی شئ؛ نو د مخاطبانو لپاره به خورا راښکونکی وي، تاسې دا کار په مرکو کې نشئ کولای، دا ځکه چې مرکې زیاتره په ټړلو صحنو کې راځي.[۹۶:۲۴]

**ښه او بد ټول په ډاګه کړئ:**

پروفایل یوازې پکار نه ده، چې تاسې خپل اتل پکې وسپړئ، دا یوه کړکۍ ده، چې د خپل محوري کرکټر په اړه پکې حقیقتونه څرګندوئ؛ که ستاسې اتل د تود او ښه مزاج خاوند وي، نو ښه یې وځلوئ خو که د تند خوی خاوند وي، کبرجن او صمیمي نه وي، نو تاسې یې اصلي بڼه بربنډه کړئ، تاسې کله بد نه ښه او له ښه نه بد جوړوئ، په یو لړ مواردو کې ستاسې تصویر دا اجازه نه در کوي، ځکه په تصویر کې د هغه ښېګړې او بدي ښه او بد خویونه را برسیره کیږي، پروفایل هغه وخت د خلکو لیوالتیا را پاروي، چې د یو چا په ښه او بدو اړخونو وغږیږئ.

**دوستان او دښمنان پرې وغږوئ:**

د انسان پیژندل سخت کار دی، خو هغوی چې له یو چا سره یې کلونه، کلونه وخت تېر کړی وي، په دې پیژندنه کې یې پریکړه بې ځایه وي، ستاسې د اتل میرمن، مور، لورګانې، زامن د هغه کورنی ژوند، خویونه او نورو ځانګړنو په اړه ښه معلومات درکولای شي.

مور کیدای شي په ماشومتوب کې د هغه پر شوخي وغږیږي، چې په دې ویاله کې یې لامبو وهله، اوبو وړی وه او په هغه ځای کې مو د لامبو وهونکو په واسطه له اوبو څخه راوویست، دلته تاسې مکلف یاست چې د اتل له مور او ملګرو سره ویالې ته لاړشئ او له نږدې څخه یې په انځوریزه بڼه کیسه واورئ.

نږدې ملګري یې ستاسې تر ټولو ښه مرکچیان او سرچینې دي، دا ځکه چې هغوی ستاسې د پروفایل د کرکټر د ډیرو رازونو کسان دي.

له کس سره پر مرکه او خبرو اترو باید بسنه ونشي، ځکه موږ ډیر داسې څه نشولیدلی، چې نور خلک، لکه د پروفایل د کورنۍ غړي او ملګري یې ګوري؛

همدا راز د نوموړي د مخالفانو، منتقدانو، دښمنانو خبرې او نظرونه هم باید راواخیستل شي، چې هغوی ستاسې د سوژې او مضمون په اړه څه وایي.

د دښمن په خوله ستاسې د پروفایل د کرکټر ستایل به د مخاطبانو لپاره خورا راښکونکی وي.( ۲۵: ۹۸)

**مه ډېر زیات لیکئ، مه ډیرکم:**

یو شمېر خبریالان کیدای شي د پروفایل لپاره له حده زیات توکي، مرکې، غږونه او انځورونه راټول کړي خو تاسې ټول په پروفایل کې نشئ ځایولی، تاسې یوازې هغه برخې راخلئ، چې تر ټولو راښکونکې وي، دومره لږ توکي باید نه وي، چې ستاسې د کرکټر کافي پیژندګلوي ورباندې ونه شي.

که په وچه ژبه د خپل پروفایل اتل یا کس د ژوند زوکړه، زده کړه بیانوئ، دا به د مخاطبانو لپاره د زغم وړ نه وي، خو که د پروفایل اتل مو خپل لومړنی ښوونځی، پوهنتون او ټولګیو ته درسره لاړ شي او له ښوونکو او ټولګیوالو سره یې وغږوئ، پروفایل به مولا په زړه پورې شي، د پروفایل کرکټر باید د فلم د یو لوبغاړي په شان د خپل حقیقي ژوند په سناریو کې ولوبیږي، خو داسې څه ترې مه غواړې، چې د هغه له توان او وسه بهر وي، یا یې اوسنی دریځ اجازه نه ورکوي، د بیلګې په توګه دا مه ورنه غواړئ چې کلي ته درسره لاړ شي ستاسې سناریو او پلان باید د شته واقیعتونو، امکاناتو او اسانتیاوو په بنیاد ولاړ وي( ۲۶: ۹۸).

**له تاریخي سبک لیکنې څخه ډډه وکړئ:**

يو شمير خبريالان خپل پروفايل د کيسې د کرکټر په زوکړي، زده کړي او نورو مسايلو پيلوي خو دا ډير زيات  کامياب سټايل نه دي، کوښښ وکړئ د رسنيو ډول ته په کتو سره پروفايل وليکئ.

تاسې په خپلو راتلونکو شويو موادو کې د قوت ټکي وګورئ، کله مو چې پيداکړل خپل پروفايل او سبک په همدغو ټکو کې پيل کړئ.

- په تلويزيون کې به ښه پيل څه وي؟
- د دروازې ټک ټک او پروفايل له کرکټر سره سټرې مشې.؟
- له دفتر په موټر کې تګ او که کرکټر مو سندر غاړی وي، په موټر کې د هغه د ويډيو سندرې اوريدل؟
- سياسي چارواکي، چې د دفتر په وړاندې له مايک سره يوځای ورته دريږي او ور پسې منډې وهي ؟
- يا لوبغاړی وي، چې د ورزش په لوبغالي کې لوبه کوي، يا د يوه فلم د شوټينګ په مهال له هغه سره مخامخ کيږي؟

دا ټولې ستاسې د پروفايل لپاره ښې پيل لارې دي، خو که فکر وکړئ خپل پروفايل له دې نه لا په ښه سريزو يا شاتونو پيلولی شئ.(۹۹:۲۷).

**د کرکټر خويونه مه پټوئ:**

کله مو چې د خپل پروفايل د کرکټر په تړاو د اړتيا وړ معلومات ترلاسه کړل، مخاطبانو ته د هغه د ورپيژندو د ځرګندتيا په برخه کې مه ويريږئ؛ مخاطبانو ته د متن او انځور، يا د هغه د کورنۍ د غړو په ژبه ووايئ، چې ستاسې د پروفايل کرکټر ډير غوسه ناک او بې سليقې سړی دي؛ څپلۍ يا بوټان يې دننه په کوټه کې ايستلي، بړستنې او کمپلې په کوټه کې تيت پرک او نا منظمې پرتې

وي، د کور میرمن ورنه خوشحاله نه ده او په وړو، وړو خبرو یې ډبوي او وهي؛ دا ستاسې د کرکټر سپکاوی نه دی، دا حقیقت دی او باید خلک ورباندې وپوهیږي ځکه خلک په دفتر، وزارت، ریاست او مدیریت کې د نوموړي له سلوک او چلند خوښ دي او ډېر نرم مزاجه دي، خو په کور کې ولې شخړې کوي؟

همدغه راز خویونه یې هم بیان کړئ، چې مهربان دي، له بیوزلو سره همکاري کوي، په جومات او مدرسه کې یې همکاري کړي ده، پُل یې جوړ کړی او داسې نور...

همداراز دا هم ویلی شئ، چې د پروفایل جوړونې پر مهال شرمیده، که برید یې کاوه، با ارادي سړی ښکاریده، لکه بې ارادي خوی یې ډېر توند وه، که لږ یا منځنی خو دا ډول پریکړي غوځې مه کوئ، کیدای شي دا په ډېرو وړ او مناسبو لارو وکړئ، په تصویرونو کې وښیئ، چې مخاطب او د پروفایل اصلې لوبغاړي درنه خفه نشي؛ همدا راز په دغه کار سره تاسې قضاوت مخاطبانو ته پریږدئ او خپله بې طرفي هم حفظ کړي.(۲۸: ۹۹).

**د پروفایل موضوع څنګه وټاکو؟**

د پروفایل موضوع تر ډېره په شخص پورې تړلې ده، نوموړی شخص ولسمشر، وزیر، یو سیاستوال، ادب پوه، شاعر، هنرمند، د ملي شورا غړی، بریالې ښځه، فلمي لوبغاړی یا بل هر کس چې د مخاطبانو د زړه راښکون لامل ګرځي، کیدای شي.

سوژه موندل د پروفایل لیکنې لومړی ګام دي، په ښکاره توګه سوژه ټاکنه اسانه کار بریښي، خو په عمل کې داسې نه ده؛ زیاتره خبریالان د سوژي له ستونزي سره مخ وي او ډېر ځله په تکراري او نا اړینو سوژو کار کوي، د خبریال هنر تر ډېره د معلوماتو په غونډولو او د پروفایل په پرله پسې غښتلتیا اوډون او لنډنو

کې بریښې خو دا باید ومنو چې ددغو دوو پړاونو بشپړتیا او بنسټ ته د سوژې اړتیا ده، سوژه یا ښه نظرستاسې د کار پنځوس سلنه برخه جوړوي.[۲۹:۱۰۰]

**د سوژې په اړه لومړنۍ مطالعه**

تر سوژې یا کس موندني وروسته د خبریال لومړنۍ کار د شخص په اړه هر اړخیزه مطالعه ده، په دي توګه د موضوع سره زموږ لومړني پيژندګلوي کيږي . د موضوع په بيلا بيلو اړخونو پوهيدل د حقايقو د تکرار او يو رنګې مخنيوی کوي، که چيري تر دي مخکې په اړوند شخص څه ليکل شوی وي، خبريال کولای شي له هغه سره په توپير ځانته يو بيله لار وټاکي او له لومړني سره په بشپړه توګه پروفايل جوړ کړي.

**د شخص انتخاب**

د سوژې د غوراوي په مهال د هغې په لنډښت غور وکړي او داچې ايا سوژه د مخاطب لپاره ارزښتناکه ده کنه؟

ايا دا به ځوک وګوري يا واوري؟

ايا دا کس چې پروفايل پري ليکل کيږي ددې وړ دی کنه؟

له دغه کس سره به خلک زړه راښکون وښئ؟

**دريځ مقام يې څه ده؟**

په څه ډول وخت کې زه پروفايل ليکم، ټاکنې خو په وړاندې نه دي؟ که ټاکني رانږدي وي مخاطبان به دا يو ډول تبليغ ونه ګڼي، دا اغيز کچه به يې څومره وي؟

ايا مخاطبان به په دغه کار له موږه ناخوښه نشي؟

دا هغه پوښتنې دي چې تر سوژي ټاکنې مخکې باید ځوابونه ومومي؛ که پر سکالو غور وکړئ، پخپله پوهیږي چې پروفایل به مو څومره پر خلکو اغیز وشیندي او څومره به له هرکلي سره مخ کیږي.[۱۰۱:۳۰]

**توکي یا معلومات څنګه را ټول کړو؟**

ارشیفي سرچینې، د موضوع مخینه، تاریخي لاسوندونه، پلټونکې انټرنیټي ماشینونه، شخصي یاداښتونه، د کرکټر خپلوان، ملګري او کورنۍ له هغه سره مخامخ خبري اتري، د هغه کورنۍ، دفتري او تلویزیوني ویډیو ارشیف

او داسې نورې سرچینې په پروفایل کې ستاسې کار اسانه کوي.

د مړ شخص په پروفایل کې باید دا ټکې روښانه شي، چې د اروابناد په مړینې سره هغه په اړوند څانګه یا اداره کې بدلونونه راغلي او که نه؟

**څومره اغیز یې پري ایستې؟**

له پیژندګلویز پروفایل سره د مړي د جسد تصویرونه نه بریښي؛ ناروغي، کمزورتیا او د نسخې دوه تصویرونه پر لوستوالي اغیز پري باسې، خو که ستاسې کردار (سندرغاړي، د سینما لوبغاړي، سیاستوال او...) د ناروغي په حال کې وي، او حکومت او خلک ورنه ناخبره وي، په عاطفي لحاظ به دا ډول تصویر خپراوي د خلکو او چارواکو په پام راګرځولو کې رغنده رول ولوبوي.

ستاسې کړني د مړینې په مهال د هغه د جنازي ګڼه ګوڼه، د خلکو بدرګه او د نوموړي په اړه د خلکو نظرونه کولای شي په لوستوالو او لیدونکو کې د کرکټر په اړه یو ښه تاثیر پیداکړي.

د مړي د وروستیو غونډو ویناوي، وروستۍ خبري غونډي، له ملګرو سره وروستۍ ناستې او نور کولی شو په خلاص مټ خپاره کړو؛ دا ډول تصویرونه

او مستند فلمونه یو ځانګړي تاثر او مصنوي ارزښت لیږدوي، د شخصیت پر مړینه د خواشیني او خواخوږي په دود کولی شو د پروفایل په پای کې یو یا دوه کرښې ور زیاتې کړو، خو که ژړا او فریاد زیات شي، د پروفایل ارزښت په ژړا او فریاد بدل شي؛ که شخصیت مو په لرې وخت کې مړ شوی وي، د پیژندګلوي لپاره یې باید کتابونه، کتابتونونه، پخوانیو خلکو، ملګرو او دوستانو ته لاړشو.

**د شخصیتي پروفایل توکي (مواد):**

د شخصیتي پروفایل تر ټولو ښه سرچینه پخپله شخصیتونه دي؛ له هغو سره له اړیکو او مرکو پرته د پروفایل بشپړتیا ناشونې ده، د نویو ژورنالیستانو لپاره غوره دادې، چې په پیل کې پر ورو خلکو پروفایل ولیکي، وروسته کولای شي د مشهورو او نوم وتو کسانو پر ژوند او حالاتو وغږیږي.

له شخصیت یا اصلي موضوع سره تر مخامخ کیدو نه مخکې باید د هغه د ژوند چارو کړو وړو، او نورو بوختیاوو په اړه معلومات ولرو.

**وګوري چې هغه په خپل مسلک کې بریالی دي؟**

**څه کارونه یې کړي؟**

د څیړنو، نظرونو، هیلو او غوښتنو مطالعه یې اړینه ده، که شاعر وي، شاعري یې ولولئ، که لیکوال وي، لیکوالي یې وګورئ، دا ځکه چې د همدغو د پنځو لارو کولی شو د هغه شخصیت ریښې مطالعه کړو.

د کمزورو ژورنالیستانو تمبلي او ناغیري ددې لامل ګرځي، چې د اړوند کس په اړه شته معلومات، کتابونو او خبرونو نه ډډه وکړي، په داسې حال کې، چې له شخصیتونو سره مخامخ ناسته، خبري اتري، توکې ټکالې او د هغوی د ژوندانه

د بيلابيلو اړخونو سپړل او پوښتل کولی شي مو ږ ته ډير نالوستې شيان په لاس راکړي.

ډير ځله کيدای شي ژورناليست د خپلو شخصې عقيدو، تربګنيو او کرکې ښکار شي، خو که له مرکچې او شخص سره کښيني ښايي باور يې بدلون ومومي او نور نو د شخصيتونو په درک او پيژندنه کې له احتياط او رڼې زاويې څخه کار واخلي.[۳۲:۱۰۳]

**مرکه څنګه وکړو؟**

(Interview) يا مرکه د يوې ځانګړي ځانګې د يوه کس سره کيږي لکه انجينر ، ډاکټر ، ساينس پوه، ژورناليست ، د زړه د ناروغي له پوه ، د کومې کلتوري يا ټولينزې اداري له مشرانو او نورو سره له دې څخه موخه داسې مرکه ده ، چې د کوم کس د بېلا بېلاو خواوو د راسپړلو له پاره سرته رسيږي او يا د کوم کس د فکر او ژوند په عامه توګه په تلويزيون او جريدو کې ليدل کيږي ځکه د راډيو وخت محدودوي . مرکه کوونکې بايد د مرکې چاپيريال ارام وساتي ، چې په هغې کې منحرف کوونکی وسايل د حواسو تمرکز خراب نه کړي او دغه راز شور او زوږ مزاحمت ونه کړي او دغه راز نور افراد هم بايد موجود نه وي . د مرکې د اطلاعاتو د ثبت وسايل د مرکې د ډول پورې اړه لري . که فرضاً څيړونکی يا مرکه کوونکی په پخواني پروګرام سره او د ځانګړې موخې په پام کې نيولو سره د مرکې کار پيلوي نو له دې امله پوهيږو او بايد پوه شي ، چې د کومو موضوعاتو او مسايلو په هکله له مرکه ورکوونکي څخه پوښتنې کوي او کوم ځوابونه تعقيب کړي او د انسانيت کوم ډول اطلاعات راټول کړي ، چې وکړای شي د څيړنې د مسئلې ځواب ورکړي. له دې امله اړ دي، چې له مرکه ورکوونکي څخه د پوښتنو د ډول او شمېر په اړه مخکې فکر وکړي او

هغه تدوین او ترتیب کړي . مرکه کوونکی حالت او د پوښتنو د طرحه کولو ډول باید داسې وي ، چې لومړی د پلټنې حالت ځانته ونه نیسي او مرکه ورکوونکی ورنه خفه نه شي او د مرکه ورکوونکي منفي عکس العمل رامنځ ته نه کړي . د بدن د غړو د حالت په بدلون او په اشارو او کنایو سره د اغراق ډوله څرګندونو یا د مرکه ورکوونکي له خوا د حقایقو د پټولو له پاره زمینه برابره نه شي. مرکه د دې سبب کیږي ، چې مرکه کیدونکی یا ځواب ورکوونکی په ښه توګه د پوښتنو او څیړنې په موخه ښه پوه شي او له دې امله د مناسبو ځوابونو د درک، کشف او د معلوماتو د تر لاسه کولو امکانات رامینځته کیږي او له څیړونکي سره د حقیقت او واقعیت په لاسته راوړلو او مجهولو د کشفولو په برخه کې مرسته کوي . په دې څپرکی کې راډیویي مرکه ، د مرکې ډولونه ، خبري مرکه ، معلوماتي مرکه ، غیر رسمي مرکه ، مذاکراتي مرکه ، شخصي مرکه ، مسلکي مرکه ، د مرکې د میتود ډولونه ، ساختار لرونکې یا منطقي مرکې، نیمه نا منظمه مرکه و نیمه ساختار لرونکې مرکه یا نیمه نامنظمې مرکې ، د مرکې په میتود کې اجرایي کتنې ، د هر ډول مرکې لړۍ ، د مرکې تودول ، سړول او د مرکې تړل ، د مرکې ثبتول ، د مرکې د میتود لیکنې، خبروته پای ورکول ، د مرکې د میتود نیمګړتیاوې ، په مرکه کې د پام وړ ټکي او نورو ته ځای ورکړل شوی او په تفصیل سره توضیح شوي دي.

له مهمو شخصیتونو سره مرکو کې پر ژورنالیستیکې تګلارو او د مرکې پر هنر سربیره د محیطي قوتونو انګیرنه او شعور هم اړین بلل کیږي.

تر مرکې مخکې لاندې پوښتنې پیداکیږي:

- ایا موږ له یوه سم سړي سره مرکه کوو؟
- ایا له ده سره موږ د څه ویلو وړتیا شته؟

- لوستونکي به يې له شخصيت او معلوماتو سره زړه راښکون وښيي؟
- ايا د مرکې لپاره وړ ځاى او وخت ورسره ټاکو؟
- ايا زموږ پوښتنې به د هغه له بنسټيزو چارو او ميلان  سره تړاو ولري؟
- څنګه ورته ووايم، چې دفتر ته مې بوځي، او هلته غونډه را وغواړي، مديريت وکړي، د غرمې ډوډۍ وخوري، له خلکو سره روغبړ وکړي او بيرته کورته ستون شي.

د يو ژورناليست په توګه که چيرې تاسې د خپلې اړوندي سکالو اروايې څيرنه غواړئ، نو تاسې ته بايد د روښانه وي، چې د پوهاند مجاور احمد زيار او استاد حبيب الله رفيع ترمنځ ډير توپير دي. دواړه د بيلا بيلو شخصيتونو څښتنان دي او ښايي په مزاج او صفت کې هم سره ورته ونه اوسي.

له دغو دواړو کسانو څخه د مرکې غوښتني څه دي؟

ددې خبري ځواب د هغوى په ټولنيز مقام، ورځنيو چارو، بوختياوو او مزاج پورې تړاو مومي.

د مرکې د برياليتوب لپاره اړينه ده، چې د نورو الواک ټکي، سلوک او د هغوى د اندونو او خيالونو د مفهوم پيژندنې وړتيا ولرو. په دې هم بايد وپوهيږو، چې د يوه ځانګړي سلوک او نظرونو له مخې د شخصيت د کوم يوه اړخ روښانتيا شونې ده.

یو ژورنالیست وایې: «که تاسې شخصې پروفایل لیکئ او شخص مو پر وړاندې ناست وي، داسې وانګیرئ، چې یو کتاب مو په مخکې ایښی، تاسې کولی شئ، ددغه کتاب هره پاڼه واړوئ او هرڅه پکې ولولي؛ یعنی د پوښتنې له لارې کولی شئ، د نوموړي د ژوندانه هر اړخ راوسپړئ خو دا د مرکیال په وړتیا پورې اړه لري، چې د کتاب کومو څپرکو ته ارزښت ورکوي.[۳۳:۱۰۴]

**۲، ۲۳- مرکه**

له مهمو شخصیتونو سره مرکو کې پر ژورنالیستیکې تګلارو او د مرکې پر هنر سربیره د محیطي قوتونو انګیرنه او شعور هم اړین بلل کیږي.

تر مرکې مخکې لاندې پوښتنې پیداکیږي:

- ایا موږ له یوه سم سړي سره مرکه کوو؟
- ایا له ده سره موږ د څه ویلو وړتیا شته؟
- لوستونکې به یې له شخصیت او معلوماتو سره زړه راښکون وښیې؟
- ایا د مرکې لپاره وړ ځای او وخت ورسره ټاکو؟
- ایا زموږ پوښتنې به د هغه له بنسټیزو چارو او میلان سره تړاو ولري؟
- څنګه ورته ووایم، چې دفتر ته مې بوځي، او هلته غونډه را وغواړي، مدیریت وکړي، د غرمې ډوډۍ وخوري، له خلکو سره روغبړ وکړي او بیرته کورته ستون شي.

د یو ژورنالیست په توګه که چیرې تاسې د خپلې اړوندي سکالو اروایې ښیرنه غواړئ، نو تاسې ته باید د اروښانه وي، چې د پوهاند مجاور احمد زیار او استاد حبیب الله رفیع ترمنځ ډیر توپیر دي. دواړه د بیلا بیلو شخصیتونو څښتنان دي او ښایې په مزاج او صفت کې هم سره ورته ونه اوسې.

له دغو دواړو کسانو څخه د مرکې غوښتني څه دي؟

ددې خبري ځواب د هغوی په ټولنیز مقام، ورځنیو چارو، بوختیاوو او مزاج پورې تړاو مومي.

د مرکې د بریالیتوب لپاره اړینه ده، چې د نورو الواک ټکي، سلوک او د هغوی د اندونو او خیالونو د مفهوم پیژندنې وړتیا ولرو. په دي هم باید وپوهیږو، چې د یوه ځانګړي سلوک او نظرونو له مخې د شخصیت د کوم یوه اړخ روښانتیا شونې ده.



(شکل ۹:۱)**http://electschreck.com/sample-cover-letter-broadcast-journalism/**

یو ژورنالیست وایې: «که تاسې شخصې پروفایل لیکئ او شخص مو پر وړاندې ناست وي، داسې وانګیرئ، چې یو کتاب مو په مخکې ایښی، تاسې کولی شئ، ددغه کتاب هره پاڼه واړوئ او هرڅه پکې ولولې؛ یعنی د پوښتنې له لارې کولی شئ، د نوموړي د ژوندانه هر اړخ راوسپړئ خو دا د مرکیال په وړتیا پورې اړه لري، چې د کتاب کومو څپرکو ته ارزښت ورکوي.

راډیویي مرکه د ویناوو د ژوندي ډول ښځه دی. ددې طریقې ښځه په استفادې سره د لیکوال د ویلو مطالبو بالقوه ظرفیت زیاتیږي. د خلکو راوستل میکروفون ته هغوی، چې د ویلو لپاره ډېرې خبرې لري ولې په لیکلو باندې قادر نه دي او یا د هغوی د دندو اشتغال میزان تر دې حده دی، چې د مختلفو لیکلو لپاره وخت نه لري. دا امکان ورته برابریږي، چې خپلې خبرې ووایي.

خلک یو د بل سره د زړه خواله او خبرې ډېرې زیاتې خوښوي هغوی حتا د نورو له خبرو ښځه خوند اخلي. په همدې دلیل د مختلفو موضوع ګانو وړاندې کول په راډیویي خپرونه کې د مرکې په بڼه د خپرونې ساده ویناوو په قالب کې له بې کارې ښځه بهتره دی(۳۴:۸۳).

**میداني مرکه**

د سټوډیو نه بهر مرکه یا رپوټ د کلي او ښار په سطح د میداني مرکې لپاره د لاسي ثبت ښځه کیدی شي ګټه واخلو. د اواز د ثبت د پکار اچولو طریقه او له هغې ښځه او تر هغې مهمه استفاده ډېره مهمه ده. دستګاه د کار ښځه د اګاهي لرل دي. د ملاقات ځای ته د ورتللو ښځه مخکې د مرکې لپاره باید لاندې موارد بررسي یعنې چک کړئ:



(شکل ۱:۱۰)**http://electschreck.com/sample-cover-letter-broadcast-journalism/**

1. د بطریو چارچ باید کنترول شي.

2. تش يا خالي کسټونه باید اضافي له ځان سره ولري دا ځکه ممکن ده، چې د کار پروخت کې د نوي او مناسبې سوژې سره مخامخ شي.

د مقصد په طرف د حرکت نه مخکې باید یو خالي کیست په ټېپ کې واچوي او په میک کې خبرې کول او ثبت د کیفیت کنترول کول او د هغې امتحان کول اړین دي. دا ځکه چې دا به ډېر ناګواره او مایوس کوونکي وي، چې د مرکې په پیل کې د دستګاه له نقص څخه خبر شي. مخکې د مرکې له سرته رسولو څخه اواز د سطحې د تعین لپاره او د ټېپ د عقرب د خوځېدو څخه مطمن او اواز د کیسټ د څرخولو او د تاویدو کار باید سرته ورسوي.

د ځیني فني ټکو په رعایت سره کیدی شي ښه او بریالی مرکه وړاندې کړي. بل مهم ټکی دادې، چې زیاتره د استفادې وړ میکروفونونه په میداني مرکه کې باید په یاد ولري، چې دا ډول میکروفون استعمال کړي، چې د باد له غرس او بې ځای نا رابلل شویو زړه خرابونکو اوازونو څخه مخنیوې وکړي. په داسې حال کې، چې له تاسو سره باد نیونکی میکروفون نه وي کولی شي به ابتکاري ډول هغه په یو د ستمال کې تاو کړی او بیا هغه په درې پایه یا ترای پاټ باندې نصب کړی د بادګیر یا بادنیونکي ښه غوره کوي(۳۵:۸۶).

**راډیویي مرکه (Radio Interview)**

انټرویو د انګریزی ژبې کلمه ده، چې معنا یې خبرې او اترې ده، مخامخ خبرې په راډیو کې له مرکې څخه موخه داسې با قاعده لیدنه اخیستل کیږي، چې سوال او ځواب وي شوي خبرې اترې تر ښه ایډت وروسته خپریږي. سي شروډ په خپل کتاب Journalistic Interview کې لیکي: "په ژورنالېزم کې تر ټولو مهم کار د رپوټېنګ او او په رپوټېنګ کې تر ټولو مهم کار مرکه اخیستل دي. د مرکې موخه د په زړه پوري، مهمو یا پټو معلوماتو تر لاسه کول دي."

ډاکټر عبدالسلام خورشید په فن صحافت کې مرکه داسې تعريفوي: " مرکه د پلان شوي ليدنې نوم دی. په اخباري اصطلاح کې له هغه ځخه موخه هغه ليدنه ده، چې په هغې کې پر ټليفون، شفاهي ډول يا په ځانګړي ډول حقايق او نظر معلوميږي (۳۶:۶۷).

**د مرکې ډولونه**

1. خبري مرکه
2. معلوماتي مرکه
3. ډله ييزه مرکه
4. غير رسمي مرکه
5. مذاکرتي مرکه
6. مسلکي مرکه
7. شخصي مرکه

**خبري مرکه**

د ډېرو خلکو د په زړه پوري والي لپاره خبري مرکه خپريږي. دا مرکه نږدې هر چا ته په زړه پوري وي. په هغې کې د مهمو پېښو په اړه له اړوندو کسانو سره مرکې کيږي.

**معلوماتي مرکه**

د کوم پلان يا پروژې په اړه د لومړنيو معلوماتو د ترلاسه کولو په موخه وي. په هغه کې د يوه پلان د راتلونکو لګښتونو، د هغه پلان له امله د سيمې د خلکو په ژوند اغيز او نور معلومات شامل دي. په هغې کې عددونه او شمېرې په تفصيل بيانيږي

**غير رسمي مرکه**

دا مرکه د ځای او پروګرام له ټاکلو پرته کیږي. کله چې کوم مشر چارواکی یوې غونډې ته ورځي او  هلته تر وینا کولو وروسته له هغه څخه یو څو پوښتنې کیږي. دغه ډول مرکه له ولسمشر، لومړی وزیر، ایالتي وزیرانو او نورو سره کیږي. ځیني وختونه سختې پوښتنې کیږي. ځیني وخت د یوې پوښتنې په هکله د ټولو ګډونوالو نظر پوښتل کیږي بیا وروسته هغه اډیټ کیږي.

**مذاکراتي مرکه**

د ولسي غبرګون معلومولو لپاره کله، چې له یوه څخه د ډېرو خلکو نظر معلومیږي نو هغې ته مذاکراتي مرکه ویل کیږي. په هغې کې د یوې مسلې په اړوند د زیاتو خلکو نظر معلومیږي څو د کومې خبرې پېښې په ترڅ کې عامه نظر په ډاګه شي.

**شخصي مرکه**

له دې څخه موخه داسې مرکه ده، چې د کوم کس د ښلا بیلو خواو د راسپړلو لپاره کیږي یا د کوم کس د فکر او ژوند د ښلا بیلو خواو په هکله د هغه دفکر د معلومولو لپاره اخیستل کیږي. دغه ډول مرکه په عامه توګه په تلویزیون او جریدو کې لیدل کیږي ځکه د راډیو وخت محدود وي.

دا مرکه د یوې ځانګړي ځانګې د یوه سره کیږي لکه انجینر، ډاکټر، ساینس پوه، ژورنالیست، د زړه د ناروغیو له پوه، د کومې کلتوري یا ټولنیزې ادارې له مشرانو سره. ددې ډول مرکو لپاره مرکه کیدونکو ته له مخه تیارې اړین دی څو د اړوندې موضوع په اړه اړین معلومات ولري او مرکه معلوماتي شي(۷:۳۷).

**د مرکي میتود**

مرکه هغه میتود دی، چې په هغه کې له ځواب ویونکي سره د پوښتنه کوونکي یا څیړونکي د مستقیم ارتباط له لارې د څیړنې د اړتیا وړ اطلاعات راټولیږي. په واقعیت کې مرکه دوه اړخیزه مکالمه ده، چې د پوښتنه کوونکي د پوښتنې په طرح کولو سره په څیړنې پوري د اړوندو اطلاعاتو د ترلاسه کولو په خاطر پیل کیږي. دغه کار په مخامخ ډول یا د تلیفوني ارتباط له لارې سرته رسیږي.

د مرکه کوونکي او مرکه کیدونکي ترمنځ ددوستانه ارتباط ټینګول ددغه میتود په ګټورتیا کې مهم رول لري، ځکه مرکه په واقعیتونو، احساساتو، تمایلاتو او د ځواب وروکونکي په علایقو باندې د پوهیدو په خاطر طرح او پروګرام یې جوړیږي. دغه کار له مرکه کوونکي سره د دوستانه ارتباط د ټینګولو او د باور د رامینځته کولو له مخې سرته رسیږي. په دې میتود کې مرکه کوونکی په مرکه کیدونکي کې د نفوذ په لټه کې نه وي.

هغه نه غواړي، چې داسې عمل وکړي، چې په هغه کې د بدلون د رامینځته کیدو سبب شي. دغه راز مرکه کوونکی باید پوه شي، چې صبر، خپلویتوب او د ناوړه شرایطو د رامینځته کیدو زغم یو ضروري کار دی، ځکه که چیرته وغواړي د ناملایمانو په مقابل کې عکس العمل څرګند کړي د مرکې کار مخته نه شی تللی. یعنې که چیرته مثبت یا منفي عکس العمل وښيي، چې د مرکه کیدونکي د څرګندونو په ډول کې بدلون رامینځته کړي یا هغه وهڅوي، چې د مطلب یا موضوع په بیانولو کې له اندازې زیات اغراق وکړي یا هغه پټ کړي ددې سبب کیږي، چې څیړنکی یا مرکه کوونکی د مرکه کیدونکي دروني واقعیتونه درک نه کړي. له دې امله مرکه کوونکی باید په پوره صبر او حوصله سره د مرکه کیدونکي ویناوې او څرګندونې ثبت کړي. دداسې کلمو او

لغتونو څرګندول او د تاکيدي حالتونو نيول، چې د مرکې طبيعي جريان دهغه له تګلوري څخه وباسي بايد له سرته رسولو څخه يې ډډه وشي.

**مرکه کوونکی بايد د مرکې په بهير کې لاندې ټکو ته پام واړوي:**

1. مرکه بايد د مرکه کيدونکي د طبع او روغتيا تهديدوونکي او خلاف نه وي.
2. مرکه کوونکی بايد مرکه کيدونکي د مرکې له موخو او ددغه کار لپاره د هغه د ټاکلو له علت څخه خبر کړي.
3. مرکه کيدونکی بايد د ثبت له ميتود او د ورکړل شوو ځوابونو له ثبت څخه خبر وي او هغه ومني يعنې دا، چې بايد د ثبت له ميتود څخه لکه ليکل، علامه وهل، د غږ ثبت په دستګاه سره غږ ثبت کول، ميکروفون اېښودلو يا عکس اخيستلو او فلم اخيستلو سره موافقه وکړي.
4. لکه څنګه، چې وويل شول مرکه کوونکی بايد هڅه وکړي، چې د مرکه کيدونکي باور ځانته جلب کړي او هغه ته ډاډ ورکړي، چې د مرکې موضوعات او څرګندونې په پټ او محرم پاتې شي. د مرکې کيدونکي د باور د راجلبولو لپاره بايد مخکې ورسره تماس ونيول شي او دهغه د توجيه کولو وروسته په هغه کې لازمه تياري رامينځ ته کړي.
5. مرکه کوونکی بايد هڅه وکړي، چې په چاپيريال باندې واکمنه دوستانه فضا او شوق رامينځته کوونکي وي. د بېلګې په توګه، مرکه د ستړيا سبب نه شي، بلکې هڅه وشي، چې د مرکې ځای راحت وي او دمرکې وخت لنډ وي د غه راز پخپله مرکه کوونکی هم بايد په ارامی او راحت سره مرکه وکړي، ځکه له دې پرته د ستړيا رامينځته کيدل نه يوازې دا چې د مرکې له بهير نه مخنيوی کوي، بلکې په مرکه کيدونکي باندې هم اغېز کوي، چې ژر ستړی شي.

6. مرکه کوونکی باید د مرکې په بهیر کې هوښیار او ځیرک او په عین حال کې د طرح شوو مسائلو په وړاندې خپله بې تفاوتي هم وساتي او که چېرته د څرګندونو بهیر له طبیعي حالت څخه ووت (د بېلګې په توګه انکار یا اغراق رامینځته شي) د مناسبو تدبیرونو په نیولو سره هغه طبیعي جریان ته راوګرځوئ.

7. مرکه کوونکی باید د مستقیمو او څرګندو ځوابونو له ورکولو څخه، چې د مرکه کیدونکي د پوښتنې په برخه کې په موضوع کې د هغه د عقیدې څرګندوی ځان وساتي له دې پرته که چېرته مرکه کیدونکی وکړای شي د مرکه کوونکي د بې طرفې حالت بدل کړي یا د مسلې یا موضوع په باره کې دهغه په عقیده پوه شي، کولی شي د پوښتنې د ځواب بهیر ته په داسې ډول لورې ورکړي، چې مرکه کوونکي ته خوښ وي.

8. مرکه کوونکی باید پاملرنه ولري که چېرته ځواب ورکوونکی د موضوع په باره کې د پوښتنې او ځواب ورکولو په دوام باندې ونه توانیږي. د هغې په دوام باندې دې ټینګار ونه کړي او دداسې یو حالت په پوهیدو سره دې سمدلاسه د بل نوي مطلب او موضوع په لوري لارښونه وکړي.

مرکه کوونکی باید د امکان ترحده له مرکه کیدونکي سره هم ژبه، هم فرهنګ او هم جنس وي، چې یو له بل سره ښه تفاهم وکړي. له دې نه پرته به مرکه له خنډ سره مخ شي او البته کله، چې بله چاره موجوده نه وي، له ژباړونکي څخه دې ګټه واخیستل شي او د مرکې کار دې یو داسې ژباړونکي ته پریږدي، چې په دې برخه کې یې زده کړه کړې وي خو باید پام ولرو، چې دداسې مرکې نتیجه به د مرکه کوونکي او مرکه کیدونکي ترمنځ د مستقیمو خبرو په څیر اعتبار ونه لري. له دې سربېره، د دریم شخص او کس شته والی د مرکې په

چاپېریال باندې منفي او ناوړه اغېزه لري او ریښتني او صحیحه نتیجه ترې لاسته نه راځي.

۱. په داسې وختونو کې، چې مرکه کوونکی احساس وکړي، چې د مرکې جریان له خپل اصلي تګ لوري څخه وتلی دی باید په لازمه هوښیاری او ظرافت سره او دمناسبو پوښتنو په طرح کولو سره د مرکې جریان خپل طبیعي تګ لوري ته راوګرځوي، خو باید د پوښتنې ځواب مرکه کیدوونکي ته القا نه شي.

۲. مرکه کوونکی باید هڅه وکړي، چې د مرکې پوښتني ذهن ته وسپاري او یاد یې کړي او دهغو په طرحه کولو کې د منطقي ترتیب رعایت وکړي.

۳. مرکه کوونکی باید د مرکه کیدونکي عین مطالب د مرکي کارت ته ولیږدوي او په هغو کې د شخصي نظریاتو له ګډولو څخه ځان وساتي او دغه راز له مرکه کیدونکي سره له جدل، مناقشې، او شور مشور څخه ځان وساتي.

۴. مرکه کوونکی باید د مرکې چاپیریال ارام او خلوت وساتي، چې په هغه کې منحرف کوونکي وسایل د حواسو تمرکز خراب نه کړي او دغه راز شور او زوږ مزاحمت ونه کړي او دغه راز نور افراد هم باید موجود نه وي.


(شکل ۱:۱۱)http://pusatmuzikreco.com.my/product_info.php?products_id=272

۵. د مرکه کوونکي حالت او د پوښتنو د طرح کولو ډول باید داسې وي، چې لومړی د پلټنې حالت ځانته ونه نیسي او مرکه کیدونکی

خپه نه شي او د مرکه کوونکي منفي عکس العمل رامینځته نه کړي. دویم د بدن د غړو د حالت په بدلون او په اشارو او کنایو سره د اغراق ډوله څرګندونو یا د مرکه کیدونکي له خوا د حقایقو د پټولو لپاره زمینه برابره نه شي.

۶. مرکه کونکی د مرکې د کار له پای ته رسیدو وروسته باید ثبت شوي ځوابونه له ځنډ پرته یو ځل وګوري. که چېرته یې ولیدل، چې نیمګړتیا موجوده وه او یا کوم سوال ته ځواب ورکړل شوی نه وی ،نو بیا دې له مرکه کیدونکي څخه ځواب وغواړي او د مرکې کار دې پای ته ورسوي(۳۸:۱۴۵).

**د مرکې د اطلاعاتو د ثبت وسایل**

د مرکې د اطلاعاتو د ثبت وسایل د مرکې په ډول پوري اړه لري. که فرضاً څیړونکی یا مرکه په پخواني پروګرام سره او د ځانګړې موخې په پام کې نیولو سره د مرکې کار پیلوي نو له دې امله پوهیږي او باید پوه شي، چې د کومو موضوعاتو او مسایلو په هکله له مرکه کیدونکي څخه پوښتنې کوي او کوم ځوابونه تعقیب کړي او اساساً کوم ډول اطلاعات راټول کړي، چې وکړای شي د څیړنې د مسلې ځواب ورکړي. له دې امله مجبور دی، چې له مرکه کیدونکي څخه د پوښتنو د ډول او شمېر په باره کې مخکې فکر وکړي او هغه تدوین او ترتیب کړي. مرکه کوونکی له دې وروسته هغه په یوه مناسبه طریقه جوړوي ورکوي، چې د مرکې په کارت سره یې تغیر وو. د سوالونوله تدوین نه وروسته مرکه کوونکی هغوی په یوه مناسب طرف کې ترتیبوي، چې د مرکې کارت نومیږي. د اطلاعاتو د ثبت وسایل، د مرکې کارت دی، چې د موضوع او څیړنې د مسلې سره په ارتباط کې پوښتنې په کې وي. دغه کارتونه له پوښتنلیکونو سره ورته والی لري خو په دومره توپیر سره، چې د هغو د پوښتنو حجم کم وي او کار یې هم له پوښتنلیکونو سره توپیر لري. پوښتنلیکونه د پراخې

مطالعې اود سترې ټولنې د مطالعې په برخه کې وي، خو په مرکه کې د مطالعې وړ افراد لږ وي او د مرکې کارت د محدودو کسانو لپاره وي.

**د مرکې وسایل هم د پوښتنلیکونو په څیر په دوه ډوله دي**



(شکل ۱:۱۲)
https://i.ytimg.com/vi/VQLfbm9Npz8/hqdefault.jpg

الف: معیاري شوي وسایل، چې د هغو باور، اعتبار، او موثقیت منل شوی وي او د ځانګړي مطالعې لپاره یو شمېر پوښتنې لري دا د څېړنې لپاره ساده وسایل دي.

ب: د څېړونکي له خوا جوړ شوي یا غیر معیاري وسایل، چې د میزان شوو او معیاري وسایلو د نشتوالي په وخت کې ځیني کار اخیستل کیږي. دغه پوښتنې څېړونکی طراحي، تعریف او سازماندهي کوي یا یې جوړوي، چې باید له لازم باور څخه برخمن وي.

**د مرکې د میتود ډولونه**

د مرکې ډولونه کولی شي په یو دوام لرونکي خط باندې وښایو. دغه مرکې د کار د میتود او د اړوند سنجش د وسایلو له مخې په دریو (۳) ډولونو ویشل کیږي:

1. ساختار لرونکي یا منظمې مرکې
2. نیمه ساختارونکې یا نیمه منظمې مرکې
3. غیر ساختار لرونکي یا غیر منظمې مرکې

**ساختار لرونکي یا منظمې مرکې**

دغه مرکې، چې ترلي، معیاري، او هدایت شوي مرکه هم ورته هم وایي او له مخکې څخه د سنجش شوو وسایلو درلودونکي ده یعنې د پوښتنو شمېر او ډول، ترتیب او دغه راز د پوښتنو کارتونه له مخکې څخه جوړ او تیار وي او مرکه کوونکي د مرکې په وخت کې له هغو څخه په کار اخستنه او په هغه ترتیب سره، چې پوښتنې په کې تنظیم شوي وي د مرکې کار پیلوي. په دې میتود کې څېړونکي یا مرکه کوونکي کولی شي له وسایلو څخه کار واخلي او دغو وسایلو ته د لومړیتوب حق ورکړي او هم کولی شي له خپلو جوړو شوو وسایلو څخه کار واخلي. په دې ډول مرکو کې له هر چا یو ډول پوښتنه په یو میتود ترسره کیږي له دې امله د ځوابونو ترمنځ هر ډول توپیر داسې تصور کیږي، چې ریښتنې دي. په دې ډول مرکو کې د خبرو اترو په محور کې لاندې ټکي شاملیږي:

- متحد الشکل جوړښت
- د مرکې د بهیر معیاري کول
- د ځوابونو د پرتله کولو وړتیا

**نیمه نا منظمه مرکه**

دغه ډول مرکې ته ازاده، خلاصه، غیر معیاري او نه هدایت شوي مرکه وایي. په هغه کې د سنجش اواز مخکې له مخکې طراحي شوي وسایل نه وي. البته څېړونکي پروګرام لري یعنې دغه میتود داسې نه دې، چې هدف او میتود ونه لري او یا دا چې مرکه کوونکی څه خاص پروګرام ونه لري، بلکې په دې معنا دی، چې څیړونکی د منظمې مرکې د میتود په څېر د خبرو طراحي شوي وسایل نه لري. په ځانګړي ترتیب سره د پوښتنو شمېر ورسره نه وي، بلکې د

زياتو دقيقو او ژورو رپوټونو د لاسته راوړلو لپاره زياته ازادي او عمل لري له دې امله ځيرونکی کولی شي زيات دقيق او ريښه يې ځوابونه ترلاسه کړي.

په دې ميتود کې پوښتنه کوونکی لومړۍ د مرکې پوښتنې په خپل ذهن کې لري يا امکان لري په يوه کاغذ يې يادابښت کړي وي خو د هغو په طرح کې په ځانګړي ترتيب ځان ملزم نه بولي. يعنې هغه لومړی حالت او شرايطو ته په پام سره او د مرکه کيدونکي تياری ته په پام سره له پوښتنو څخه يوه مناسبه پوښتنه طرح کوي او د مرکې کار مخته وړي او بيا له شرايطو سره مناسبه دويمه پوښتنه کوي او په همدې ډول نورې پوښتنې کوي. دويم د مرکې کوونکي لپاره ازادي زياته وي، چې که چېرته د مرکې د پوښتنو او ځوابونو په ترڅ کې يوه نوي اوغير منتظره موضوع او مطلب رامينځته شو، نو سمدلاسه يوه مناسبه پوښتنه کوي، چې د اړوند ځوابونو او معلوماتو شتمني او غنا زياته کړي او په دې ډول د حقيقت د کشف په برخه کې يو ګام نور هم نږدې شي. دريم دغه ميتود د ځواب ورکوونکي او مرکه کوونکي لپاره يوه مناسب وخت دی، چې له محدوديت څخه ليرې د طرحه شوو پوښتنو په باره کې خپل نظر ور دننه کړي.

په هر ډول، خلاصه مرکه د مسئلې په ژوروالي باندې د پوهيدو په برخه کې يو مناسب ميتود دی. په تېره بيا، چې د مرکې لپاره لږ کسان وي. په همدې دليل يو شمېر کلينکي اروپوهان، ټولينز مرستندويان، سلاکاران، او د زده کړې لاربښوونکي په خپلو ځيړونو کې د ازادې او نا منظمې مرکې له ميتود څخه کار اخلي ځکه، چې د ازادې مرکې دغه ميتود د کيفي اطلاعاتو او معلوماتو د لاسته راوړلو په برخه کې مناسب ميتود دی.

په دې ډول مرکو کې د خبرو اترو محتوا او سياق دواړه ددغه بهير مهم ابعاد جوړوي. په دې ډول مرکو کې په لاندې ټکو باندې زيات ټينګار کيږي:

- روښانه څرګندونه او توضیح
- په ښه او استادانه ډول د چارو ترتیب او تنظیم

**نیمه ساختار لرونکي یا نیمه منظمه مرکه**

- په دغه ډول مرکو کې زیاتره وختونه مرکه کوونکی ازادي لري، چې د خپل ژوندانه کیسې په ځانګړو طریقو سره وکړي. که څه هم مرکه کوونکی حاضر او چمتو وي، چې د روایت دوام تحریک کړي.
- مرکه کوونکی له مرکه کیدونکي سره د یوه فعال شخص په ډول، چې تر څیړنې لاندې عمل کوي نه د حقایقو او تجربو په باره کې د یو رپوټ ورکوونکي په توګه
- په دغه میتود کې غالباً د بحث وړ موضوع شخصي، صمیمي او هیجاني موضوعات وي او مقصد دا وي، چې د خلکو د ژوندانه د تجربو په برخه کې سم معلومات او پوهه ترلاسه کړي.
- د مرکې کیدونکي کیسه او روایت او په هغه میتود سره، چې دغه کیسه او روایت د مرکې کوونکي له خوا تعبیر او تفسیر کیږي د روایتي پروګرامونو د پیمان پربنسټ جوړوي او شکل ورکول کیږي(۲۷:۳۸).

**د مرکې په میتود کې اجرایي کتنې**

د څیړونکي لپاره د پروګرام د جوړولو د پیل او د مرکې د پوره کولو په برخه کې لازمه ده، چې ځینو اجرایوي ټکو ته پام واوړي او هغه په لاندې ډول دي:

الف: د سنجش د وسایلو د باور والي او موثق والي او د اطلاعاتو د راټولولو په برخه کې باید ډاډه شي.

ب: د مرکه کیدونکي لپاره دې له هرې خوا څخه باید مساوي شرایط رعایت کړي.

ج: د سنجش د وسایلو د توجیه او د هغو د بشپړیدو او دغه راز د مرکې د سرته رسولو لپاره دې ځانګړی رهنما ترتیب او د سنجش له وسایلو سره دې ضمیمه کړي، چې مرکه کوونکی هغې ته په مراجعې سره د پوښتنو ځوابونه او احتمالي ابهامات ترلاسه کړي.

د: هڅه دې وکړي، چې د رپوټونو د ثبت او ساتلو لپاره د غږ د ثبت او دوربین په څیر له مرستندویو وسایلو څخه ګټه واخلي، خو باید د مرکې ترپیل د مخه او له هغو څخه له کار اخیستلو د مخه د مرکه کیدونکي سره باید موضوع ښکار کړي او دهغه موافقه ترلاسه کړي.

ه: د پوښتنلیک د میتود په څیر مرکه کوونکی باید لومړی په توجیهي او ښوونیزه دوره کې ګډون وکړي، چې د څیرنې او مرکې له بېلا بیلو مسایلو سره اشنا شي. په دغه زده کړه کې دواړه نظري او عملي خواوې باید شاملې وي. په دې ډول به مرکه کوونکی لازم مهارتونه ترلاسه کړي.

و: ښه به وي، چې مرکه کوونکی سنجش او د اطلاعاتو د راټولولو وسایل او په بل عبارت د مرکې کارت مخکې له مخکې ونه آزمويي، چې د هغوی له باوروالي او موثقیت څخه ډډه وشي. دغه کار مرسته کوي، چې هم د سنجش وسایل اصلاح شي او هم مرکه کوونکی لازمه عملي زده کړه ترلاسه کړي. البته توصیه او سپارښتنه کیږي، چې په څیرنه کې تر زیاتې اندازې پوري له تجربه کارو مرکه کوونکو څخه ګټه واخیستل شي.

ز: د مرکې میدان او ساحې ته د ورتګ لپاره باید لازم اټکلونه او سنجشونه سرته ورسیږي.

لومړی باید له مرکه کیدونکي شخص سره د وخت د ټاکلو لپاره لازمه هماهنګی وشي.

دويم مرکه باید په ادب او درناوی او د مرکه کیدونکي د علاقې سره سم میتودونو پربنسټ پیل شي.

ح: که چیرته څو تنه مرکه سرته ورسوي نو باید اجرایوي او هدایت کوونکي او څارونکي سازمان دې جوړ شي، چې د مرکه کوونکو د کار څارنه وکړي او د رامینځته کیدونکي اجرایوي مسیر ستونزې حل کړي.

**د هر ډول مرکې لړی**

- مقدمه( سریزه) (د نیکو اړیکو رامینځته کول او ایجادول)
- د مرکې تودول یا (Warm up)
- د مرکې اصلي متن (Content)
- د مرکې سړول (Cool up)
- مرکې ته خاتمه ورکول (Closure)

**الف- مقدمه (سریزه) (د نیکو اړیکو رامینځته کول)**

- د خپلې څیړنې موخه روښانه کول
- څیړنه څه ته وایي؟
- تاسو په دغو راتلولو شوو معلوماتو څه کوی؟
- تاسو څومره وخت ته اړتیا لری؟
- ځواب ویونکو ته ډاډ ورکړئ، چې ددغو پوښتنو لپاره سم او نا سم ځوابونه نشته
- د مرکې د ثبت لپاره اجازه واخلئ، نه دا چې فرض کړی، چې دغه معلومات تاسو ته درکړل شي.

**ب- د مرکې تودول (Warm up)**

- له مرکه کیدونکي سره مرسته وکړئ، چې په راحت کې شي او ډاډ احساس کړي.
- ډاډ حاصل کړئ، چې ستاسو لومړنۍ پوښتنې اسانه وي، چې ځواب ورکړی شي.
- په خپلو پوښتنو کې ډېرې شخصي پوښتنې مه شاملوې.
- خپل کار په ډېره عامه طریقه سره پیل کړی، چې ستاسو کلیدي موضوعاتو او ملاحظاتو ته رسیده ګي وکړي

**ج- سړول او د مرکې تړل (Cool of and Closure)**

- وروسته له هغه، چې تاسو خپل عمده موضوعات احتوا کړي، امکان لري ډېر شخصي یا هیجاني موضوعات وي.
- یو شمېر عمومي پوښتنې وکړئ.
- فضا په راحت کې وساتئ
- مثبت یاددښتونه د مرکې د پای ورکولو لپاره وړاندې کړئ.

**د- خبرې پای ته رسول (Closure)**

- له ځواب ورکوونکو څخه هیله وکړئ که چېرته د ویلو لپاره څه ولري او غواړي هغه ورباندې ورزیات کړي، چې پخوا یې تاسو ته ویلي وي، هغوی دې پرې اقدام وکړي.
- له ځواب ورکوونکو څخه هیله وکړئ که چېرته هیله ولری له تاسو څخه پوښتنه وکړي، هغه پوښتنه دې وکړي.
- په پای کې له هغوی څخه په مینه مننه وکړئ.

**هـ- د مرکې ثبتول**

- د ټیپ یا ریکارډر په واسطه مرکې او خبرې اترې ثبت کړئ.
- هغه شیان ثبت کړئ، چې باید هغه په یاد ولرئ.
- په زیاته شرحه سره یادداشت واخلئ.
- مهم شیان ثبت کړئ، چې باید هغه په خاطر کې ولرئ.
- انعطاف منل: د غیر متوقعه پېښنو لپاره تیاری ولرئ.

**و- د مرکې د متیود ښېګنې**

1. د ژورې او موردي (Case study) مطالعې د مرکې لپاره د مرکې میتود مناسب میتود دی، ځکه چې په هغې کې تر مطالعې لاندې افراد محدود وي نو له دې امله د څېړنې د ټولنې پراخوالی کم، خو د مطالعې ژوروالی ډېر زیات دی او څېړونکی کولی شي په ښه توګه د اړوند مطالعې موضوع ژوروالی او زاویه پیدا کړي. د ماشومانو او ناسازګارو افرادو یا دیوې اقتصادي، اجتماعي او محیطي نابرابري یا دروانې ناروغانو په هکله مطالعه د مرکې په میتود سره په ښه توګه سرته رسیږي.
2. د مرکې میتود د ټولنې د هغو افرادو لپاره، چې لازم سواد ونه لري ډېر ګټور دی ځکه، چې پوښتنلیکونه څېړنه او مطالعه بشپړولای نشي.
3. مرکه ددې سبب کیږي، چې مرکه کیدونکي یا ځواب ورکوونکی په ښه توګه د پوښتنو او څېړنې په موخو ښه پوه شي له دې امله د مناسبو ځوابونو د درک، کشف، او د معلوماتو دتر لاسه کولو امکان رامینځته کیږي او له څېړونکي سره د حقیقت او واقعیت په لاسته راوړلو او مجهولو د کشفولو په برخه کې مرسته کوي.

4. د مرکه کوونکي او مرکه کیدونکي ترمنځ مناسب محیط او چاپیریال رامینځته کیږي او ددې سبب کیږي، چې ځواب ورکوونکی له څیړونکي سره لازمه مرسته وکړي او هغه د څیړنې موخو ته ورسوي.
5. که چېرته مرکه او په تېره ازاده مرکه د مرکه کوونکي په هوښیاره لارښونه سره سرته ورسیږي ددې سبب کیږي، چې ځواب ورکونکی خپله اندیشه او مفکوره په ازادۍ او مینه سره بیان کړي.

**د مرکې د میتود نیمګړتیاوې**

1. دغه میتود ډېر وخت نیسي، زیات لګښت او وخت غواړي او کم او محدود خلک د پیژندنې او څیړنې لاندې نیسي.
2. د مرکې د میتود له لارې لاسته راغلي معلومات د پوښتنلیک د میتود په څیر د سترې ټولنې په برخه کې کار ورکولی نه شي ځکه، چې دغه معلومات د محدود شمېر کسانو پر بنسټ ولاړ وي.
3. د اطلاعاتو د تعبیر او تفسیر قابیلیت په تېره بیا په ازادو مرکو کې ښکته او ټیټ وي او څیړونکي باید په دې کار کې زیات پام او حوصله ولري ان دا، چې د مرکې له پیل څخه د مخه باید څیړونکی د اطلاعاتو د تحلیل او تفسیر میتود اټکل او طرحه کړي.
4. په دغه میتود کې تجربه کارو او ازمایښت شوو مرکه کوونکو ته اړتیا ده، ځکه چې مرکه کول یو تخصصي او مسلکي کار دی او هر څوک یې له عهدې څخه نه شي وتلی.
5. هغه شخصي تماسونه، چې د مرکه کوونکي او مرکه کیدونکي ترمنځ ټینګیږي د دواړو خواو ترمنځ د عاطفي اړیکو د پراخوالي سبب کیږي. له دې امله امکان لري، چې اطلاعات او معلومات د شخصي نظرونو له څرګندولو سره ګډ شي او مرکه کوونکی داسې ځوابونه ورکړي، چې د مرکه کوونکي

خوښ شي، که څه هم واقعیت ونه لري یا مرکه کیدونکي د مخه تردي، چې د واقعیتونو په کشف پسې هڅه وکړي داسې قضیې او خاص حالتونه وڅیړي، چې دهغه حدسونه پیاوړي کړي.

**6.** څرنګه، چې مرکه یو انعطاف منوونکی میتود دی احتمال لري، چې ددې سبب شي مرکه کوونکی فکر وکړي، چې هر ډول یې زړه وغواړي، پوښتنه وکړي یا مرکه کیدونکي تصور وکړي، چې هر څه یې زړه وغواړي ووایې طبیعي ده، چې دغه ډول تصورات د اطلاعاتو په صحت کې چې راټولیږي اخلال رامینځته کوي.

**په مرکه کې د پام وړ ټکي**

په مرکه کې باید لاندې ټکي په پام کې ونیول شي

1. د مرکوال او مرکه کیدونکي ترمنځ ډېر تشریفاتي او رسمي اړیکه نه ده پکار څو په خپل منځ کې پردیتوب احساس نه کړي. د پردیتوب د احساس پرمهال ځواب ورکوونکی ازادې خبرې نه کوي او له هغه څخه ډېر معلومات نه شي ترلاسه کیدلی.

2. مرکوال باید په دې پوه وي، چې هغه شخصي خبرې نه کوي بلکې ټوله مرکه یې خپریږي ځکه نو داسې پوښتنې پکار دي، چې د اوریدونکو د استازې حق ادا کړي. د اوریدونکو استازي هغه وخت کیدای شي، چې کله مرکوال د اوریدونکو په شکونو او پوښتنو خبر وي. که مرکه د اوریدونکو د ذهني پوښتنو اړوند نه وي نو اوریدونکي هغه نه اوري.

3. د مرکه کیدونکي غږ لږ لوړ پکار دی څو دهغه ارزښت په ډاګه شي. د مرکه کیدونکي خبرې باید غوڅې یعنې قطع نه شي. له دې سره دهغه پام بل لور ته اړوي ددې خبرې امکان شته، چې اصل ځواب ورځینې پاتې شي.

4. مرکوال ښایي د اوریدلو پروخت یواځې سر وښوروي هو ښه صیب، سمه ده بلکل ستا خبره پر ځای ده او داسې نورو خبرو سره مرکه کیدونکي پاملرنه خرابیږي. په هغې کې خبرې کوونکی په خپلو خبرو کې ځنډ احساسوي او په سمه توګه یې نه شي ویلی.

5. پوښتنه له یوې ځانګړي زاویې مه کوئ. ددې مطلب دادې، چې پوښتونکی یواځې د خپل فکر تایئد یا کومه ځانګړې خبره کول غواړي.

6. پوښتنه په خوښ او هسک انداز سره وکړئ او د سوال کولو پروخت د زیاتې خپلوي انداز خپل کړئ، چې مرکه کیدونکې دا ونه ګڼي، چې هغه ازمایي. په خوښ انداز د پوښتنو ځواب کې په عامه توګه خوښ غبرګون وي سخته پوښتنه هم په ښه او نرم انداز وکړئ.

7. د مرکې موضوع او شخصیت ته په پام سره پوښتنې تیارې کړئ. د پوښتنو خاکه برابره کړئ. د مرکې تیاری ډېر مهم وي.

8. که مرکه مذاکراتي وي نو ښکاره ده په هغې کې مرکوال له یو څخه زیاتو خلکو سره مرکه کوي. په دغې صورت کې مرکوال داسې تاثر ونه کړي، چې هغه د کوم نظر پلوي یا مخالف دی. په بله وینا ناپیلی انداز خپل کړئ څو خلک په خوښی سره ډېر معلومات درکړي.

9. د معلوماتي مرکې لپاره داسې کسان غوره کړئ، چې د اړوندې موضوع کار پوه وي. د مرکې لپاره تل د یوې ادارې مشر غوره کیږي.

10. مرکه، چې په کوم ترتیب ثبتیږي ضرور نه ده، چې په هغه ترتیب خپره شي. هغې ته یوه بله بڼه هم ورکول کیدلی شی.که د پوښتنو د لیکلو پرمهال کوم ترتیب په پای کې وي نو له ثبت وروسته هغه ترتیب بدلیدلی شي. دا هم کیدای شي، چې مرکه کیدونکی په منځ یا پای کې کومه ډېره ارزښتناکه خبره وکړي نو په ایډیټ کې پروډیسر هغه پیل ته را اړولی شي.

11. زیاته غوره داده، چې پروډیوسر په خپله مرکه وکړي، ځکه نوموړی په اسانه د مرکې لورې ټاکلی شي. که پرودیسر د کوم لامل له مخې مرکه ونه شي کولی نو، کوم بل داسې څوک هغې ته ګماري، چې د پروډیوسر په ټولو غوښتنو پوه شی او د مرکې خیال هم وساتي څو د پروډیوسر د خوښې مرکه وکولی شي.

12. مرکوال ته د موضوع په اړه د ډېرو معلوماتو ترلاسه کول پکار دي.

13. له چا سره، چې مرکه کوي هغه ښه وپیژني.

14. مرکوال ته له سیمه یزو او ملي سیاست څخه خبریدل په کار دي.

15. د پوښتنو انداز باید غوړیدلی او لهجه په زړه پوري وي.په نیولي انداز د پوښتنو کول نه دي پکار.

16. تر مرکې د مخه وخت، ځای، او پوښتنې ټاکل پکار دي په دې سره یوه ښه مرکه کیدلی شي.

17. د مرکې لپاره د وخت ټاکلو لپاره مرکه کیدونکي ته د دومره وخت ورکول اړین دي، چې هغه په اسانه مرکه وکولی شي. غوره داده، چې هغه ته پوښتنې وروښودل شي څو اړوند عددونه او شمېرې په اسانی سره راټولې کړی شي. له دې سره مرکه ډېره کره او معلوماتي کیږي.

18. پوښتنې باید یو له بل سره اړوندې وي او د خبرو په څیر تړاو لري. د یوې پوښتنې په اړه پوښتنې په ترتیب سره وپوښتل شي. د پوښتنو تکرار نه دي پکار.

19. پوښتنې اسانه او د پوهاوي وړ پکار دي.

20. تر مرکې دمخه دا ویل پکار دي، چې دا مرکه د راډیو لپاره ده، ځکه یې نو ثبتوو. ځیني کسان د ټیپ ریکارډر په لیدو سره ټکني کیږي.

21. د مرکې تر پیلولو د مخه د څو دقیقو لپاره په سټوډیو کې ازادې خبرې وکړئ څو دمرکې کیدونکي وېره او پردیتوب له منځه ولاړ شي.

22. مرکوال دې په مرکه کې خپله پوهه نه په ډاګه کوي. د هرې پوښتنې د ځواب تایید اړین نه دی او نه ښایي د پوښتنې کلمې سختې وي (۳۹:۶۷).

**مرکې**

امریکایي خبریال کرستین جنجر وايي: مرکه د رپوټ جوړولو بنسټیز توکی دی. مرکه د معلوماتو، نظریاتو او تجربو تبادله ده. هغه څه، چې مرکه له نورو بحثونو بیلوي دادې، چې د پوښتنو مسیرد خبریال په لاس وي. د مرکې تنظیم تل اسانه نه وي. خلک غواړي، چې له خبریال سره خبرې وکړي په ځانګړې توګه کله، چې رپوټ یوه پیچلې موضوع وي. کله، چې له عامو چارواکو سره خبرې کوئ لومړی له مقدمې نه پیل وکړئ، ځکه خلک غواړي، یوه شي چې لوړپوړي چارواکي څه کار کوي.

تجربه لرونکو خبریالانو موندلې، چې د ښځې په غوښتنه او د هغو خندونو په لري کولو کولی شي آن هغه چارواکي، چې له مرکې نه بیزار هم وي، مرکې ته یې راوکاوږی او مرکې ته یې وهڅوي. که هغوی وخت نه درلود خبریال کولی شي د مرکې لپاره یو ځانګړی وخت وټاکي یا هم هغه ځای، چې خبریال وکولی شي له مرکه کوونکي سره خبرې وکړي، وټاکي. د لنډ وخت غوښتنه هم کولی شي د مرکې لپاره د چمتو کیدو په برخه کې مرسته وکړي.

هغوی ویریږي، ځکه فکر کوي، چې دغه رپوټ هغوی بد معرفي کوي. په درناوي له هغوی سره خبرې مرسته کوي، چې هغوی خپل ډار پریږدي او له تاسو سره مرکې ته چمتو شي. هغوی نه پوهیږي، چې څه ووايي. خبریال باید دا ورته په ډاګه کړي، چې ولې په دې رپوټ کې دهغوی نظر ته اړتیا ده او دا هم ورته روښانه کړي، چې له نوموړي څخه د کومو معلوماتو ترلاسه کولو ته اړتیا لري. چارواکو ته لاس رسی ګران وي خو خبریال باید د هغوی سکرتر یا هم

دعامه اړیکو ځانګې ته ورشي او د مرکې لپاره وخت واخلي. که چېرته خبریال ته شک پیدا شو، چې ښایي غوښتنه یې ترچارواکي ونه رسیده، ځیني خبریالان بیا خپل وړ کس ته لیک استوي او یا هم د غرمې د ډوډۍ پرمهال یا هم له رسمي وخت نه وروسته له هغوی سره تیلیفوني اړیکه نیسي او کوښښ کوي هغوی ته ځان وروروسوي.

کله چې د مرکې وخت وټاکل شو او له دې وړاندې، چې له نوموړي مو پوښتنې ګرویږنې پیل کړې، لږ چمتوالي ته اړتیا شته. ځیني خبریالان یو لړ پوښتنې برابروي، خو د مرکې پرمهال یې نه لولي، بلکې د مرکې په پای کې د خپلو پوښتنو لېست ته مراجعه کوي، چې ډاډه شي ایا ټولې پوښتنې یې پوښتلي دي.

پوښتنې د مرکې د ملا تیر جوړوي. سوالونه د کښتۍ د تیغې په څیر دي، چې کښتۍ ته دمسیر په ورکولو کې مهمه ونډه لري. د ښو پوښتنو ځواب ښایي بشپړ معلومات، حیرانوونکي ځوابونه او ستاسو له توقع نه ډېر معلومات وي. ناسمې پوښتنې تاسو حیرانوي، چې ولې دا کس ستاسې له خبرو ناخوښیږي. هغه پوښتنې، چې ډېرې مشخصې وي ښایي، چې تاسو په یو ناسم لوري سم کړي. د رپوټ د لیکلو او چمتو کولو لپاره په مهارت مرکه بنسټیز عنصر بلل کیږي.

لومړۍ پوښتنه په مرکه کې ډېره مهمه ده، ځکه د پوښتنې لحن د نورو پوښتنو مسیر او لوری ټاکي. ډېر شمیر خبریالان غواړي، چې مرکه په ګنګل ماتونکو پوښتنو (Ice breaker) پیل کړي، چې په دې توګه مقابل لوری د ارامۍ احساس وکړي دغه شان پوښتنه ستاسو سره مرسته کوي، چې مقابل لوری مو پوښتنو ته په ډاډه زړه ځواب درکړي او ستاسو شتون له نوموړي سره ستونزې نه را ولاړوي او د باور فضأ رامنځ ته کوي. ډېر وخت غوره پوښتنې پرانیستې پوښتې دي، چې یواځې د هو یا نه په کلمو نه ځوابیږي بلکې نورو معلوماتو ته

هم اړتیا لري. که له یوې خوا غوره ده، چې ښې پوښتنې وپوښتئ، خو بل لورى دا هم مهمه ده، چې مقابل لوري ته واک ورکړئ، چې خبرې وکړي او تاسو غلي اوسئ او مهم معلومات ترلاسه کړئ، هغه څه، چې اورئ تاسو ته د نورو پوښتنو چانس په لاس درکوي.

رابرټ سیجل، چې په واشنګټن کې په ملي راډیو کې کار کوي، نوموړى د خپلې هغې مرکې په اړه څرګندونې لري، چې له یوه ترکي ډیپلومات سره یې پر پاپ جان پال باندې د یوه ترکي وګړي له برید وروسته تر سره کړي وه. د نوموړي لومړۍ پوښتنه داوه: ایا تاسو ویلى شئ ددې کس، چې د ایټالیا په کوم ځاى کې ژوند کوي، هلته څه کوي؟ څه ډول د ایټالیا ویزه ورکړل شوي وه؟ ددې ټولو پوښتنو ځواب منفي وه. له ډېر کوښښ وروسته سیجل دمه وکړه نږدې و، چې له مرکې تېر شي، خو خبریال دا چوپتیا په دې ماته کړه: له دې پرته، چې هغه په ترکیه کې یو مشهور قاتل وه او د یوې سترې ورځپاڼې د اډیټر له ترووره وروسته له زندان نه وتښتید، سیجل وایي: ښه به داوه، چې خپله مرکه کې په دې پوښتنه پیل کړي وه، چې دې کس په اړه راته معلومات راکړي.

خبریال کولى شي له مقابل لوري سره د تیلیفون پرلیکه د بریښنالیک له لوري یا هم د تیلیفوني پیغام له لوري مرکه وکړي خو هره طریقه خپلې ښیګڼې او نیمګړتیاوى لري. یوه مرکه د یو کس په اړه بشپړ احساس راکوي په دیوالونو باندې څه ډول انځورنه دي؟ ایا مېز پاک دى؟ په المارۍ کې څه ډول کتابونه دي؟ له مرکه کیدونکي سره لیدنه خبریال ته دا توان ورکوي، چې د نوموړي د برخورد او چلند په کتو دیوې سرچینې په توګه پر نوموړي د اعتبار کچه وټاکي. ایا نوموړى په غوسه دى یا ارامه؟ ایا نوموړى غواړي له خبریال سره وګوري؟

د پونيټر په انستيتوت کې د ورکشاپونو مشر کوستوفر سکالون د خپلې هغه مرکې کيسه بيانوي، چې له يوې ميرمنې سره، چې ميړه يې د سرطان د ناروغۍ له امله مړ شوی و، کړې وه. د متوفی ميرمنې نوموړي ته ټول کور وښودو او د خوب په خونه کې يې وويل: پوهيږې، چې زه هره شپه د خپل خاوند لږ عطر په بالښت وهم او تراوسه هم احساسوم، چې هغه زما سره دی. دغه هغه جزيئات دي، چې لوستونکی احساسوي، چې سکالون دا مرکه نېغ په نېغه ترسره کړې نه د تيليفون يا د انلاين له لارې.

تيليفوني مرکه لږ وخت نيسي او ځيني خبريالان هغه د يادابنت نيولو لپاره غوره ګڼي، ځکه خبريال دې ته اړ نه وي، چې له مقابل لوري سره د سترګو اړيکه وساتي. آن دا چې هغوی کولی شي، چې په کمپيوټر کې هم ياداشتونه وليکي. د برېښنا ليک له لارې مرکه کيدای شي په هغو مواردو کې، چې مقابل لورې لرې وي، ګټوره وي خو خبريال هغه څه، چې ويل کيږي اوريدلی نه شي او هم په مناسب وخت کې هغه تعقيقبولی نه شي.

د انټرنېټ له لارې د لنډو پيغامونو پرمټ مرکه کول هم د تيليفون مرکې ته ورته دي خو، په دې صورت کې ستونزه داده، چې په دې باور کول ستونزمن دي، چې ايا کوم کس، چې د انټرنېټ او کمپيوټر تر شا ناست او ځوابونه ليکي حقيقي دی او که څنګه؟

د همدې انديښنې د مخنيوي په خاطر د ويرجينيا ورځپاڼې د خبر په خونه کې د انلاين راپوټونو لپاره يوه تګلاره جوړه کړې ده. د انټرنېټ خدمتونه، لکه نور مزي (لين) خدمتونه کنټروليږي. هغه خبريالان، چې د برېښناليک يا هم د انلاين له نورو بڼو نه کار اخلي، بايد هماغه حرفوي معيارونه په پام کې ونيسي. هغوی بايد ځان د خبريال په توګه وپيژني او ووايي، چې څه ډول معلومات پلټي او

ولې؟ هغوی باید د واقعیتونو، نظرونو هماغه ارزونه وکړي، چې کله د معلوماتو د نورو بنو د ترلاسه کولو پرمهال یې کوي.

مهمه نده، چې هغوی څه ډول مرکه کوي ډېر شمېر خبریالان که څه هم ځیني پوښتنې ورسره وي خو هغه اخر ته ساتي، په لومړي سرکې مرکه لنډه کوي خو بیا یې وروسته په دغو سوالونو غزوي. خبریالان له هغه چا سره، چې مرکه کوي ددوهم ځل لپاره د اړیکې لاره چاره هم پوښتي، په ځانګړې توګه که چېرې خبریال غواړي څو ساعته وروسته له نوموړي نه مننه وکړي ډېر شمېر خبریالان یوه بله پوښتنه هم لري هغه دا ،چې که مرکه کیدونکی کس د مرکې په پای کې پوښتي چې په دې اړه نو د چار سره خبرې وکړم.

**بنسټیزې لارې چارې**

ډېرې مرکې ثبت کیږي او دلیل یې دادی، چې خبریال وکولی شي هغه څه یې، چې پوښتلي او هغه څه یې، چې اوریدلي په دقیقه توګه نسبت ورکړي او ښه داده، چې نوموړی کس په دې اړه وپوهیږي. په ځانګړې توګه هغه کسان، چې په ورځپاڼو، راډیو، تلویزیون کې له نقل قولونو سره هغومره روږدي (بلد) نه وي. که چېرته معلومات ثبت نه شي، نو مرکه کیدونکی باید له دغو معلوماتو نه د ګټې اخیستنې په څرنګوالي پوه شي او له هغې سره موافقه وکړي.

یوه مرکه ددې لپاره نه ده، چې چاته نسبت ورکړل شي، بلکې مرکه ددې لپاره کیږي، چې په رپوټ کې یې له معلوماتو نه کار واخیستل شي او د سرچینې نه په مستقیمه توګه نقل کیږي. خبریال کولی شي په عامه توګه یوه سرچینه معرفي کړي. د بېلګې په توګه د بهرنیو چارو وزرات او یا د یوه ساختماني شرکت انجینر او داسې نور، خو په دې شرط، چې مقابل لوری یې له خپریدو سره موافقه کړې وي.

ډېرې خبري اداري نااشنا سرچينو نه د کار اخيستو لپاره ليکلي تګلارې لري، د بېلګې په توګه نيويارک ټايمز وايي: ناڅرګندې سرچينې بايد هغو حالاتو ته وساتل شي، چې پرته د هغې معلوماتو نه رپوټ خپريدلی نه شي، که څه هم داعتبار وړ او د خبر ارزښت لپاره مهم وبلل شي. کله، چې له دغو معلوماتو کار اخلو موږ بايد دې ته ژمن اوسو، نه يواځې داچې لوستونکي د هغې اعتبار ته راماتوو بلکې دا هم څرګنده کړو، چې موږ له دې انګيزې نه څه زده کړي دي.

خبريال بايد دې ته ژر قانع نه شي، چې مقابل لوری له پخوانی سابقې نه وغږيږي ځکه پوهيږي، چې دا موضوع نوموړي ته نه ورګرځي. له يوې سرچينې نه پرته له دې، چې نوم يې واخيستل شي، کار اخيستل د معلوماتو په اړه اعتبار موضوع له اوريدونکي سره نوره هم ستونزمنه کوي.

**پوښتنې د مرکې د ملا تير دی**

ځيني وخت داسې پيښيږي، چې خبريال بايد د موضوع شاليد په اړه معلومات ترلاسه کړي او دا يواځينی لاره ده، چې سرچينه خبرو ته چمتو کوي. سرچينه د خپل خونديتوب په اړه انديښنه لري او که نور پوه شي، چې نوموړي له خبريال سره د خبرو لپاره موافقه کړې ده، چې د پخوا په اړه معلومات ورکړي. هر يو په خپل وار سره د ځان په اړه انديښنه پيدا کوي. لاندې لارښوونې له پخوانی سابقې څخه د موفقيت لپاره د پريکړې په اړه دي:

- د رپوټ دا موضوع د ټولنې له ډېرې انديښنې نه سرچينه اخلي.
- بله لاره نه شته، چې معلومات ثبت کړل شي.
- سرچينه په هغه موقف کې ده، چې په حقيقت کې پوه شي (ستاسو په رپوټ کې)، چې ولې د سرچينې نوم بايد واخيستل شي.

په ځینو پلازمینو کې دولتي اداري د پخوانۍ په اړه غبرګيږي. ژور شالید په دې معنی ده، چې له معلوماتو نه کار اخیستل کیدی شي خو، نه د مستقیم نقل قول په توګه ثبت شوي معلومات د نورو سرچینو لپاره تکراریدلی نه شي خو د خبریال لپاره ډېر ارزښت لري.

دا په خبریال پورې ده، چې داډه شي دواړه لوري په موضوع پوه شوي او د مرکې په اړه یې اساسي قواعدو سره موافقه کړې ده. ځیني وخت سرچینه غواړي، چې د مرکې په منځ کې هرڅه بدل کړي او ووایي، چې تاسو نه شئ کولی له دې معلوماتو نه کار واخلئ ځکه نو ښه داده، چې هرڅه له هماغه پیل نه سم ولیکئ او د معلوماتو له رنګولو او له هغې نه له تیریدو سره ترهغې، چې امکان لري او له مرکې وړاندې یې په اړه څه ویل شوي موافقه مه کوئ.

خبریالان باید پوه شي، چې څومره کولی شي رښتیني واوسي او د سرچینې پیژنګلوي ساتلی شي. د ځینو دلیلونو له مخې خبریالان له ګواښ سره مخامخ کیږي او ځیني یې بیا آن بندي کیږي خو دا په داسې صورت کې ده، چې که هغوی محکمې ته د محرمو معلوماتو په اړه له ویلو نه ډډه وکړي.

که خبریال غواړي له ګواښ سره مخامخ نه شي نو ښه داده، چې په رپوټ کې د سرچینې پیژندګلوي وکړي. ځیني خبریالان دا وړتیا لري، چې له بهر نه ثبت شوي غږونه له سره ثبت کړي. اریک نادلر د همدغو کسانو له ډلې یو دی. کله، چې یوه off the record مرکه بشپړه شوه هغه ځیني نقل قولونه، چې په بشپړه توګه بې خطره دي لولي او پوښتنه کوي، چې ولی هغه on the record وایي. کله، چې سرچینې ورسره ومنله یاداشتونه خپل بیا لولي او د کار د اخیستو لپاره یې د مرکې کیدونکي اجازه ترلاسه کوي.

خبریالانو ته مهمه داده، چې د هغو معلوماتو په اړه ځان پوه کړي، چې د سرچینې له لوري ورباندې محدودیت لګول شوی یعنی معلومات تر یو لړ شرایطو لاندې راټول شوي او تر یوه ټاکلي وخت پورې نه شي کارول کیدای. د بېلګې په توګه یوه دولتي اداره له دې وړاندې، چې خپله نوې تګلاره اعلان کړي ښايي، چې څو ساعته وړاندې یې خلاصه چمتو کړي. دا له خبریال سره مرسته کوي، چې د نوې پالیسي په اړه له جوړیدونکي کنفرانس وړاندې ځان چمتو کړي، خو هغه خبریالان، چې په دې اړه یې معلومات له وړاندې ترلاسه کړي تر هغې وخته له یو لړ محدودیتونو سره مخامخ وي.

**په سمه توګه ترلاسه کول**

د باور ترلاسه کول د یوه خبریال تر ټولو مهمه شتمني ده او سموالی د هغې د ساتلو لپاره ښه وسیله ده. خبریال باید ټول معلومات، چې د رپوټ لپاره یې ترلاسه کوي چک کړي او آن باید دوهم ځلې یې هم چک کړي. خبریالان هم تیروتنه کوي خو دا تیروتنې باید ډېرې لږې وي. کله، چې postland oregnign امریکایي ورځپاڼې خپله تیروتنه مطالعه کړه نو اډیټران یې دې پایلې ته ورسیدل، چې تېروتنه د دریو لاملونو له امله رامنځ ته شوې ده:

1. له حافظې نه کار اخیستل
2. فرض کول
3. له دوهمې سرچینې سره معامله
4. خبریالان په رپوټونو کې د تېروتنو د مخنیوي لپاره په لومړۍ لیکه کې راځي

## ۲، ۲۴- خبري سرچينې Source of News

په خبريالی کې د سرچينې څرګنداوی او پر سرچينې ډډه د خبر او خبريال مهمه دنده ګڼل کيږي. کله، چې خبريال له يوې سرچينې يا خبري ځانګې خبر او د خبر جزئيات اخلي د سرچينې يادون يې اړين دي هغه پېښې، چې رېښې يې ژورې او لانجمنې وي سرچينه يادول يې مهم بلل کيږي.

د خبر ليکنې په ادبياتو کې د سرچينې بحث ته ډېر ارزښت ورکول کيږي. سرچينه رېښه او آر بلل کيږي. حقيقي او حقوقي اشخاص د خبر سرچينه کيدای شي حقيقي افراد لکه ولسمشر، وزير، د پوهنتون او نوري ټولنې او مؤسسې. خبري سرچينې حقوقي شخصيت هم کيدای شي.

**له خبري سرچينې څخه د ګټې اخيستنې اړتيا**

د خبر د سرچينې شتون او څرګنداوی د مخاطبانو اړتيا او غوښتنه ده.

مخطبان کولی شي له دې لارې د خبر پر روغتيا، رښتينتوب او مخينې وپوهيږي او تر ارزونې لاندې ونيسي که څه هم پدې وروستيو کې د بريښنايي او نورو سرچينو په زياتوالي سره د بې باوره او نابوري سرچينو په پرتله او توپيرولناشوني او ستونزمن کار دی، خو بيا هم د خبر له سرچينې څخه د ګټې اخيستنې اړتيا په لاندې برخو کې پيښيږي.

### ۲، ۲۵- لاسوند (مستند کول)

په پورتنيو کرښو کې مو وويل، چې د سرچينو څرګنداوی او د خبر رښتينتوب د مخاطبانو په اړينو غوښتنو کې راځي. د خبر لاسوندتوب او پر سرچينې ډډه د خبر ارزښت او سوچه توب ته قوت وربښي.

1. **باور او ويسا**

کله کله د خبر سرچینه څرګنده خو ویسا او باور یې کم وي. خبریال باید هڅه وکړي، چې د خبر لپاره څرګنده باوري سرچینه غوره کړي. که چېرته د یوې نا باوري سرچینې پر خبر ډډه وشي کیدای شي خبر نیمګری او یا هم درواغ وخیژي. دغه نیمګړتیا او دروغ خپرونې د خبریال حیثیت تر پوښتنې لاندې راولي.

## 2. پاز خلاص

کله کله داسې خبرونه ورکول کیږي، چې رښتینتوب او بې شکه وي. که چېرې خبریال یا خبري رسنۍ غواړي د خبر له پاز او مسؤلیته ځان خلاص کړي. سرچینه راوړل یې اسانه او غوره لاره ده. ډېر وخت داسې پیښیږي، چې خبري رسنۍ یا خبریال پیښې ته په رسیدو کې له ستونزو سره مخ کیږي.

دغه وخت خبریال یا رسنی اړې دي، چې له نورو سره د سیالی او د خبر په خپراوی کې د پیړۍ او د مخاطبانو د اړتیاوو په پام کې نیولو سره خبري سرچینې رسنیو ته مخ وراړوي. که چېرې د خبر په خپراوی کې بیړه او د پیښې نه پخلی د خبر په دروغ ختو وپایئږي. رسنی او خبریال یې له مسؤلیته خلاص دی.

د ساري په ډول که د یو سیاسي مشر یا نورو کسانو د وژل کیدو په څیر خبر درته رارسیدلی وی او په روغتیا کې یې شک در اوچتیږي. د ځان د خلاصې او له نورو رسنیو سره د سیالی په خاطر کولی شي. خبر د سرچینې په یادون سره خپور کړي: د ایتوتاس د خبري اژانس له مخې احمدشاه مسعود درې ورځې مخکې مړ شوی دی.

په پورتنی بیلګه کې تاسې ګوری، چې دخبر ارزښت او حساسیت له مخې خبري سرچینه د خبر په پیل کې راوړل شوي که خبر دروغ وخیژي پر رسنی او

خپرونو يې باور نه وي، خو بيا هم د امکان تربريده د خبر د رښتينتوب او نورو اړينو توکيو په اړه پلټنه پکار ده.

د پورتني خبر په اړه بايد ووايم کله، چې ما په سهار ورځپاڼه کې دخبري ايډيټور (خبر سموونکي) په توګه دنده ترسره کوله دغه خبر مو له راډيويي څپو واخيست. کله، چې د خبر سرليک ليډ او متن جوړيدل، په سر ليک کې مو د سرچينې توري غټ کړل( اتوتاس). سهار، چې کله خبر خپور شود تليفون په کربښه د ښکنځلو وار نه وه د ځان د خلاصی لپاره د سرچينې نوم ياد کړي او کوښښ مو کاوه د خبر ترنيمايي زيات مسؤليت په سرچينې ورواچوو، خو څو شيبې وروسته خبر ريښتيا شو او د ورځپاڼې تيراژ په دوهم چاپ سره له ۳۰۰۰ ګڼو څخه ۷۰۰۰ ګڼو ته ورسيد.(۱۱۹:۴۰).

**له سرچينې د ګټې اخيستنې لارې چارې**

په چاپي او بريښنايي خپرونو کې له سرچينې څخه په بيلا بيلو ډولونو ګټه اخيستل کيږي.

### a. خپرونې (مطبوعات)

په خپرونو کې د پيښې ځای او سرچينه زياتره د خبر په پيل کې راوړل کيږي. د بيلګې په توګه:

- کابل (هيواد خبريال)
- نيويارک، د ملګرو ملتونو ودانې، رويټر خبري اژانس
- کندهار (سي، اين، اين)
- پيښور (خبري سرچينې)
- سيول، سويلي کوريا (اتوتاس)

په پورتنيو بيلګو کې تاسې ګورى هغه پيښې، چې د رامنځ ته کيدو سيمې يې روښانه نه وي هلته د ښار او هيواد نومونه راوړل کيږي. يا که د پېښې په اړه ځو خبري سرچينو خبر ورکړى وي تاسې کولى شى د خبر په پيل کې خبري سرچينې يا اژانسونه راوړئ.

### b. راډيو تلويزيون

په راډيو تلويزيون کې سرچينې يا ډول له خپرونو سره توپير لري. د راډيو تلويزيون مخاطبان له سرچينې سره د ورځپاڼو او خپرونو په څير نه مخامخ کيږي. خبريالان کولى شي سرچينه د خبر په پرانيستي کرښه (افتتاحيه، ليډ، متن) او نورو برخو کې راوړي.

### c. اژانسونه

د خبري اژانسونو (News agencies) په تلکس او خبرونو کې د پېښې د ځاى سيمې او نورو توکيو ترڅنګ د خبر استولو نېټه، سرچينه، او نور اړين ټکي هم راوړل کيږي. ۱/۱۷د غازې ښار، فرانسپرس، د ورى ۲۷ مه باختر. د اسرايلو د هوايي پوځ يوې چورلکې نن سهار د غازى پر جنوبي سيمو کې راکټي بريدونه وکړل.

**د سرچينو ډولونه**

سرچينې بيلا، بېل ډولونه لري، چې پرځينو به يې رڼا واچوو

### 1. خبريالان (Journalists)

خبريالان له خپل چاپيريال څخه د خبرتيا، مطالعې او ژورې ځيرکې په درلودو او لوستوالو او اوريدونکو د اړتيا او غوښتنو په پام کې نيولو سره د خبر سيمې

ارزوي. تر ارزونې او پیژندې وروسته سیمې ته ننوځي او د خبر په موندلو، جوړاوی او خپراوی لاس پوري کوي.

## 2. شاهدان

د خبریال لپاره ترټولو غوره سرچینه د پېښې عیني شاهد او په پېښه کې دخیل کسان دي. خبریال په عیني حالاتو کې د یته نه اړوځي، چې په سرچینو پسې وګرځي، ځکه خبریال اوس یوه ډېره ارزښتناکه او غښتلي سرچینه موندلې. لاندې خبر وګورئ

دلویي جرګې ښځینه استازو په څرګنده د خپلو حقوقو نارې وهلي او د مجاهدینو پر مشرانو یې ټکونه کول.

## 3. پازوالان (Editors)

پازوالان د ټولنې د واقعیتونو او هر اړخیزو مسائلو له مطالعې سره په خپله د خبر سرچینې ګرځي. ډېری ایډیټران د ټولنې له مشهورو نوماندانو، سیاسي او ټولنیزو څیرو سره راشه درشه او نژدې اړیکې لري. دغه اړیکې په خبر موندلو او د سرچینې په یدا کولو کې غوره رول لوبوي. ایډیټران کولی شي له مړو او مشهورو کسانو سره په تیلیفوني اړیکو غوره او مهم خبرونه ترلاسه کړي.

## 4. خبري مدیران (News Editors)

خبري مدیران د ټولنې، رسنی او خلکو د اړتیاوو د ملي او نړیوال وضعیت د پیژندلو پر بنسټ د خبر جوړولو پریکړه کوی. دغه کسان له بیلا، بیلو رسنیو سره په تماس کې غوره خبرونه ترلاسه کوي. رسنی کولی شي د خبري ایډیټرانو له تماس او اړیکو څخه په استفادې سره له نورو رسنیو غوره خبرونه ترلاسه کړي.

## 5. خبري رسنۍ (Media)

رسنۍ هم د خبریالانو د سرچینې په توګه پیژندل کیږي او زیاتره ورځپاڼې، جریدې او نورې خپرونې د یو بل پر خبرونو ډډه کوي. که چېرې دکابل ننئیو خبرونو ته ځیر شو ډېر داسې خبرونه او مطالب به پکې ووینو، چې بیګاه مو له راډیو اوتلویزیون څخه اوریدلي وي.

همدا راز ډېرې بریښنایي خپرونې له چاپي خبرونو ګټه اخلي، خو یو ټکی، چې د خبري رسنیو ښښتنان او پازوال يې باید په پام کې ونیسي دادی، چې له نورو رسنیو لکه (انټرنېټ یا بریښنا پاڼو) تر بریده زیاته استفاده، د رسنیو اعتبار راټیټوي.

## 6. سازمانونه، ادارې او...

سازمانونه، ادراې، ګوندونه، او نور ټولنیز ارګانونه، چې د بیلا بیلو پیښنو او مسائلو په اړه خپل لیکونه، اطلاعاتي او پریکړه لیکونه خپروي، دا هم د خبریال لپاره یوه خبري سرچینه بلل کیږي.

## 7. د اطلاعاتو بانک (Information Bank)

د اطلاعاتو بانک د معلوماتو یوه تېزه، بیړنۍ او ډاډمنه سرچینه ده. د اطلاعاتو په بانک کې ملي او نړیوال خبرونه، د ګوندونو، ډلو ټپلو او نورو ټولنیزو ادارو اطلاعیې پرتې وي. خبریال کولی شي له ځنډ پرته يې ترلاسه کړي. د اطلاعاتو بانک کولی شي د وړ طرحې پربنسټ په ډېر لږ وخت کې دیوې پیښې لامل هم جوت کړي.

## 8. ټولیزې (عامه اړیکې) Public Relation

د سازمانونو ټوليزې اړيکې هم يوه خبري سرچينه جوړوي. دغه اړيکې د خبرياٖل او سرچينې ترمنځ د هم غږۍ او اسانتياوو برابرولو يوه غوره لاره ده.

### 9. خلک (ولس)

ولس هم خبري رسنيو ته د پېښو د بهير په ليږد او د خبر ورکولو سره د خبريالانو لپاره غوره خبري سرچينه جوړي.

### 10. وړ سرچينې

تر باوري سرچينو وروسته هغه سرچينې مهمې او اړينې بلل کيږي، چې د يو چا تر واک او وړتيا لاندې وي. د بېلګې په توګه د دفاع وزير د دفاع وزارت په چارو کې د وړتيا وړ سرچينه ده. دغه سرچينه نشي کولی په مالي، ډيپلوماتيکو او نورو چارو کې مالومات ورکړي يوازې پر خپلو وړتياوو (صلاحيتونو) او اړوندو چارو راڅرخي.

### 11. رسمي سرچينې (Formal Sources)

په دې ډول کې هغه سرچينې راځي، چې په رسمي ډول د اطلاعاتو او خبر ورکولو وړتيا ولري. د خپلو کاري چارو، پرمختياوو او نورو فعاليتونو په اړه خبري رسنيو ته معلومات ورکوي او پدې ډول هم اداره او هم رسنی دواړه سره نښلوي. د پوليسو منصبوال د امنيتي خبر، ملکي چارواکي، حکومتي تګلارو او د ملګرو ملتونو اداره د بشري مرستو لپاره ښايي رسمي سرچينې وي. په رسمي سرچينو کې د رسمي چارواکو لکه د کورنيو چارو وياند او نورو چارواکو تائيد راوړل اړين دي.

ډېر وخت داسې پيښيږي، چې وينا د يو تن خو سرچينه يې په ټولې اداري پوري تړلي کيږي. د افغانستان او ګاونډيو هيوادونو خپرونو دغه ستونزه زياته ده او

ډېر وخت داسې هم پېښیږي، چې د رسنۍ او اداري ترمنځ خبره محکمې ته ورسیږي. کله کله د یوې پېښې په اړه متضاد نظرونه وي. د پېښې یو اړخ پر بل اړخ تور لګوي، چې ستونزې پیدا کوي او دوهم بیا پر لومړي هغه پړه اچوي دغه ستونزې د افغانستان په څیر په جګړه ځپلي هیواد کې زیاتې دي.، په دغسې لانجمنو او سره ټکر حالاتو کې خبریال ته پکار ده، چې د دواړو اړخونو (دواړو سرچینو) نظرونه خپاره کړي.

د خبریالۍ په نړیوال سبک کې د سرچینې خبري په ټولیز ډول په څرګند ډول نه راوړل کیږي او که داسې معلومات تر لاسه شوي وي، چې خبرې به نن پای ته ورسیږي.

داسې انګیرل کیږي، چې او...

د خبر او معلوماتو د ورکړې لپاره سرچینه باید څرګنده او معلومه وي. شک او ابهام د خبر او خبریال ارزښت او حیثیت ته زیان رسوي. په افغانستان کې زیاتره خبرونه په مجهولي او ناڅرګندې سرچینې سره خپریږي او دغه ستونزه مخ پر زیاتیدو ده.

**په سرچینه څنګه اعتبار کولی شو؟**

دخبري رسنیو مخاطبان تل هڅه کوي، چې د خبر یا پېښې د سرچینې هویت او اعتبار معلوم کړي. له خبرونو او نورو خبري ژانرونو سره د سرچینو راوړل د خبر د تائید او رښتینتوب ترڅنګ مخاطبانو ته پر پېښه او خبر د ډاډ زمینه برابروي. د سرچینو یادون د ومره اړین بریښي، چې کله کله خبري رسنۍ د پوښتنې او ګرویږنې لامل هم کرځي.

## ۲، ۲۶- د ورځپاڼې سرچينې

په ورځپاڼو او چاپي خپرونو د شويو مطالبو سرچينې او اخځونه زياتره په ۱۲ ټکو کې راځي.

۱. هغه خبرونه او سرليکنې، چې د ژورناليستانو او ليکوالو له خوا د ورځپاڼې د خپريدو په سيمه کې چمتو کيږي.

۲. له هيواد او بهر نه د ځانګړو او ثابتو خبريالانو راليږلي مطالب.

۳. د ورځپاڼو د غير مستقيمو همکارانو ليکنې.

۴. د کورنيو او بهرنيو اژانسونو سپړنې او خپرونې.

۵. د ټولنيزو اړيکو له څانګو څخه ددولتي او رسمي ادارو تر لاسه شوي اعلامې او خبرونه.

۶. د ګوندونو، ډلو، ټولنو، او عادي خلکو ترلاسه شوي خبرونه.

۷. له کورنيو او بهرنيو خبري رسنيو اخيستل شوي مطالب.

۸. د کورنۍ راډيويي او تلويزيوني خپرونې

۹. د بهرنيو هيوادونو د سفارتونو او استازيو ورځينۍ، اونيزې ا و مياشتنۍ خپرونې او بوليټنونه.

۱۰. د تليفون او ليک لارې د لوستوالو راليږلي خبرونه.

۱۱. له کتابتونونو او ارشيفونو چمتو مطالب.

۱۲. له مستندو خبري فلمونو چمتو شوي مالومات او مطالب

خو د چاپي خپرونو تر ټولو ارزښتمنې خبري سرچينې د خپلو خبريالانو ځانګړي راپورتاژونه دي، چې د لوستوالو له اړتياوو اوغوښتنو سره سم چمتوکيږي. ورځپاڼې او نوري خبري رسنې د موضوع تناسب ته په پاملرنې سره دغه ډول راپور تاژونو ته ډېر ارزښت ورکوي. توليد شوي خبرونه او

راپورتاژونه د خبري رسنیو د کار کوونکو او پازوالو په بشپړ ډاډ سره خپرېږي.

13. د اروا پوهنې له مخې د سرچینې اعتبار

د سرچینې د اعتبار (Source Credibility) په اړه ډېرې کمې څېړنې تر سره شوي، خو د ټولنیزي اروا پوهنې د تمایل بدلون (Attitude Change) په بحث کې په دې اړه ډېر څه ویل شوي او دایې روښانه کړیده، چې پیغامونه په یوه او سره ورته کچه اغېز نه پریباسي. ځیني ځانګړي لاملونه شته، چې د هغو اغېزو کچه لوړوي یا یې د اغېز مخنیوی کوي. په اروا پوهنه کې سرچینې له دریو اړخونو مطالعه کیږي:

1. د پیغام سرچینه
2. د پیغام منځپانګه
3. پیغام اخیستونکی

د ټولنیزي اروا پوهنې پدغه بحث کې د پیغام سرچینه د یادو شویو تمایلاتو د بدلون تر ټولو ستر لامل او د سرچینې باور، راښکون او ځواک له زاویو د ارزونې وړ بلل شویده.

**پر سرچینه اعتبار**

مسلک یا ځانګوالي پر سرچینه د اعتبار ترټولو ستر لامل کیږي، ځکه ډیری خلک د ځانګوالو او کار پوهانو پر خبرو باور کوي او په سړه سینه یې مني. په بله وینا، د اعتبار وړ سرچینه نظر له ستاینې او مننې سره مخ کیږي. ډېر لږ داسې پیښیږی، چې کارپوه او مسلکي سرچینه دې تر نیوکو لاندې راشي.

**د سرچینې راښکون**

ظاهري راښکون او محبوبیت د سرچینې اعتبار نوره هم ډیروي. دغه ځانګړنه تر ډېره بریده په سوداګریزو اشتهارونو کې کارول کیږي، ځکه د سرچینې د پیغام اخیستونکي د راښکون او پرمخاطبانو د ډېر اغېز لامل ګرځي. دغسې بېلګې په راډیو تلویزیونونو او نورو خبري رسنیو کې په ترا ډول لیدلی شو. مشهور او نوموتي هنرمندان، لوبغاړي، د جګړو اتلان يې جوتې بېلګې دي.

**د سرچینې ځواک**

ځیني ارواپوهان پدې اند دي، چې د سرچینې ځواک د پیغام اخیستونکي پرتمایلاتو اغېز شیندي او ډېر ژر پکې خپریږي یانې ځومره، چې سرچینه د اعتبار او ځواک ځښتنه وي په همغه کچه يې اغېز هم ډېر وي.

**۲، ۲۷- د سرچینې د اعتبار په اړه څېړنې**

مخکې مو وویل، چې په دې اړه دومره څېړنې ندې شوي خو په ۱۹۸۵ او ۱۹۸۹ کالونو کې د امریکا په متحده ایالاتو کې د ورځپاڼو، خبریالانو او سرچینې د اعتبار په اړه یو څه څېړنې وشوې، چې بده پایله يې درلوده.

سي سیلو ګازیانو (Cecile Gaziano) او کریستین مک ګراځ ( Kristin Mac Grath) لومړني کسان وو، چې په ۱۹۸۵ کال يې په امریکا کې د خپل څیړنیز راپورتاژ په سریزه کې د سرچینې اعتبار په اړه یو څه ولیکل. هغوی د راپور د سرچینې د اعتبار څیرنه پر دوو مخینو (سابقو) ووېشله: په ترځ کې د سرچینې د اعتبار لپاره دوه توکي په ګوته کړل:

1. **ریښتینتوب (Trustworthiness)**
2. **څانګوالی (Expertise)**

دغه مسئله ددې لامل شوه، چې د څېړونکو ټوله پاملرنه د شننی لامل وګرځي. څېړونکي پردې وپوهیدل، چې د سرچینې اعتبار څو اړخیز مفهوم لیږدوي او ځانګړنې یې په هر ارزونه کې بدلون مومي.د سرچینې د اعتبار په اړه ځیني څېړونکي د خبرونو (جغرفیایي ډګر) د بدلونونو د یو مهم لوبغاړي په توګه پېژني. ځینو څېړنو دا ښودلي ده، چې د ځینو ټولنو خلک په سیمه ییزو مسایلو کې تر راډیو تلویزیون نه ورځپاڼو ته ډېر ارزښت ورکوي او رپوټونه د ملي او نړیوالو مسایلو په برخه کې بیا د ورځپاڼو په پرتله راډیو تلویزیون ته ډېر ارزښت ورکوي. د امریکا د ۱۹۸۵ کال څېړنه په څو برخو کې ترسره شویده.

1. د سرچینې د اعتبار اړخونو ته کتنه.
2. د ورځپاڼو ا وتلویزیون (ارتباطي) وسایلو د خبرونو په برخه کې د خلکو د خبر پېژندنې او تمیز لوړتیا.
3. په سیمه ییز پوښښ کې د اتبا ستونزې.
4. د سرچینې د اعتبار اړخونه.

له څېړنې څخه د لاسته راغلیو پایلو شننه داښیي، چې د سرچینې د اعتبار په لامل (عامل) کې لاندې ۱۲ سکالوګانې راغونډې شوي دي. انډول او نیاو، بې غرضي، د پېښې بشپړه سپړنه، روغتیا، د خلکو د ځاني ژوند درنښت، د پلویانو څار، د ټولنیز ژوند او اړوندو موضوعاتو شتوالی، له الواکونو نه د حقیقتونو بیلتون، وسیامنتوب، د خلکو خوښې، سکالو، باید په دریو لاملونو (نیاو، ریښتینتوب، او روغتیا) وویشل شي. په هر حال په دغه څېړنه کې دورځپاڼې او راډیو تلویزیون د لاسته راغلي اعتبار کچه په پورتنیو ۱۲ توکیو پوري تړلي دي.

**۲، ۲۸- د ډله ییزو اړیکو د وسایلو پېژندنه**

د څېړنې په اوږدو کې له یوه مورد پرته تلویزیون تر نورو ټولو خبري وسایلو غوره بللی شو دغه څېړنه په امریکا کې شویده، نه په افغانستان اوګاونډیو هیوادو کې په دغو پوښتنو او پلټنو کې نیمایي خلکو ورځپاڼه د خپلې هنداري رسنی په توګه ټاکله.که دغه څېړنه د افغانستان په څیر په یوه بریښنایي هیواد کې ترسره شي، راډیو ښایي د خلکو تر ټولو راښکوونکي اومنلي وسیله شي(۴۱:۱۵۱).

**وړیا سرچینې او مخبر**

پلټونکي خبریال ته د رضا کاره سرچینو په باره کې هم له ډېر احتیاطه کار اخیستل په کار دی. کوم خلک، چې پخپله خوښه او وړیا توګه پلټونکي خبریال ته د هر ډول مرستې کولو تیتر وهي نو هغه په اصل کې د خپلو موخو د پوره کولو لپاره دهغه له ژورنالستیک حیثیت څخه د ګټې اخیستلو کوښښ کوي. هغوی ښه پوهیږي، چې کوم شی، چې هغه خپله ورځپاڼه کې نه شي چاپ کولې هغه د خبریال په مرسته خپروي او په دې ډول له هغه څخه ګټه اخیستلی شي.

ددې خبري شونتیا ډېره لږه وي، چې یو رضاکار ددې بې غرضه مرستې وړاندیز وکړي. په عمومي توګه هیڅوک په رضاکارانه ډول دیوه خبریال وسیله ده جوړیږي هغه خامخا موخه او غرض لري. ښایي دا موخه ډېره عادي وي، ځیني وختونه داسې خلک دیو بل چا د کار الې جوړیږي. ټولي رضاکارې سرچینې هم داسې نه وي، چې له خدای (ج) څخه ویریدونکي مخلص، دیانتداره او ملي جذبې لرونکي، چې د خپل چاپیریال له بد ګڼلو څخه تنګ شي نو ډېر قیمتي او ارزښتناک معلومات خبریال ته برابروي، داسې معلومات، چې له دې سرچینې پرته بل چېرته نه موندل کیږي.د دارنګه اجورتي مخبرانو په باره کې

هم له احتیاطه کار اخیستل په کار دي کیدای شي، چې کوم مسلکي ټګمار د معلوماتو د برابرولو په پلمه، ورځپاڼه او یا کومه بله رسنۍ تېر باسي. په لویدیځ المان کې نازي مشر د هټلر یادښتونه د څو لکو ډالرو په بدل کې پریوې ورځپاڼې وپلورل، لیکن وروسته هغه جعلي یعنې غلط وختل.

د ورځپاڼې باور ته هم زیان واوښت او دمالي زیان په زغملو سربېره له قانوني اړخه هم له ستونزو او پریشانیو سره مخ شو. د ناسمو معلوماتو په خپرولو سره عامه نظرونه ګمراه کیږي اوس، چې له یوې موضوع څخه د خلکو د پام اړه ولو د پاره دیوې درندې مسلې د خپرولو او مشهورولو زمانه ده.

پلټونکي خبریالانو ته د رضاکارو سرچینو د خدایي خدمتګارانو په څیر مخبرانه او اجورتي اطلاع ورکوونکو په باره کې ډېر احتیاط په کار دی او په ډېر سوچ او فکر سره داسې معلومات استعمالول په کار دی. په دې ځای کې ددې خبرې یادول اړین دي، چې ځیني رسنۍ د خپلو خبریالانو د مرستې لپاره باقاعده تنخوا لرونکي کسان ساتي. سره له دې، چې دا تنخواګانې ډېرې لږې وي.

دا خلک په عامه توګه پوره لوستونکي هم نه وي، لیکن د هغو د معلوماتو حس ډېر تېز وي او هغوی، چې کله درسنۍ د لچسپۍ په اړوند پېښه په خپله سیمه کې ویني، نو له ځنډ پرته هغه د خپلې ورځپاڼې دفتر ته مخابره کوي. تر هغې وروسته د کوم مرستیال مدیر یا خبریال په لارښونه زیات معلومات برابروي دغسې خلک اجورتي مخبر نه ګڼل کیږي. دا رنګه خبریال، چې د خپلې کومې سرچینې په خاطر څومره لګښت کوي هغه هم د اجوري یا معاوضي په ډله کې نه راځي.

**دولتي او نا دولتي سرچینې**

د معلوماتو د دولتي او نا دولتي ریکارډ تفصیل ډېر اوږد دی. په اصل کې د هر دفتر داسې ریکارډونو تفصیل لیکل کیږي، چې له هر خبریال سره په څېړنه او پلټنه کې مرسته کولې شي.

1. اداري دفترونه

A. د مشر دفتر

a) د بیلا بیلو دندو لرونکو کارکوونکو رپوټونه (په ځانګړي ډول د ښاروالی انجینر، د روغتیایي مشر او دمالیې د مشر ریکارډ).

b) د بیلا بیلو ځانګو ترمنځ د لیکونکو کاپیانې (د پرتلیز جاج د پاره).

c) د ښاریانو شکایتونه او د هغو دله منځه وړولو هڅې.

d) د ځانګړو پلانونو په هکله رپوټونه.

e) د پیدایښت او مړینې د ثبت پاڼې.

f) د اور وژنې د ثبت پاڼې.

g) د میټرو د بولیټین کارپورشن د غونډو د کړنو د ثبت پاڼې.

h) د عامه اړیکو څانګه

i) د قضا مرستیال.

j) د ګمرک او نورو محصولاتو د ثبت پاڼې

B. د پولیسو دفترونه:

a) د ولایتي څیړونکو پولیسو عمومي مشر، دولایتي پولیسو عمومي مشر د دفترونو د ثبت پاڼې.

b) د زندان د پولیسو لوړپوړي مشر او د زندان د پولیسو مشر د دفترونو د ثبت پاڼې.

c) د لومړنیو رپوټونو لایف آی آر او زخمي پلټونکو رپوټونو ریکارډ.

d) د پېښو او پولیسو پټ (په ځانګړي ډول (سپیشل پولیس) رپوټونه.

e) د جرمونو عددونه او شمېر.

f) د مخابراتي پيغامونو د ثبت پاڼې.

g) د ځانګړو ډلو د کار کولو د ثبت پاڼې.

h) د ترافيکي پېښو جرمانه پاڼې.

i) د موټر چلولو د لايسنسونو لپاره غوښتنليکونه.

j) د ځانګړو پلټونوکو رپوټونو د ثبت پاڼې.

k) قانوني څانګه.

C. د ولسوالی د محکمو دفتر:

a) ګدام او دساتونکو ځای هغه ځای، چې هلته پريکړل شوي کاغذونه ساتل کيږي.

b) د ثبت دفتر.

c) د وسلو دلايسنسونو لپاره د غوښتنليکونو د ثبت پاڼې (د شويو لايسنسونو د ثبت له پاڼو سره).

d) د کميسون د مشر، ولسوالی، سيمه ايز حکومتي دفتر او د کميسيون د مشر دوهم مرستيال د کميسار د فترونه.

e) د قاضيانو د عدليي کړنو د ثتب پاڼې.

f) د سيمه ايز حکومتي دفتر راپور.

g) د اور لوبو، د وسلو کاروبار او نورو باروتي موادو اړوند د ثبت پاڼې.

h) د ولسوالي د وکيلانو ټولنه (د وکيلانو دفترونه او کتابتونونه).

D. ښاري دفاع:

a) اور لګيدنې، د ځايونو بربادي، او نورو پېښو ريکارډ ( دپرتليز جاج لپاره).

b) د ښاري دفاع د بېلا بيلو خلکو د کارونو د ثبت پاڼې.

E. عامه خدمتونه:

a) د ښاري پرمختيا اداري د ثبت پاڼې.

b) د ښارګوټي پلان.

c) د اوبو رسونې دفتر.

d) د طبيعي غاز اړوند دفترونه.

e) بريښنايي نښلوونکي (تيليفون، تار، د پوست خوني دفترونه او د تيليفون د مشرانو ريکارډ).

f) د اوبو او بريښنا اداره

F. عامه روغتيا:

a) د عامه روغتيا رئيس.

b) دولتي او نا دولتي روغتونونه.

c) د جراحي او مرستون د ثبت پاڼې.

d) د ډاکټرانو، نرسانو، د روغتون د ښځينه کتونکو او د نورو مرستندويه عملي زده کړې او روزنې د ثبت پاڼې.

e) د وبا او نورو خپريدونکو نارغيو په باره کې رپوټونه.

f) د روغتونونو او عامې روغيتا اړوند د نورو ادارو د معاينې په باره کې د رپوټونو د ثبت پاڼې.

g) د زهر لرونکو د چاپيريال د ککړتيا او عامې روغيتا د ساتنې اړوندو هڅو حالت.

h) د چاى خونو، رستورانتونو او خوارکي توکيو د پلورونکو معاينه د عامې روغيتا اړوندو اصولو او قواعدو د ثبت پاڼې.

i) د شرابو نشه يي توکو، تمباکواو نورو نشه کوونکو توکو د پلور او معايني اړوند د ثبت پاڼي.

G. مالي ادارې:

a) د بانکونو د فترونه.

b) د محاسبو د کتونکو دفترونه.

c) د مالیې پانګونې او مرستندویه ادراې.

d) د بیمې ادراې.

e) د عوایدو د مالیې دفترونه.

H. د ملکیتونو د مالیې او ګمرکاتو دفترونه. لوی او واړه عدالتونه:

a) ستره محکمه او استیناف.

b) ځانګړي قاضیان او ملکي قاضیان.

c) ځانګړي ډول محاکمه (د فساد مخنیوی).

d) د اړوند وکیلانو ټولنه.

e) د لوی څارنوالې دفترونه.

f) قانوني کتابتونونه.

g) د قانوني جریدې دفترونه

I. ترانسپورت

a) د اورګاډو ټول دفترونه.

b) د اورګاډو د ټکټ ثبتول (مسافر او سامان(.

c) د سړک ترانسپورت بورډ.

d) د ترانسپورت واکمنه اداره دوړو او لویو موټرو د ثبت او د ثبت پاڼو دفتر.

e) ددولتي او نا دولتي بسونو، موټرونو او ټرکونو اډې.

f) قضایي کمپنۍ

g) د ولایتي سکرتریت او اړوندو ریکارډونو دفتر.

h) د مرکزي حکومت سیمه ایزه دفترونه، بهرني سفارتونه.

i) صادرات.

j) ولسي جرګه (ریکارډ او کتابتونونه د مرکزي حکومت دلرلو په صورت کې سینیټ(پارلمان شورا).

k) پوهنتونونه، کالجونه، او د مسلکي زده کړې اداري.

l) ایالتي شورا (رایکارډ او کتابتون، د مرکزي حکومت په بڼه ولسي او مشرانو جرګه).

m) زندانونه.

n) صنعت او سوداګري.

o) د صنعت او سوداګرې دفترونه.

p) د شرکتونو د ثبت او کتلو ادراه.

q) د صنعت کارو او سوداګرو د هوساینې اړوند دفترونه.

r) د کورنیو او وړو صنعتونو دفترونه.

s) د ونډو (د پیسو د بدلولو) ځانګه.

J. دیني اداري:

a) مدرسې او ښوونځی.

b) د حج او اوقافو اداره.

c) جوماتونه او د اوقافو شخصي اداري او نکاح تړونکو دفترونه.

K. د ښاروالی اداري:

a) د ولسوالی شورا.

b) اتحادي او ښاري شورا (دطلاق عرایض، غوښتنلیکونه، د اجراتو ریکارډ او د کورنیو او نورو مسلو ریکارډ).

L. کتابتونونه:

a) کتابتونونه.

b) لرغونتوب موزيم او کتابتونونه.

c) ملي تاريخي سندونه او د ساتنې ځايونه.

M. سياسي ادارې:

a) د سياسي ډلو دفترونه.

b) د خلکو ګوندونه او مالي ادارې.

c) د ورځپاڼو او جريدو ريکارډ او حواله ورکوونکي کتابتونونه.

d) د راډيو تلويزيون خپرونې او نورو اړوند ريکارډ

e) د څيړنې او سرچينو څانګې

N. ساعت تيري او لوبې:

a) د بېلا بيلو لوبو، ډلو او ټولنو د ثبت پاڼه.

b) سټوډيم، جمنازيم او لوبغالي.

c) د فلمونو د ويشلو او د راډيو او ويډيو ادارې.

d) د ډرامونو او تياترونو ټولنې.

O. سيلاب او اسماني افتونه:

a) د هوا پيژندنې ادارې.

b) د سيلاب د مخنيوي او مرستندويه هڅو د ثبت پاڼې.

ياد شوي ليک لړ د پلټونکي خبريالی د تازه او نوي کارکونکو ته يواځې د يوې لارښونې د اشارې حيثيت لري. د معلوماتو سرچينې بې شمېره دي او يوه پلټونکي خبريال ته دا معلومول په کار دي، چې هغه څه ډول د عددونو شمېر او څرنګوالی ترلاسه کولو په موخه کوم ځای يا دفترونو ته مراجعه کوي.

ژورناليزم نن سبا يوه ډېره سپيڅلي دنده ده. دا په خپله ژورنالېست پوري اړه لري، چې نوموړي دنده د څه لپاره او څنګه وکاروي. ايا د ګټې لپاره، ايا د

عزت او اعتبار لپاره، ایا د ناسمې ګټې لپاره، ایا دقومي او ژبنیو تعصباتو لپاره.... همایون ادیب په خپل پلټونکي ژورنالېزم کې داسې لیکي: ژورنالېزم داسې شګلنه دښته ده، چې هلته د کینې، غچ اخیستنې، تیزي او ټندی لمبې تن او روح دواړه لمبه کوي. کوم خلک، چې د عدم استقلال، جرئت، زغم او سرښندنې ښکارندویي کوي او د جنګ په دې ډګر کې ځان ازمویي. دحق ویلو رېښتني دنده ترسره کوي. هغه نه یوازې نوموړي دندې ته عزت او ویاړ وربښني بلکې ملنګ دوله او قناعت په زیور سمبال پلټونکي ځلانده رول پاېښت اغېز هم ثابتوي، خبریالان لټوي، چې د ژورنالېزم ځلا، ویاړ اوعزت هم د هغه له دم او قدم څخه وي(۴۲:۴۶).

**۲، ۲۹- خبري اژانسونه**

د خبر رسولو اژانسونه په ملي او نړیواله کچه نن ورځ بل هر وخت ته خپله د اطلاع رسولو خدمتونه په ډېره فعالانه توګه سرته رسوي. نوموړي سازمانونه خپلې دندې د ټولو ورځپاڼو، راډیوګانو او تلویزیونو په برابرولو کې په فعاله توګه سرته رسوي.
د رویټر د خبر رسولو اطلاعاتي اژانس (کوم، چې د برتانیا په هیواد پورې اړه لري په ۱۸۵۱ زیږدیز کال کې د الماني جولیس له خوا تأسیس شو). فرانس پریس (کوم، چې د فرانسې په هیواد پورې اړه لري، د هاواس تر نوم لاندې او له دویم نړیوال جنګ څخه وروسته خپل نوم ته تغیر ورکړ یعنې فرانس پریس شو.
په ۱۸۳۵ زیږدیز کال کې تأسیس شوی، اسوسیټېډ پریس (کوم، چې د امریکا په هیواد پورې اړه لري په وروستی بڼه په ۱۹۰۰ زیږدیز کال کې منځ ته راغلی وو د هغې بنسټ په ۱۸۶۸ زیږدیز کال کې د نیویارک په ښار کې ایښودل شوی.

یونایټیډ پریس انټرنشنل د (امریکا په هیواد پوري اړه لري کوم، چې په ۱۷۰۹ زیږدیز کال کې تأسیس شوی).

تاس کوم، چې د شوروي هیواد پوري اړه لري یعنې اوسنی روسیه ده، په ۱۹۷۱ زیږدیز کال کې تأسیس شوی او د شوروي د دړې وړې کیدو څخه وروسته د انترتاس په نوم ونومول شو او د روسیې د هیواد د اژانس په نوم فعالیت کوي، چې له خپل فوق العاده شهرته بهره مند دی.

د خبر رسولو ذکر شوي اژانسونه اطلاعات او خبرونه د ګردی نړۍ د سلګونو ډله ایزو مطبوع الکترونیکي رسنیو لپاره برابروي او خپرونو ته یې چمتو کوي. په میلیونونو انسانان د نوموړو خبرونو اواطلاعاتو څخه په ګرده نړۍ کې استفاده کوي. د خبر رسولو په اژانسونو کې کار او فعالیت په واقعیت کې ډیر په زړه پوري او له خطره ډک دي.

اکثره هغه څوک کوم، چې ددغو ژورنالیستي او تعلیمي سازمانونو څخه فارغیږي، د کار موندنې لپاره په دغو سازمانونو کې هڅه کوي او دغه ډول کار د خپل ځان لپاره عالي امتیاز ګڼي. واقعیت دادې، چې یو شمیر زیات نوي فارغین نه شي کولی، چې په اسانې سره د خبر رسولو په اژانسونو کې دنده ترلاسه کړي بلکې هغوی باید یو څه وخت په کوچنیو او لویو ورځپاڼو او رسنیو کې تیر کړي او کافي تجربه به لاس ته راوړي.

یو عالم ویلي دي، چې د خبر رسولو د اژانس کارمند باید (ګرداننده) وي دا ځکه، چې د خبر رسولو د اژانس کاروکوونکي د ورځې دلس ګونو کارونو سره مخامخ کیږي. که دې د ګرداننده ګي خصلیت ونه لري، ددغو ټولو کارونو پرمخ وړلو له عهدې څخه نه شي وتلی. د خبر رسولو د اژانس کارکوونکي باید خبر ولیکي، تصحیح او تدوین یې کړي، د پیښې له ځای څخه خبر راټول کړي او تصمیم ونیسي، چې کوم مطلب ښه اهمیت او سمون لري.

د پورتنيو مطالبو د ملاحظې له مخې په صراحت سره کولی شو، چې درک کړو، چې د خبر رسولو د اژانس کارکوونکي باید (ګرداننده) وي يعنې د تصميم او قضاوت نيولو صلاحيت ولري(۴۳:۲۲).

**۲، ۳۰- پروفايل profile څنګه وليکو؟**

پروفايل يا دوديز انځور يوکيسه ييز ژورناليتي ژانر دي، چې زياتره پر يوه فرد او شخص متمرکز وي. به پروفايل کې زياتره د يوه کس د ژوند، فعاليتونه او نورو زړه راښکونکو مسايلو په اړه خبری کيږي. پروفايل د يوه کس د زيږدو د کال، تلين، د يوي ورزشي لوبډلې د بريالیتوب د يوه لوبغاړي، د لوبډلې د کپتان پرژوندانه او همدا راز سياسي اقتصادي او ټولنيزو شخصيتونو باندې ليکل کيږي. د اسامه بن الادن د ژوند د مبارزو فعاليتونو او بيلاخيره د پاکستان په ابيټ اباد ښار کې پر وژل کيدو يو ښه زره راښکوونکی پروپايل ليکل کيږي داډول مستند پروفايلونه د نړۍ په ډيرو مشهرو تلويزيونونوکې په ځانګړي توګه د الجزيره، بی بی سی، او سی اين اين کې زيات خپريږي. پرداسې خپرونو زيات خلک د مستند ګمان کوي، خو په حقيقت کې دا پروفايل يا مستند پروفايلونه دي چې د پيښې او موضوع اصلي کرکټر شخص يا فرد وي، او ټولې اړونده پيښې د همدغه شخص محور راڅرخي. په ټوليز ډول د پروفايل په اړه داسې ذهنيت او برداشت دي، چې يوازې د يوه کس پيژند ګلوي ده، خو د پرفايل اصلي بڼه د شخص د پيژند ګلوي تر څنګ د هغه د سياسي ژوند او په سياسي، ټولنيزو، فرهنګي او نورو فعاليتونو کې د هغه ګډون د شخص د اوسيدو دوخت تاريخ او پيښې ټول يکې راتللی شي.

**ولې پروفايل؟**

زیاتو کسانو ته دا پوښتنه پیداکیږي چې که موخه او مخاطبانو ته دیو چا ورپيژندل وي، نو ښه لاره يې مرکه ده چې د هرڅه په اړه ورځيني پوښتني وشي، خو ځواب دادي چې مرکه پخپله يو بيل ژورناليستيک ژانر دي، چې په تګلارو او ژانري ځانګړنو کې له پروفايل سره په مرکه کې له مرکچي سره زيات پر ژورو د مسلک او اداري اړوند يا يوي موضوع او پيښى په اړه خبرى کيږي خو په پروپايل کې ټولې پوښتني او محور په شخص او د هغه پرژوند او فعاليتونو راڅرخي. خلک د نورو خلکو په زړه پروفايل په شان فيچري خپرونې زياتې خوښوي او خوند ورځينې اخلي، همدا لامل دي، چې دشخص ژوند ليکنه نن سبا د تلويزيونونو او نورو رسنيو وتلو او مشهورو فيچرنوکې شميرل کيږي.

**پروفایل ګډ ادبي ژورنالیستکي ژانر**

پروفايل يا له شخص نه رپوټ ورکول يو ګډ ادبي او ژورناليستيک ژانر دي، چې هم خبري اړخ لري او هم ادبي، پر يوه نوي چاروکې ولسمشر وزير هنرمند يا بل داسې کس چې د خپل ابتکار له امله د خلکو پر خولو ناست وي، پروفايل ليکل خبري او معلو ماتي اړخ لري. د يوه شخص په اړه اطلاع ورکول او د شخص د کړو وړو را سپړنه پخپله يوه خبري ځانګړنه ده.

**خبري اړخ بیلګه**

د KKK ډلې يوشمير غړي اوس هم لا هغه شيبې نه شي هيرولې، چې د کورنيو جګړو پر مهال به يې تور پوستي مريان يا غورمان ګڼل. تيره ورځ د KKK يا سپين پوستو د بنسټ پالي غورځنګ دوه غړي په دې تور د ټينيي د ښار زندان ته لاړل، چې د امرکا د نوي ولسمشر بارک اوباما چې د امرکا د متحده ايالاتو لومړنى توپوستي وګړي دي، چې له توري مانى څخه د سپينې مانى په لور قدم ږدي. بارک حسين اوباما د ۱۹۱۴ زيږديز کال د اګسټ پر

ځلورمه د امریکا د هوایو په ایالات کې دیوه سپین پوستي امرکایي او یوه تور پوستي کینیایي وګړي د ګډ ژوند ثمره ده. دهغه پلار او نیکه مسلمانان وه خو ده په ماشوم توب کې د سرسي پر ځای د کاتولیکانو د سیکولر ښوونځي لاره ونیوله.

**ادبي اړخ**

په ادبي برخه کې موږ ډیر زیاتې داسې بیلګې لرو چې د ژوندلیک پروفایل یا بوګرافي بنسټ ړدي. د شاعرانو تذکر او له ادبي اونثري او شعري بیلګه سره د هوایې پیژندګلوي، حکایتي پیل، کیسه ییز بیان انځورګري او نور ادبي صنعتونه د پروفایل ادبي اړخ زیاتوي. د ادبیاتو شاعرانو، فرهنګي او کلتوري ځیرو مرګ او ژوند په تلویزیوني خپرونو کې له پروفایل کیښې ګټه اخیستل کیږي، ځکه له پروفایل پرته بل هیڅ سبک دا توان نه لري چې کس شخص په ښه توګه مخاطبان پیژني.

**د ادبي اړخ بیلګه**

((د غرمي په سخته ګرمي کې تر دري کیلومتره بایسکل چلوني وروسته ښوونځي ته ورسید. جامو یې د خولو له امله سوړ بوی ورکاون، په وجود کې یې دمه نوه، خو پرماشومانویې د ښوونځي دروازي نه شوي بندولی. مدیر قاسم خان د هلمند د نارسراج ولسوالی دسیند نه هغی خوا دلوامسري ښوونځي بنسټ ایښودونکي دي، چې پخانیانو تر اوسه درې ځلې سوځولي دي))

په تلویزیوني پروفایل کې د پاسنۍ بیلګې انځوریز لید له منځه ځي، داځکه چې په تلویزیون کې دغه خونه موږ ته انځور راښیي او دې ته اړتیا نشته چې موږ یې په متن کې هم انځور کړو.

**د پروفایل دغه پیل د تلویزیون لپاره موږ په دې ډول تنظیموو**

پس په یوه درسي انځور چې مدیر قاسم خان په یو زوړ بایسکل سپور له کوره راوزي په بایسکل باندې له کوره یو اوږده لاره پرمخ کې لري. د ګرمي موسم دی، نوموړی یو دوه ځایه له باسیکل نه راکوزیږي له خپل تندې نه خولې پاکوي خپله تږی خلاصوي او خپل تخرګونه بویوي. پورتنی متن یوازې په تصویر کې انځوریږي، خو د تصویر د سپړنې لپاره یو وړ لید ورکول کیږي. په دویم ګام کې تلویزیوني پرودیوسر خبریال کمره پرښوونځي راولي او هغه برخې یې ښيي، چې لاهم د اور سرخیدنې نښې نښانې پکې ښکاري.

مدیر قاسم خان کلیپ راځي او پردې غږیږي چې وسله والو جنګیالیو دغه ښوونځي درې ځله سوځولي او ده ته یې د مرګ ګواښونه کړي دي. په دغو دوو بیلګو کې د لیډ او متن څرګنتیا خبری او کیسه ییز بیان د دواړو پروفایلونو ښه او ژبه راښي. لومړی بیلګه تر یوې خبري اطلاع وروسته، چې د سپین پوستو او تور پوستو تر منځ د ټکر د پیلیدو ښکارندوي کوي. د یوه شخص د پیژندګلوي بحث کوي او دویم هغه په یوه فیچري لید کې یوه سیمه ییز اتل یا د پروفایل مرکزي کردار راښيي. پروفایل، تاریخ، تذکره، شخصي رپوټ، ځانګړې مرکه او خاطرات په لیکنې توګه یوتر بله سره ورته دي، خو په بنسټیزه توګه یو له بله توپیر لري.

**ایا برنامه ریزي ته واقعا اړتیا لری؟**

برنامه ریزي د مختلفو عواملو سره مرسته، سازمان ورکول او د تصمیمونو متضمن دی،چې د خپرونې په جوړښت کې همکاري کوي.

تولید پرته له برنامه ریزي

د ساده خپرونې لپاره په کافي تجربه او لږ چانس سره کولی شي، ټولو شیانو ته په خپله خوښه سازمان ورکړي، او په ډیرې لږې هڅې سره هره ورځ یوه خپرونه جوړه کړي، په داسې حال کې چې ډیکور په اصطلاح پیل او رڼاچول کیږي کولی شي د کمرې د ټیم، رڼا، غږ او... په صحنه کې قدم ووهي؛ د خپرونې موضوع او هغه حرکتونه چې سرته رسیږي، او احتمالي نماګانې چې غوره به شي ټیم ته توضیح او تمرین کړي.

ولې په دې رهیافت باندې تکیه ونکړئ؛ حتی په ډیرو ښو شرایطو کې، دا وضع موقتي دی؛ د ساري په توګه که ناڅاپي تصمیم ونیسي، چې په خپله خپرونه کې د دوو صندلیو پرځای درې صندلي یا یو ګرد شیشه یي میز څخه ګټه واخلی، دا ممکن نده مګر په پلټنو سره صحنې په وسایلو کې چې (په هغې لنډ فهرست ــ ۱) باندې کار خورا مشکل او ستونزمن دی.

حتی په داسې ځایونو کې چې ونه کړلی شي، جزیاتو ته مخکې له مخکې سازمان ورکړي، حداعقل کولی شي د کلي طرحې او کاري برنامې او خپرونه تولید کړي(۲۱۸:۴۴).

هغه ځای چې د برنامه ریزي لپاره ورته اړتیا شته

کله چې تولیدي خپرونه خپل دوامداره او عادي قالب تعقیب کړي؛ لکه د ورځینیو ویناوو خپرونه چې پر هغې کې ټول شخصیتونه د ټولو حرکاتو او نماګانو سره چې اخیستل کیږي پیژندل شوي دي، دا دوامداره برنامه ریزي ته اړتیا نلري؛ کافي ده چې په ورځینۍ خپرونه کې احتمالي توپیرونه، ټول ګروپ ته ورسوي.

**برنامه ریزي وکړئ ترڅو واقعآ پلي شی**

امکان لري برنامه ریزي په لومړیو کې لاس او پښې نیولي وي، او شاق په نظر کې راشي، اما ګټې هم لري؛ دا په واقعت کې پرته د فکر له لرلو او روښانه او معینې لارې څخه د خپلې سوژې د وړاندې کولو د څرنګوالي په مورد کې پرته د لومړنۍ برنامه ریزی څخه نه یوازې یوه تشه ستوډیو د یوې سرګردانه فني ګروپ نه بل څه ونه لري چې هیڅ نه پوهیږي چې څه کار باید وکړي، که چیرته د لحظه یې پیښنو سره او د تصایف په بنیاد متکي اوسي معمولي کار پایله به پرته له وړاندې ویني او مانوسوونکي به وي او نهایي پایله به پرته له تاسف او دوخت نه ضیع کیدوڅخه بل شی نلري او د تولیدي ګروپ مصرف به له ځان سره ونه لري(۴۵:۲۱۹).

**د برنامه ریزي اصول**

دقیقه او حساب شوې برنامه ریزي، لوبغاړي او د خپرونې اواز د تصویر سره پر صفر په څرنګوالي کې د کرګردان سره د امکاناتو په پکاروړنه کې مرسته کوي.

د برنامه ریزي لومړنی بنسټ په معمولي ډول په لاندینیو موادو پورې اړه لري

۱-د یوې خپرونې کامل متن یا فهرست، چې د خپرونې ټول جزیات وړاندي کړي.

۲-اجرایي ترتیب چې د مضوعاتو ردیف صحنې حرکاتونه او لوبې تعینوي.

۳-د ستوډیو د اندازې ابعاد او طرحی او د کاغذ پر مخ د خپرونې وړاندېز شوی دیکور د تصویري ننداری سره.

۴- تصویري فلمنامه چې د نماګانو اجرایوي فکر ته تمیم وروبښي.

۵- مخکې له مخکې د ثبت تاریخ یا تمرین لکه څنګه چې، مو ورته مخکې هم اشاره وکړه؛ کارګردان د تولید د مختلفو برخو مسوول د فنی کارپوهانو سره، ملاقات کوي؛ خپل افکار او تصمیمونه هغوی ته تشریح کوي؛ هغوی هم په خپل وارسره، نظریات او تجربې او هغه څه چې له ځان سره یې لري د خپروني کارګردان ته یې په واک کې ورکوي؛ د کارګردان مفکورې او ایډیاوې براسي کوي او د احتمالي ستونزو وړاندوینه کوي او د خپل ګروپ هڅې د تولید لپاره سازمانوي او تولید پیلوي.(۴۶:۲۱)

څه ډول برنامه ریزي وکړو؟

کوښښ کوو چې څه کار وکړو؟

ایا کوم کار چې غواړو سرته یې ورسوو د نورو فعالیتونو او موقیعتونو سره همغږي دي؟

**ایا دغه طریقې او فنون زموږ د موضوع سره اړخ لګوي؟**

د لاس رسي په موخه کومو شیانو ته اړتیا لرو؟

کومې سرچینې په واک کې لرو؟

**طریقې او فنون .**

**پیسې، امکانات، تجهیزات، انسانی نیرو،**

**توامندي، مهارت، تجربه، ابتکار، وخت(۰:۲۲۰)**

**د حل د لارې لپاره کومې سرچينې د اړتيا وړ دي؟**

**ايل محدوديت يا موانع په مخکي شته؟**

**۲، ۳۱- د خپرونې د تنظيم مراحل**

ستونزه دادي چې له کوم ځايه يې پيل کړو ؟ پورتنې مدارک ستونزه خلوي ؛چې د طرحو او طريقو موخو ته درسيدو لپاره مو غوره کړې دي .کله چې د ستونزې سره مخامخ شو پکار ده ، چې د حل هر ډول لارې د مو جودو امکاناتو او سرچينو سره سم ورته وسنجوو له دې پرته به ناکام وي .

پاملرنه وکړي ، چې څه ډول د ساعت ستني دعکس په جهت کې کار کوي . معمول د حل د قيقي لارې ته اړتيا نشته، يوازې د اړتيا پر بنسټ بهترينې لارې غوره کيږي (۲۲۰:۰).

د خپرونی د توليد او تنظيم مراحل

کارګران دتلويزوني خپرونو د طريقو په غوره کولو کې مختلفې سليقى لري.

له مخکې توليد نه پرته د خپرونی مراحل

کارګردان چې نشي کولی د نماګانو قالب، بڼه، لوبې او حرکاتونه په خپل ذهن کې تصوير کړي، ترڅو چې يې مخکې تمرين او ثبت نه وي ليدلی، نو د برنامه ريزي مسووليت د امکان تر حده نه مني، هغوی د تمرين او ثبت په اوږدو کې وروسته له حرکتونو څخه نماګانې غوره کوي(زياتره وختونو کې د نماګانو په خلق يعني پيدايښت کې د کمرې د ګروپ سره همغږي او مشوره کوي) هغه يو د بل سره غوڅوي او باالاخيره يو په بل کې يې ادغام کوي. د کار پايله يې زيات امکان لري، چې يوه نيمه خپرونه چې هيڅ امکان يې نه وړل کيږي، او يا هم زياته يې له هرج او مرج نه ډکه او ګيچ کوي.

د تو ليدي خپرونو د ځينې برخو لپاره(لکه مستندې خپرونې) کارګردان وسوسه کوي، چې په اصطلاح هر څه يې، چې لاس ته ورشی ورڅخه تصوير اخلي او بيا وروسته پرته له اړيکي نامناسبي او بې مفهومه نماګانې يو د بل په خوا کې ځای پر ځای کوي، او عنوان شوی نماګانې د منتطقي نماګانو په قالب کې منسجم او منظمې يې وړاندې کوي، چې دا به په خورا زيات چانس سره د خپرونې د کار حاصل او جوړښت به صريح او پرته له ابهام نه وی. ولې په ډيرو سختو شرايطو کې به د کار پايله وي. د موسيقی په مرسته د خپل سرو، بيهوده نماګانو او تصويرونو ويستل شوي وي.کله کله امکان لري چې ورک يا امکانات مو ډير کم وي او اړ شي هرهغه څه ، چې په لاس کې دي پرته له برنامه ريزي څخه ثبت کړي ولې دا بهتره ده چې مخکې له مخکې د امکان تر حده چې په لاس کې لرلی ولوکه بو انسانې کرښه هم وي او يا لومړنی روښانه کړ نه د برنامه ريزي لپاره مجهزه وي ،چې يو د بل سره يې ونښلوي(۴۸:۲۲۱).

### د کلي طرحې صورت کې برنامه ريزي

د څو شيتمه کمرو سره د کار پر وخت کې د کار وړ خپرونه د غير منتظره فرصتونو د ګټې اخيستلو او خلاقيت او ابتکار مقدار يا اندازه دی.

کله کافي فرصت د مفعلي او مشروح بر نامه ريزي لپاره په لاس کې نوي خبر ورکول کيږي يا خپريږي، چې يونه وړا ندوين شوي فقره نه ده پرته له مخکې تمرين څخه ستاسو په ژوندۍ خپرونه کې زياتيږي د کلي چوکاټ ته برابرول ممکن د حل يوازينی لاروي او فوري چوکاټ د هغې خپروني اضافه برخه دی په دغې کلي طرحه کې امکان لري لاندې مواد شامل وي.

۱- د ثبت شوي فضا مناسبې برخې بررسي او ځای پر ځای کېدل چې وکولی شي په سرعت سره رڼا ورواچول شي.

۲- صحنې پورې اړونده کارونه سرته رسول په سرعت سره (لکه د يوې پردې ځوړندول)

۳- د اړينو توکو راټوکيدل او ځآی پر ځآی کول لکه (ضدلي او ميزونه...)

۴- د نماګانو اريا کول او سپارل په ځانګړې توګه هريوه فلمبردار په تصوير اخيستلو کې ته د ستور ورکول کيږي لکه اول کمره چې ټولې خلاصې نماګانې پکې ښکاري دوهم کمره چې ټولې تړلې نماګانې اخلي او يا هم د ځانګړو نماګانوپه مورد کې لکه اول نيمه کمره چې خلاصه نما په داخل کې وړاندې کوي او دوهم نيمه کمره چې متوسطه نما چې د کور خاوند وي او ميلمه ته ښه راغلاست وايي. (۴۹:۲۲۲)

**د غږ ثبت ته سازمان ورکول**

سره له دې چې په زياتره وختونو کې کولی شي چې موقيعت مخکې نه تحليل کړي او بيا وروسته کمرې په خپلو خپلو ځايونو کې ځای پر ځای کړي او د بهترين تصوير پوښښ رامنځ ته کړي

**د خپرونې د متن تعقيبول**

د خپرونې متن کولی شو به مختلفو مرحلو کې تهيه کړو د متن په چوکاټ کې لاندې موارد ځانګړي کيږي.

د ومت برنامه ريزې د تمرين استراحت او غذا د ثبت وخت او نور(۵۰:۲۲۲).

**د وزن طريقه يا دکوپاژ**

پورتنۍ نامه یوه معمولي تقطع او دیوې لنډې صحنې متداول ربنې د افرادو او لو بغاړو موقیعت همغه ده، چې په تصویر کې لیدل کیږي له درو کمرو سره د کار نظام یا د درو کمرو سره چې یوه یې یا لومړي یې د یوې کمرې په موقیعت کې او د دوو یې کمرو موقیعت کې دي، او د دریمې کمرې ځای ته تقل مکان کوي او یا هم یوه کمره چې له درېو خواوو څخه تصویر اخلي.

۱- نما: دریمه کمره د ښځې او نر متواسطه نما په نیم کد باندې ناست چې زنګ وصل کیږي سړی پورته کیږي د دروازې په طرف ځي. د کمرې سر دهغه سره څرخیږي.

۲- نما ( ۱ ... کمرې په غځیدو سره ) د په داسې حال کې چې درسره خلاصیږي او کوچنې راښکاریږي. (متوسطه نما یا د ملانما)

۳- نما (۲: کمرې ته غوڅول) د ښځې متوسطه نما چې تعجب کوونکی عکس العمل لري.

۴- نما (۱ کمرې ته غوڅول) د شاه له خوا څخه دوه ښځې او سړي چې کوچنې لیدل کیږي.

۵- نما (۳: کمرې ته غوڅول) د ګروپ څخه خلاصه نما ماشوم د ښځې په طرف ځي او خلاصه نما تر یوه حده په دوه نفري نما باندې تړل کیږي.

۶- نما (۱: کمرې ته غوڅول) د سړي متواسطه نما چې مسکی کیږي او کیني.

د تولید ګروپ پورې اړوند جزیات چې د تولید په کار بوخت وي.

د اړتیا وړ وسایل لکه کمره اواز او نور

د کډونوالو لوبغاړو مجریانو نامونه او...

هغه ډول مطلب یا د خپرونې مقدماتي تفسیر چې باید ولوستل شي او یا وویل شي (۵۱: ۲۲۴).

**د لوبو او حرکتونو په اړه مقدماتي اطلاعات**

تولیدي ګروپ د ټولو حرکتونو څخه چې تمرین پر وخت سرته رسیږي، یا داشت اخلي او د هغو لارښونو سره چې د کارګردان له خوا چې د داخلي اړیکې له لارې د هغوی په واک کې ورکول کیږي، د ثبت په وخت کې ورڅخه ګټه اخلي.

د کامل متن څځه د استفادې په وخت کې ( او نه د متن دکاملې طرحې څخه) د غه متن د لوبغاړو په منځ کې ویناوې د حرکتونو او کلي نماو طرحو د کمرې حرکات او اواز اخیستونکو اقدامات او رڼا رپوونکي او معاونانو او صحنو تغیرات او او تمهیداتو ځنګړي انعکاسات دي.

**۲، ۳۲- تولیدي طریقوته سازمان ورکول**

له یوې څځه تر بلې خپرونې پورې د نایوده کیدو سازمان ورکول د یوې برنامه ریزی توپیر لري، په یوه کوچنی سټډیو کې، هر څوک لاس په لاس نور عوامل ورکوي؛ ترڅو ځپرونه پیداشي او د وظایفو تفکیک او سرحدونه محدود شي؛ ولې په یوه لویه سټوډیو کې د واحدونو تشکیلاتي مسایل، او د یوه سازمان او اتحادیو ترمنځ اړیکې، په معمولي ډول روښانه تعریف شوي دي؛ او مدارک او نما ګانې د ملاحظې وړ لازم دي تر څو د تولید د سازمان څخه و څرخیږي، انظام کار چې هر څه وي هغه اشحاص چې دلازمو سرویسونو امکانات تامینوي، باید په نظر وړ ایدیا په هکله پخپله د مسولیتونو جوړونکو او د خپرونې له کارګردان سره بحث او وینا وکړي؛ هغه فهرست چې ددې برخې په

پای کې وړاندې کیږي، د یادو شویو خبرو او ویناوو په حوزه کې هغه بحث یاداشت دی(۵۲:۲۲۵).

**د تولید سرچنې**

کارګردان چې هر څومره باتجربه وی نه شي کولی د یو زاویوي نقطې چې د طراحی په وخت کې چې د یوې، تلویزوني خپروني په وخت کې ، مطرح کیږي لازم ځوابونه ورته پیداکړي؛ په همدې دلیل د مشاویرینو او کارپوهانو سره رایې اچوي، د ځینو مقتضیاتو سره مخامخ کیدل په ظاهره ستونزمن او زیات ساده او اسانه په نظرکې راځي (لکه د یوه سړي نما چې ناڅاپه توګه کوچنې کیږي ترڅو په نظر کې نا چیز راشیی) یا په داسې حال کې چې برعکس ځینې ساده موقیعتونه کولی شي واقعي ستونزه راوزیږوي (دسارې په توګه د مطلوب اواز پیداکیدل له اکوستیک له نظره په ازاده فضا کې یوه پراخه ستوډیو) په دې اساس کاګردان د خپلو معاونانو سره د مطلبو تصویر ته د لاس رسي لپاره طرحه د جوړولو په وخت کې او اصلاح شوی، موف او د دیکور تغیر د رنګارنګي د رامنځ ته کیدو لپار بهترینې نما ګانې او ... په مشوره کوي(۵۳:۲۲۶).

**ایا دغه طریقه موثره ده؟**

د برنامه ریزی په عمل کې زیاتره پوښتنې راولاړیږي، هڅه کو چې کومو شیانو ته لاس ولرو؛ څرنګه هغه سرته ورسوه؟ ایا هغه سبک به موثر وي؟ ایا باالقوه ستونزې په اړه وجود لري؟ څرنګه دغه احتمالي ستونزې ته چیره شو؟ ایا په لومړۍ مرحله کې د نظر وړ ایډیا او مفکوره بهتره وه ؟ زیاتره عالي

ایډیاوې به عمل کې سرداداوله او یوار وتل وي یا د سټوډیو په فظا کې د ماتې سره مخ شوی د اجرا وړ نه دي د طراحی ا برنامه ریزي به مرحله کې هر څه چې زیات وکړي شو د لازمو وړاندوینو او منطقی توجیه سره حرکت وکړو بهتره دی.

دې مثال ته کتل باندې چې د یوې صحنې په اړه نقطې لري نظر واچوو او هغه برخې چې د پوښتنو او ځوابونو په صورت مطرح کیږي پاملرنه وکړو.

" انجلۍ پورته منزل ته ځي، د پورته کیدو په وخت کې په زینه پایو کې د ځان سره خبرې کوي، کمره په څه ډول د هغې د لاهغې پورته تلل" فلمبرداري کړي؟ د کمرې سر د زینه پایو د لوبغاړي سره غواړي حرکت کوي، ایا دوی کار په ضمن کې کله چې د کمرې سره د ملا پورته خناته لاړه د دیکور څخه بهر شیان به ونه ښودل شي؟ خیر پورته طبقه د چت لرونکي وي یا د پورته طبقې چت د صحنې د مناسبې رڼا اچونې مخنیوی نکوي؟ په هر صورت کولی شو هغه د نورو سختونو څخه ورته رڼا ورکړو که امکان ولري د رڼا اچونې معاون په خپل لوبه سره د عه د تلو لاره تعقیب کړي.اوبه نه شی کړای چې په هغه ځای کې چې قرار ولري یو حرکاتووین ی، پس کولی شي د دیکور یوه لته یا ټوټه په موقت ډول د خپل ځایه راوړو تر څو هغه وکړی شي جې صحنه وګوري، امکان لري چې مایکروفون په لیرې نما کې ولیدل شي ایا نه شو کولی چې مایکروفون ددغې ځانګړې صحنې لپاره لر شان لیرې کیږدو؟ او اواز کیفیت ( اګوستیک) به تغیر وکړي په ځانګړي توګه د لند چت د انډ دیکور لپاره که د اواز کیفیت ډیر خراب او د منلو وړ نه ده، په کار د اواز اخیستنې لپاره بلې طریقې څخه کار واخلو، ایا اواز د انجلۍ پښې په زینه پایو کې په واقعی توګه ثبت کیږي؟

د زینې په ډبل پوښ باندې  پوښل شوې ده، په کار ده چې اواز په طبیعي او درست ډول ثبت شي؛ د کمرې کیبل یا لین هم یو باالقوه ستونزه ده، نوموړي کیبلونه کمره خپل ازاد حرکت ته نه پرېږدي، او هم د نورو کمرو لپاره هم خنډ ګرځی، د ځمکې پر مخ يې غځول او ازادول تولیدوي، نو په همدې دلیل زیاتره وخت د کاګردان د دې ستونزې له منځه وړلو لپاره اړونده کیبلونه په یو نخې تار باندې د دیکورونو په شاوخوا کې تړي او ځوړندوي يې د احتمال ستونزې د رامنځ ته کیدو لپاره مخکې له مخکې په کار ده کمرو ځای پر ځای کولو طرحه د نقشې پر مخ پیاده شی د هغو لپاره یو معین او ځانګړی ځای په کار دی(۵۴:۲۲۷).

**د تولید فني طرحې د خپرونې په لیکلو کې معمولي اقدمات او ملاحظات**

د کلي نقطې د کارګردان چې غواړې د خپرونې د لیکلو کلي نقشه او مختوا جوړه کړي، لیکي د فنونو د په کار وړني، ثبت او طریقه، چې د استفادې وړ به و ګرځي براسي کوي( لکه  دکمرې سیسیتم لپاره کار، کار له څو کمرو سره له تمرین ا تولید طریقه عادي ثبت یا تمریني طریقه ثبت پرته له واقعي څخه او داسې نور)

مجریان او لوبغاړي: د لوبغاړو د اړتیا په اړه خبرې اترې د جمو یا لباس تغییر، د هغو د ځان او صورت  ارایش( سبک او د هغو دیر طرف کیدو اندازه او داسې نور).

صحنه جوړونه: د صحنې طریقې سبک د ځای پر ځای کیدو طریقه، له طرحې له طریقې تولیدل او د دیکور د جوړیدو صفت کوي. د صحنې په طرحې کې د دیکور د جوړښت جزیات ( د دې لپاره چې ایا دکمرو په مخ د حرکتونو جوړ ښت د تصویر اخیستنې، رڼا اچونې یا اواز اخیستنې باندې تاثیر اچوي یا نه)

براسي کيږی هر ډول لوازم تغيرات د صحنې د ليکنې په اړه تعقيب کيږي (د ديکورو بيا رغوونه د هغې نصب کول د ځای تغير، هغې ته حرکت ورکول د هغې تولیدل د هغې جوړيدل او کړنې) د خپرونې اجرا کولو په اوږدو کې د لازمو تدابيرو نيول د ديکورونو لو د صحنې د وسايلو د ګدام کولو او ساتلو په اړه او ثبت پر وخت د نصب کولو لپاره يا د خپرونې د يوې برخې سره د ننداره چيانو د کشيناستو ته ځان په نظرکې نيول او پرهغې پورې تولې اړونده مسايل د لازم تصوير دهر ډول اسنتيا وو لپاره تصمصم نيول کيږي، د فزيکي ځلاوو ( لکه واورې ته ورته وريدل اور، دود او نور)نيول کيږي تر څو د رڼا ځلاګانې لکه رڼا بريښنا اور او نور

اليکترونيکي او ويډيوني ځلاګانې (لکه دکرومکي امکانات) د ټولو امنياتي موادو کنترولول او دلازمو اختياطو مراعت کول او په صحنې پورې اړونده محدوديتونه ( حداکثر د ديکور او ورغوی د وزن تحميل او نور) (۵۵:۲۲۷).

لوبې اوحرکت : کارګردان دخپلو ټولو خطوطو پر بنياد دافرادو او حرکتو ځاي په صحنه کې دخرکت طبيعت او هر ځانګړي کار چې بايد صورت ومومي تر معين وخت پورې ددې کور ديوې برخې داماده کولو او يا کوم ځانګړي عمل برابرشي وړندينه کوي (نوموړي موادد کور ديوې برخې د جوړولو او نصب کولو د صحنې د يوې برخې رڼا اچونه په تصوير پورې اړوند مسايل او يا لرې کول احتمالي نيونې په تصوير او اواز پورې اړوند اواز اخستنه او نور دخپرونې په مينځ کې تر تاثير لاندي راولي .

کمرې: کارګردان د خپل اړتيا وړ يو تصوير کمرې د لازمو درې پايو ډولونه د کمرو د ځای پرځای کولو موقيعت په هره صحنه کې او د هغو احتمالي حرکات

تعینوي د کمرو لباره تول مرستندویه وسایل ( د لنزونو مختلف دولونه د اسانتیا و رامنځ ته کولو لپاره او تصویري ځلاګانی)(۵۶:۲۲۹).

کارپوهان د اړتیا وړ وړاندوینه شوي لوازم د احتمالي ستونزې او نور، طرحه د وړندې کولو ترتیب ارزیابي کوي.(لکه د کار لپاره کافي فضا د حرکت لپاره لازم وخت د کمرو د حل ستونزې او نور،،،)

د رڼا اچول: د رڼا اچونې مدیر او طراح د تولید طریقه د دیکور نو ځای پرځای کیدل او کیدل د کمرو او اواز او نما ګانو په اړه او نور بیا له سره ګوري د رڼا اچونې مختلفې طریقې صحنه او د یکورپه کلي اړیکه کې براسي او ارزیابي کوي د وخت په پیلیدو سره چې واک یې لري د رڼا اچونې وسایل انساني نیرو د رڼا اچوني د کړنو د رڼا سرچینې امنیاتي وسایل او نور...) هغه د ځینو عواملو په اړه لکه رنګ او د رڼا رنګمایه دیکور تصویرپه ځلاګانې یو د خپرونې امکان او نور په اړه د کارګردان او دخپرونې د طراح سره خبرې کوي، که چیرته د خپرونې لپاره بیلې یعنې ځانته نماګاني فلمبردار کیږي د هغې نما د رنګ ورتوالي د فلم د رنګ په اړه ( چې د تیلي سینا څخه د ویډیویي کیسټ مستقیل شوي دي) او هغه نماګانې چې به ویډیویي کمرې باندې اخیستل شوی باید په نظر کې ونیول شي(۵۷:۲۲۸).

د غږ اخیستل.د کارګردان د اواز ثبتکوونکي سره د اواز د ثبتولو د ستونزو په مدار کې د مایکروفونونو د تولولو په مدار کې د ثبت د وسیلې اړتیا موسیقي یا هر دول ځانګړی اواز چې پرته دمایکروفونونو له سرچنیې څخه او یا د مایکرو فونونو په مرسته ایجادیږي،( د باد اواز اینفجار اواز د مرغانو اوازونه او د نورو لپاره مشوره کول تمیلات یا تصویر ځانګړې اسانتیا وې: د کروماکي

طرحې او یا نور ځانګړي تصویري اثار ګرافیک کار او عنوان جوړونه: په عنوان جوړونې پورې اړونده کارونه او خپرونې تنظیمول.

تمهیدات یا د تصویر ځانګړې اسانتیاوې: د کروماکي طراحي او با نور ځانګړي تصویري اثار، د ګرافیک کار او عنوان جوړونه په عنوان جوړونې پورې اړونده کارونه او د خپرونې تنظیمول.

زیات فني امکانات: د فلمبردارۍ لپاره د لازمو امکاناتو سازمان ورکولو او یا هم مقدماتي ټوټو ثبت کول چې بیا وزوسته کیدای شي په اصلي خپرونه کې ورڅخه استفاده وشي.

همدارنګه د سټوډیویي تولیداتو لپاره له لار چې فني سرچینې او وسایل لکه مانیتورونه (د تصویر اواز اخیري بیا کنټل او اورید ل په سټډیو کې یا د ثبت په ځای کې )

د متن د رسولو ځانګړې د ستګاوې ( د خپرونې متن د ځانګړې وسیلې پر مخ چې مجري یا هم لوبغاړو ته ښودل کیږي د هغوی هغې ته په کتو سره دخپرونې متن سر ته رسوي د سلایډونو او فلم تګ د واحدونو ننداره د لیلي سینا او نمایش د شتګا او سټډیونه چې په ځانګړې طریقې سره د فلم نصویر او سلایډونو د ویډیویي کیسټ پر مخ ثبتوي)، د ویډیویې کیسټ دثبت د ستګاوې او نوري(۵۸:۲۲۹).

د وخت تعینول : د تولید مقدماتي برخې چې په یوه ځانګړي وخت کې باید سرته ورسیږي ( داواز ثبت دثبت ویډیویي کیسټي فلم برداري او نور)

دهرې تجربې ځای پر ځای کول په اصلي خپرونه کې دهمدې سیوري په وخت کې مسیر دي.

دتولید نه مخکې تمرينات : دمتن مقدماتي مطالعه دلوبغړو دحرکت ځای تعين کول مسير يا لوری ( دکمرو موقيعت ته د نسبت ورکول يا اصلاح ميزنس) په صورت کمرې ته حرکت ورکول .

دغه تمرين د فني گروپ د اخيستونکو اواز گروپ او نورو د ارزيابی لپاره اړين کار دی د ستوډيويي کارونو برابرول او په لاره اچول د صحنې ديکور جوړونې رڼآ اچونې او د رڼا سرچينو د ځای پر ځای کولو به مقايسو ځايونو کې د هغه لپاره ځراغ برابرول د خپرونې دمختلفو برخو ثبت او تمرين لپاره په تويت ياورسره ( د خپرونې دثبت او تمرين لباره)(۶۰:۲۲۹).

**۲، ۳۳- لنډيز**

يوپيغام دتوليد ترخپريدوپوري خپل ټول پړاونه تر محاطبانودرسيدو لپاره طې کوي مورږ دپيغام(message) ديو سرچينې(souce)اوچينل(channal)دپيغام دليږدونکې په توګه توليدي کړنې دمحاطب(Recover)درضايت لپاره ترسره کوي په هره خپرونه کې دوخت او مختوا دکچې ټاکل اړين دي.خو هغه رسنې چې د ډرامي اوسريال په څير کرکټرونو باندي ولاړي وي او خپرونې توليدوي،اړي دي چې کرکټرونو لپاره غورچاڼ ته مخه کړي.دسوژي لوستل (subject study)تاسو ته پراخ ليد لوري درکوي.څيړنه،مرکه او مشاهده په ټولو ژورناليستيکو ژانرونوکې يو ګډ اصل دي اوتاسي دخپلي سوژي په ملاحظه کې دهغي ټولي خواوي را سپړلي شي فيوچر(feature)ديوه نرم خبردژانر په توګه دچا،چيري او څه افرادو ځايونه پيښوتمرکزکوي .دلته دکله،ولي ،چيرته، پوښتنوځوابونه حتمي نه دي.واکس پاپ لاتينی اصطلاح ده، چې په رپوټونو، پيکيجونو،فيچرونوکې زيات کارول کيږي.او د ورځينيو مسايلو په اړه له ۲۰ څخه تر ۴۰ ثانيو پورې وي او موخه يې دځان په اړه د مخاطب راښکون وي.

**۲، ۳۴- پوښتنې**

لومړۍ پوښتنه: پروډیوسراو لیکوال د خپلي خپروني د تولید نه مخکې کومو ټکو ته باید پام وکړي؟

الف: ټول وسایل اودثبت مواد دځان سره ولري.

ب: د ترانسپورت وسایل باید ولري.

ج: د خپروني دتولید نه مخکې ښه مطالعه اومعلومات ولري.

د: دخپروني دتولید نه مخکې ځان مخاطب په توګه ذوق صلیقي اوارتیاوو،ځاي کلتور،دټولنیزي رسني مقام او په نورو ځانګړونوځان پوي کړي.

دویمه پوښتنه: په سوژه موندنه کې ترټولومهم شي کوم دي؟

الف: هڅه او په موضوع ځان پوهول.

ب: دزیاتو معلوماتو درلودل.

ج: ترټولو مهم شي دلیدځواک دي.

د: دځاي او موضوع ټاکل

دریمه پوښتنه :تلویزیوني خپروني په څو برخو ویشل کیږي؟

الف: په پنځو برخو ویشل کیږي.

ب: په دریو برخو ویشل کیږي

ج: په دوه برخو ویشل کیږي.

د: څلورو برخو ویشل کیږي ،دوسایلو،ځاي،اوموضوع له پلوه.

څلورمه پوښتنه: دتلویزیوني خپرونو په تولید کې تر ټولومهمه ستونزه کومه ده؟

الف: دوسایلو نه شتون او ځاي ستونزه.

ب: اقتصادي اومالي ستونزه.

ج: موضوعاتواومسایلوته سرسري کتل.

د: دپردیوسربې تجربه ګي ستونزه.

پنځمه پوښتنه: په تلويزيون کې زياتره مروج پيکچونه په څه شي راڅرخي؟

الف: په تولنيزو سوژو،او په يوتاکلي محور او موضوع راڅرخي.

ب: په ورځينومهموپيښو راڅرخي.

ج: په هغو موادو راڅرخي چې موږ يې غواړو.

د: دلاړو کوڅو ويجاړيو او ورانيوراڅرخي.

شپږمه پوښتنه: ديوي خبري مستند موخه څه دي؟

الف: دخبري مستند موخه دا ده،چې يوه پيښه،موضوع اوسياسي مسله تحليل اوڅيړني سره يوځاي وړاندي تړي.

ب: دخبري مستند نه موخه دخلکو پام راوړل تيروخت دي.

ج: دخبري مستند نه موخه دخلکودتير وخت کړو وړو باندي رڼا اچول.

د: دخبري مستند نه موخه موږته دتيروکړنوانځورول اوښودل دي.

اوومه پوښتنه: پروفايل اوخاطره ديوه ليکوال لپاره څه دي؟

الف: خاطره ديوه ليکوال موخه دي.

ب: خاطره ديوه ليکوال شهرت دي.

ج: خاطره ديوه ليکوال ورځني تجربي او مشاهدي دي.

د: خاطره دعامو خلکوشخصي عقايد دي.

اتمه پوښتنه: پروفايل او تذکره څه ته وايې ؟

الف: تذکره ديوه شخص دژوند منفي اړخونه راسپړي.

ب: تذکره ديوه شخص دنيوکو روحيه تقويه کوي.

ج: تذکره تر ډيره دشاعرانو اوليأوکراماودهغواثاروابيلګوته ځانګړې کيږي.

د: دژوند لنډې مرکې، ګرافيکي طرحې، ويډيويې انځورونو ته وايې.

نهمه پوښتنه: پروفایل اوځانګړي ژوره مرکه څه ته وايي؟

الف: پروفایل اوځانګړي مرکه په مستندومهموپيښوسرته رسيږي.

ب: پروفایل اوځانګړي مرکه ددو کسانو ترمنځ مخامخ مرکه دي.

ج: پروفایل اوځانګړي مرکه دتليفون په واسطه سرته رسيږي.

د: پروفایل اوځانګړي مرکه دډيالوګي بڼي له امله زياتره وخت په زړه پوري برياليې وي.

لسمه پوښتنه: مرکه کيدونکی بايد دمرکه کوونکي له کومو کړنونه خبروي.

الف: مرکه کيدونکي بايد دمرکه کوونکي دپوښتنونه خبروي.

ب: مرکه کيدونکي بايد دمرکه کوونکي دمرکه کيدونکي له ځاې څخه خبروي.

ج: مرکه کيدونکي بايد دثبت له ميتود او دورکړل شووځوابونو له ضبط څخه خبروي.

د: مرکه کوونکي دمرکه کيدونکي دمرکي له موخو اوددغه کاردتاکلو له علت څخه خبروي.

**۲، ۳۵- مأخذونه**

۱:ارشد علی. ژباړن، احمدزی، امیرجان وحید. (۱۳۸۷). راډیو ژورنالیزم. خپرندویه ټولنې تخنیکي څانګه پیښور.

۲:ادیب، همایون. (۱۳۸۷). پلټونکي خبریالي. دانش خپرندویه ټولنه پېښور.

:۳ تیرل،رابرت.(۱۳۷۱).ژورنالیزم تلویزیوني.لیتوګرافي،صحافي،چاپخانه،علامه،طبا طبایي.

۴:حلیم، صفیه. (۱۳۹۱). راډیو ژورنالیزم. مومند خپرندویه ټولنه، جلال اباد.

۵:حبیب، احمد خالد. (۱۳۹۱). ژورنالیزم بنسټونه. مومند خپرندویه ټولنې تخنیکي څانګه، جلال اباد.

۶:سهار، نذیراحمد. (۱۳۹۲). تلویزیوني خبریالي. دانش خپرندویه ټولنه تخنیکي، پیښور.

۷:سلوای، هشتکووتس-یروسلاف فیرست اوتاهیچمین. ترجمه. آهنګ، محمد کاظم.(۱۳۴۵). قواعد علمي خبرنګاري. نشرات باختر اژانس، کابل.

۸:سون،جرالدمیلر،ترجمه.غلام رضاطبا طبایي.(۱۳۸۱). تولیدوکاګرداني درتلویزیون.سازمان مطالعه وتدوین کتب علوم انساني دانشګاهاي (سمت).

۹:سون،جرالدمیلر.(۱۳۸۰).فن برنامه سازي تلویزیوني. انتشارات، سروش. تهران ترجمه. رحیمیان، مهدي.

۱۰: سهار،نذیراحمد.(۱۳۹۲).تلویزیوني خبریالي.اسد دانش چاپخونه.کابل.

:۱۱شینواری، محمد آصف. (۱۳۹۲). د مطبوعاتي مرکې ارونه (اصول). ختیځ خپرندویه ټولنه جلال کوټ، ګردیز.

:۱۲منيب، فريداحمد.(۱۳۹۲). راډيويي ژورناليزم. مرکز نشر و طبع الفاروق، کابل.

| پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب |
|---|---|---|---|
| ۱ | د | ۶ | الف |
| ۲ | ج | ۷ | ج |
| ۳ | ب | ۸ | ج |
| ۴ | ج | ۹ | د |
| ۵ | الف | ۱۰ | ج |

## دربیم څپرکی

## ۳، ۱- رپوټ څنګه لیکل کیږي؟

### موخې

| |
|---|
| _ددې لیکنې څخه موخه دا ده، چې محصلان دا زده کړي، چې یو ښه رپوټ څنګه ولیکي، د کوم ځای څخه یې پیل کړي، کوم مهم توکي په هغه کې ځای پرځای کړي او د رپوټ د لیکلو په اصولو باندې ځان پوه کړي، چې یو تلویزیوني رپوټ څه ډول لیکل کیږي. <br><br> _د یوي خپرونې چمتو کوونکي په دې باندې پوره پوه شي چې تلویزیوني فیچر څه شی دی؟ واکس پاپ څنګه اخیستل کیږي؟ چیرته کارول کیږي او سونډ بایټ څنګه واخلي؟ <br><br> _له دې سره دا هم زده کړي چې د فروفایل لیکل، ګردي میزونه، مرکه په تلویزیون کې څنګه پیل او څنګه یې پای ته ورسوي او پدې پوه شي، چې ګردی میز ولې په ژوندۍ بڼه خپریږي. |

د هر رپوټ پیل له افتتاحیې څخه کیږي. دا د لوستونکي د ورماتولو له پاره دي، چې د لوستونکي، اورېدونکي او لیدونکي پام رپوټ ته واړوي. دوه ډوله سرټکي: دي نرم، کلک سرټکی خبر څه دی؟ پوښتنې ته ځواب وایي. دغه دواړه سرټکي د خبري رپوټونو له پاره کارول کیدای شي.

کلک سرټکی ښایي په لاندې ډول وي: د باغیانو پخوانی مشر ملا فضل الله په سلو کې اتیا نه ډېرو رایو ګټلو سره د لومړي وزیر په توګه وټاکل شو، دا د ۱۳۹۴ کال څخه راپدېخوا لومړی دیموکراتیک انتخابات دي.

ټول رپوټونه د انسان د ملا د تیر په شان سره ورته جوړښتونه لري یا هم لږ تر لږه هماغه شان باید وي له جوړښت نه پرته رپوټونه په حقیقت کې سره یو ځای شوي واقعیتونه دي. د دې له پاره، چې رپوټ له مفهوم څخه ډک وي، جوړښت یې ډېر ارزښتناک او مهم دی، خو ټول رپوټونه باید سره ورته جوړښت ونه لري.

ښه لیکوال د رپوټ له پاره تر ټولو ښه جوړښت غوره کوي. د سمو ټکو ټاکل له څو عاملونو سره تړلي دي. په دې کې د رپوټ ارزښت، وخت او نشر یې د خبري اداري ډول راځي. مزي لرونکي خدمتونه پر لیکه خبري سایټونه او راډیویي خبرونه، چې په چټکه توګه کار کوي، تر ډېره له کلک سرټکو نه کار اخلي. او اونیزه پروګرامونه او مجلې له نرمو سرټکو څخه کار اخلي. د نرمو سرټکو تر ټول معمولي ښه یا کیسه ته یې سرټکي وایي، چې د لومړي وزیر رپوټ ته ورته دی. په دې (Anecdota) څپرکي کې لاندې توکو ته ځای ورکړل شوی دی: رپوټ څنګه لیکل کیږي؟ یو ښه رپوټ لنډ روښانه او کره وي، سر ټکي د رپوټ جوړښت، سرچپه هرم و شکلنه ګړي، د الماس بڼه، پایله، نسبت ورکول، نقل قول یا لنډې څرګندونې، شمېرې، د رپوټ تصحیح، روغتیا علم او چاپیریال، پولیس او محکمه، سپورت، د راډیو یا تلویزیون رپوټ لیکنه، راډیویي رپوټ، نیوز ریل، غږ، راډیویي او تلویزیوني خبرونه، انلاین یا پر لیکه خبرونه، د انلاین یا کیسو بڼې او ډولونه، انلاین لیکنه او نورو ته ځای ورکړل شوی او په هر څپرکي کې هرعنوان توضیح شوی دی.

ښه رپوټ لیکل لنډ، روښانه، سم او کره وي. دا خبره ساده ښکاري، خو په حقیقت کې ننګوونکې ده. لکه څرنګه، چې مو وړاندې ورته اشاره وکړه خبریال غواړي هر هغه څه، چې په اړه یې پوه شوی په خپل رپوټ کې شامل کړي، خو په موضوع پورې د تړلو رپوټونو وړاندیز هغه کاروونکو ته کېږي، چې بوخت وي؛ هغه خبري ادارې، چې دې ډول رپوټونو ته ځای ورکوي ښایي، چې د خبرونو بشپړولو لپاره کافي وخت هم ونه لري.

په عمومي توګه ویل کېږي، چې رپوټونه د لیکلو رپوټونو په پرتله د لنډو جملو او پراګرافونو لرونکي وي. هر پراګراف د یوې اصلي موضوع یاMain Idea لرونکی وي. یو نوی پراګراف هغه وخت پیل کېږي، چې یوه نوې نظریه، جوړښت یا نوی ترتیب معرفي کړي.

هغه خبریالان، چې ساده او مستقیمه ژبه کاروي په اسانۍ پوهېدل کېږي او تر ډېره د صفتونو او قیدونو پر ځای نومونه او فعلونه کاروي. کره خبري رپوټونه بې معنا او تکراري نه وي، ځکه هره کلمه یې حسابېږي. لکه څرنګه، چې ښاغلی (A.B White) په خپل کلاسیک کتاب (د یوه کتاب اجزاوې) کې اشاره کوي د یوې ساده لیکنې لپاره اساسي قاعده د غیر ضروري کلمو غورځول دي.

خبریالان د دې لپاره، چې ډاډه شي هغه کلمې، چې دوی کاروي واقعاً هغه مفهوم، چې دوی یې فکر کوي، ورکوي او که نه؟ له قاموسونو او کتابونو کار اخلي؛ ځکه هغوی رپوټونه د عامو اورېدونکو لپاره لیکي. خبریالان هڅه کوي، چې د مسلکي اصطلاحاتو او هغو کلمو له کارولو، چې د عامو خلکو لپاره نا اشنا وي، ډډه وکړي. د یوه روغتون ویاند یو ناروغ هغسې، چې وي تشریح کوي.

**۳، ۲- رپوټ څنګه لیکل کیږي؟**

**رپوټ یعنې څه؟**

رپوټ د یوي ځانګې موضع یا پیښې په تړاو د اطلاعاتو او معلوماتو توضیحي او د سترګو لیدلی بیان دی.

رسنیز رپوټونه خبري ارزښتنو ته په پام کې ډېري پرځانګړو او ارزښناکو مسایلو لیکل کیږي. په رپوټونو کې د خبر د شپږو بنسټیزو پوښتنو د ځواب وینې هڅه کیږی، ځکه د مخاطبانو خبري تنده یوازې په یوه عادي خبر نه ماتیږي او رسنی اړې دي چې دپیښې په تړاو مخاطبانو ته ټول وروستي معلومات او اطلاعات ورسوي.

ننني مخاطبان په یوه وخت او په همدغه ترڅ کې مخ پر وده او هره شیبه بدلون موندونکي زمان کې اوسیږی . هغه اوسنی ځاي، دریځ او اړتیاوې دا غوښتنه کوي، چی د مسائیلو، پېښو او موضوعاتو په تړاو وروستي معلومات ترلاسه کړي او د همدغو معلوماتو په تړاو خپله فردي پرېکړه، تصمیم، دریځ او پالیسي ونیسي.

زمونږ اقتصادي بهیر له سیاسي او ټولنیزو بهیرونو سره مستقیمه اړیکه لري او یو پربل مثبت او منفي اغیز غورځوي، په سیاسي دګر کې را منځته کېدونکي بدلونونه، سیاسي او ټولنیز مسایل هم اغیزمنوي، په داسې ترلي ژوند کې مخاطبان اړ دي چې په ټولو برخو کي خپل اطلاعات تازه (update) کړي او د همدغو اطلاعاتو په رڼا کې خپل اقتصادي، سیاسي او نوري پریکړې په ننني نړی کي د اطلاعتو حصول اغیزناکې لاري دلییزي او ټولنیزي رسنۍ دي او دغه اطلاعات ترهر بل ژورنالیستي ژانر په رپوټ کې ښه وړاندې کیدای شي.

مونږ پر رسنیو سربیره په نورو ادارو او ارګانونو کې هم د رپوټونو بېلابېلې بڼې لرو، خو په رسنیزو رپوټونو کي ډېری موضوع او ستونیزه د بحث، تحلیل او څېړنې محور ګرځي او دا هرمحوري اصل د رپوټ یوه بیله بڼه جوړوي. په ټولنیز ډول د یوي پېښې/ موضوع څار، د اطلاعاتو غونډول، سپړل او ارزول د رپوټ په چوکاټ کې جوړوي. رپوټ د شپږګونو خبري توکو په سپړنې سره هڅه کوي زیاتره پر دوو توکو «ولې او څنګه » را وڅرخي. په ولې کې خبریال دپېښې لاملونه یا په ټولنیزه توګه Hard news وړاندې کوي، خو په څنګه کې بیا دپېښې سپړنه او انځورګیري پیلېږي، نوموړې برخه تر ډېره نرم خبر یا SoftNew ته پاتې کېږي. ( ۱ :۱۴ ).

**رپوټ په تلویزیون کې**

تلویزیوني رپوټونه تر ټولو زړه خوړیني او ستومانوونکي؛ خو په همدغه ترڅ کې، راښکونکې رپوټونه دي. په دغو رپوټونو کې متن، نریشن، کلیپ، سونډ بایټ، سټندآپ یا PTC، ګرافیک او تصویر ټول کارول کېږي. تلویزیوني خبري رپوټونه له یوې دقیقې تر درې دقیقو پورې اوږدېداي شي، خو څېړنیز او ځانګړی هغه بیا له دې هم زیات وی. ښکلی متن، وړغږ، وړتصوی، د کلیپونو دقیق انتخاب، د راوي بې پریتوب، د خبري توکو انډول، د موضوع عینیت چټکتیا او د متن او تصویر همغږي د تلویزیون خبري رپوټونو مهمې ځانګړنې دي.

**۳، ۳- خبري رپوټ څه ډول ولیکو؟**

خبري رپوټ د خبر وده او پراخه بڼه ده، چې دپېښې د توکو په اړه مخاطبانو ته تر خبر ډېر معلومات ورکوي.

دلته مخاطبان د پېښې له توکو، څرنګتیا او لاملونو سره اشنا کېږي او د پېښې په اړه د لاډېرو معلوماتو لټه کوي. دغه ډول ریپوټ ډېر هغه مهال جوړېږي، چې د یوې موضوع په اړه لومړنی خبر خپور شوی وي، خو مخاطبانو ته یې خبري اړتیاوې نه وي بشپړې کړې. زلزله، ځانمرګی برید، بلوا، ترور، نوي ټلواله، کودتا، پوځي قانون، د ولسمشرۍ او پارلماني ټاکنې د الوتکو ټکر یا پرېوتل او دا ډول نورې سوژې دخبري رپوټونو لپاره ښه موضوعات دي. سره له دې، چې خبري رپوټ له خبر سره په ژبه او نثر کې توپیر کوي، خو منځپانګه یې هماغه شپږګوني خبري توکي جوړوي؛ دغه توکي په ځانګړي ډول «ولې او څنګه » په خبري رپوټ کې سپړیزه بڼه لري او د مخاطبانو ټولو پوښتنو ته د ځواب ویلو هڅه کوي.

دا ډول په وټونو کي د امکان تر بریده متني او تصویري انځورګري او ستاینې کېږي او خبر له وچ او بېخونده درانده چوکاټه راوځي.

خبري رپوټونه یو تازه والي د پېښې د سپړنې او ګونګو اړخونو د روښانتیا لپاره چمتو کېږي او له پنځو تر۲۰ پاراګرافونو رسېږي «وخت» په خبري رپوټونو کې ځانګړی ارزښت لري، ځکه دا ډول رپوټونه یو تازه والي او د خبر په شان په «چټکتیا »ولاړ وي.

د خبري رپوټونو لیډ د خبر په څیر د شپږونو توکو له وجې سپړنې پیروي نه کوي، بلکې نثر یې ستاینې، منعطفه او راښکونکې بڼه خپلوي.

په همدې ترڅ کې باید ووایو، چې خبري رپوټ یوازې تر خبر خپرېدا وروسته د مخاطبانو د اړتیا پرمهال نه، بلکې ډېر ځله پخپله په لومړي پړاو خپرېدو کې هم لیکل کیږی. او په اوسمهال پیر کې ډېری خبرونه د لنډو خبري رپوټونو په چوکاټ کې لیکل کېږي. د رویټرز، اسوشتیډ پرس او نورو نړېوالو خبري

اژانسونو خبرونه يې غوره بېلګې دي. دغه کار هله شونی وي چې دپېښې په سر کې خبريال له معلوماتو شتمن او سرچينې يې ډېرې وي. دلته د چټکتيا سيالۍ او ريښتينوالي آرونه هم په پام کې نېول کېږي.

خبري رپوټ د خبريال ژور ليد، چالاکۍ، څېړنې او پلټنې ته اړتيا لري. د دا ډول رپوټونو د جوړولو يوه بريالۍ لاره دا ده چې خبريال يا راپورټر د پېښې په سيمه کې پخپله حاضر وي هر څه يې له نږدې ليدلي وي او له خلکو نه يې د پېښې په تړاو مرکې او نقل قولونه اخيستي وي.

د پېښې او غونډې پر مهال خبريالان تر وسې هڅه کوي چې زيات جزئيات ومومي، زياتې مرکې وکړي او زيات تصويرونه واخلي خو دا ټولې چارې متن او ايډيټ هم غواړي. د پېښې پر وخت د خبريالانو کار د منډو وي، خو په دفتر کې په يوه موضوع فکر او غور کوي. تاسې ټول راغونډ شوي توکې په خبر کې نه شی ځايولی، دا ځکه چې د رسنۍ او مخاطب اړتياوو ته په پام سره اوږده رپوټونه څوک نه خوښوي.

تاسې بايد د رپوټ له ليکنې نه وړاندې لاندې پوښتنې ځواب کړئ!

1- د پېښې اصلي ټکي، محوراو خبرڅه دي؟
2- د رپوټ لپاره بايد څه شی غوره شي يا رپوټ څه دی، کوم مسايل سپړنې ته اړتيا لري؟
3- د خبر او رپوټ لپاره څومره تصويرونه راوړئ؟
4- څه ډول خپل ټول رپوټ په شپږو پوښتنو کې ځوابوئ؟
5- اوس څه وکړم، متن پيل کړم، که تصوير کېچر کړم؟

زياتره خبريالان دې ته حيران وي، چې څه ډول راټول شوي معلومات په خپل رپوټ کې ځای کړي، زړه يې نه کېږي، چې هيڅ ډول ارقام، تصوير او مرکې

ترې پاتې شي، خو دا باید ومنو، چې د خبري رپوټ په وړه لمن کې د ټولو معلوماتو ځایول ناشوني دي.

تاسي که د پېښې په تړاو مانام شپږ بجې د ټولو تلویزیونونو رپوټونه وګورئ، یو تربله به توپیر ولري. ددغه توپیر لامل دادی، چې خبریالان پېښه له بېلابېلو زاویو څخه څاري او هر اړخ یې چې مهم وباله نو له هماغه اړخه یې څیړي. ځینې خبریالان د رپوټ په خبري اړخ زاویې په موندنه کې له خپلو مدیرانو مرسته اخلي، خو په کارپوه او تجربه کار خبریالان دا کار پخپله کوي.

### ۳، ٤- د رپوټ اډیا څنګه ومومو؟

تاسې هره ورځ د ورځپانو، ویبپاڼو، ټولنیزوشبکو له فیسبوک، ټویټراو ویبلاګونو دلوستلو پرمهال له ګڼو ورځنیو پېښنو سره مخ کېږئ.

خپل ذهن وکاروئ، چې ایا دا سوژه د مخاطبانو لپاره راښکونکې او د پام وړ ده؟

که ځواب هو وی له مدیره سره یې شریکه کړئ. بل د ښې سوژې د اډیا د ساتنې لپاره باید د یادښتونو یو کتابچه ولرئ، چې خپل ورځني یادښتونه او بېلابېل موضوعات پکې ولیکئ او د اړتیا پرمهال کار پري وکړئ. هره رسنۍ خپلې سهارنۍ ځانګړې ناستې لرى او پر ورځني خپریز پلان خبرې کېږي. دلته خبریالان د ورځنیو پېښنو په تړاو پوښتل کېږي او هرڅوک له ځان سره د ویلو یوه سوژه لري.(۱۴:۱).

### ۳، ٥- تلویزیوني فیچر څه دی؟

فیچر feature د یوه نرم خبري ژانر په توګه پر چا، چېرې او څه یا افرادو، ځایونو او پېښنو تمرکز کوي. دلته د کله، ولې، چېرته پوښتنو ځوابول حتمي نه

دي، ځکه دغه پوښتنې په سخت خبر او خبري رپوټونو کې سپړل کېږي، فيچر يوازې د پېښې پر نرمو اړخونو خبرې کوي. ځيرنه، ساينه، تنوع او نوښت د فيچرليکنې ځانګړنې دي.

په فيچر کې خبريال د پېښې له سخت خبر تيرېږي او په يوه بوختوونکې فرمټ کې د پېښې ژورې يا په زړه پورې او راښکونکو برخو ته ځي.

په فيچر کې د يوې پېښې د ورستيو جزئياتو د وړاندې کولو هڅه نه کېږي، بلکې موضوع ته له يوې بېلې او ژورې زاويې څخه کتل کېږي. په فيچر کې د خبريال کوښښ پر دې وي، چې مخاطبان د يادې موضوع يا پېښې له کومو زاويو خبر نه دي او څنګه کولی شي يو داسې اړخ ورکړي، چې د هغوی خبري تنده او ذوق دواړه خړوب کړي. دلته د خبري تندې او ذوق ګډ راتګ په دې معنا دي، چې فيچر يو ګډ خبري او ادبي ژانر دی. په ادبي اړخ کې مونږ د مخاطبانو ذوق خړوبوو.( ۱:۷۵).

### ۳، ٦- پيکيجpackage

تاسې په بازار کې بېلابېل خوراکې توکي رانيسی او په يوه کڅوړه کې يې اچوی. وروسته چې کور ته راځئ، ټول سره جلا کوئ او پردې غور کوئ، چې بېګاه ته کوم خواړه پاخه کړئ پيکيج هم دغسې يو شی دی.

پيکيج پراخو مطالبو ته د خبرد لېږدولو نوې او نوښتګره لار ده. پيکيج د خبرونو يوه داسې کڅوړه ده، چې خبر، کرکټرونه، خبرې اترې، تفريح (موزيک) او بېلابېل نور توکي پکې ځای په ځای کېږي. پيکيج پخپله سپړيزه او تشريحي وينا نه ده، خو په چوکاټ کې يې د يوې موضوع د حقيقي اړخونو او اغيزو لاري کيسه وړاندې کېږي. په تلويزيونونو کې دېری دود پکيجونه پر ټولنيزو سوژو راڅرخي په ژمي کې د ښونځيو د ماشومانو بوختياوې. په کابل

کې د پارکونو ستونزه په باران او واورو کې د کابل ښار د سرکونو بد وضعیت او ډنډ اوبه او دغه راز ټولنیز مسائل د پکیجونو سوژې جوړوي. پیکیجونه زیاتره پریوه ټاکلي محور او موضوع را څرخی او دځیرنی لاره خپلوي په سیاسي او ټولنیزو پکیجونو کې د ټولو اړخونو خبري را اخیستل کیږي، که خبریال د مقابل اړخ کلیپ او تصویر بریالی نه شي، د انډول ساتنې په موخه یې تلیفوني او یا متني نظر اخلي.

پکیج، چې مونږ یې د فیچر لیکنو softnews یوه برخه ګڼلی شو په داسې ډول ترتیب کیږي، چې د مخاطب راښکون ترپایه ورسره وساتي. پکیجونه زیاتره پرهغو حالاتو کې کارول کیږي، چې په خبري رپوټ او مرکه کې موضوع په سمه  توګه ونه سپړل شي، یا دا چې موضوع پیچلې وي خو په دې نه ارزي چې ټوله خپرونه ورته ځانګړې شي.

د پکیج لپاره خبریالان ډېر زیات توکي راټولوي. بېلابېلې مرکې، دسیمې او سوژې مختلف تصویرونه هغه څه دي چې خبریالان په انتخاب کي له ستونزو سره مخامخوي، ځکه هغوی پردې فکر کې وي چې کومې مرکې او تصویرونه وباسي، چې پر وخت په لنډ چوکاټ کې خپله  کڅوړه سره  وتړي.

د خبري ساعتونو پکیجونه زیاتره یې له څلورو دقیقو څخه نه زیاتیږي، خو خبري ساعتونه وروسته د خبرونو په اوږدو کې ۸ اتو دقیقو ته غځیږي. ښه پکیج د خبریال له نوښت او ښې مرکې سره تړلی دی. په پکیج کې راغونډ شوي نظرونه باید د رپوټ له موضوع سره تړلي او تازه وي. په اوس مهالي نړۍ کې خبریالان خپل زیاتره توکي ویډیویي متن او نریشن پخپله کوي او آن په زیاتو مواردو کې د کمره مین او ویډیو ایډیټر دنده هم پخپله پر مخ وړي.

له متن لیکنې مخکې پردې څیزونو غور وکړئ:

1 - څه غواړئ چې په پکیج کې یې وړاندي کړئ؟

2 - ایا موضوع مو د پکیج لپاره وړ ده ؟ درنه رپوټ نه شي؟

3 - پر لومړیو توکو یې کار وکړئ، یو څه ورته راغوند کړئ؟

4 - خپلې پوښتنې چمتو کړئ، د څه په اړه پوښتنې کوئ؟

5 - په خپل وخت مرکې ته ورشئ؟

6 - خپل موضوعي تصویرونه (B-ROLL) چمتو کړئ د موضوع، د مرکچیانو د دفتر ، اداري او داسې نور.

7 – د مرکو پر وخت ښه غوږ ونیسئ، چې څه وایي، هر څه مو که په خوښه ندي، بیا، بیا ورنه پوښتنه وکړئ.(۱:۷۷).

**۳، ۷- ګډه خپرونه Combines program**

ترکیبي خپرونې یا Combinesprogram جوت تعریف نلري، ځکه بېلابېل ژانرونه پکې کارول کېږي، خو موږ په تلویزیون کې دوه ډوله دا ډول خپرونې لرو. یوه یې خبري ګډې خپرونې دي، چې زیاتره یې خبر، رپوټ، مرکې، ګردي میز، تلیفوني اړیکې، سکایپ، فیچري شانرونه، مستند او داسې نور پکې کاریږي. دا ډول خپرونې زیاتره په خبري چینلونو کې دود یا رواج لري. دویم ډول ګډې خپرونې، تحقیقي، خبري، تفریحي او روزینزې دي، چې د ویندیانو متفاوت وینایز او تصویري حرکات، بېلابېلې سیالۍ، ننداري، خبري اترې، مرکې، ذهني ازموینې، شعر او ترانې د مخاطبانو ګډون او فیچري توکي ټول پکې شامل دي.

دا ډول خپرونې د نړۍ په ګڼو تلویزیونونو کې رواج لري او د پراخو مخاطبانو د ذوقونو په پام کې نېولو سره خورا زیات مخاطبان هم لري.

کله کله بېړنۍ پېښې یا یوه مهمه او تازه پېښه رامنځ ته کېږي، تلویزیوني مدیران د پېښې دغسې حالاتو کې ګډې ترکیبي خپرونې جوړه وي، په دا ډول خپرونو کې

رپوټ، مرکه، تلیفوني اړیکې، د پېښې عیني مشاهدات، له سیمې نه د خبریال ژوندۍ اړیکه، د خبر خونې له مدیر یا شنونکي سره دوه کسیزه مرکه  په فیسبوک او نورو ټولنیزو شبکو کې د خلکو تبصرې او دا ډول نور مطالب یو ځای کېږي.

دا مهال د خبر خونې یوه ستره برخه کارکوونکي دپېښې/ تازه پېښې پر پوښښ بوختېږي، خو یوه بله برخه د خبرخونې پر نورو چارو ګومارل کېږي.

### ۳، ۸- خبري مستندNews Documinntary

مونږ خپلو رسنیو کې خورا کمه یا هم په نشست برابر مستند لرو. زمونږ مخاطب په  ذهن کې هم مستند یوازې پر ځانګړو موضوعاتو (د ژویو، ځمکه او ستوریو) تمرکز انځور شوی دی.

په خبری مستند کې ډېر ځله پخپله خبریال د یو مرکز کردار یا راوي په توګه برخه اخلي، بېلابېلو صحنو کې حاضرېږي، دا ډول حضور او په سختو حالاتو او شرایطو کې د اطلاعاتو حصول او بیا له مخاطبانو سره د هغو ویش، خبریال ته په مستند کې د مخاطبانو د اتل رول ورکوي.

خبري مستندونه زیاتره د عامه ذهنیت او باور د بدلون او یا هم د قناعت راوستلو په موخه جوړېږي، د خبري مستند موخه دا ده، چې یوه پېښه، موضوعاتو سیاسي مسئله له تحلیل او څېړنې سره یو ځای وړاندې کړي.

د نړۍ سترې تلویزیوني شبکې CNN، الجزیره، BBC او دا ډول نورې رسنۍ ځانګړي خبري مستندونه دي او مستند لري، چې له ۳۰ تر ۶۰ دقیقو یا هم لا ډېر وخت اخلي.

### ۳، ۹- له خبر اخوا یا inside story

په خبرونو او خبري رپوټونو کې د خبریالانو تمرکز د پېښې پر شپږګونو پوښتنو وي او هڅه کوي دغو پښتنو ته ځوابونه ومومي، خو له دې خوا ډېر نور مسائل هم دي، چې شننې او څېړلو ته یې اړتیا ده. هره پېښه تر شاه نورې پېښې زېږوي او دغه پېښې چې زیاتره په سافټ بڼه کې تولیدېږي تر خبري بولیټنونو وروسته، له خبر اخوا، ماوراخبر Inside story په نومونو، په ځانګړو خبرونو کې د فیچر ځانګړی رپوټ، پکیج، خبر مستند مرکې او ګردی میز یا سکایپ او تلیفوني تماس په چوکاټ کې خپرېږي.

په تفریحي او ټولنیزو چینلونو کې خبرونه زیاتره د ساعت او ځانګړي خبري پوښښ پر بنسټ ویشل کېږي او د پېښو سپړنې ته هومره پام نه کوي، خو په خبري چینلونو کې دې مسالې ته زیات ارزښت ورکول کېږي، ځکه دلته د فیچر ځانګړی رپوټ او مستند د وخت په تړاو بندیز نشته. په خبري چینلونو کې سخت خبرونه او د هغو رپوټونه په خبري سرویس کې د سرټکو او بولیټن په چوکاټ کې خپرېږي، خو له خبري بولیټن او له سختو خبرونو نه وروروسته ځآنګړي رپوټونه خپرېږي، کیسې، نیوز، پکیج، فیچر او یو نیم مستند خپروي.

له خبر اخوا کې زیاتره د سختو خبرونو پر جزئیاتو او بېلابېلو زاویو خبرې کېږيي، موږ په خبري بولیټن کې پاکستان د ولسمشر اشرف غنی پر سفر سخت خبر او رپوټ لرو، خو په ماوراء خبر کې یې تحلیل او سپړنه کوو؛ دلته د سفر په ارزښت، لاملونه اټکلي پایلو او نورو حاشیوي مسایلو غږېږو. دلته کیدی شي له موږ سره شنونکي، د چارواکو، کارپوهان، په تیلیفون باندی د ولسمشر ویاند، د سوداګری خونې کوم چارواکي او یا عام لیدونکي وی. له خبر اخوا په تیلیفونو کې توپیر کوي. یو شمیر رسنی موضوعي عمل کوي او یو شمیر نوري هغه څو موضوعي. د بېلګې په توګه د کابل نیوز نن/ خبر او

نظر یو موضوعي سپړنې دي، خو د طلوع نیوز فرا خبر خپرونه ځو موضوعي ده.

### ۳، ۱۰- د خلکو voxpopo

د خلکو غږ یا واکسپاپ یو لاتیني ( voxpouli) اطلاع ده، چې په رپوټونو، پکیجونو او فیچرونو کې زیاته کارول کیږي.
واکسپاپ زیاتره د ورځنیو مسایلو په اړه د عامو خلکو نظر دی اول ۳۰ تر ۴۰ سانیو پورې اوږدیږي، په واکسپاپ کې مرکچیان بې نومه کسان وي او زیاتره په نا څاپي ډول مرکې سره مخ کیږي. کېدای شي تاسې په ښار کې له شاوخوا کسانو سره د واکسپاپ لپاره خبرې کړې وي، خو د رپوټ لپاره مو یوازې دریو کسانو خبرې د خپرېدو وړ دي. یو شمیر خبریالان په خپلو رپوټونو او فیچري کڅوړو کې واکسپاپ ته زیاته ارزښت ورکوي خو ځیني نور بیا له دا ډول مرکو نه زیات بد وړي. که حقیقت ووایو واکسپاپ کله، کله تر ځانګړې مرکې هم سخت شي، دا ځکه چې ډېر لږ خلک ډېر لږ د تلویزیون د کمرې پر وړاندې خبرو ته چمتو کیږي. په واکسپاپ کې خلک زیاتره له یوې څرګندې پوښتنې سره مخ کیږي او مرکچیان بیا هم زیاتره عام خلک اومحصلان وي. ستاسې پوښتنه کیدای شي داسې وي، ولسي جرګې وزیران استیضاح نه کړل، یو شمیر وکیلان وایې د جرګې ځینو وکیلانو رشوت (بډې) اخیستي دي، ښاروال سرکونه نه جوړوي، تاسې له ښاروالی نه څه غواړئ؟ او داسې نور. د واکسپاپ اخیستل په دې ستونزمن دي، چې تاسې ناڅاپي کې د یو چا پر وړاندې درېږئ او خپله موضوع ورسره مطرح کوئ. مقابل لوری په رواني او ارواحي لحاظه خبرو ته چمتو نه دی او له تیاري پرته د خپلو خبرو څرنګتیا په تړاو ویرېږي، تلویزیوني واکسپاپ له راډیویي

او نورو هغو ځکه جنجالي دي، چې دلته پر سکرين د شخص څهره ښودل کېږی او هغه د خپلو خبرو پر وړاندې يو ډول مسئوليت انګيري د بشپړې استفادې خبريالی (criticaljornalism) پراختيا او په سافټ نيوز چوکاټ کې د توليدي رپوټونو زياتطدو پرسياست خلکو باور، يا عامه ذهنيت زيانمن کړئ او ډېر لږ دې ته چمتو کېږي چي د يوې سياسي مسالې په اړه خپل نظر ووايي. په انتقادي خبريالۍ کې عمومي پرنسيب پر واکمن سياست نيوکې دي او دا چې سياست د خبر او ژورناليزم موضوع او بنسټ جوړوي پر خبرونو او رسنيو کې يې هم اغيز زيان من دی تاسې به ډېر ځله په ښار کې له خلکو اوريدلي وي چی «پرېږده بابا سياست ټول دروغ دي زه که نظر درکړم څوک ورته غوږ ږدي ورکوه يې» دا له همدې انتقادي وزمه واکمن وضيعت نه د سياست په تړاو د خلکو نظر دس چې اغيزې يې خبر او رسنيو ته هم سرايت کوي، واکسپاپ په يوازې سر ستاسې په درد نه خوري، ځکه دا ديوې ښکاره موضوع په اړه دخلکو لوری او عامه ذهنيت ښيي. په واکسپاپ کې خبريالان مکلف دي چې خپلو مرکچيانو ته تر هر څه وړاندې موضوع وسپړي د خبرو روحيه ورکړي او د ملګرتيا او صميميت په فضاء کې ترې نظر واخلي، هيڅکله هم توند خويه مه اوسئ او مه هم فکر کوئ، چې په واکسپاپ سره په مرکچيانو او په تلويزيون کې د هغو تصوير په خپريدو احسان کوئ، کېدای شي ځينې بد مغزه کسان مو خبرو ته غوږ کېږدي او سپکو سپورته يی زړه وي په دې صورت کې تاسي بحث مکوئ خو کوښښ وکړئ چې ارامه يې کړئ وخاندئ او لهجه مو نرمه کړئ يا مخ ورنه واړوئ او له بل چا سره خبرې پيل کړئ.

ستاسې واکسپاپ د مستند لپاره نه دی، چې موقعيت او لوکيشن يې له موضوع سره متناسب غوره کړئ. تاسې فيچر، رپوټ يا پکيج ته غږ راوړئ او دا

مهمه ده، چې له غږ او شور لیرې موقعیت ورته غوره کړئ، په واکسپاپ او سونډ بایټ اخیستو کې د موقعیت تغیر مهم دی، ځکه پر یوه ځای د ځو کسانو نظر اخیستل مخاطبان ستومانه کوي.

**۳، ۱۱- سونډ بایت او کلیپ څنګه واخلو؟**

سونډ بایټونه او کلیپونه په تلویزوني خپرونو او رپوټونه کې ډېر کارول کېږي د وخت د مدیریت په پام کې نیولو سره لند او روښانه سونډ بایټونه ستاسې کار ډېر اسانه کوي.

سونډ بایټ او کلیپ تاسې له ځانګړې مرکې جلا کولی شئ. د کلیپ اخیستلو پرمهال موږ له  درې ډوله کسانو سره مخامخ کېږو:

یوه ډله کارپوهان، چارواکي او مسئولان پر موضوع مسلطه او update دي له تاسې کېدای شي وپوښتی، چې د موضوع په کوم اړخ درته وغږېږي، دویمه ډله کارپوهان پر موضوع نه پوهېږي او له تاسې معلومات غواړي .دا ډول کسان تاسې ته له فرمایش سره سم کلیپ درکوي، خو څومره چې شونې وي له دا ډول کسانو سره له مرکو ډډه کوئ.

درېیمه ډله هغه کارپوهان دي، چې خپل نظر لري او غواړي ستاسې د رپوټ، پکیج او فیچر محور وګرځي. دا ډول کسان باید په لاربښودو، سپړیزو او ننګوونکو پوښتنو د خپلې اصلي موضوع په لور بوځئ.

**۳، ۱۲- پروفایل ptofile څنګه ولیکو؟**

پروفایل یا دودیز پورتریت یو کیسه ییز ژورنالیستیک ژانر دی چې زیاتره پر یوه  فرد او کس متمرکز وي. په پروفایل کې زیاتره د یوه کس د ژوند، فعالیتونو او نورو راښکونکو مسایلو په تړاو خبرې کېږي .

پروفايل د يوه کس دزوکړې، کاليزې، تلين، د يوې ورزشي لوبډلې د بريالیتوب، د يوه لوبغاړي، لوبډلې کپتان يا مشر پر ژوندانه او همدا راز سياسي، اقتصادي او ټولنيزو شخصيتونو باندې ليکل کيږي. د عبدالحق پر ژوند، مبارزو، فعاليتونو او بلاخره د ده د وژلو په اړه ډېر ښه پروفائل ليکل کيږي. همدا ډول مستند پروفايلونه د نړۍ په ډېرو مشهورو تلويزيوني شبکو، په ځانگړي توگه د الجزيره، د الوثايقه، بي بي سي او سي اين اين کې زيات خپريږي. پر داسې خپرونو زياتره خلک د مستند گمان کوي، په حقيقت کې دا پروفايل يا مستند پروفايلونه دي، چې د پېښې او موضوع اصلي کرکټر شخص يا فر د وي او ټولې اړوندې پېښې د همدغه کس پر محور باندې راڅرخي. په ټوليز ډول د پروفايل په اړه داسې ذهنيت او برداشت دی، چې يوازې د يوه کس پېژندگلوي ده، خو د پروفايل اصلي بڼه د کس د پېژندگلوۍ ترڅنګ، دهغه سياسي ژوند او په سياسي ټولنيزو، فرهنگي او نورو فعاليتونو کې د هغه گډون د فرد اوسېدل د زمان تاريخ او پېښې ټول پکې راتلای شي.

**۳، ۱۳- مرکه په تلويزيون کې**

په ټوليز ډول د دوکسانو ترمنځ د يوې خبري، سياسي، ټولنيزاو يا د يوې بلې ارزښتناکې مسالې په اړه د خبرو اترو بهير ته په خبريالۍ کې مرکه وايي. د عامو خبرو اترو او د مرکې د خبرو اترو ترمنځ توپير په دې کې دی، چې خبرې اترې يوازې د دوکسانو ترمنځ د بحث مشاجره او يا هم د عادي مسايلو په تړاو، خو مرکه له ژورناليستيک اړخه په ځانگړو او ټاکونکو پوښتنو ترسره کيږي.

**مرکه د څو موخو لپاره ترسره کيږي.**

1- په جزیاتو د خبر News story لاغوره کول د پیښې موضوع په اړه معلومات او زده کړه.

2- تائید غبرگون.

3- مسلکي نظر او د ښکلیو اړخونو د نظرونو څرګندول.

4- انډول، اطلاع او ننګول.

**۳، ۱۴- ګردی میز Round table**

په تلویزیون کې د نور رسنیو پرتله له ګردي میزونو نه ډیره ګټه اخیستل کیږي.

په ګردي میز کې د یوه کس ګډون په دې معنا، چې میز چلوونکی ځانګړې مرکه کوي.

غالب باور دادي، چې ګردي میزونه د نورو تولیدي خپرونو پرتله ارزانه پرېوځي او تلویزیونونه هم له دې امله زیات ارزښت ورکوي.

دغه باور ت ریوه بریده سم دی، خو د ګردي میز انتخاب لامل یوازې مالي او بودجوي مسایل نه دي، ځکه د نړۍ مشهور او بډایي تلویزیوني شبکې هم دغه راز ګردي میزونه لري. ددا ډول خپرونو موضوع زیاتره ورځني تاوده سیاسي مسایل وي خو پرنور فرهنګي، کلتوري او د ولسواکي او ښځو د حقوقو پر مسایلو همه په ګردي میزونو کې بحث کیږي.

د ګردي میزونو لپاره معیاري وخت ۴۵ دقیقې دی، چې له (۱۰) تر (۱۵) دقیقو پورې وخت چلوونکي په پوښتنو ۳۰ دقیقي پوښتنو ته د ځواب ویلو لپاره ورکوي، موږ له دې زیات وخت هم لرو، چې تر(۶۰) دقیقو پورې رسیږي، خو که له دې ډېریږي د مخاطبانو لپاره ستومانووکی وي.

ګردي میزونه د ژور بحثونو فکرونو د تبادلې، عامه ذهنیت د روښانتیا، عامه افکارو د لارښوونې د دریځونو د تثبیت، ترویج او ملاتړ په برخه کې رغنده رول لوبوي. ګردي میزونه د انتقادي خبریالۍ یوه برخه ده او تر ډېره دا انتقادي اړخ لري د حکومت چارواکي وي. په بشپړه انتقادي خبریالۍ د ولاړو ګردیو میزونو زیات دا دي، چې په نیمه دیموکراتو اوهغو هیوادونو کې، چې هلته ثبات متزلزل وي، واکمن نظام د مشروعیت او بحران د مدیریت په برخه کې له ستونزو سره مخامخوي.

### ۳، ۱۵- «ویډیویي بحث»

د ټولیزو شبکو او ویډیو اړیکو په پراختیا سره تلویزوني بحثونه د تنوع او راښکون امکانات ډېر شوي. د سکایپ او دا ډول نورو ویډیو لیږدوونکو شبکو له کنفرانس کال جوړوي. هغه تلویزونونه، چې په pcrاو Mcrکې له پراخو تخنیکي وسائیلو او پرمختللو مسکرونو (Multiplesources) نه برخمن دي، پر یوه مهال پر سکرین د ګڼو ویډیو او اډیو (Audio+picture)اړیکو د ټینګولو وړتیا لري. په داسې بحثونو کې تر ټولو مهم شی د میلمنو تنوع دی. ځکه چې تاسې پر یوه وخت کې له امریکا، جرمنی، کابل او پېښور څخه د کورنیو او بهرنیو میلمنو څلور اړیکې ټینګولی شئ، خو په سکایپ کې باید تاسې د هرې اړیکې لپاره یوه سرچینه ( source)ولري. په ویډیویي یا تیلیفوني بحثونو کې ستاسې میلمانه کېدای شي له دفتر یا کورنه پر کرښه وي، خو تاسې معمولاً دا چاره له خپلې سټوډیو کوئ. سکایپ، تیلیفوني او نورو شبکو له لارې له سټوډیو سره د افرادو نښلول ستاسې کارنه دي، دغه جنجال ټول د تولید په کنټرول خونه کې د تولید برخې کارکوونکو او خپروني لارښود د پرمخ وړي تاسي یوازې خپل بحث پرمخ وړئ. په دا ډول بحثونو کې ستاسې ډېر پام باید د

پر لیکو میلمنو (guest=comline) غږ ته وي، د غږ او تصویر کیفیت سرچینه ( source) ورکول او نورې تخنیکي چارې یې ستاسې ملاتړې تولیدي ډله کوي.

په افغانستان کې د مخابراتي شبکو د انټرنیټي خدماتو ټیټ کیفیت او ضعیف عمل ته پام سره کېدای شي ستاسې ځیني میلمانه د غږ یا تصویر د ورکېدو له امله له بحث ته ورک شي، خو تاسې باید خپله روحیه او پر موضوع تمرکز له لاسه ورنه کړئ. د دغسې ستونزو د مخنیوي لپاره تاسې باید پرمتبادلو لارو غور کړي وي، یا مو بل میلمه راغوښتی وي او یا مو ترڅنګ ستوډیو نه هلته ناست میلمه له بحث سره ملګري شي. دغه وخت چې تاسې په ژوندي خبرونه کې ناست یاست تر ټولو زیات مسئولیت د خپرونې لارښود او د تولید ډلې ته راجع کیږي. هغوی په دې لټه کې دي چې له لاسه ورکړي میلمانه بېرته له ستوډیو سره ونښلوي او یا د خپرونې او بحث لپاره نوي میلمانه ومومي.

په تیلیفوني اړیکو کې به ستاسې ستونزې ژر اوراې شي، خو ویډیویې اړیکې یو څه وخت غواړي چه میلمه مو بېرته د تلویزون په پرده راڅرګند شي.

ستړې او نړیوالې شبکې د نړۍ په کچه خبري پېښو د پوښښ لپاره SNG یا (satellaife news gattering) کاروي. په دې سیستم کې چې اس یې ډېره پرمختللې بڼه (DSNG)کارېږي، له ستوډیو سره د سپوږمکۍ له لارې تصویر نښلېږي، په (DSNG) سره تلویزون کولی شي د پېښې له ځایه ژوندۍ خپرونې، او یا له یوه ځا سره ژوندۍ مرکه ورکړي.

### ۳، ۱۶- ګردي میزونه ولې ژوندي خپرېږي؟

په تلویزوني خپرونو کې تر ټولو کم لګښته خپرونې ګردي میزونه او مرکې دي. په ګردیو میزونو او هغو خپرونوکې چې ( Indoor) تولیدېږي، د(PcrاوMcr)

کارکوونکو یا د نشراتو برخې له کارکوونکو کار اخیستل کېږی، خوپه (Outdoor) تولیدي خپرونو کې معمولاً تولیدي ډله پکار پسې وځي.

د تولیدي ډلې (فلم) اخیستونکي، دسویچ مسئول، رڼا مسئول، ډایرکټر، پروډیو سر، موټر چلوونکې) په وتلو سره دفتر د ظرفیت، مالیاو او بشري سرچینو له اړخه ډېر لګښت کوي، خو که خپرونه په سټوډیو کې تولیدېږي، یوازې د سټوډیو یا ( onair) کارکوونکي پکې بوختېږي، په افغانستان کې په ګردیو میزونو د تلویزیونونو زیات تمرکز یو لامل همدا دی چې دا ډول خپرونې هم پرډیوسر ته اسانه دي او هم له مالي پلوه د تلویزیون ادارې ته په وړ بیه پرېوځي.

**۳، ۱۷- یو ښه رپوټ لنډ، روښانه او کره وي**

د یوه داخلي ټپ او زیان لپاره laceration and contusion باید یو خبریال ساده کلمې وکاروي. که چېرې یوه تخنیکي کلمه د یوه سم مفهوم د وړاندې کولو لپاره کارول کیږي، ښه دا ده، چې تعریف هم ورسره وي. د بېلګې په توګه د نړېوالې انرژۍ په اړه یوه رپوټ کې د ډېرو د سکرو او نفتو په اړه باید یو لنډ لست ورکړل شي، چې په دغو موادو کې کوم څه راځي، تېل، ګاز او داسې نور.




(شکل ۳:۱) http://thecontextuallife.com/tag/interviews/page/2/

خبریالان باید د یوې ناوړه کلمې په ځای یوه روښانه کلمه استعمال کړي، چې اورېدونکي مغشوش نه کړي.

که چېرې د ښار شورا د مړو د ښخولو په چاره کې د اسانتیاوو د رامنځ ته کیدو په پلوۍ رایه ورکړه، نو په راډیو یا ورځپاڼه کې باید خلکو ته وویل شي، چې ښاریان په ښار کې د یوې نوې هدیرې د جوړولو پلان لري.

په رپوټ لیکلو کې یوه مهمه موضوع دا ده، چې اوریدونکو ته د پېښې په اړه وغږیږو. ښه دا ده، چې ورته ووایو څه پیښ شول. د بېلګې په توګه د دې پر ځای چې د ویر په مراسمو کې د یوې کورنۍ د ګډون په اړه ووایو د ویر مراسم داسې انځور کړو، چې څه ډول خلکو یو بل په غېږ کې نیول او ژړا یې کوله یا دا چې اوریدونکو ته د دې پر ځای چې ووایو، هغه جګه ونه لري، ووایو هغه له ور یا دروازې ته د ننوتو لپاره ټیټ شو. د یوه کره رپوټ لیکل ډېر مهم دي. ګرامر، لیکدود، املا، نیټه، پته، ارقام، او نور جزیئات مهم دي. په غلطه د یوه کس د نوم یا عمر یا پتې اخیستل تېروتنه ده، چې کولی شي د خبریال اعتبار راټیټ کړي. یو کره رپوټ یوه کیسه بیانوي، نه یو لوری او نه بل لوری. دا په دې معنی، چې د یو خبر هرڅه د سرلیک په اړه وي، بلکې د دې معنا داده، چې یو خبریال باید هغه مهم معلومات، چې کولی شي رپوټ تحریف کړي، پرېږدي. د بېلګې په توګه د خولې د سرطان د کشف په اړه د یوې ازموینې لیکل بیانوي، چې پخوانۍ ازموینې د اعتبار وړ نه دي. که نوې ازموینې چټکې وي باید خبریال یې په اړه ووایي ( د خبر د کره توب په اړه به په څلورم څپرکي کې وغږیږو).




(شکل ۳:۲)**http://thecontextuallife.com/tag/interviews/page/2/**

## ۳، ۱۸- سرټکي Lead

د هر رپوټ پیل lead بلل کېږي. دا د لوستونکي د ورماتولو لپاره دی، چې د لوستونکي، اورېدونکي او لیدونکي پام رپوټ ته واړوي. دوه ډوله سرټکي شته: کلک سرټکي او نرم سرټکي. یو کلک سرټکی د رپوټ بنسټیز واقعیتونه خلاصه کوي، حال دا چې نرم سرټکي ظاهري بڼه تنظیموي یا هم ځانګړتیاوې بیانوي.

بله طریقه، چې د کلکو او نرمو سرټکو ترمنځ توپیر روښانوي داده، چې کلک سرټکي د خبر څه دي؟ پوښتني ته ځواب وایي. دغه دواړه سرټکي د خبري رپوټونو لپاره کارول کیدای شي. کلک سرټکي ښايي په لاندې ډول وي: د یاغیانو پخوانی مشر شاه جهان په سلو کې له اتیا نه ډېرو رایو په ګټلو سره د لومړي وزیر په توګه وټاکل شو، دا د ۱۳۹۱ کال راهیسې لومړني دموکراتیک انتخابات دي.

**خو نرم سرټکي ښايي، چې داسې وي:**

شاه جهان په یونګ ټاون کې لوی شوی او له هماغه کوچنیوالي نه یې ستر، ستر خوبونه لیدل. له خپل عمر نه یې غټې، غټې خبرې کولې، د ښونځي هلکانو هغه پیاوړی بللو. کله، چې یوه ورځ هغه خپل ښوونکي ته وویل، چې یوه ورځ به لومړی وزیر شي هغه ورباندې وخندل.



(شکل ۳:۳)http://www.melbournedailystar.com/tag/obama/

اوس هیڅوک ورباندې نه خاندي هغه تېره ورځ د ۸۰ په سلو کې رایو په ګټلو وټاکل شو. له ۱۳۹۱ کال راهیسي د

لومړي ځل لپاره په دموکراتیکه توګه مشر وټاکل شو. لکه څرنګه، چې لیدل کېږي کلک سرټکي د نرمو سرټکو په پرتله لنډ دي. په دې دواړو سرټکو کې هره جمله درپوټ یوه مهمه موضوع څرګنده وي او دواړه ډوله سرټکي د یوه رپوټ با ارزښته توکي بلل کېږي.

د سمو سرټکو ټاکل له څو عاملونو سره تړلي دي، چې په دې کې د رپوټ ارزښت، وخت او نشر یې د خبري ادارې ډول راځي. مزي لرونکي خدمتونه، پرلیکه online خبري سایټونه او راډیویي خبرونه، چې په چټکه توګه کار کوي، تر ډېره له کلکو سرټکو نه کار اخلي. اوونیز پروګرامونه یا مجلې له نرمو سرټکو کار اخلي. د نرمو سرټکو تر ټولو معمولي بڼه (anecdotal) یا کیسه یي سرټکي دي، چې د لومړي وزیر رپوټ ته ورته دي. یو (anecdotal) د یوې لنډې کیسې په توګه پیژندل کېږي کله، چې د یوه سرټکي په توګه کارول کېږي یو غټ رپوټ تشریح کوي. ځینې وخت یو نقل قول یا یو سوال د یوه رپوټ د پیل لپاره تر ټولو غوره دی. دغه ټول سرټکي د وروسته پاتې سرټکو په نامه یادېږي، ځکه لوستونکي د څو جملو په لوستلو انتظار باسي، چې رپوټ د څه په اړه دی؟(۱:۲۴).

### ۳، ۱۹- د رپوټ جوړښت

ټول رپوټونه د انسان د ملا تیر په څیر سره ورته جوړښتونه لري یا لږ تر لږه هماغه شان باید وي له جوړښت نه پرته رپوټونه په حقیقت کې سره یو ځای شوي واقعیتونه دي. ددې لپاره، چې یو رپوټ له مفهومه ډک وي، جوړښت یې ډېر ارزښتناک او مهم دی، خو ټول رپوټونه باید سره ورته جوړښت ونه لري. ښه لیکوالان د رپوټ لپاره تر ټولو ښه جوړښت انتخابوي.

## ۳، ۲۰- سرچپه هرم Inverted Pyramid

ډېر شمېر خبري رپوټونه په مهمو معلوماتو پیلېږي. د دویزه رپوټونو جوړښت کیسه له شاه وخوا ۱۰۰ کلونو وړاندې پیل شوې ده. د معکوس هرم په بڼه د رپوټ مهم معلومات په لومړي سر کې راځي او وروسته بیا نور معلومات د هغې د ارزښت په پام کې نیولو سره په رپوټ کې ځای په ځای کېږي. دا بڼه د مهمو خبرونو لپاره، چې وخت هم پکې مهم وي ګټوره ده.



کله چې تاسو لومړنی کس وئ، چې د یوې پېښې په اړه معلومات ورکړئ نو تاسو به وغواړئ هغې موضوع ته، چې پېښه شوې ده، د رپوټ  په لومړي سر کې ځای ورکړئ. د بېلګې په توګه د یوه ستر طوفان په اړه رپوټ به د هغې له زیانونو او پراخو ویجاړیو پیل شي.

د معکوس هرم په جوړښت کې هغه معلومات، چې له دې سرټکي وروسته راځي موضوع ته پراختیا ورکوي. د طوفان د رپوټ په برخه کې لیکوال د زیانونو یو بد انځور وړاندې کوي. وروسته هغه کسان، چې ژوندي پاتې دي را اخلي او بیا وروسته د بیړنیو مرستو ډلې هم پکې شاملوي.

مرستندویه پروګرامونه اصلي متن پیاوړی کوي. جزیئات وړاندې کوي او د طوفان په اړه پخوانۍ پېښې او معلومات هم ورسره یو ځای کوي په اوږدو رپوټونو کې خبریالان دویم لاس معلومات هم شاملوي، چې په لومړي متن پورې تړاو لري خو نیغ به نیغه ورسره نسبت نه لري. د بېلګې په توګه د طوفان په رپوټ کې له پېښې د ژوندیو پاتې شوو کسانو د اړتیاوو او نړیوالو مرستندویانو اوږد مهاله مرستې د ثانوي معلوماتو په لمن کې رانغښتل کېږي. د

دغه جوړښت ښه والی په دې کې دی، چې اډیټر کولی شي د رپوټ وروستۍ برخه پرته له دې، چې اصلي معلومات له منځته ولاړ شي له رپوټ نه لرې کړي.

### ۳، ۲۱- شګلنه ګړۍ Hourglass

د معکوس هرم بدل شوی جوړښت بڼې ته شګلنه ګړۍ وايي دا هم په ورته بڼه



پيلېږي يعنې دا چې رپوټ په اصلي معلوماتو پيلېږي خو بيا وروسته ورو ورو د کيسې بڼه خپلوي. معمولاً پېښې په زماني ترتيب ويل کېږي.

د پراخ طوفان په رپوټ کې خبريال خپل رپوټ په سرټکي پيلوي بيا وروسته څو پروګرامونه ور زياتوي او وروسته د طوفان کيسه د يو عيني شاهد له خولې بيانوي. کيدای شي خبريال د بزګر احمد خان له قوله ووايي، چې نوموړی وايي: (دی په کرونده کې ؤ، چې باد پيل شو) او په دې توګه د شګلنې ګړۍ دغه برخه هم بشپړه شي.



### ۳، ۲۲- د الماس بڼه Diamond

د رپوټونو يو بل ډول د الماس جوړښت دی. خبريال رپوټ د يو چا له خولې د يوې کيسې په کولو پيلوي، چې وروسته بيا د رپوټ د ارزښت څرګندولو په موخه د هغې لمن پراخېږي او په پای کې خبريال د رپوټ د انفرادي کرکټرونو په کيسه د رپوټ لمن رانغاړي.

هغه خبریالان، چې له دې جوړښت نه کار اخلي ددې لپاره، چې وښيي رپوټ مهم دی د Nut Paragraph یا Nut graph له وسیلې څخه کار اخلي. د nut یا زړي کلمه د رپوټ مرکزي برخه راجوتوي. د Portland Oregonian د ورځپاڼې مدیر Jack Hart وايي: (نټ ګراف هغو پوښتنو ته وايي، چې په سرټکي کې مطرح کېږي ځواب وايي او دا روښانوي، چې رپوټ ولې مهم دی).

په خبري رپوټ کې د الماس بڼه په تلویزیوني خبرونو او د ورځپاڼو په رپوټونو کې کارول کېږي. د ساري په توګه یو خبریال کېدای شي د ایډز ناروغۍ د درملنې رپوټ په یوه ناروغ چې درملنې ته اړتیا لري پیل کړي، وروسته بیا آزمایښتي درمل تشریح کړي یا دا، چې دغه درمل څه ډول کار کوي. پایله ناروغ ته د ډاکټر هغه یاداښت اخلي، چې پکې راغلي، د درملنې د نه اغیز په صورت کې د ناروغ د ژوند پای ته لږې ورځې پاتې دي.

خو هره بڼه، چې خبریال د خپل رپوټ لپاره غوره کوي د رپوټ منځپانګه اوربېدونکي د موضوع منځ ته بیايي او یو وخت یې ساتي. د مجلې یو اډیټر وايي: (ښه لیکنه لوستونکی هڅوي، چې ولټوي نور څه پیښېږي). (۲۸:۱).

که چېرته تاسو په معمولي توګه د معکوس هرم نه کار اخلئ؛ نو تمه به مو دا وي، چې د رپوټ وروستۍ برخه مو اډیټور درته برابره کړي. ښه نظر دا دی، چې تاسو د لیکنې په پیل کې د خپل رپوټ لپاره یوه پایله په نظر کې ولرئ دا دې ته ورته ده، چې تاسو د سفر په پیل کې د خپل هدف په اړه فکر کوئ. دا د وړاندې کولو له اړخه، په ځانګړې توګه د خپرېدونکو خبرونو په برخه کې مهم بلل کېږي.

د چاپي یا online خبرونو په توپیر خپریدونکو خبرونو کې اورېدونکي نه شي کولی په خبر کې نظم ته پام وکړي. څېړنو ښودلې چې لوستونکي او اورېدونکي غواړي هغه څه چې په پای کې لولي په یاد ولري، له همدې امله ډېر خپرېدونکي رپوټونه په یوه لنډه خلاصه پای ته رسیږي او ټینګار یې د رپوټ په مهم ټکي وي. پایله تر ډېره افتتاحیه منعکسوي، چې په دې توګه پایله هم یوه مهم ځای یا مهم شخص ته ورګرځي په یوه کیسه کې د زماني تسلسل له پلوه داده، چې په پای کې څه پېښېږي.

که چېرته یو رپوټ د ستونزو په اړه وي ښايي، چې پایله یې حل لارې په ګوته کړي. پایله تر ډېره د راتلونکي په اړه وي، چې په راتلونکي کې څه پېښېږي او ښايي چې یو رپوټ په یو لنډ بیان یا یوه پیاوړي وړاندیز پای ته ورسیږي که خبره تردې اوږده شي نو ښايي، چې د اورېدونکي د ناهیلۍ لامل وګرځي. (۴۵:۲).

### ۳، ۲۳- نسبت ورکول Attribution

د یوه خبري رپوټ او سرلیکني یا یوې نظریې ترمنځ مهم توپیر په نسبت ورکولو کې دی پوښتنې ته ځواب ورکوي، چې څوک وايي؟ دا کار د معلوماتو هغه سرچینه، چې رپوټ ورځینې ورکول کېږي، په ګوته کوي په ځانګړې توګه کله، چې د کومو لانجمنو څرګندونو یا د پوښتنې وړ معلوماتو په اړه رپوټ ورکول کیږي. نسبت ورکول کېدی شي څرګند یا تلمیحي وي. لاندې په څرګنده توګه د نسبت ورکولو یو مثال ورکړل شوی دی.

یو سړی نیول شوی، چې په وژنې تورن دی. د پولیسو افسر عین الله کوهستاني وویل: (یوه سړی په قتل تورن شو). په دواړو حالاتو کې اورېدونکی ویلی شي، چې د رپوټ سرچینه پولیس دی. په ډېرو خبرونو کې د نسبت ورکولو یو مهم

لامل اورېدونکي ته ددې اجازه ورکول دي، چې پرېکړه وکړي ايا په خبر باندې باور وکړي يا نه؟

د بېلګې په توګه شمالي کوريا تصميم ونيو، چې خپل اټمي پروګرام وځنډوي. دا ښايي د ځينو اوريدونکو لخوا ډېر لږ د اعتبار وړ وي او دا په دې پورې اړه لري، چې چا ويلي دي. د نسبت ورکولو بل دليل د خبرياл يا خبري ادارې پرځای، پر هغې سيمې يا کس، چې دا بيان يې ورکړی، د مسووليت اېښودل دي. دا له هغوی څخه معافيت نه ردوي، ځکه د يوه هيواد حقوقي خونديتوب تر بل هيواد توپير لري. خو د خبريالی ښه بڼه داده چې روښانه شي تورونه چا تړلي؟ يا دا چې چا يو ځانګړی دريځ خپل کړی دی؟

هغه معلومات، چې خبريال په نېغه ليدلي دي کولی شي د نسبت ورکولو پرته يې بيان کړي. څرګند واقعيتونه يا منل شوي واقعيتونه نسبت ورکولو ته اړتيا نه لري. د مثال په توګه خبريال کولی شي د نسبت ورکولو پرته ووايي، چې د فوټبال په لوبه کې کومه لوبډله ګټونکې شوه ځکه په وروستۍ پايله کې شک نه وي خو د دې ويل چې کوم کانديد په يوه سياسي مشاجره کې ګټونکی شو، نسبت ورکولو ته اړتيا لري که نه نو داده، چې د واقعيت او نظريې ترمنځ مخطبان دوه زړي پاتې کېږي.

## ۳، ۲۴- نقل قول يا لنډې څرګندونې Sound bits

خبري رپوټونه تر ډېره د خبريال په ټکو ويل کېږي، خو ترڅنګ يې په ډېرو رپوټونو کې د نورو کسانو خبرې او لنډې څرګندونې هم شاملې وي. کله چې نقل قول په اغېزناکه توګه وکارول شي په نېغ ډول د بل چا د تجربې په شريکولو رپوټ پياوړی کېږي. په رپوټ کې له يوه وړانديز نه ګټه اخيستل

کېدی شي اورېدونکي ته رپوټ په زړه پورې کړي، ځکه دا وړاندیز له رپوټ سره شخصي اړیکه جوړوي.

د تعریف له مخې لازمه ده، چې نسبت ورکړل شي، چې اورېدونکي پوه شي چا دا خبره کړې ده. مستقیم نقل قول د هماغه ویونکي کلمات، لږ تر لږه د یوې جملې په اندازه اوږدوي. دا هغه مهال کارول کېږي، چې د ویونکي خبره د تکرارولو ارزښت ولري. قسمي نقل قول تر ډېره په چاپي رسنیو کې کارول کېږي. په دې ډول نقل قول کې د ویونکي یوه کلمه یا عبارت هغه مهال، چې د هغه بشپړه جمله ډېره اوږده یا سرخوږوونکې وي، کارول کېږي.

خو د خبریال مسوولیت دادی، چې د ویونکي د جملې اصلي مفهوم ورنه ګډوډ نه شي. د بېلګې په توګه کله، چې د فرانسې ولسمشر ژاک شیراک خپلو هیوادوالو ته په دغه هېواد کې له یوې اونۍ اړو دوړ وروسته وینا کوله وویل چې: (که له تبعیض سره، چې د ټولنې لپاره د یوه زهر په څېر دی. مبارزه وکړو، مونږ په دوامداره توګه هیڅ شی هم نه شو جوړولی). کله مو، چې یو ښه نقل قول انتخاب کړ خپل رپوټ مو د هغې پر بنسټ جوړ کړئ، خو د امریکا د NBC تلویزیوني شبکې خبریال باب داستون خبرداری ورکوي (لنډې څرګندونې د اغېزناکو رپوټونو په ځای مه کاروئ). هغه خبریالان چې لنډې څرګندونې ښکګ تر ښکګ کتاروي تر ډېره د لټې لاره نیسي.(۳:۴)

**۳، ۲۵- شمېرې**

د ژورنالېزم استاد یو وخت خپلو زده کوونکو ته تشریح کړه، چې نیک کسان هغه کسان دي، چې له حساب ورکولو نه وېرېږي. د ډېرو خبریالانو ښایي حساب خوښ نه شي، خو هغوی اړتیا لري، چې پوه شي څنګه حساب ته اړتیا لري؟

شمېرې ممکن واقعي او د ډاډ وړ وي، خو هغوی له تېروتنې خالي نه وي. خبریالان د شمېرلو وړتیا ته اړتیا لري، چې کولی شي د یوه بې معنا او مهم عدد ترمنځ توپیر وکړلی شي که نه نو ښایي رپوټ لیکل له ګواښ سره مخامخ کړي او په ښو یا بدو حالاتو کې له تېروتنې سره مخامخ شي. خبریالان حسابي پوهې ته اړتیا لري، که نه نو هغه شمېرې به، چې دوی یې په لټه کې دي د فهم وړ نه وي. د ژبې د مهارتونو په څېر خبریالان د ریاضي میخانیک ته اړتیا لري، چې د شمیرو تر شاه پرتو اطلاعاتو ته لاس رسی پیدا کړي. هغوی د ریاضیکي مفاهیمو پوهېدو ته اړتیا لري، چې وکولی شي د بانکدارۍ، کاروبار، اقتصادي څوړ او د کاروبار په بریالیتوب پوه شي.

ښه خبریالان شمېرو ته ډېر پام کوي. هغوی د نا منلو شمېرو د موندلو په برخه کې ګړندي دي او د حساب او احصایې د علم په برخه کې اساسي پوه لري. هغوی پوهېږي، چې فیصدي، نسبتونه او د شمېرو ترمنځ نورې اړیکې ومومي. هغوی کولی شي او باید هم وکولی شي شمېرې په هغو اطلاعاتو کې، چې لوستونکي ورباندې په اسانی وپوهېږي تعبیر کړي (۴:۱۸۴).

**۳، ۲۶- د رپوټ تصحیح**

هغه خبریالان، چې د رپوټونو لپاره نه دي ګمارل شوي د نن ورځې خبري مجلې یا هم د سبا چاپېدونکو ورځپاڼو ته د رپوټ جوړولو لپاره خپلې نظریې د منظورۍ او تأیید لپاره له مدیر سره شریکوي. اډیټر د پېښو لېست ته له سره کتنه کوي، چې کومې پېښې د ارزښت وړ دي او کومې یې په رپوټ ورکولو نه ارزي. کله، چې تصمیم ونیول شو، نو د چاپ یا خپرېدو لپاره رپوټونه په ترتیب سره برابرېږي.

په دې پړاو کې ښايي تاسو فکر وکړئ، چې مديران به زنګ ووهي يا به هم استراحت کوي، خو د خبر په خونه کې نېول شوې پرېکړه څه د کاڼي کرښه نه ده او په پلان کې د بدلون ډېر امکانات شته دي. کېداى شي داسې پېښه وشي، چې وړاندوينه يې نه کېده او يا هم داسې رپوټونه پرېښودل شي، چې تمه کېده په دې ډول پېښه نه شي.

ځيني نور رپوټونه نورو پلټنو ته اړتيا لري او نن به بشپړ نه شي. دا چې کوم مطالب نشر شي او کوم نه شي، او کوم وځنډول شي دا د خبري برخې مديرانو، اډيټرانو او پروډيسرانو کار دى. هغوى رپوټونه د ارزښت، علاقې، خبري پرمختيا، ځاى او وخت د ارزښت پر بنسټ ترتيبوي، خو د اډيټور دنده اوس پاى ته نده رسيدلې، وړاندې له دې، چې خبر چاپ شي يا هم د هوا څپو ته لاړ شي ايډيټر يوه بله مهمه دنده هم لري او هغه داده، چې ډاډ ترلاسه کړي هغه رپوټونه، چې عامو خلکو ته خپرېږي ښه ليکل شوي، کره، بشپړ او مناسب دي.

ځينې خبري خونې له يوه څخه زيات اډيټران لري. يو کس نه شي کولی په يوازې ځان د يوې موسسې ټول خبري رپوټونه تنظيم کړي. په سترو خبري خونو کې بېلا بېل اډيټران، چې په پاى کې د خبري برخو مسوول مشر، يا د خبرونو د ايډيټرانو مشر يا د خبري رپوټونو مشر ته رپوټ ورکوي، د اډيټر دنده له بېلا بېلو مهارتونو سره تړلې، چې د سواد لوړه کچه، همدارنګه د بدلون موندونکې اجندا تنظيم او تر فشار لاندې کار کول يې تر نورو مهم دي.

**۳، ۲۷- روغتيا، علم او چاپيريال**

هغه مقالې، چې د روغتيا او يا چاپيريال په اړه ليکل کېږي د خلکو پر ژوندانه نېغې اغېزې لري، هغه خبريالان، چې د ايډز د ناروغۍ په اړه ليکنه کوي پوهېږي، چې ددغې ناروغۍ په اړه لږ معلومات د هغې په خپر وژونکي دي د

هغوی مقالې کولی شي د خلکو د پوهې کچه لوړه کړي او یا هم هغوی په شک کې واچوي. هغه خبریالان، چې د علم او چاپیریال په برخه کې کار کوي کولی شي د هرڅه په اړه آن د مرغانو د والګي او پرانسانانو د هغې تر اغېزو پورې څه ولیکي، خو د خبریال دنده داده، چې هغه واضح او روښانه کړي.

کله، چې خبریالان پر دغه شان مسئلو کار کوي باید د پوهانو او طبي څېړنو له ژبې سره اشنا وي. د کانارین خبري اژانس خبریال دنیس بیوکرت وایي: له دغه شان اصطلاحاتو مه وېرېږئ، خو هغوی په خپله مقاله کې کاروئ، هم د علمي لیکوال او هم د اقتصادي خبریالانو په څېر د مغلقو اصطلاحاتو یو لست لري، چې د هغې په مرسته کولی شئ د خلکو لپاره عام فهمه مقالې ولیکئ. هغه خبریالان، چې علمي موضوعاتو ته پوښښ ورکوي باید د علمي لارو چارو، ابتدایي، ریاضیاتو او احصائیو باندې پوه وي او د څېړنو پایلې دویم ځلي وارزوي. هغوی باید په هر بدلون پسې ونه ګرځي او د هر خارق العاده علمي کشف په اړه له رپوټ ورکولو ډډه وکړي او ترڅنګ یې یواځې د هو یا نه ځواب د موندلو په لټه کې هم نه وي ځکه په دې صورت کې کیدای شي د هغوی مقالې کره وي، خو زړه راښکوونکې او تلوسه پیدا کوونکې نه وي.

هغه خبریالان، چې هڅه کوي د یوې پېښې ټولې خواوې رپوټ کړي، کله نا کله په علمي رپوټونو کې له ستونزو سره مخامخ کېږي. که چېرته په یوه علمي رپوټ کې ټولې علمي نظریې په برابره توګه مطرح کړو؛ نو په لوی لاس به مو لوستونکي بې لارې کړي وي. د بېلګې په توګه د پوهانو غوڅ اکثریت په دې باور دی، چې سرب د ماشومانو د ذکاوت کچه راټیټوي یوازې لږ شمېر پوهان دې مسئلې ته د شک په سترګه ګوري. خبریالان کولی شي د وړو لید لوري راواخلي خو داسې، چې یوازې په دې نظریه کې د نظرونو توپیر په ګوته کړي.
(صفحه ۵۳ دیوراپوتر ۲۰۰۶، واشنګټن دي سي د زادې ژورنالېزم)

د مریلند په پوهنتون کې ورځپانه لیکونکی (کارول راجرز)، چې د علمي مسئلو د لیکلولو په اړه یې په یوه کتاب کې ددې برخې د خبریالانو لپاره دوه سپارښتنې کړې دي: لومړی دا چې پېژندنه ډېر ارزښت لري. ځینې وخت خبریالان له دغو کسانو، چې نقل قول کوي هغوی په سمه توګه نه معرفي کوي. مخاطبان حق لري، چې پوه شي ولې له یوه ځانګړي شخص خبره رواړل شوې ده. د بېلګې په توګه یو خبریال د اقلیمي بدلونونو د نړېوال کنفرانس په اړه د سپینې ماڼۍ د علومو او تکنالوژۍ له مشره نقل قول کوي، خو یادونه یې نه کوي، چې هغه په دې برخه کې نومیالی پوه دی، ځکه نو ددې ډول معلوماتو وړاندې کول ددې لامل ګرځي، چې مخاطب وکولی شي په ښه توګه د نظرونو جاج واخلي.

راجرز دویمه خبره دا کوي، چې مخاطبان د هغه موضوع په اړه، چې خبریال یې په اړه رپوټ ورکوي، پوره معلومات نه لري او دا تشه په پیچلو مسئلو کې ډېره او ژوره ده ځکه نو که یوه علمي کنفرانس ته خبري پوښښ ورکول کیږي، داسې فکر مه کوئ، چې لوستونکي د تېرې ورځې د موضوع په اړه خبر دي او یا به هم د سبا د موضوع په اړه خبر شي. بلکې هغه اړین معلومات ورواستوئ او له هغې سره یې اشنا کړئ. هغه ټکي، چې د موضوع له پوهېدلو سره مرسته کوي ور زیات کړئ او مطلب مو داسې وړاندې کړئ، چې ستاسو مطلب یوازینی مطلب دی، چې هغوی یې لولي او یا یې هم اوري یا یې ویني، ځکه کیدای شي همداسې هم وي .(۱۷:۵).

**۳، ۲۸- پولیس او محکمه**

هغه خبریالان، چې د جرمونو او محکمو خبرونو ته پوښښ ورکوي باید په دې برخه کې د کار له څرنګوالي سره بلدتیا ولري. ډېر لږ شمېر خبریالان ښایي په عدلي او یا هم له جرمونو سره د مبارزې په برخه کې روزل شوي وي. د

پولیسو کارکوونکي نه غواړي، چې تاسو د هغوی په قوانینو، لارو چارو او پروسیجرونو باندې پوه شئ او وکولی شئ، چې ښې پوښتنې وپوښتئ او هغه څه، چې غواړئ ترلاسه یې کړئ هغې ته ورنږدې شئ.

ددې برخې خبریالان باید پوه شي هغه جرمونه، چې دوی کشف کوي په ټولنه کې څه ډول تعریف کېږي. د بېلګې په توګه د امریکا په متحده ایالاتو کې Burglary ( د شپې لخوا د یو چا حریم ته د جرم یا غلا په نسبت ننوتل) له Robbery ( له خلکو نه په زور د پیسو یا شتو اخیستلو) سره توپیر لري. د بنسټیزو اصطلاحاتو د نوملړ جوړول کولی شي د شرموونکو تېروتنو له رامنځته کېدو نه مخنیوی وکړي.

د پولیسو مطبوعاتي معلومات یوازې د جرمونو په اړه لومړني معلومات په لاس ورکوي، خو دا خبریالان دي، چې د موضوع ژورو ته ځان رسوي هغوی د پېښې ځای ته ورځي، له ګاونډیانو یا د پېښې له عیني شاهدانو سره خبرې کوي. د محکمو خبریالان هم باید له عدلي پړاوونو سره پوره بلدتیا ولري. هغوی باید پوه شي وروسته له دې، چې یو شکمن نېول کېږي، تورن کېږي، راغوښتل کېږي، محکوم کېږي او یا هم خوشې کېږي څه پیلېږي. تجربه لرونکي خبریالان وایي، چې ددې بهیر په اړه د پوهېدو لپاره ښه داده، چې د محکمې په تالار کې اوسئ.

له منشي نه یې پیل کړئ، چې د محکمې د وخت، د پېښو د لېست او د محکمې د مهال وېش یادښت کوي. دا مومي، چې څه ډول کولی شي د اسنادو، دوسیو او د شهادت پاڼو کاپي ترلاسه کړي. د محکمې تر پیل کېدو وړاندې د دواړو لوریو څرګندونې او صورت دعوا مطالعه کړئ. که چېرې نه شئ کولی هره ورځ

محکمې ته ورشئ، نو هغه څه، چې د محکمې په اړه رپوټ ورکول کېږي هغه له ځان سره یادداښت کړئ.

د عدلي پېښو د افشا کولو لپاره مدافع وکیلان د معلوماتو تر ټولو ښه سرچینه بلل کېږي. هغوی د څارنوالانو په پرتله ډېر لیواله دي د هغو پېښو په اړه، چې وربانديې کار کوي، له خبریالانو سره وغږېږي. کوښښ وکړئ، چې په حقوقي اصطلاحاتو باندې ځان پوه کړئ، خو په رپوټ کې یې له کارولو ډډه وکړئ.

د Covering the Courts کتاب لیکوال اس ال الکساندر وايي مدافع وکیلان تحریک کېږي، چې د خبریالانو د بې لارې کولو لپاره له مغلقو کلمو نه کار واخلي. نوموړی سپارښتنه کوي، چې که تاسو د کومې کلمې یا اصطلاح په معنا نه پوهېدی له هغه چا سره، چې تاسو مرکه کوی وپوښتئ، چې په اړه یې څرګندونې او تشریحات درکړي (۶:۱۱۲).

**۳، ۲۹- سپورټ**

Bill Schwa Beck، چې پخوا په تلویزیون کې د سپورتي مسایلو خبریال ؤ، اوس په Connecticut کې د Quinnipiac په پوهنتون کې استاد دی، وايي: د سپورت د موضوعاتو خبریالان خپله چاره په ډېره ښه توګه ترسره کوي د هغوی په موضوعاتو خبریالان خپله چاره په ډېره ښه توګه ترلاسه کوي د هغوی په موضوعاتو کې په طبیعي توګه ډرامې، شوق او لیوالتیا شامله وي. خبریالان د یوې لوبې د پایلې په اړه یا هم د یوې سیالۍ په اړه له پایلې ورها خوا موضوعاتو ته هم خبري پوښښ ورکوي. خبریالان د لوبو لومړني موضوعات برابروي خو ترڅنګ یې فضأ، لیده کاته او داسې نورو، چې د لیدلو پرمهال په لیدونکو کې تلوسه راپاروي هغې ته هم پوښښ ورکوي. سپورتي

خبریالان نه یوازې د موضوع څنګه او ولې تشریح کوي، بلکې ترڅنګ یې چا؟ او څه؟ هم تشریح کوي.

هغوی د سپورتي پېښو په اړه خبرونه برابروي او همدارنګه د لوبغاړو، لوبډلو، او د لوبو د مینه والو په اړه مقالې لیکي خو له دې ټولو سره سره باید سپورتي خبریالان د لوبو او د هغې لوبې په اړه، چې رپوټ یې ورکوي، پوره معلومات ولري او په قواعدو یې پوه شي. د هغوی د خبرو کولو وخت ډېر تنګ او کم وي په ځانګړې توګه کله، چې لوبه د شپې لخوا وي. هغوی باید نمرو ته پام وکړي او ترڅنګ یې باید د لوبې بهیر هم تعقیب کړي او په اړه یې یاداښتونه واخلي. دا به ښایي د یوې چټکې لوبې پرمهال اسانه کار نه وي. په ډېرو پېښنو کې ښه موضوع نه وي. د سپورت خبریالان هڅه کوي، چې د پردې ترشا څه پېدا کړي. هغه څه، چې د کوټې یا هم هغه ځای کې، چې لوبغاړي جامې بدلوي پېښېږي، د دوو لوبغاړو ترمنځ نښته وشي، چې ښایي دواړه لوبډلې اغېزمنې کړي او دې ته ورته نور مسایل.

هغوی له لوبغاړو او د هغوی له روزونکو سره په درناوي چال چلند کوي، خو په اتل پرستۍ کې نه ورګډېږي. هغوی له هغې لوبې نه، چې رپوټ یې ورکوي خوند اخلي، خو د هېڅ یوې ډلې پلوي نه کوي. هغوی باید یو ښه لیدونکی او اورېدونکی اوسي.

د سپورت د خبریال په توګه د اقتصادي او سوداګریزو اصطلاحاتو له کارونې ډډه وکړئ. هغوی باید د هغو اصطلاحاتو له کارولو، چې یوازې ځیني کلک ملاتړي او یا هم روزونکي وربانديې پوهېږي ډډه وکړي.

د ژورنال ټول باکس انټرنیټي پاڼې چلونکی مایک ریلي وایي:(موضوع تل په ساده توګه وړاندې کړئ). هغو ځوانو خبریالانو ته خبرداری ورکوي، چې له

لوبغاړو او روزونکو سره له سپکاوي نه د ډکې مرکې په تمه نه وي، په ځانګړې توګه کله، چې لوبه بایلي. نوموړی وایي حرفوي لوبغاړي د خپل بریالیتوب لپاره له ګواښ یا هم زور زیاتي نه کار اخلي. ددې لپاره، چې خپل موقف مو ساتلی وي، داسې یوه وضعیت ته چمتو اوسئ. هغه پوښتنې، چې خبریالان یې باید د عمومي ټول پوښتنې په اړه مطرح کړي؟

چا دا نظر پوښتنه ترسره کړې ده؟ ایا دا موسسه د سروې یا ارزونې قانوني موسسه ده؟ د نورو کومو کسانو لپاره یې نظر پوښتنه ترسره کړې ده؟ ددې نظر پوښتنې لګښت چا ورکړی دی؟ سیاسي اجندا یې څه ده؟ له څومره کسانو سره مرکې شوې دي؟ ایا پایله ددې نظر پوښتنې د ټولو ځوابونو پربنسټ شوې ده یا د هغې یوې برخې د ځوابونو پربنسټ؟ دا نظر پوښتنه څه ډول ترسره شوې ده؟ پوښتنې یې کومې دي؟ د تېرو کسانو کچه یې څومره ده؟ خام ارقام څه وو؟ ایا ددې نظر پوښتنې شمېرې له نورو هغو نه توپیر لري او که یې لري نو ولې؟ ایا دا نظر پوښتنه ددې ارزښت لري، چې په اړه یې رپوټ ورکړل شي؟

د اجازې له اخیستو وروسته خبریال کولی شي ددغو شلو پوښتنو له ډلې ځینې غوره او هغه وپوښتي. انلاین ژورنالېزم لوستونکو ته دا اجازه ورکوي، چې نېغ په نېغه لیکوال یا د مقالې لیکونکي ته د برېښنالیک یا هم د Live web chat له لارې ځواب ورکړي، خو ډېر شمېر داسې انټرنېټ پاڼې هم شته، چې د هغوی د نظرونو د څرګندونو لپاره یې ځای برابر کړی او نور کولی شي هغه څه، چې دوی لیکلي ویې لولي.

په امریکا کې د MPR راډیو هم له څپو او هم په انلاین توګه له خلکو نه د موضوعاتو په اړه غوښتنې کوي. له اورېدونکو غوښتل کېږي، چې خپل اضافي معلومات د تلیفون یا هم برېښنالیک له لارې هغوی ته ولیږي (۶۳:۷).

### ۳، ۳۰- د راډيويي يا تلويزوني رپوټ ليکنه

راډيويي او تلويزيوني داستانونه د اورېدونکي په غوږونو کې ليکل کېږي نه د اورېدونکي د سترګو لپاره. خبريالان بايد د خپل رپوټ کاپي په لوړ غږ ولولي او رپوټ بايد روښانه او د اورېدونکو د پوهېدو وړ وي. د انلاين يا يوې ورځپاڼې د لوستلو په توپير د راډيو اورېدونکي که په موضوع پوه نه شي، نه شي کولی بېرته شاته وروګرځي او موضوع له سره واوري. د امريکا د CBS د شبکې اډيټر اې ډي بلس وايي (کلمې کله، چې وويل شي، بېرته د راګرځيدو وړ نه دي).

د خپرېدونکو رسنيو خبريالان د ورځپاڼې د هغې په پرتله ځينې محدوديتونه لري د نيم ساعت خپرېدونکي خبرونه کيدای شي د يوې ورځپاڼې يوه يا دوه پاڼې ونيسي. په يوه Broadcast رپوټ کې نه شي کيدای، چې ټولې پنځه واړه WH او H چې مخکې هم تشريح شوې دي، شامل وي ځکه بنايي رپوټ ډېر اوږد او ستونزمن شي، خو په بدل کې ليکوال دوه يا درې مهم ټکي غوره او د هغې په پيل کې ليکي او پاتې نور موضوعات په وروسته جملو کې را اخلي. په Broadcast رپوټ کې عمر، پتې او داسې نور معلومات، چې په چاپي رسنيو کې په معمولي توګه ترسترګو کيږي، نه ذکر کيږي. په دغو رپوټونو کې خبريال خپلې جملې لنډې ليکي، چې وکولی شي هغه په لوړ اواز او لنډه ساه ولوستلی شي.

د راډيو تلويزيون خبريالان هغه کلمې، چې کاروي بايد ورسره همغږي وي. دا کټ مټ داسې ده لکه په شعر کې، چې د وزن او قافيې مسئلې ته پام کيږي دا کولی شو د CBC شبکې د نامتو خبريال پوښښ ورکاوه ولولو: ( لوخړې د برمينګم نه د بتليم په لور خوځيږي، خو نن شپه د برتنيا اسمان شين دی). لکه

ځرنګه، چې لیدل کېږي دا کلمې اسانه خو، پای یې ډېر رنګین او په زړه پورې دی. د راډیو تلویزیون لیکوالان ښایي په ژبه کې ډېر محتاط وي او په چاپي رسنیو کې بیا باید ډېر پام لوستلو ته وي. د بېلګې په توګه کله، چې د امریکا یو لوبغاړی لوسل بال مړ شو، یوې چاپي رسنۍ هغه داسې ونوماوه (۸۳ کلن بال (یعنې درې اتیا کلن توپ) او په راډیو کې داسې وویل شو (لوسل بال ۸۳ کلن و)

د راډیو او تلویزیون خبریالان باید د هغو کلمو په اړه، چې بڼه یې یو شان، معناوی یې بېلې وي، پوه وي. د بېلګې په توګه کیدای شي د انګریزي د (miner) د معدن د کارکوونکي او (minor) کوچني سره اشتباه شي. دا کلمې باید په رپوټ کې داسې وکارول شي، چې معنی یې روښانه وي او د Broadcast خبریالان دا ځانته عادت ګرځوي، چې له خپرېدو وړاندې خپل رپوټ په لوړ اواز ولولي، چې دغه شان ستونزې هوارې شي او هغه کلمې چې دوې معنی ګانې لري او ځرګندې نه دي هم روښانه شي.

که څه هم په راډیو او تلویزیون کې خپریدونکی خبر په لوړ اواز لوستل کیږي خو سم لیکل یې د چاپي رسنیو په څیر مهم دي. ناسم او غلط لیکل د ژبې د بندېدو او نا سم تلفظ لامل ګرځي. ددې لپاره، چې ستونزمنې کلمې په سمه توګه تلفظ شي زیاتره خبریالان په متن کې ددغو کلمو فونیتیک بڼه هم لیکي. سم لیکل ډېر مهم دي ځکه ډېری رسنۍ خپل رپوټونه په انلاین توګه هم خپروي. ځینې رسنۍ داسې پوستکالي هم لري، چې په یوه وخت کې د لیدونکو د لوستلو لپاره د خبر متن ننداري ته وړاندې کوي، خو په هر حال ناسم لیکل په خبریال او همدارنګه په خبري رسنۍ منفي اغېزې شیندي.

د چاپي رسنیو په پرتله راډیويي او تلویزیوني خبرونه تر ډېره د محاورې په ژبه وي. په بل عبارت خبریالان هغه شان، چې خبرې کوي، باید هماغه شان یې ولیکي. د یوې ورځپاڼې متن داسې لوستل کېږي ( پولیس وایي: سړی په یوه ټویوټا ډوله سره موټر کې وتښتیده) خو په راډیو او تلویزون کې نسبت لومړی راځي، ځکه نو متن داسې لوستل کېږي ( پولیس وایي په یوه ټیوټا ډوله سره موټر کې سړی وتښتید).

خو ددې لپاره، چې محاوره یې ښه په رپوټ کې وساتل شي، خبریال اړتیا نه لري، چې نومونه یا هم بشپړ سرلیکونه وکاروي. په عمومي ډول د نومونو منځنۍ برخه نه کارول کېږي (په انګریزي کې) مګر دا چې نوم مهم وي ځینې وخت خو آن د نوم اخیستل هم اړین وي. یوه ورځپاڼه ښایي یوه خبري داستان (story) داسې ولیکي:

( د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر سرتاج عزیز له خپل اسراییلي سیال سیلون شالون سره د پنجشنبې په ورځ د ترکیې په پلازمینه استانبول کې وکتل) خو راډیويي ښه یې ښایي داسې وي ( د پاکستان او اسراییلو د بهرنیو چارو وزیرانو نن په ترکیې کې سره وکتل).

ببېره یا فوریت د خپرېدونکو خبرونو په برخه کې یو مهم ټکی بلل کېږي. د بېلګې په توګه که تاسې له ولسشمر سره په یوه سفر کې ملګري او په الوتکه کې یاست نو ددې پرځای، چې ووایاست ( ولسمشر نن تاجکستان ته سفر کوي) ښه ده، چې ووایاست (ولسمشر تاجکستان ته سفر کوي). په عموم ډول د راډیو او تلویزیون خبریالان د رپوټ په پیل کې د وخت ذکر نه کوي، مګر داچې پېښه هماغه ورځ پیښه شوې وي او ډېره مهمه وي خو سبا چاپېدونکې ورځپاڼې کیدای شي د پورتني سفر خبر په لاندې توګه خپور کړي ( ولسمشر حامد کرزی

د تاجکستان د دوشنبې ښار ته ورسيد) خو لوستونکي دې ته سترګې په لار دي، چې اوس نو ولسمشر څه کوي. ښه ده، چې وروسته جملې ورپسې داسې وليکل شي ( اوس سهار دی او ولسمشر حامد کرزی د تاجکستان د پوهنتون له محصلينو سره کتنه کوي) (۸:۷۳).

### ۳، ۳۱- نيوز ريل

د خبر پرمهال د کومې پېښې په اړه په خپل غږ کې د کوم پوه نظر خپرولو ته نيوز ريل وايي.

**نيوز ريل تيارول**

د يوې پېښې د نيوز ريل د تيارولو لپاره نيوز ايډيټر يا د راډيو کوم کار کوونکی پروخت د پېښې ځای ته ورځي او د بېلا بېلو خلکو نظرونه او تاثرات ثبتوي بيا ډېنګ روم ته ځي او ثبت شوي مواد اوري. دا نيوز ريل دخبرونو پرمهال خپرېږي. ښه نيوز ريل لنډ او کره وي. د نيوز ريل غږ صاف پکار دی کنه نو په اورېدونکو ښه اغېزه نه کوي.

### ۳، ۳۱- غږ

هغه لنډې بيانيې، چې د راډيوتلويزيون خبريالان يې په خپلو رپوټونو کې کاروي، نقل قولونو ته ورته دي، خو غوره کول يې تصميم ته اړتيا لري. يوازې دا کافي نه ده، چې دغه شان لنډې څرګندونې د پاڼې پرمخ مفهوم ورکړي، بلکې بايد په راډيو او تلويزيون کې هم پوره مفهوم ادا کړي او د پوهېدو وړ وي. هغه څه، چې په پاڼه کې لنډ وي کيدای شي د لوستلو پر مهال ډېر وخت ونيسي.

د راډيو او تلويزيون خبريالان دغو لنډو څرګندونو ته ځانګړي پاملرنه کوي او موخه يې ورځنې داده، چې يوه ټوټه او په زړه پورې رپوټ ليدونکو ته وړاندې

کړي. د بېلګې په توګه که چېرته دا څرګندونې په یو ضمیر پیل کیږي، لیکوال باید جمله داسې سره ونښلوي، چې اوریدونکي اړین معلومات ورځنې واخیستلی شي او لیکنه دا څرګنده کړي، چې وروسته څه راځي.

د بېلګې په توګه په یو ښوونځي کې د سر سپړې پېدا شوې دي د ښوونځي یوه روغتیا پاله وایي، چې (هغوی دلته راغلي او خپل سرونه ګروي موږ پوهېږو، چې څه لرو، دا ډېره څرګنده ده). کله، چې روغتیا پاله وایي نو د هغوی مقصد زده کوونکي دي. خو که چېرته لومړی جمله په بیانیه ډول ویل شوي وي؛ نو دا مفهوم یې نه درلود ( د ښوونځي روغتیا پاله وایي، چې روغتیایي کارکوونکي له هغوی سره سخته مبارزه کوي) ځکه په دې جمله کې د هغوی ضمیر سپږو ته راجع کېږي، خو خبریال به ښایي چې ووایي ( د سر د سپږو خپریدل په دې معنی دي، چې د مري سمت په څیر روغتیا پالې نن سبا ماشومانو ته د تېر په پرتله ډېره پاملرنه کوي).

د لنډو راډیویي یا تلویزیوني څرګندونو سربېره ښايي ځینې غږونه هم ورسره مله وي. د بېلګې په توګه په سیمه کې د پولیس غږ د ترافیک اشپلاق، د ماشومانو اوازونه او داسې نور. ددغو غږونو کارول د نړۍ په ځینو سیمو کې معیاري دي. په رپوټ کې د طبیعي غږونو شاملول له اورېدونکو سره مرسته کوي، چې پرته له دې، چې خبریال یې په اړه څه ووایي هغه ځای، چې خبریال هلته خپل رپوټ ثبت کړی دی، له ځان سره انځور کړي. همدارنګه له یو ځای نه د غږ لیږدول له اورېدونکي او لیدونکي سره مرسته کوي، چې له یوې صحنې نه بلې صحنې ته ولاړ شي. طبیعي غږونه کیدای شي په ټیټ اواز د خبریال تر خبرو لاندې او یا هم په داسې غږ، چې د اوریدو وړوي وکارول شي. دا له رپوټ سره مرسته کوي، چې په ښه توګه وپوهېدل شي. امریکایي فوټو

ژورنالېست ستيف سويتر وايي، چې له غږ نه کار اخيستل د بشپړې خبري کيسي په پوهولو کې مرسته کوي هغه وايي: (غږ د انځور بل اړخ دی).

د راډيو په توپير تلويزيون له انځورونو سره ډېر سروکار لري. د تلويزيون خبريالان هڅه کوي، چې خپلې کلمې له ويډيو سره يوځای او يوه پياوړې خبري کيسه رامنځته کړي. انځورونه يوازې د ويډيو لپاره Wallpaper نه دي، بلکې هغه په خبر کې مهمه ونډه لري. انځورونه په داستان کې (څه؟) ته ځواب وايي او کلمې بيا د خبر (ولې؟) ته ځواب وايي. ادبلس وايي: ( ليدل باور کول دي، خو پوهېدل نه دي).

د تلويزيون خبريالان بايد له دې ووېرېږي، چې متن ليکنه پيل کړي بايد پوه شي، چې کومه ويډيو کاروي. ددې لپاره، چې خبريال پوه شي هغه څه، چې ليکي له ويډيو سره سمون لري. ښه داده، چې لومړی ټوله ويډيو وګوري، ځيرنو دا ښودلې، چې ليدونکي په هغو رپوټونو ډېر ښه پوهېږي، چې کلمې او ويډيو يې سره سمون ولري او دا هغه مهال شونې ده، چې دواړه کلمې او ويډيو يوه کيسه بيان کړي. که چېرې ويډيو له متن سره سمون ونه لري نو ليدونکي د اوريدو په پرتله هغه څه يې، چې ليدلي ډېر ښه يې ذهن ته سپاري.

د بېلګې په توګه يو خبر، چې د يوه هېواد د تېلو د زېرمو د طوفان د اغېزو په اړه دی، که چېرې ويډيو يوازې د طوفان زيانونه او ويجاړی وښيي، ليدونکي به ښايي د رپوټ اساسي ټکي، چې د تېلو په زېرمو د طوفان اغېزې دي، هيڅ ونه ويني. ددې لپاره، چې ليدونکي په موضوع ښه وپوهېږي ښه داده، چې لومړی د طوفان د زيانونو او ويجاړيو ويډيو وښودل شي او خبريال د طوفان په اړه رپوټ ورکړي وروسته بيا د خلکو هغه ويډيو، چې يو د تېلو ټانک ته د خلکو اوږده کتارونه وښيي او خبريال د تېلو پر زېرمو د طوفان د اغېزو په اړه وغږېږي.

د کلمو او انځورونو د یوځای کولو او همغږي کولو معنا دا نه ده، چې خبریال وکولی شي هغه څه، چې په ویډیو کې ښودل کېږي په ساده توګه انځور کړي. فرض کوو، چې ویډیو هغه موټر ښيي، چې د خاورو په سړک کې روان دی دا هېڅ داسې یوڅه نه واضح کوي، چې خبریال دې ووایي: ( د روبردسن کورنۍ د کلي په بر سر کې ژوند کوي). په دې صورت کې خبریال ښایي ووایي: ( وچکالي د روبردسن کورنۍ کډه کېدو ته اړه کړه) (۹:۷۸).

**۳، ۳۲- راډیویي او تلویزیوني خبرونه**

د راډیو د اورېدونکو او د تلویزیون د لیدونکو په پرتله د ورځپاڼو او انټرنېټ پاڼو لوستونکي پر خبرونو ډېر کنټرول لري. د ورځپاڼې لوستونکي کولی شي، چې د ورځپاڼې لومړی پاڼه، د خبرونو برخه یا هم د مړینې اعلانونه ولولي. همدارنګه انلاین لوستونکي کولی شي د وېب پاڼې کور پاڼه ومومي او دهغې د ټولو برخو له کتو وروسته هره یوه برخه یې، چې خوښه شي هغه لومړۍ ولولئ، خو د راډیو اورېدونکي او یا هم د تلویزیون لیدونکي هغه شان، چې خبرونه د هغې د چمتو کوونکي لخوا برابر شوي وي اوري.

راډیویي یا تلویزیوني خبرونه په عمومي توګه هغه شان، چې چمتو کوونکي یې فکر کوي، چې کوم خبر د ورځې مهم خبر دی، برابرېږي، خو دا په دې معنا نه ده، چې له لومړي خبر وروسته کوم خبرونه، چې راځي ارزښت نه لري. د خبرونو چمتوکوونکي باید په ټوله کې د خبرونو ارزښت ته وګوري نه په انفرادي توګه. د خبرونو چمتوکوونکي مهم او غېر معمولي خبر د پاڼې په لاندینۍ برخه کې ځای پر ځای کوي او tease د لوستونکي پام د ورماتولو لپاره کاروي. د tease په اړه مو په مخکنیو ورقو کې خبرې کړي دي.

لکه څرنګه، چې یو اډیټر د ورځپاڼې په طرح او د خبرونو او رپوټونو د ترتیب په اړه تصمیم نیسي همدغه شان د تلویزیوني خبرونو تولیدونکي هم خبرونه او رپوټونه په ترتیب برابروي او د هغې نظم برابروي. د تولیدونکي دنده داده، چې پوه وي هره story څومره وخت ته اړتیا لري، ځکه د راډیو اوتلویزیون خبرونه په ټاکلي وخت پیل او په ټاکلي وخت پای ته رسیږي. کله، چې پروګرام پیل شو تولیدونکی باید ډاډه وي، چې له خپل مهال وېش سره سم پرمخ روان دی. خو که چېرې کومه story له خپل ټاکلي وخت نه اوږدېږي، نو تولیدونکی باید تصمیم ونیسي، چې له پروګرام نه کوم توکي کم کړي او که چېرې کومه story له خپرونې ایستل کېږي، تولیدونکی یې باید دغه تشه ډکه کړي.

**۳، ۳۳- انلاین یا پرلیکه خبرونه**

انلاین ژورنالېزم د چاپي ژورنالېزم او broadcast ژورنالېزم ترڅنګ د وېب پاڼې او د ورځپاڼو په څېر خبري مقالې خپروي. لیدونکي کولی شي ویډیویي کلیپونه هم له وېب پاڼې نه غوره کړي، چې په دې توګه تلویزیون ته ورته یوه رسنۍ ورځنې جوړېږي. د یوې انلاین story ګټه داده، چې په ترڅ کې یې له بېلا بېلو وسیلو انځور، ویډیو، غږ او نورونه کار اخیستل کیدای شي. ترڅنګ یې لوستونکي ته هم دا اجازه ورکوي، چې د مقالو او مطالبو په منځ کې خپله لاره ومومي.

دا چې انټرنېټ او نوره تکنالوژي څه ډول رسنیو ته بدلون ورکوي د یوې وېب پاڼې چلونکی (جونتیان دیوب) وایي: (انلاین ژورنالېزم باید په یوه وخت کې په بېلا بېلو سطحو لکه کلمو، نظرونو، د story یا کیسې د جوړښت، اډیو، ویډو، انځورونو او نورو فکر وکړي). دی وایي تلویزیون د لیدلو، راډیو د اورېدولو، چاپي رسنۍ د لوستلو او تشریح کولو لپاره دي خو انلاین د ښودلو، ویلو، ننداریې

ته وړاندې کولو او متقابل عمل لپاره دی. ددې لپاره، چې معلومات لوستونکي ته په زړه پورې شي، انلاین هغه په بېلا بېلو بڼو وړاندې کوي.

### ۳، ۳۴- انلاین story یا کیسو بڼې او ډولونه

د انلاین رپوټ اساسي بڼه print plus په نامه یادېږي. دغه بڼه د خبري story یا کیسې هغه ډول ته ویل کېږي، چې نور عناصر لکه انځور، اډیو، ویډیو، او له موضوع سره د نورو تړلو موضوعاتو په اړه لینکونه ولري. لینکونه کولی شي لوستونکي په دې اړه نورو معلوماتو او په دې برخه کې د نورو وېب پاڼو معلوماتو ته ورولي. همدارنګه کیدای شي، چې انلاین رپوټ له ډیټابېس سره هم ونښلول شي، چې کاروونکي یې په اسانی سره ومومي. د بېلګې په توګه د یوې ازموینې پایلې، چې د هېواد له ټولو زده کونکو نه اخیستل شوې ده، ډېټابېس ته له نښلولو وروسته هر څوک کولی شي د یوه ځانګړي ښوونځي او ټولګي پایلې ولټوي او د بېلا بېلو ښوونځیو د زده کوونکو د ازموینې پایلې سره پرتله کړي خو د انلاین رپوټونو یوه ښه بڼه، چې ډېره په زړه پورې ده په ځانګړې توګه د یوه طرح شوي رپوټ لپاره، هغه د ملټي میډیا، ګرافیک نه کار اخیستل دي.

د ګرافیک عناصر په online توګه طرح کېږي، خو لوستونکي کولی شي په هره بڼه، چې غواړي بیان کړي. د بېلګې په توګه د سلایډونو د یوې ننداره په ترڅ کې د متن، اډیو، ویډیو، انځورونو او داسې نورو وړاندې کول هم د فلش پروګرام، چې تاسو کولی شئ په زړه پورې ویډیو ګرافیک او داسې نور پکې جوړ کړئ. د بېلګې په توګه بي بي سي په لندن کې یوه وېب پاڼه جوړه کړې، چې د نشه یي توکو د ناقانونه استعمال په اړه ده. لوستونکي کولی شي یو ډول نشه یي توکي انتخاب کړي وروسته د بدن یو غړی لکه مغز یا زړه انتخاب کړي. وګوري نشه یي توکي پر هغې څه ناوړه اغېزه کوي.

همدارنګه د مخنيوي لارې او چارې يې هم په ګوته کوي همدارنګه ځيني وېب پاڼې ازموينې او ځيني لوبې هم کاروي. تر څنګ معلومات يې په پوښتنو او ځوابونو وېشلي وي، چې لوستونکي وارزوي، چې له رپوټ نه يې څه زده کړي دي.

**۳، ۳۵- انلاين ليکنه**

جونتن ديوب وايي انلاين د چاپ او خپريدو ترمنځ يوه ليکه ده. هغه وايي په انلاين کې لنډ او اسانه ليکل د خپرونکو ډېر خوښېږي، خو زياتوي، چې ډېرې وېب پاڼې په سمه او کره توګه د ليکلو اصول په پام کې نه نيسي. هغه وايي يوه محاوره ښه ده، خو ګرامر او سم ليکل هم مهم دي. د تلويزيون د خبرونو مدير سکاټ اکتنسون وايي: زما مشوره داده هغه شان، چې په برېښناليک کې خپلو دوستانو ته  څه ليکئ هماغه شان يې په وېب پاڼه کې هم وليکئ. هغه وايي دا په دې معنا نه ده، چې تاسو کلمې ناسمې وليکئ، خو جوړښت او اصول يې مه هېروئ. دا په دې معنا ده، چې تاسو يې په محرمه توګه وليکئ، چې وکولی شئ هغه سم سينګار کړئ.

ليکوالان بايد له ځنډ او يا هم د کيسې د پيل له اوږدولو ډډه وکړي. ښه پيل بايد لوستونکي ته دا دليل وړاندې کړي، چې لوستلو ته ادامه ورکړي که نه ښايي هغه بل رپوټ ته ولاړ شي او هغه ولولي. انلاين رپوټونه معمولاً د ورځپاڼو له رپوټونو نه لنډ وي. ښه لارښود دادی، چې د انلاين رپوټ له (۸۰۰) کلمو زيات نه وي او په يوه پاڼه کې وښودل شي. ددې لپاره، چې د متن لوستونکي ښه را جذب کړي، د ښاغلي ديوب وړانديز دادی، چې ليکونکی نظريې سره ووېشي او ليکنه په بېلا بېلو بلاکونو وويشي(۱۰:۲۷).

**۳، ۳۶- لنډيز**

د تلويزيوني رپوټ څخه موخه د د راډيو داسې رپوټ دی، چې د تلويزيون پروډيوسر، ايډيټر يا کوم بل کار کوونکی د کومې غونډې يا پروګرام په رڼا کې هغه تياروي او خپروي يې. تلويزيوني رپوټ د يوې پېښې د ارزښت د په ډاګه کولو په موخه تيارېږي.

زياتره د مهمو موضوعاتو په اړه برابرېږي داسې پروګرامونه، چې د راډيو د پاليسۍ له مخې مهم وي. د تلويزيون له پاره هم ډېر مهم وي، چې په هغې کې ولسمشر، لومړی وزير، ايالتي وزيران، واليان يا نور وزيران ګډون ولري.

کوم داسې پرګرام د راډيويي رپوټ موضوع جوړېږي. ښه رپوټ ليکل لنډ، روښانه، سم او کره وي. په عمومي توګه ويل کېږي، چې رپوټونه د ليکلو رپوټونو په پرتله د لنډو جملو او پاراګرافونو لرونکي وي . او هر پاراګراف د يوې اصلي موضوع لرونکی وي.

هغه خبريالان، چې ساده او مستقيمه ژبه کاروي په اسانۍ پوهېدل کيږي او تر ډېره د صفتونو او قيدونو پر ځای نومونه او ځېرکيونه کاروي . خبري رپوټونه بې معنی او تکراري نه وي ، ځکه هره کلمه يې حسابيږي. لکه څرنګه چې په خپل کلاسيک کتاب ( د يوه کتاب اجزاوې) کې اشاره کوي (A.bwhite) ښاغلي د يوې ساده ليکنې له پاره اساسي قاعده د غېر ضروري کلمو غورځول دي. خبريالان د دې له پاره، چې ډاډه شي هغه کلمې، چې دوی يې کاروي واقعاً هغه مفهوم، چې دوی يې فکر کوي ورکوي او که نه؟ له قاموسونو او کتابونو څخه کار اخلي، ځکه هغوی رپوټونه د عامو اورېدونکو له پاره ليکي. خبريالان هڅه کوي، چې د مسلکي اصطلاحاتو او هغو کلمو له کارولو، چې د عامو

خلکو له پاره نا اشنا وي ډډه وکړي. د یوه روغتون ویاند د یوه ناروغ هغسې، چې وي تشریح کوي.

**۳، ۳۷- دریيم څپرکی پوښتنې**

لومړۍ پوښتنه: د هر رپوټ پیل ولې له افتتاحيي څخه پیل کېږي؟

الف: د دي لپاره، چې لوستونکي يې په اسانه تعقیب کړي.

ب: د دي لپاره، چې اوريدونکي او لوستونکي هغه ښه وپېژني.

ج: د دي لپاره، چې د رپوټ اغیز وپېژني.

د: د دې لپاره، چې د لوستونکي، اورېدونکي او لیدونکي پام رپوټ ته واړوي.

دويمه پوښتنه: د رپوټ په لیکلو کې خبریال څه ډول کلمات باید وکاروي؟

الف: مسلکي اصطلاحات او ادبي جملي وکاروي.

ب: په مسلک ولاړ ژورنالیستیک کلمات وکاروي.

ج: ژورنالیستکه ژبه او مسلکي جملي وکاروي.

د: له قاموسونو او کتابونو کار واخلئ، ځکه د عامو اورېدونکو لپاره يې لیکي.

دریيمه پوښتنه: خبري رپوټ څه ته اړتیا لري؟

الف: ژرلیکلو، او درستو جملواستعمال ته.

ب: خبري رپوټ د خبريال ژورليد، چالاکي، څیړني او پلټنې ته اړتیا لري.

ج: رپوټ د خلکو همکار یو ته اړه لري.

د: خبري رپوټ د رپوټر سلوک ته اړتیا لري.

څلورمه پوښتنه: د تلویزیوني فیچر ځانګړنې کومې دي؟

الف: ښه لیکل، ارقام اخیستل، په پېښو تمرکز کول.

ب: د ژوند په ټولو اړخونو بحث او تمرکز کول.

ج: څېړنه، ستاینه او نوښت د فیچرځانګړنې دي.

د: پر موضوع حاکمیت او د مهمواړخونو راسپړل.

پنځمه پوښتنه: تلویزیوني زيات مروج فیچرونه کوم دي؟

الف: خبريال باید مسلسل مرکې وکړي.

ب: د خلکو نظرونه او وړاندیزونه په نظرکې ونیسي.

ج: خپل نظر د خلکو له نظر سره همغږی کړي.

د: زیاتره په ټولنیزو سوژو راڅرخي.

شپږمه پوښتنه: مرکه کوونکی د مرکي په بهیر کې باید کومو ټکو ته پام وکړي؟

الف: شخص باید د مرکې لپاره ورووبولي.

ب: د شخص څخه باید هر ډول پوښتني وکړي.

ج: مرکه باید د مرکه کېدونکي د طبعي خلاف نه وي.

د: مرکه کوونکی باید مرکه کېدونکی و هڅوي.

اوومه پوښتنه: د چا سره باید مرکه وشي؟

الف: د هر چا سره باید مرکه سرته ورسیږي.

ب: د مرکي لپاره شخص مهم نه دی.

ج: د مرکي لپاره باید شخص پخپله مرکه کوونکی غوره کړي.

د: مرکه کوونکی د امکان تر حده باید د مرکه کېدونکي سره هم ژبه، هم فرهنګ اوهم جنس وي تر څو یو د بل سره ښه تفاهم وکړي.

اتمه پوښتنه: سرچینه د خبر لپاره څه ارزښت لري؟

الف: سرچینه د خبر لپاره د هغې په موجودیت او صحت دلالت کوي.

ب: سرچینه د خبر لپاره یوه لاره ده او یا هم اعتبار.

ج: په سرچینه باندي خبریال د خبر مسؤولیت د بل چا په غاړه وراچوي.

د: په خبریالۍ کې د سرچینې څرګندونه او په سرچینې داډ د خبر او خبریال مهمه دنده ګڼل کیږي.

نهمه پوښتنه: که د یو خبر سرچینه څرګندنه او باور وربانديې کم وي څه باید وشي؟

الف: د خپلي اداري په اعتبار دې خپور شي.

ب: د سرچینې نوم دې ذکرشي.

ج: د رسني ارزښت او خبریال شخصیت ته تاوان رسوي.

د: کېدای شي خپور شوی خبر یې خلک ومني.

لسمه پوښتنه: خبري اژانسونه د څه لپاره کارول کېږي؟

الف: خبري اژانسونه رسنۍ د ځان د شهرت لپاره کاروي.

ب: د خبر ارزښت زياتوي او باور يې هم ساتي.

ج: د خبر په خپرولو کې سرعت راولي.

د: د خبر لپاره د خلاصون يوه لار ده.

| پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب |
|---|---|---|---|
| ۱ | د | ۶ | ج |
| ۲ | د | ۷ | د |
| ۳ | ب | ۸ | د |
| ۴ | ج | ۹ | ج |
| ۵ | د | ۱۰ | د |

**۳، ۳۸- مأخذونه**

1) ارشد، علي. ژباړن، احمدزی، امیرجان وحید. (۱۳۸۷). راډیو ژورنالیزم. خپرندویه ټولنې تخنیکي څانګه پېښور.

2) حیدري، ذبیح الله. (۱۳۹۰). کاربرد ژانرهای اطلاعی در رادیو، مطبوعه عازم، کابل.

3) سهار، نذیر احمد.(۱۳۹۲) ټلویزیوني خبریالي اسد چاپ خونه، پېښور.

4) ریچل، ایسن، ژباړه، کرګو، زرغونه. (۲۰۰۲).

5) زیني، عبدالسلام. (۱۳۷۵). اسلام او ژورنالېزم، د اتحاد اسلامي فرهنګي ټولنه، پېښور.

6) فانوس، میر عزیز احمد. (۱۳۹۰). از خبر تا نظر، مطبعه عازم، کابل.

7) پوټر، دبورا.(۲۰۰۶). ازاد ژورنالېزم کتاب. د متحده ایالاتو مطبوعاتي دفتر.

## څلورم څپرکی

### ۴، ۱- ګرافیک

**موخې**

اول_ددې څپرکي یا ګرافیک څخه موخه دا ده ترڅودتلویزیون خپرونو برابرونکي دګرافیک په مانا اومفهوم ځان وپوهوي او دهغې په کار وړنې او استعمال ځایونه په صحي توګه وپیژني اودرک کړي چې ولې ګرافیک کاروي استعمال یې اړین دی او کنه.

دوهم_دوهمه موخه یې دا ده،چې برابرونکی دګرافیک دمعني پوهیدو څخه وروسته داهم زده کړي چې ګرافیک څه لپاره په کار وړي او په خبري سرویسونو کې یې ځای وپیژني او پدې اړتیا باندې وپوهیږي،چې ولي ګرافیک په خبر کې استعمالوي،په دي به هم وپوهیږوچې کله موږ تصویر نلرو اویا هم کوم رسمي ممانعت په اساس تصویر نشو لاسته راوړلې نو اړ یوچې ګرافي طرحې وکارو ترڅو زموږ د تلویزیون صفحه پرته له تصویر څخه پاتي نشي.

دریم_زموږ دتلویزیوني خپرونو تهیه کوونکي یابرابرونکي دا درک کړي چې تلویزیون پرته له تصویره څه معنا نلري.پدي پوه شي چې ګرافیکي تصویرونه په دوه ډوله وکاروي متحرک او ثابت چې دپیښې دبیان ساده ترین شکل دی.

تلویزیون پرته له تصویره معنا نلري.نو پدې اساس دټولو خپرونو لپاره پکارده،چې کافی تصویرونه په واک کې ولرو.هغه تصویرونه،چې په تلویزیون کې داستفادې وړګرځي کله کله واقعي وي اویا ځیني وختونه مونتاژوي دخبري ګرافیک طراحي باید صراحت،عینیت،او وضاحت نه برخمنه وي.دا دهغي داساسي ځانګړنو ګڼل کیږي.یا په بل عبارت دا ډول ګرافیک پکار ده،چې تخیلي

وي. چې دابهام سبب وګرځي دتلويزيوني خپرونو ګرافيست بايد دخپل کارمواظف وي،څو دواقيعت له رمز يا صراحت نه تير نشي.او دکاريکاتور اونقاشي نړی ته ور داخل نشي.ګرافيکي تصويرونه دنيرو لرونکي دي.دقاب جوړونې په وخت کې دزيبا شناسيتيوري دنماګانوپه نظرکې ونيول شي.ګرافيک په تلويزيون کې له تصوير وروسته دمخاطبانو دجذب دويمه وسيله ګڼل کيږي.دغه ارزښت درسنيو چلونکي ښه درک کړي،داځکه چې په هرو دريو شپږو مياشتو کې دخپرونو په ګرافيکي طرحو کې بدلون راځي.دخبري زيګنالونو او موسيقي ګرافيک تر ډيره په خپل حال کې ساتل کيږي.تر هغي چې دنشراتو دمشر تابه ډله دهغي په بدليدو پريکړه ونکړي نوی سيګنال نه جوړيږي.په تلويزيون کې په خبري ګرافيک سر بيره يو بل ډول ګرافيک هم کارول کيږي.چې انفو ګرافيک (infographi) يې بولي.انفوګرافيک عموماً دمعلوماتوپه موخه په کاروړل کيږي.پدې څپرکی کې نوی تکنالوژي اوتلويزيون،انټرنټي تلويزيون،E ډوله،f ډوله، o ډوله،ويب تلويزيون،ژوندی بهير،زيرک تلويزيون،له انالوګ څخه تر ډجيټل اونور عنوانونه په تفسير سره توضيح شوي دي.

**۴، ۲- ګرافيک**

ګرافيک په ساده ګي سره نه شو کولی، چې تعريف يې کړو، دا ځکه، چې د هغې پکار وړل د زده کړې او هنري مسايلو او رسنيو کې ډېره پراخه دي. هغه تعريفونه، چې په دې برخه کې وجود لري جامع نه دي، بلکې د ګرافيکي کارونو په ځانګړي بعد تاکيد کوي.

ګرافيکي هنر زياتې ځانګې او بې شمېره محصولات لري، لکه نښه يا لګو (Sign)؛ صفحه جوړونه (Layout)؛ بسته بندي (Packing)؛ تصوير

جوړونه (Illustration)؛ دیوالي اعلانات (Posters)؛ دفتر یا بروشور (Brochure) او کتلاګ او یا کاربښونه (Catalog).

په یوه تعریف کې داسې معرفي شوی دی: ((ګرافیک د استفاده شوي متن د ټولو تصویري او کلامي عواملو څخه استفاده یا په بل عبارت ګرافیک د لیدلو علایم دي، چې د هغې په استفادې سره کولی شو مفاهیم او اطلاعات په ځانګړي توګه د ترکیب په وسیلې سره له اشکالو، لغتونو، اعدادو، علایم او تصویر خلاصه کړو)).

او په بل تعریف کې ګرافیک پېژندل شوی هنر دی، چې په چاپي، لیکلي، تصویري، ښکاریدو، بڼه او خالصه طراحي تقریباً په ټولو تلویزیوني خپرونو کې پیدا کیدلی شي مختلفې بڼې ددې هنر په تلویزیون او فلم جوړونه کې عبارت دي له: د خپرونو د عنوانونو طراحي، تزییني تصویرونه، توضیحي جدولونه، نقشې او:

1. د موضوع محتوا
2. مخاطب
3. قالب
4. دنمایش بستر

د ذکر شویو تعریفونو په نظر کې نیولو سره، د پاملرنې وړ موادو څخه یوه یې د دقت وړ په ګرافیکي طرحو کې ترکیب بندي، ټول علایم او عوامل دي، چې د پکار وړنې وړ ګرځي ترکیب بندي د انګلیسي کلمې معادل (Composition) دی او معنا انتقالولی شي، چې کلمې یې په مناسب ډول او د ژبې د اُصولو سره متناسب ځای پر ځای شوي وي د ګرافیک په طرح کې همدغه مثال صدق

کوي، نو لازم دي، چې د ګرافيکي طرحو د ترکيب بندي په مورد کې هم بايد دقيق واوسو او د ترکيب بندئ يا اصول يا د طراحي عناصر وپېژنو.(۱:۱۲۳).

**۴، ۳- ګرافيک**

ګرافيک په سادګئ سره نشو کولی تعريف کړو؛ دا ځکه چې د په کار وړنې ساحه يې په هنر، د زده کړې په مسايلو او رسنيو کې ډيره پراخه ده.

هغه تعريفونه، چې په دې مواردو کې وجود لري جامع نه دي، بلکې د ګرافيکي کارونو په ځانګړي بعد باندې تاکيد کوي، د دې تعريفونو په يوه کې داسې معرفي شوی دی.

- د ګرافيک د ټولو کلامي، تصويري عواملو د متن څخه استفاده د يوه فکر او پيغام لپاره دي يا په بل عبارت او د اشکالو ترکيبي وسيله، لغاتونه، اعداد، علامې او تصوير خلاصه کړو.

"په بل تعريف کې ګرافيک پيژندل شوی هنر دی، چې په چاپي، ليکلي، تصويري، جدولي اوخالص طراحي تقريباً په ټولو ټلويزيوني برنامو کې پيدا کيږي.متنوع بڼې ددې هنر په ټلويزيون او فلم جوړونه کې عبارت دي له: د خپرونو د عنوان طرح، تزييني تصويرونه، توضيحي جدولونه، نقشې او..."

د ذکر شويو تعريفونو په نظر کې نيولو سره د دقت وړ موارد څخه د ګرافيک په طرحو کې (ترکيب بندي) د ټولو علايمو او عوامل دي، چې د په کار وړنې سبب ګرځي، د انګليسي کلمې معادل ترکيب بندي Composition دی.

ځرنګه چې د یوې جملې په ترکیب بندی کې، هغه وخت د فهم وړ وي
او معنا ته انتقال ورکولی شي، چې کلمې په مناسب او متناسب ډول د
ژبې د اصولو سره ځای پر ځای شوی وي.
د ګرافیک په طرحه کې هم دغه مثال صدق کوي، نو لازمه ده د
ګرافیکي طرحو د ترکیب په مورد کې هم باید دقیق واوسو او ترکیب
بندی اصول یا هم طراحې او د طراحی اصول وپیژنو.

## ۴، ۴- د طراحي اصول

ځرنګه چې د طراحی اصول د ژبې د دستور د یوې برخې په عنوان د مختلفو
کارپوهانو او دانشمندانو په مختلفو ډولونو صنف بندي کړي دي.

ولې دلته په دې ځای کې د هغې یو مودل ته په لنډه توګه اشاره کوو.
په دغه مودل کې د طراحي اصول په پنځو اصلونو ویشل شوي دي.

1: تعادل Balance

2: جلا کېدل Contrast

3: تاکید Emphasis

4: وحدت unhy

5 : همغږي Harmony

## ۴، ۵- د طراحي عناصر

ځرنګه چې دانشمندانو د طراحی د اصولو په اړه زیات مودلونه
وړاندې کړي دي، د طراحی د عناصرو په مورد کې هم مختلف
نظریات وجود لري. دلته یوه د هغو الګوګانو څخه چې د طراحي په
کتاب کې او د خپرونو ویډیو تولید او تلویزیون د زده کړو فلمونو کې
ذکر شوي دي او نقل کیږي.

1 :فضاء   Space

2 :خطLine

3 :شکل   Shape

4 :فورم Form

5:سطح  "Surface"  چې دی سره مل " ترکیب "texture رنګ ،"Color"
"Value"،ارزښت

**۴، ۶- په ټلویزیوني خبر کې د ګرافیک کارونه**

ټلویزیون پرته له تصویر څخه معنا نه لري نو په دې اساس د ټولو خپرونو لپاره باید، چې کافي اسناد وجود ولري. هغه تصویرونه، چې په ټلویزیون کې د استفادې وړ ګرځي کله واقعي وي او یاهم د مونتاژ وي. چې د ځانګړو ښکارونو اوسینمایي فنونو سره دغه تصویرونه غیرواقعي تولید شوي، د تصویر کمه خلا ډکوي، ولو چې د ګرافیک کارول منتقدان په ټلویزیوني خبر کې د واقعي سوژې سره د خبر په تعریف کې په تضاد کې وګڼي.

د خبر په تعریف کې ویل شوي دي خبر یو واقعي پېښه ده، چې د څو خبري ارزښتونو لرونکی وي، نو په دې اساس د غیرواقعي تصویرونو په کار وړنه د واقعي واژه یا کلمه سره په تضاد کې راځي.

ولې ناچاري اومجبوریت وجود لري، چې کار کوونکې د ګرافیکي تصویرونو په کار وړلو په خبر کې مجبور کړي.

دا ځکه چې هر هغه څه چې، د خبر د نشر سرعت ایجابوي په ټلویزیون کې نه شو کولی، چې تل یا همیشه د یوې پیښې ټول تصویرونو ته لاسرسی ولرو او یا هم د لاسرسي د قواعدو پر بنا هغه ونه لرو لکه غیرې علني محاکمه.

پورته وویل شو چې، پوره توګه نه شو کولی، چې د پېښې ټولو تصویرونو ته لاسرسی ولرو او هغه لاسته راوړو لکه د طیارې سقوط ، د کښتی غرقیدل، د ریل ګاډې بهر کیدل له پټلی نه، زلزله، اور غورځونکې په لرې منطقو کې، جګړه په هغو ځایونو کې چې، د خبر نګار ورته ورتګ ګران وي لکه د افغانستان سرحدي سیمې د پاکستان سره او نور.

ولې نه کیږي، چې د تصویرونو په نه لرلو سره د داسي خبر نه صرف نظر وکړو. زیاتره انسټیټیوټونه دا ډول خبرونه په ګرافیکي تصویرونو سره خپروي او د تصویر د کمبود خلا د ګرافیک د هنر په مرسته ډکوي. پاتې د نه وي چې، واقعي تصویرونه د طراحي ارزښت لریوالی د خبرونو د تازه والي د حفظ لپاره نه شي کیدای چې ولاړه تصویري منظره ورکړو.

ګرافیکي تصویرونه هم د خبر او نمایش د مفهوم په وړاندې کولو کې او د پیښې په څرنګوالې کې د اهمیت او زیات تاثیر څخه برخمن دی.

"ګرافیکي تصویرونه دوه ډوله دي ثابت او متحرک

ـ ثابت ګرافیکي تصویر د پیښې د بصري بیان ساده ترین شکل دی؛ ګرافیک هغه ریل ګاډی چې د پټلی نه بهر شوی، کیدای شي ددې طریقې لپاره نمونه وي.متحرک ګرافیک لږ غوندې ستونزمن وي، ولې د لیدونکې لپاره جذاب دی. هغه طیاره چې له پرواز نه وروسته د اوقیانوس د بحر په سر د پرواز په وخت سقوط کوي، د دې طیارې خط سیر د ګرافیکي طرحو نه په ګټې اخیستنې سره په متحرک صورت ښودل کیږي"

د خبري ګرافیک طرحې باید د صراحت، عینیت او وضاحت نه برخمن وي، دا د هغو د اساسي ځانګړنو څخه ګڼل کیږي، یا په بل عبارت دا ډول ګرافیک باید چې تخنیکي نه وي او د ابهام سبب نه شي. د ټلویزیوني خبرونو ګرافیک

کار په کارده چې خپلو کارونو ته متوجه واوسي تر څو د واقعیت له مرز څخه وانه وړي او د کریکاتور او نقاشی نړی ته ورداخل نه شي.

"متحرکه ګرافیکي طرحه باید د واقعیت سره همغږۍ په داخل د خبر کې ولري، او د (کارتون) متحرکې نقاشي ته له بدلیدو نه مخنیوی وشي.د ګرافیک په خبر کې باید کوشش وکړي او د مخاطب د سر ګرمي ځای ته او ماهیت ته تغیر ورنه کړي، د ګرافیست د مسؤل سره په همغږۍ په خبر کې لاس په ابتکار پورې کړي، په دې برخه کې کمپیوټري امکانات زیات وجود لري"

له ګرافیک څخه نه یوازې دا چې د خبري تصویر په نمایش کې ګټه اخیستل کیږي، بلکې ګرافیک نورې په کار وړنې هم د خبر په داخل کې لري، چې دهغو نوم اخیستل کیږي.

کله د خبري مجموعي په داخل کې د زیات تفهیم لپاره له جدولو او لیکنو څخه هم ګټه اخیستل کیږي، لکه د اسعارو نرخ او نوا د اوبو او هوا حالت، د انتخاباتو نتایج، سپورت یا ورزشونه او نور دي، چې په کلیشه یې صورت له ګرافیک څخه د بیان او نمایش لپاره استفاده کیږي.

ځیني وخت د خبرو د محوري امارو د ورکولو او د هندسي شکلو د ښودلو لپاره هم ورڅخه ګټه اخیستل کیږي، لکه د انتخاباتو نتایج، نفوس شمیرنه د اقتصادي مسایلو نزول او سعود یعنې ټیټیدل او لوړیدل، د نظامي قواوو ارایش، د نظامي قواوو د حرکت ښودل، چې له څو مسیرونو نه حمله کوي او شاته تګ یې کړی دی، د سړو جبهو او طوفان د حرکت ښودل او نور.

کله په نورو ښو لکه اریانا ټلویزیون کې، چې هره شپه د خبري سرویس په پای کې طرح کیږي.

د ګرافیک د با اهمیت ولې پیچلو مواردو څخه یو د ټلویزیون د خپرونو مجازي ستوډیوګاني دي، چې د ګرافیبک سره په اړیکه کې دي څرنګه چې،

مجازي ستوډيوګاني، چې نن ورځ د تلويزيون شبکوڅخه په مشاهده راځي ډيري غنی اوله تجموڅخه ډکې معلوميږي،چې يوازې مسلکي کسان دهغې په مجازي کولوباندي پوهيږي په داسې حال کې عام ليدونکې د هغې په غير واقعي کيدو يې فکر هم نه کوي.
ارم يا زيګنالونه، طرحې د خبرونو سر ټکي او نور هم د ګرافيک کړنې دي.
د لوګو يا ارم د موقعيت په اړه، نوع يا خط يا فونټ، رنګ او د ګرافيک طرح.
بايد علمي فکر وکړو ځکه، چې نور ګرافيکي کارونه فن نه بلکې د پوهې هنر دی اوسني وخت کي زياتره رسنۍ په کال کې يو ځل د ساتلو او نوي کېدو لپاره د ليدونکو د راجذبولو په منظور خپل ګرافيک ته تغير ورکوي او نوی کوي يې چې د(compaign)په نوم ياديږي. دويل شوو
خبرو د ښه درک لپاره دګرافيک په هکله کولی شو د داخلي ټلويزيونونو خپرونې لکه اريانا، طلوع، او بهرنۍ شبکې لکه بي بي سي، سي ان ان ،الجزيره العربيه او نورو ته دقت ورکړو.

**۴، ۷- د ټلويزيوني خپرونو عنوانونو ګرافيک**

ګرافيک هغه هنر دی، چې په ليکلي، چاپي، تصويري، طراحی او ... په ټلويزيون کې په کار وړل کيږي.
د ګرافيک د هميشه استفادې په اړه د عنوانونو طراحي دی. په هغه ځای کې چې، د خپرونې عنوان په مستقيم صورت حالت او سبک ښودونکی دی نو بله طرحه بايد د جذب او تحريک وسيله د خپرونو د ليدنو لپاره هم وي.
عنوان بايد په منسجم صورت يو لاس پرته له تيت پرک کيدو هدفمنده طرح او برابر شي، دا ځکه چې، که عنوان او نور جزيات د ليدونکې له طرف په ساده

ګې سره تعقیب او ونه لوستل شي، د اړیکې نتیجه د لیدونکو سره به شلیدلې وي.

په کلي توګه حروف بندي باید محکمه او قوي وي، نه داچې ضعیفه او ماتوونکې وي. ښه دا ده چې د باریکو او نازکو خطونو پورته او ښکته حروف او د حروفو د سیورۍ له رامنځ ته کیدو څخه ډډه وشي، دا ځکه چې، دا ډول ګرافیکي جزئیات یا په تصویر کې محوه کیږي او یا په نا خوښه ډول هڅه کوي همدارنګه ډیر واضح او لنډ حروف خپله ښه له لاسه ورکوي.

هر کله چې ګرافیکي طرحه له کلمو ډکه وي، لیدونکې د هغو له لوستو څخه ستړي کیږي او له بله طرفه دغه لیکنه د وخت له نظره باید هغومره د ټلویزیون پر صفحه پاتې شي، تر څو لیدونکې هغه ولوستلی شي، یعنې د زیات سرعت حرکت او د هغې د تغیر څخه مخنیوی وشي، تر ډیر سلو او په اصطلاح تمبل لوستونکی، هم متن تعقیب کړی شي، هر کله چې متن د ویاند لخوا قرائت کیږي باید د متن لیکل، چې لوستل کیږي د لیکلو د طرحې سره چې نمایش ورکول کیږي، کاملاً یو شی وي.

دا چې ساده پردې په عنوان بندۍ باندې مثبت تاثیر لري او یا هغه مړ او بې حالت انعکاس کوي کاملاً به موقعیت او شرایطو پورې تړاو لري.

تزیني پردې (د ځانګړي پیوند لرونکې یا دجدا شوو طرحو) کولی شي په بصري جاذبه زیات کړي یا یې مبهم او مخشوش کونکي وي، ترڅو څورنګه سطحه پردې ممکن د حروفو لوستل د مشکل یعنې ستونزو سره مخامخ کړي.

همدارنګه نه کله د خپرونې د عنوان حروف بندي د داسي پردو پر مخ راځي، چې د بهر څخه تیت شوي لکه چمن، بیابان، د ونې ښاخونه او نور په داسي انتخاب کې هم امکان لري، چې د لیدونکې سترګه د اصلي سوژې څخه (عنوان) پردې ته جلب شي او د پیغام د لاسته راوړلو څخه غافل پاتې شي نو

په کار ده د پردې ورته یا مشابه رنګ له غوره کیدو او حروفو څخه د ډډه وشي.

حروف بندي په روښانه رنګونو سره نسبت تینګو رنګونو ته د لوستونکي د اسانتیا سبب ګرځي. د پردې لپاره رقیق یا نرم او تند نظر مخ اړونکوته بهتر دی. ددې لپاره چې اطلاعات په نمایش کې ناقص وړاندې نه شي د جزئیاتو د ځای پر ځای کولو نه د قاب په غاړه کې مخنیوی وشي او کوشش د وشي چې، ګرافیکې طراحي د لوحو او نورو وسایلو پر مخ جوړیږي له مقابل لورې څخه د تصویر اخستنه وشي.

## ۴، ۸- د ګرافیکي تصویرونو ذهني او بصري تأثیرات

ګرافیکي تصویرونه دنیرولرونکي اودنما دقاب بندي پروخت کې باید دزیبا پیژندني تیوري په نظرکې ونیول شي،دتشخیص وړشي دګرافیکي ارزښت یاوزن لرونکي وي.یوغټ ستراوکلک شي ډیرارزښت دیوه کوچني اوروښانه رنګ څخه لري.هغه شي چې ناهواروغاړو،دندانه لرونکي اوعادي دي زیات ارزښت دهغه شي څخه لري،مدوري اوهواره غاړي لري.دوه کوچنې شیان کیدی شي دسترشي معادل وزن ولري.حتاکه دهغي دمساحت واقعي اندازه دهغه دووشیانو وړوي اواندک کمه وي.سربیره په ګرافیکي وزن دیوه شي ګرافیکي نیروهم باید په نظر کې ونیول شي ګرافیکي نیرو ترحده دګرافیکي وزن څخه وتلي دي،ولې په حرکت پورې اړه لري.ثابت شي ګرافیکي نیرولږنسبت متحرک شي ته لري.رنګ هم دیوه شي دوزن په تغییر کې په عامل په صورت انعکاس کوي.دګرم رنګ لرونکي شیان (سور،ژیړ،نارنجي) دنورومختلفو روښانه رنګونه ډولونه،دلیدونکي لورته امتدادکوي،دغه رنګونه دګرافیکي وزن له نظره سپک په نظر کې راځي.ساړه رنګونه لکه

ابي،شين،بنفش،اودتيتګورنګوډولونه ويل کيږي،چې له ليدونکي څخه فاصله نيسي(بيرته کيني)دغه رنګونه دګرافيکي وزن له لحاظه درانده په نظرکې راځي.پاتې دي نه وي ددغونظرياتوپه منځ کې هيڅ يوه قانوني قاعده دزيبا پيژندني په برخه کې مطلقه نه ده بلکې دتوليد شوي خپروني نهايي بڼه به وښيي ايا ګزينش په ښه بڼه دي؟څوتصويرونه دګرافيکي نيرو له نظره.



**د قاب په سر درونډ دي د بی ثباتی احساس کيږي  د قاب سطحه درنده ده  غټ وړوکی د ځان طرف ته راکاږي**



**د قاب ښڼدي ته کشکول**

### ۴، ۹- د طراحي اصول

سره له دې،چې د طراحي اُصول د ژبې د دستور د برخې په عنوان متخلفو کارپوهانو او علماوو طراحي په مختلفو ډولونو صنف بندي کړي ،ولې په دې



ځای کې د هغې یو مودل ته په لنډه توګه اشاره کوو. په دغه مودل کې د طراحي اُصول په پنځو برخو ویشل شوي دي:

1. تعادل Balance
2. د رڼا تغییر Contrast
3. تاکید Emphasis
4. وحدت Unity
5. هم غږي Harmony

**1) تعادل Balance**

د تعادل لپاره د تعریف وړاندې کول لکه د طراحي د نورو اصولو په شان ستونزمن دي نو په دې اساس کار پېژندونکو ددې پر ځای، چې تعریف وکړي د هغې په توصیف یې پیل کړی دی. د طراحي مفهوم د توضیح سره په تعادل کې دا چې څرنګه او کومه طریقه د ((وزن او نیرو په لحاظ عناصر د رسنۍ د عناصرو پرمخ ځای نیولی ده او فضأ اشغالوي روښانه کیږي)).

رابرت بالوف (V. Robert Bullough) تعادل او توازن په یو احساس سره په ترکیب بندي کې توصیف کوي او اعتقاد لري، چې د تعادل او توازن وجود د طراحي پکار کې؛ لکه د ترازو په شان دی، چې د تعادل حالت ولري په بل عبارت موږ کولی شو د مساوي وزن په کېښودلو سره او یو شکل د ترازو په دو وپلو کې د تعادل حالت رامنځ ته کوي او په هغې کې هغه وزنونه پکار وړو، چې عین حال کې مساوي وي په ظاهري کتو سره د محل شمېرنه د ترازو په پلو کې ځای پر ځای کول او یا هم ظاهري اندازه مختلف وي او هغه په مختلفو نقطو کې د ترازو په پلو کې ځای پر ځای کوو او تعادل برقراروو.

د تعادل لومړی ډول، چې پر هغې کې د یو شکل وزنونه په یوه اندازه استفاده کیږي تعادل یا هم رسمي توازن Formal رامنځ ته کوي او دوهیم ډول یې، چې غیر هم شکله؛ ولې یوه اندازه د وزن په لحاظ ورڅخه استفاده کیږي تعادل یا توازن غیر رسمي یا Informal ایجادوي.
د رسمي تعادل ایجادول اسانه کار دی دغه حالت کې، چې د عمودي خط څخه په فضأ کې تیریږي ورڅخه د ترکیب د اتکا دنقطې په عنوان استفاده کوو؛ څرنګه، چې کله هم رسمي تعادل برقرراروي او هغه عناصر، چې د خط په دوو طرفونو کې ځای پر ځای شوي دي د ښیښې حکم د یو او بل لپاره لري. په غیر رسمي تعادل کې باید توازن د کم مقدار په مقابل کې باید د توازن د ایجاد لپاره باید د سپین رنګ مقدار باید زیات وي، څرنګه، چې تور رنګ نظر سپین رنګ ته زیات وزن لري. په یوه ضخیم او وتلي خط کې پکار دي، چې یو څو نازک خطونه د تعادل د ایجاد لپاره پکار واچوو.
د تلویزیوني صفحې او نورو لیدونکو رسنیو د لیدونکي د دید لپاره راحت پیدا کوي او پکار ده، چې تل هغه رعایت کړو.
یو شمېر مؤلفان د لیدلو وړ او ترسیمي رسنیو د تعادل په رامنځ ته کیدو کې د توازن د واژې یا کلمې پر ځای د هغې د رامنځ ته کیدل د عناصرو په منځ کې د اثر د تشکیلونکو عناصرو د کلمې قوت څخه ګټه اخلي او عقیده لري، چې د یوه مناسب تعادل د رامنځ ته کیدو لپاره کولی شو د موزنو اړیکو د مختلفو قوتونو په منځ کې عناصرو ته پاملرنه وکړو نوموړي عناصر لکه: خط، رنګ، شکل، رڼا، سیوری، او نور تشکیلوي د قوت لرونکي دي، چې دا بصري قوت نومیږي. دا په دې معنا، چې هر عنصر په خپلې بڼې سره کولی شي د خپل قوت په تناسب په یوه رسنۍ کې ځان ښودنه وکړي. مسلماً نوموړی قوت په داسې ډول یو د بل په خوا کې ځای

پر ځای کیږي، چې له بصري نظره د تعادل په حالت کې معلوم شي اوپه زړه پورې یوه ښه توازن رامنځ ته کړی شي؛ د ساري په توګه د لیدلو د رسنۍ تیارې او روښانه برخې د تعادل حالت ولري د انسان سترګې یو د بل سره په منظمه توګه سره مشاهده کوي یعنې تیارې او روښانه برخې یو د بل په مقابل کې ځای پر ځای کیږي او یو او بل سره خنثا کوي، ددې په نتیجه کې توازن رامنځ ته کیږي (۲:۱۲۴).

## 2) بیلیدل Contrast

توپیر د یوه شي په هغه خصوصیاتو او ځانګړتیاوو یا هغې د ستي یا ګروپ پورې اړه لري، چې هغه د شیانو دد ستو په منځ کې پدیدي او زیات اثرات ښکاره کوي یا په بل عبارت تباین  هغه وخت پکار وړل کیږي، چې غواړو د رسنۍ د اجزاوو مختلفې برخې د هغې د زمینې په مقابل کې زیات انعکاس ورکوو او زیات مد نظریې ونیسو. توپیر تاکید ته ډېر زیات نږدې دي؛ ولې یو د بل څخه متفاوت مفاهیم لري. په تاکید کې ورته وغواړو، چې د رسنۍ یوه یا څو محدودې برخې یو د بل د اجزاوو څخه توپیير کړو د تاکید لاندې یې راولو، توپیر په مختلفو طریقو سره کولی شو رامنځ ته کړو، لکه د روښانه رنګو استعمال د تورو زمینو پرمخ او یا هم د متضادو رنګونو ترکیب لکه: سور، شین، نارنجي، آبي، بنفش، او ژیړ او نور شکلونه هم کولی شي د تباین په رامنځ ته کیدو کې رول ولري او پیوند او خط هم کولی شي په دې برخه کې مرسته وکړي.(۳:۱۲۶).

## 3) تاکید Emphasis

د توپیر پر بحث کې د هغې په ورتوالي باندې تاکید سره اشاره شوي؛ یعنې په توپیر کې د ټولو موجودو عناصرو په منځ کې تضاد په رسنۍ کې د زمینې په

مقابل کې وړاندې کېږي په داسې حال کې، چې په تاکيد کې يو شمېر د ګوتو په شمېر عناصر له مختلفو لارو څخه او له مختلفو نقطو نظرونو څخه د زمينې په مقابل کې راځي او قصداً ددې لپاره دي، چې ليدونکي اصلي سوژه تشخيص کړی شي تاکيد په مختلفو ډولونو په رسنيو کې ايجادېږي:

1. د فلش په کار وړلو سره او نور جهت لرونکي علايم
2. د رنګونو تضاد
3. د نظر وړ عنصرو غټول
4. دنظر وړ عنصرو ځای پر ځای کول په خپل ځای کې
5. د شکلونو اختلاف (دايره د مربع په مقابل کې) (۳: ۱۲۶).

**4) وحدت Unity**

((اماتور اشخاص زياتره د طراحي پکار کې ((يوالي او هماهنګي يا هم غږي)) مترادف برخورد کوي په داسې حال کې، چې دغه دوه معقولې يو بل څخه جلا دي او ورتوالی يې هومره ندی، چې هغوی مسلسل وګڼو په ساده ژبه د څرنګوالي په ډول د نومړو موجودو عناصرو ويشل، د زميني پر منځ طرحه پورې اړه لري (۴: ۱۲۶).

د پورته ذکر شوو ټکو څخه موخه دادی کله، چې د موجودو عناصرو د تنظيم پر اساس محاسبه او سنجش شوي وي او د يوالي او تجمع نه برخمند وي کولی شوو ووايو، چې وخت په نظر کې نيول شوی او کله، چې عناصر په اتفاقي او پرته له محاسبې څخه ځای نيولی وی او ليدونکی د شيانو په منځ کې منطقي اړيکه احساس نکړي نو وخت په نظر کې نه ده نيول شوی.(۴:۱۲۷).

**5) همغږي Harmony**

کار پوهان عقيده لري، چې د هماهنګۍ يا همغږۍ رامنځ ته کيدل په طرحو کې د تعادل او وحدت له رامنځ ته کيدو څخه ستونزمن دي. ددې آمر علت شايد

وکړی شو داسې توجیه کړو د یوه کلي اصل په عنوان عام خلک پخپله داخلي احساس کې ظاهراً د همغږو ترکیبونو په رامینځته کیدو کې په خپل ځان کې احساس کوي په دې اساس دغه احساس توانایي امکان لري د فرد د انګیزې یا علت میزان د قوانینو پکار وړنه کې او د همغږۍ د رامنځ ته کیدو پورې اړوند أُصولو کې تأثیر وغورزوي همغږي په ساده ډول عبارت ده یو لاس یووالې او د عناصرو د تضاد او رضایت نشتوالي او د طراح تشکیل شوي اجزاوې له مختلفو نقطو نظرونو څخه لکه: رنګونه، او شکلونهد پورته تعریف پر اساس امکان لري کله کله رسنۍ پکار وړل شوي رنګونه او یا هم په ضدیت کې خطوطه ولري همغږي دا غواړي، چې ټول عناصر او برخي ترکیب بندي ته یوازې دا چې یو د بل سره جوړې وي؛ بلکې یو او بل تائید هم کړي.

دوینس ا. داندیس، د همغږۍ په هکله او د هغه پرتلنه د توپیریعني کنتراست سره داسې کوي: ((کنتراست یا تضاد د همغږۍ په مقابل کې قرار لري او د هر یوه د میزان په زیاتولو سره د بل میزان راکمیږي نو ویلی شو هغه رسنۍ، چې توپیر یې لوړ دی نو همغږۍ یې ناچیزه یا اندک دي)) د ساري په توګه د ژېړ رنګ پکار وړنه د بنفش په خواکې د زیات تباین څخه برخمند دي په داسې حال کې، چې په هماغه اندازه یې میزان له همغږۍ څخه راکم شوی دی.(۵:۱۲۷).

**۴، ۱۰- د طراحي عناصر**

لکه څنګه، چې پوهانو او علمانو د طراحي د اصولو په مورد کې زیات مودلونه وړاندې کړي دي د طراحي د عناصرو په مورد کې هم مختلف نظریات وجود

لري. دلته یود هغو الګوګانو څخه، چې د خپرونو د تولید د طراحي په کتاب کې ویډیوګانو، تلویزیون، او د زده کړي فلمونو کې ذکر شوي دي رانقل کیږي:

1) فضأ Space
2) خط Line
3) شکل Shape
4) فورم Form
5) سطح Surface،چې رویه Texture، زنګ، ارزښت یا value، پکې شامل دي.(۶:۱۲۸).

## 1. فضأ Space

نوموړی بحث د طبعیت د مشال په ذکر سره کولی شو واضح کړو څرنګه، چې موږ طبعیت او د هغې په اطرافو کې شیانو ته ګورو ټول دغه شیان او موجودات سره متصل وینو او هیڅ داسې تش ځای، چې په هغه نما کې، چې موږ یې وینو وجود نلري؛ دا ځکه، چې فضأ دغه ټول شیان سره وصل کړي دي. په نقاشي او طراحي کې هم د عناصرو د وصل کولو لپاره له طبعیت څخه تقلید شوی دی؛ یعنې په فضأ کې طراحي وجود لري او هغه ډول، چې تش معلومیږي د تاثیر نه خالي ندی؛ بلکې خپل رواني او بصري مؤثریت لري.(۵:۱۳۰).

- فضأ کولی شي منفي negative یا مثبت positive وي معمول ترینه منفي فضأ رسنۍ کولی شي د ترکیب بندي نه ګټې اخیستونکي برخې استفاده شوي برخې ملاحظه کړي؛ د ساري په توګه هغه برخه د نقاشۍ له تابلو څخه، چې د تصویرونو او یا هم په نورو اجزاو باندې نه وي پوښل شوي منفي فضأ ده. منفي فضأ زیاتره د رسنۍ له برخې په شمیر کې راځي پرته د فضأ له

موجوديت څخه د نمايشي رسنيو منفي فضأ ډېره جنجالي ګډه وډه په نظر کې راځي.

مسلماً فضأ هم د رسنۍ له برخې څخه ګڼل کيږي، چې د عناصرو او اجزاو په واسطه اشغال شوي دي. په طراحي کې بايد د فضأ په مثبت او منفي او د همغږي په هکله دقيق فکر وکړو او دا د طراح له معمولي دندو څخه هم ګڼل کيږي؛ دا ځکه، چې دقت په دغې مورد کې د طراح په ښکلا باندې ور زياتوي او ليدونکي راجلبوي.(۷:۱۲۸).

## 2. خط Line

د خط په اړه بحث په رياضي کې زموږ له نظره يو جلا مسله ده دلته خط د ګرافيک او طراحي له نظره د پاملرنې وړ ګرځي، څرنګه، چې په رياضي کې خط درې بعدي يعنې طول، عرض او ارتفاع دی او حجم هم لري؛ ولې د ګرافيک له نظره خط کولی شو يو بعدي اثر ونوموو، چې يوازينی بعد يې طول دی، د خط په طراحی کې ساده ترين عنصر پېژندل کيږي. د شکل له نظره خط کولی شي مختلف شکلونه ځانته غوره کړي؛ د سارې په توګه حرارت ورکړل شي يا مات شي او يا نور د مختلف حرکات سرته رسوي او ځينې محققان خط په ګرافيک کې په لاندې برخو ويشلی دی:

- عمودي خط هغه خط دی، چې فعال او قوي دی د تعادل او دريدو ښودونکی دی.
- افقي خط، هغه خط دی، چې ارام او پرته هيجان څخه (لکه انسان، چې ويده وي).

- کوږ خط، هغه خط دی، چې خپل تعادل یې له لاسه ورکړی وي (عصبي او مړاوی).
- زاویه لرونکی خط، هغه خط دی، چې د ګرځېدو مسیر یې په مختلفو وختونو کې تغییر کوي.
- نمایش لرونکی یا کنډو  یعنې کنډو کپر خط، د یو رنګي له تکرار څخه یا د ناهمغږۍ د خط څخه زاویه لرونکی رامنځ ته کیږي. د عصبانیت او خشونت څرګندونکی دی.
- منحني خط، دا د زوایې یوه برخه ده، نرم، خو لیدونکی پرته له خط څخه ارام ورکونکی د منحني خطونو حرکات کولی شي د شګلنې تپې پر سر مشاهده کړي.
- مندرج خط، هغه خط دی، چې د نامنظمو منحني خطونو له تکرار څخه رامنځ ته کیږي د اوبو څپې د مار د بدن حرکت.
- مارپیچي خط، د منحنیو تکراري، چې یوه محور باندې راګرځي.

څرنګه، چې د خطونو ډولونو ته اشاره وشوه د خطونو ډولونه رواني تأثیرات هم لري او دا تجربه شوي ده دخطونو د موجودو ډولونو څخه طبیعي خطوطه حاصله شوي وي، څرنګه، چې د سیند د غاړې افقي خطونه د غرنیو زاویه لرونکو خطونو سره یوه شان نه دي، د افق، تپو، او وریځو په لیدو سره د ارمتیا احساس کوو؛ څرنګه، چې د لیدلو مسیر د موانعو سره ټکر نه کوي او په ارامۍ سره خوځیږي، په داسې حال کې، چې د کتلو مسیر د غرنیو خطونو په لیدلو سره خپل د ارمتیا سیر له لاسه ورکوي او د ښکته او پورته حرکتونو څخه ستړي کیږي او ډار او سقوط د انسان په ذهن کې رامنځ ته کیږي. په همدې ډول موازي خط لکه کوږ شوی دیوال پر انسان باندې نامطلوب تأثیر لري؛ په انسان باندې د پاسه خط غږیز خصلت لري امکان لري د انسان مغز په دغو مواردو

کې متفاوت وي نو پردې اساس د مطلقه قاعده پدې مورد کې هم مشکله ده نو ذکر شوي نمونې په نسبي توګه کولی شو ومنو.(۱۲۹:۸).

### 3. شکل Shape

په قراردادي ډول په طراحۍ کې طول اوعرض اشکالو لرونکي دي پدې اساس؛ څرنګه چې دوهم بعد یې په ترسیمي هنرونو کې د فورم په محدوده کې منځ ته راځي، په طراحي کې اشکال دوه بعدي کیفیت لري. یوه ګروپ محققانو اشکال په دریو ډولونو تقسیم کړي دي:

- هندسي Geometric
- انتزاعي Abstract
- واقعي Representation

**هندسي اشکال:** لکه څرنګه، چې د هندسې او ریاضي کې پکار وړل کیږي لکه مربع، مثلث او نور.

**انتزاعي اشکال:** د هغو شکلونو څخه عبارت دي، چې په ذهني توګه د واقعیت ځای ناستی کیږي دغه قراردادي اشکال دي؛ لکه د دغو عددونو څو شکلونه دلته څو الوتونکي د الوتلو په حال کې ښکاره کوي.

**واقعي اشکال:** چې عیناً له واقعیت څخه تقلید کیږي او د ټولو مشخصاتو ځانګړو شیانو او پدیدو لرونکي وي ولې (داندییس) د شکلونو په اړه په زړه پورې بحث کړی دی هغه لیکي: برجسته خط شکل دی او د یو تصویر پیچلتیا د هغه د هنر  پوسیله بیانیږي د هغه په نظر درې اصلي شکلونه وجود لري (مربع، دایره او مثلث متساوي الاضلاع) او هر یوه د دغو دریو شکلونو خپلې خاصې ځانګړنې لري . هغه پدې باور دی، چې ورکړل شوي ځانګړنې پدې اشکالو او یا په ظاهري شکل د هغوی علت دی او یا د انسان په رواني

فزیولوژیکي دستګاه د عکس العمل په علت او یا هم د ځانګړو فرهنګي تعابیرو په دلیل؛ د ساريې په توګه مربع په بې حرکت حالت، صداقت، صراحت استاد انه ورکړل شوي دي. مثلث د جنګ فعالیت ښودل یو د بل سره دعوا کوي.

دایره بي انتهایي او محفوظه کیدل القأ کوي... د دغو دریو اصلي شکلونو په ترکیب سره کولی شو په طبعیت یا د بشر په ذهن کې ټول موجود شکلونه جوړ کړو.(۹:۱۳۱).

### 4. فورم Form

په بحث کې زیاتره ذکر شوي، چې فورم د درې بعدو لرونکي دي؛ البته ځیني فورمونه واقعاً د دریو بعد لرونکي دي؛ ولې یو شمېر نور فورمونه په واقعي توګه د دریم بعد لرونکي دي؛ ولې هماغه شان معلومیږي. د لومړي ډول فورم ته واقعي فورم Actual Form او دوهم ډول فرمونه یې ظاهري فورمونه Apparent Form نوموي. ظاهري فورمونه د سیورو او رڼا په واسطه په تصویر کې ایجادیږي او واقعي فورمونه هم باید د رڼا جهت او شدت ته پاملرنه وکړي؛ د ساریې په توګه د برجسته نمایش لپاره یا د هغې واقعي فورم نه ښکاریږي؛ البته د دریم بعد د رڼا په مرسته کولی شو ایجاد یې کړو؛ ولې د رڼا پکار وړنه هم ظرفیت لري، چې باید په دقت سره رعایت شي. هغه ډول، چې په واقعي فورمونو کې رڼا تیارو ته او تیارې رڼا ته په نرمۍ او اسانۍ سره تیریږي د دریم بعد په ایجاد کې دا ځانګړنه د رنګمایي په نظر کې نیولو سره باید په نظر کې وي.

### 5. سطح Surface

ټول عناصر د سطحو لرونکي دي او د سطحې کیفیت په طراحي کې د سطحې په ځانګړتیا، جنس او بافت پورې اړه لري، چې طرحه د هغې

پرمخ سرته رسیږي، سطحه کولی شو له دریو اړخونو (هوار، رنګ او ارزښت) تر مطالعې لاندې ونیسو.

رویه یعنې هوار یا ناهواره کیدل د سطحې رنګ د رنګ پکار وړنې او ډولونو پکې شامل دي او د رڼا او تیارو د ارزښت په مسلې پورې اړه لري. سطحه په دوه ډولونو هندسي سطحې او غیر هندسي سطحې ویشلي دي، هندسي سطحې؛ لکه دایره، مربع او نور او غیر هندسي سطحې، چې منظم شکل نه لري او له هندسي سطحې څخه پیروي نه کوي؛ لکه ټول موجود شیان په طبعیت کې، سطحې که څه هم هندسي وي یا غیر هندسي د مختلفو کیفیتونو او شکلونو لرونکي دي، چې عبارت دي له:

- هواري او مسطح سطحې؛ لکه: د مېز مخ، کاغذ، جاده، د حوض اوبه ...
- لوړې او ژورې سطحې د انحنأ لرونکي؛ لکه: تپه، سیند او .....
- پیچلي سطحې؛ لکه: مختلفي هستۍ او یا ځینې مجسمې ...
- ښیښه یي سطحې یا ترانسپران، چې رڼا او تصویر د هغې څخه تیریدای شي لکه: ښیښه یې سطحه، کاغذ، نازک رنګ....(۱۳۲:۱۰).

### ۴، ۱۱- په تلویزیوني خبر کې د ګرافیک کارونه

تلویزیون پرته له تصویر څخه منا نه لري نو پدې اساس د ټولو خبرونو لپاره پکار ده، چې کافي تصویرونه په واک کې ولرو. هغه تصویرونه، چې په تلویزیون کې د استفادې وړ ګرځي کله واقعي وي او یا ځینې وختونه مونتاژ

وي، چې د ځانګړو انعکاساتو په استفادې او سینمایي فنونو په واسطه دغه غیر واقعي تصویرونه تلویزوني خبر کې په (واقعي) کلمې سره د خبر په تعریف کې په تضاد کې ګڼي. د خبر په تعریف کې ویل شوي، چې خبر یوه واقعي پېښه ده، چې د څو خبري ارزښتونو لرونکي وي نو پدې اساس د غیر واقعي تصویرونو پکار وړنه د واقعي کلمې سره په تضاد کې راځي ولې ځیني اړتیاوې وجود لري او ناچار دي، چې ځینې د خبر جوړونکي دې ته اړ باسي، چې ګرافیکي تصاویر په خبر کې جوړ کړي. داځکه هغه څه، چې د خبر د نشر سرعت ایجابوي په تلویزیون کې فوراً د ټولو پېښو لپاره تصویرونو ته لاس رسي ونلري او یا هم هغې ته د لاس رسۍ حق ولري لکه محکمې او نور.

پورته ذکر شو، چې دهرې پېښې لپاره په فوري توګه د ځینو پېښو تصویرونه لاسته راوړو؛ لکه: د طیارې سقوط، د کښتۍ غرق کیدل، د ریل ګاډي خطا کیدل له خپل مسیر څخه، زلزله، او ر غورځونکي په لیرو سیمو کې، جګړه، چې ورته د خبرنګارانو ته تګ ستونزمن وي او یا ناممکن وي، یا لکه د پاکستان او افغانستان ترمنځ ځیني سرحدي سیمې او نور، ولې نشي کیدی، چې د تصویر د نشتوالي په صورت کې د خبرونو د خپریدو څخه صرف نظر وکړو، زیاتره تلویزیوني استیشنونه دا ډول خبرونه په ګرافیک تصویر سره خپروي او د تصویر د کمبود خلا یا شته د ګرافیک په مرسته ډکوي. پاتې دې نه وي، چې واقعي تصویرونه طلایي ارزښت لري؛ ولې دا ارزښت د حفظ لپاره نه شو کولی د تصویر لپاره منتظر پاتې شو.

د خبر مفهوم یا وړاندې  کولو کې ګرافیکي تصویرونه او د پېښې د پېښیدو د څرنګوالي لپاره اهمیت او زیات تأثیر نه برخمند دي. ګرافیکي تصویر په دوه ډوله دي: متحرک او ثابت. ثابت ګرافیکي تصویر د پېښې د بیان ساده ترین شکل دی. د ریل ګاډي، چې له خپل خط څخه انحراف کړي او خط شوی

ګرافیک يې کولی شي، چې ددې طریقې لپاره نمونه وي. متحرک ګرافیک لږ غوندې ستونزمن، ولې د لیدونکي لپاره جذاب دي. طیاره کله، چې له پرواز نه وروسته د اوقیانوس پر سر سقوط کوي ددې طیارې خط السیر د ګرافیک په واسطه ورڅخه استفاده په متحرک ډول ښودل کیږي.

د خبري ګرافیک طراحي باید له صراحت، عینیت او وضاحت نه برخمند وي دا د هغې د اساسي ځانګړونو څخه ګڼل کیږي یا په بل عبارت دا ډول ګرافیک پکار نده، چې تخیلي وي، چې د ابهام سبب ورګرځي.

دتلویزیوني خبرونو ګرافیست باید د خپل کار مواظب وي، څود واقعیت یا سراحت له رمزنه تیر نه شي او د کاریکاترونو او نقاشې نړۍ ته ور داخل نه شي.(۱۱:۳۳).

((د متحرک ګرافیک طرح باید د خبر په داخل د واقعیت سره اړخ ولګوي او د متحرکې نقاشۍ (کارتون) باندې له بدلیدلو څخه يې مخنیوی وشي، ګرافیست په خبر کې باید کوښښ وکړي، چې د رسنۍ د اطلاع ورکولو څخه مخاطب د سرګرمه کولو ځای ته د ماهیت تغییر ور نه کړي. ګرافیست د خبر مسؤل سره په همغږۍ په ابتکار لاس پورې کړي پدې برخه کې زیات کمپیوټري امکانات وجود دي))

له ګرافیک څخه نه یوازې دا، چې دخبري تصویر په نمایش کې ګټه اخیستل کیږي، بلکې ګرافیک نورې پکار وړنې د خبر په داخل کې هم لري، چې د هغو څخه نوم اخیستل کیږي.

کله د خبري مجموعې په داخل کې د ښه تفهیم لپاره له لیکنو او جدولونو څخه ګټه اخیستل کیږي، لکه د اسعارو نرخ، د آب هوا وضعیت، د انتخاباتو پایلې،

سپورټ او نور دي، چې په کلیشه یي توګه د هغو د نمایش او بیان لپاره ګټه اخیستل کیږي.

ځیني وختونه د هندسي اشکالو او جدولونو څخه د محوري خبر د امارو د ښودلو لپاره استفاده کوي؛ لکه: انتخاباتو پایلې، نفوس شمېرنه، د اقتصادي مسایلو د لوړوالي او راښکته کیدو مسایلو ښودل، د نظامي قوتونو ارایش، د نظامي قوتونو د پرېډ ښودل، چې له څو لارو حمله کوي او یا یې شاته ناسته کړې وي، د طوفانونو د حرکت ښودل او سرې جبهې ښودل او نور. په نورو ښو لکه: هغه پوښتنه، چې هره شپه  وربانديې د خبري سرویس په ختم کې بحث کوي یو له پیچلو موادو څخه؛ ولې د ګرافیکي اهمیت سره د مجازي سټوډیوګانو ایجادول د تلویزیوني خبرونه دي، چې له ګرافیک سره په اړیکه کې دي. څرنګه، چې مجازي سټوډیوګانې، چې نن سبا د تلویزیوني شبکو څخه مشاهده کیږي ډېر بډایي او له تجمل نه ډکې ښکاري، چې یوازې مسلکي کسان د هغې په مجاز باندې پوهیږي. په داسې حال کې، چې د عام لیدونکی د هغې پر غیر واقعي کیدو باندې حتا فکر هم نه کوي. ارم یا سیګنالونه د خبرونو سرخط او نور هم ګرافیکي کړنې دي. د ارم د موقعیت یا لوګو په اړه ډول یا خط یا فونټ، رنګ او ګرافیکي طرح عملي فکر وکړي؛ دا ځکه، چې نور ګرافیکي کارونه فن نه؛ بلکې یو هنر او پوهه ده. په اوسني وخت کې زیاتره رسنۍ په کال کې یو ځل د لیدونکو د ساتلو، جذبولو په منظور خپلې ګرافیکي طرحو ته تغییر ورکوي او نوي کوي یې، چې د (campaign) په نوم یادیږي. د ښه او بهتر درک لپاره ویل شوي خبرې د ګرافیک په مورد کې کولی شو د داخلي تلویزیونو خپرونو؛ لکه: اریانا، طلوع، اود  بهرنۍ شبکې، لکه: بي بي سي، سي ان ان، الجزیره، العرابیه او نورو ته دقت وکړو.(۱۱:۱۳۳).

**۴، ۱۲- د تلویزوني خپرونو د عنوانو ګرافیک**

ګرافیک هغه هنر دی، چې په لیکلي بڼه، چاپي بڼه، تصویري بڼه، طراحي او ... په تلویزیون کې پکار وړل کیږي. د ګرافیک د دوامداره استفادې په مورد کې د خپروني عنوانونه دې له هغې ځایه، چې د خپروني عنوانونه په مستقیم ډول د هغې د سبک او حالت نمایشګر دی، نو د بیا طرح، انتخاب، رنګ د حروف ډول او نور جزئیات په هغې پورې اړوند د خپروني د محتویاتو سره همغږي وي او له بل طرفه د خپروني د لیدلو لپاره تحریک کوونکي او جذب کوونکي وسیله وي. عنوان باید په مستقیم صورت او یو لاس پرته له نسبت پرکیدو او هدفنمند طرحه او تهیه شي؛ دا ځکه که چېرې عنوان او نور جزئیات د لیدونکي له خوا په ساده ګۍ سره ولوستل شي او تعقیب نه شي نو د لیدونکي سره به یې اړیکه ماتوونکي وي.

((په کلي توګه حروف جوړونه باید قوي او محکمه وي نه داچې ضعیفه او ماتوونکي بهتره ده، چې له باریکو او نازکو خطونو په پورته او ښکته حروفو کې او د حروف د سیوري ایجادولو څخه ډډه وشي؛ دا ځکه، چې دا ډول ګرافیکي جزئیات یا په تصویر کې نابودیږي او یا په ناخوښه ډول ایجادیدو هلې ځلې کوي. همدارنګه ډېر زیات وتلي حروف او لنډ خپله بڼه له لاسه ورکوي)).

کله، چې ګرافیکي طرحه له کلمو څخه ډکه وي، لیدونکي د هغې د لوستلو څخه ستړي کیږي او له بله طرفه دغه لیکنه د وخت له نظره باید هغومره د صفحې پرمخ باقي پاتې شي، چې ترهغې لوستونکی هغه ولوستلی شي؛ یعنې د سرعت له زیاد حرکت او تغییر څخه مخنیوی وشي تر څو ډېر لټ او تنبل لوستونکي هغه تعقیب کړی شي. کله، چې متن د ویاند لخوا قرئت یا لوستل کیږي باید د

متن لیکل، چې لوستل کیږي د هغې د لیکلو په طرحې سره، چې نمایش ته ورکول کیږي کاملاً یو شی وي.

دا چې ساده زمیني یو عنوان بندي مثبت تأثیر لري او یا هغه مړه او بې حرکته انعکاس کوي کاملاً د موقعیت او شرایطو پورې اړه لري. تزییني ( دز مینې یا بګرونډ د ځانګړي پیوند یا جلا طرحو لرونکي دي) کولی شي بصري جاذبې ته زیاتوالی ورکړي یا به مبهم او مغشوش کوونکي وي.

څو رنګه زمینې کیدی شي، چې د حروفو لوستل د ستونزو سره دچار کړي همدارنګه کله د خپرونې د عنوان بندي حروف د زمینې پرمخ ځای پر ځای شي، چې له بهر څخه ضبط شوي دي؛ لکه: چمن، خیابان، د ونې شاخونه او نور پداسې انتخاب کې هم امکان لري، چې د لیدونکي سترګې د اصلي سوژې څخه (عنوان) زمنیې ته جلب شي او د پیغام د لاسته راوړلو څخه غافل شي، نو باید د ورته رنګونو له غوره کیدو څخه د زمینې او حروفو لپاره ډډه وشي. حروف جوړونه په روښانه رنګونو سره نسبت تیټو رنګونو ته د لیدونکي په سهولیت تمامیږي. د زمینې لپاره نرم رنګونه یا خنثا نسبت لیر ګرځوونکو ته بهتر دي. ددې لپاره، چې اطلاعات په نمایش کې ناقص وړاندې نه شي د قاب په څنډو کې د جزئیاتو پر ځای کولو څخه باید ډډه وشي او کوښښ وشي، چې ګرافیکي طرحه، چې د لوحو او نورو وسایلو پرمخ جوړیږي نود مقابل لورى د انځور اخیستنه وشي.(۱۲:۱۳۵).

### ۴، ۱۳- د ګرافیکي تصویرونو ذهني او بصري تأثیرات

ګرافیکي تصویرونه د نیرو لرونکي دي د قاب جوړونې پروخت کې د زیباشناسي تیوري د نماګانو لپاره په نظر کې ونیول شي. د تشخیص وړ هر شی د ګرافیکي ارزښت او وزن لرونکي دي. یو پر لوي تینګ شي دواړه باید د

روښانه رنګ څخه ډېر ارزښت لري، چې د ناهواره ځنډو غاښ لرونکو؟ او نور یې عادي دي هغی شی زیات ارزښت لري، چې هواره او مدوره ځنډې لري. د واړه شیان کولی شي ، چې د یوه ستر شي معادل وزن ولري؛ حتا که د دواړو شیانو د واقعي اندازې مساحت وړوکی او اندک کم وي په ګرافیکي وزن سربېره یوه نیرو یي ګرافیکي شی هغه هم باید په نظر کې ونیسو. ګرافیکي نیرو تر یوه حدوده د ګرافیکي وزن څخه وتلي دي؛ ولې په حرکت پورې هم اړه لري. د ګرافیکي عامل په صورت انعکاس کوي. د ګرم رنګ لرونکي شیان (سور، ژېړ، نارنجي) او روښانه ډولونه ټول رنګونه ګویا د لیدونکي په طرف امتداد کوي دغه رنګونه د ګرافیکي وزن په لحاظ سپک په نظر کې راځي، یخ یا ساړه رنګونه لکه: آبي، شین، بنفش او تینګ ډولونه ټول رنګونه ګویا له لیدونکي څخه فاصله نیسي (بېرته کیني) دغه رنګونه د ګرافیکي وزن په لحاظ د رانده په نظر کې راځي (۱۳:۱۳۷)

پاتې دې نه وي د دغو نظریاتو په منځ کې هیڅ یوه عمومي قاعده د زیباشناسي په برخه کې مطلق نه ده؛ بلکې د تولید شوي خپرونې نهایي بڼه به وښایي، چې ایا غوره کیدل ښه وه که نه؟(۱۳:۱۳۶).

**۴، ۱۴- خبري بولیتن**

په تلویزیون کې خبري بولیټونه یو ترېله توپیر کوي. دولتي، ټولنیز او تفریحي چینلونه معمولاً دوه وخته خبري سرویس خپروي، چې د خبري بولیټن په نامه یې یادوي. خبریالان ټوله ورځ د ماښامني سرویس لپاره کار کوي او د راتلونکي ورځې په سهار په لږ توپیر او update سره بیا خپریږي.

خبري چینلونه خپل بولیټنونه هر ساعت چمتو کوي او ځانګړي بولیټنونه تر خبري ساعت Main Service یا ورته بل سرلیک خپروي. په دا ډول

بولیټنونو کې د خبر ټولي خواوې (سیاست، اقتصاد، ورزش، ټولنه، فرهنګ، ساینس، او پرمختګ) نغاړل کیږي او پر ځینو مسایلو ځانګړي کارپوهان راغواړي.

خبري چینلونه زیاتره لایف (ژوندۍ) خپروني کوي او د پیلیدو پروخت یې (د پیښې د ډول په پام کې نیولو سره) د لایف یا ژوندۍ خپرونو د میلمنو شمېرې زیاتیږي.

د ژوندیو خپرونو میلمانه او د هغوی لپاره ځانګړې شوی وخت په خبري بولیټنونو کې په پام کې نیول کیږي، خپرونې ټولې د یوه مهال وېش له مخې خپریږي او هر څوک خپل ځانګړی وخت کاروي. په خبري شعبو کې خبر لارښود News Director د خبر له مدیر سره په همغږۍ د خپرونو د تنظیم لپاره د دندو سافټ لایحه Assignment جوړوي او د همدې لایحې پر بنسټ د ویاندویانو د سختو لیډونو، رپوټونو او سوداګریزو اعلانونو وخت هم ښودل کیږي.

د خبري شعبې ورځینۍ او ارشیفي ډیټابیس په دفترونو کې یو تر بله سره توپیر کوي. اسوشیټډ پریس او یو شمېر نورې رسنۍ د خبر ي شعبې د تنظیم او شبکه یي جوړښت لپاره د ENPS په نامه یو پروګرام کاروي، خو الجزیره او یو شمېر نور چینلونه خپل ځانګړي Networks لري. د دا ډول سافټ ویرونو یا پوستکال ګټه داده، چې د ویاندویانو، او رپوټونو وخت پکې معلومیږي، خو ویاندویان او خبریالان هم اړ دي،چې دکلمه /ثانیه یا (word/sec) معادله په پام کې ونیسي. په دا ډول ډیټابس او منیتورنګ سره خبر لارښود ددې جوګه کیږي، چې د سرویس پر منځ کې ویاندوی ته پر پرامیټر نوي خبرونه / بیرني خبرونه او د خبرونو شیبه یي جزیات راوړي او یا په کوم خبر (راپورټ) کې د ستونزې

او مسلکي نیمګړتیا له امله هغه له نوم لړ (Run down) اوباسي، خبر خپرندوي News broadcaster ته ورکړل شوي خبر لنډیز یا نوم لړ (rundown) له مخې د خبرونو د خپراوي چاره پرمخ وړي.

خبرونه خبري بولیټن ته تر راتللو مخکې د خبر د ورستي ( News Gatekeeper) لاس غورچاڼ کیږي او بیا د خبري ارزښتونو پام کې نیولو سره نوم لړ کیږي (unusual) راښکون او د خلکو د پام اړونې ارزښتونه په پام کې نیول کیږي. (۱۶۹:۱۴).

د خبري بولیټن په جوړولو کې دوه مهم ټکي انډول Balance او چټکتیا pace په پام کې نیول کیږي.

**۴، ۱۵- انډول یا تنوع**

که تاسې د خپل بولیټن سرټکو ته یو کلتوري یا اقتصادي خبر غوره کړئ، ښایي مخاطبان مو چینل پرېږدي او نورو سرټکو پسې وګرځي. دا په دې منا هم نده، چې هر کلتوري او اقتصادي خبر ته په دغه ارزښت قایل شو. د اسلامي هیوادونو د کلتوري مرکز په توګه د غزني نومیدل د یوه فرهنګي خبر په توګه د بولیټن سرټکو ته ځي او ولسمشر په یوه اقتصادي غونډه کې ګډون او وینا کوي، خبر یې د رسنیو سرټکی ګرځي.

سرټکی د خبري بولیټن او مخاطبانو د اړیکو لومړنی پیل دی. ستاسې سرټکي هغه ته د پریکړې جرأت ورکوي، چې ایا له دغه تلویزیون سره پاتې شي او که په نورو چینلونو کې په خبرونو پسې وګرځي. (۱۷۱:۱۵).

تاسې ټول سیاسي او تاوده خبرونه هم په سرکې ته شئ راوړلی شی، دا ځکه، چې ټول مخاطبان مو د سیاست لیواله نه دي. که د بولیټن اوډون د خبرونو د

ارزښت پر بنسټ وي، د تنوع مساله یې باید د مخاطب پوهنځي د ارزښت ځای ونیسي. تاسې له دریو سیاسي او د پیښو له خبرونو وروسته په ځلورم خبر کې فیچر ته ځای ورکړی. کیدای شي د فیچر موضوع ټولینزه وي، او یا په ژمي کې د کډوالو بد وضعیت او بشري ناورین وي.

**۴، ۱۶- موضوعي او منطقي تړاو**

په بولیټن جوړولو کې د خبري برخې مسوولان د خبرونو ترمنځ موضوعي او منطقي دواړه تړاونه په پام کې نیسي. پر یوې موضوع دوه ځانګړي رپوټونه له تاسې نه د پرله پسې خپریدو غوښتنه کوي، خو که دوېیم رپوټ مو هم د وړاندې موضوع په تړاو وي نو مجبور یاست، چې د تړاویزو کلمو له لارې یې د دوو تېرو خپرونو سره ونښلوې. ولې دا مو باید په یاد وي، چې پر یوه موضوع له ډېرو څخه زیاتو رپوټونو ورکول د مخاطب زغم صفر ته رسوي.

په منطقي تړاو کې تاسې د موضوعاتو د وصل کیدو مساله څیړئ. که په سر کې د ځانګړي برید خبر جوړ کړئ او بیا ورپسې د ځانګړي برید د قربانیانو پر وضعیت فیچر ولولئ، د دریېم خبر رپوټ لپاره به د موسیقي د کنسرت خبر غوره کول منطقي کار نه وي، ځکه پدې صورت کې مخاطبان تاسې د احساس په نه درلودلو تورنوي. پداسې مواردو کې کوښښ کیږي، ټولینزه مساله، یا سیاسي او اقتصادي رپوټ خپور شي. (۱۶:۱۷۱).

**۴، ۱۷- څه ډول بولیټن پیل کړو؟**

په تلویزیونونو کې خبري بولیټنونه د څو ارزښتونو له مخې جوړیږي:

1. جغرافیایي نږدیتوب Geographical Proximity

ځینې رسنۍ خپل بولیټنونه د خبر او جغرافیایي او خبري ارزښت یعنې د دواړو په بنسټ برابروي. یعنې په سر کې د هیواد، ورپسې بهرني، اقتصادي او ورزشي رپوټونه راوړي. دا ډول بولیټن جوړوي، چې تربیتي ډول يې وګڼلی شو، چې دا په افغانستان یعنې زموږ په هیواد کې زیات رواج لري.

په سیمه ییزو ولایتي تلویزیونو کې د اړوندو ولایتونو مهمو خبرونو ته ځای ورکول کیږي (۱۷:۱۷۲).

2. لنډیز او سپړنه Descriptive

د سپړنیز بولیټن په جوړولو کې لومړی کورنیو او بهرنیو مهمو خبرونو لنډیز راوړل کیږي او بیا ورپسې تر یوه سخت لیډ لاندې د مهمو پیښو سپړنه کیږي.

دلته د بولیټن په پای کې د خبرونو سرټکي یو ځل بیا خپریږي او بولیټن په یوه دایروي جوړښت سره پای ته رسیږي. په دایروي بولیټن جوړښت کې، چې زیاتره په راډیو اوتلویزیون کې ورڅخه ګټه اخلي، دلته د مخاطب حضور او غیابت په نظر کې نیول کیږي او که څوک بولیټن ته ناوخته رسیږي، په سپړنیزه برخه او د پای په سرټکو کې پر مسایلو پوهیدلی شي.

کله کله د خبر خونې ته له (۱۰) نه زیات خبرونه راځي، خو تاسې یوازې (۳۰) دقیقې یعنې نیم ساعت وخت لرئ او په هغې هم پنځه دقیقې اعلانونه خپریږي.

په دغه وخت کې تاسې خپل ټول خبرونه وګورئ او په دریو کټګوریو يې وویشئ:

- مهم خبرونه (رپوټونه، فیچرونه او خبري کښوړې)، چې د بولیټن په سر کې راځي.
- لږ مهم خبرونه (رپوټونه، فیچرونه، او خبري کښوړې)، چې تر مهمو خبرونو وروسته راځي.
- بې اهمیت او تولیدي خبرونه (رپوټونه، فیچرونه، او خبري کښوړې)، چې ژر نه زړیږي او کولی شئ، چې سبا ته یې په بل خبري سرویس کې د ورځې خپاره کړئ یا یې پنجشنبې او جمعې ته پرېږدئ.

په دغه وېش سره تاسې کولی شئ، چې د خپل بولیټن لپاره مهم رپوټونه، فیچرونه او کښوړې غوره کړئ. په دایروي سبک بولیټن کې یوه یا دوې وقفې ورکول کیږي او تر هرې وقفې مخکې د راتلونکو خبري کیسو سرټکي وړاندې کیږي. په افغانستان کې د یک تلویزیون (۱ تلویزیون) خبري بولیټن تر ډېره د دایروي سبک په شان دي (۱۷:۱۷۳).

### 3. متنوع Multifarious

په دا ډول بولیټن کې د خبرونو جوړول د خبري ارزښت له مخې جوړیږي یا برابریږي او کورني، بهرني، اقتصادي او ورزشي نوعیت یې په پام کې نیول کیږي.

دا ډول خبري سرویس په بوختو حالاتو کې مخاطب جذبولی شي، یعنې کله، چې مخاطبان ډوډۍ خوري یا په کار بوخت وي، نوموړی بولیټن یې د کار مخه نه نیسي. هغه یوازې د خپلې خوښې خبر یا رپوټ ته منتظر پاتې کیږي او نور کار ورسره نه لري. نیمګړتیاوې یې دادي،

چې مخاطبان نورو چینلونو ته سر ورښکاره کوي او که هلته په ښو خبرونو برابر شي نو بېرته نه راګرځي.
دا ډول بولیټن جوړلو ته د سرچپه هرم او هرم په سبک جوړ بولیټن هم ویلی شو.
په بولیټن کې د خبریال له خوا ویل کېدونکي سخت لیډونه، چې عموماً ایډ یا انټرو بلل کیږي، باید راښکونکي یا د محتوا او د خبر د مهمو ټوکو غورچاڼ وي. بې خونده، له خبري ارزښتونو تش او بې محتوا لیډونه مخاطب نورو رسنیو ته په تېښته مجبوروي(۱۸:۱۷۴).

### 4. سرټکي Headlines

په راډیویي خپرونو کې سرټکي دریو دقیقو ته رسیږي، خو په تلویزیونو کې له ګرافیکي فرېم او خبري زیګنال Opener سره مل د سرټکو معمول شمېر له دریو څخه تر پنځو او وخت یې له (۷) څخه تر (۱۰) ثانیو پورې دی. له دې زیات شمېر سرټکي د مهمو خبرونو په نشتوالي کې د خبر د لارښود News Director ته ستونزې جوړوي.
په تلویزیون کې بې فعله سرټکي تر فعل لرونکو اغېزناک او د ویاندویونې په ژبه ښه راځي. په تلویزیوني خبرونو کې د بې فعله سرټکو جوړول یو څه ستونزمن کار دی او ډېر ځله یې په جمله بندۍ کې د خبر لارښود او د خبر مدیر زیات وخت تیروي، خو په فعل تما میدونکي جملو کې یو څه اسانه او په لیډونو کې موجود وي. برعکس په ورځپاڼو کې له دا ډول سرلیک جوړونې ډډه کیږي او اسانه هم دی.

ځیني کسان بیا لیډ د رپوټ نه راخلي او سرټکي بیا له لیډونو څخه، خو دا نه یوازې چې غیر مسلکي کار دی، بلکې د خبر او رپوټ پیغام هم له تکرار سره مخامخ کوي.

بې فعله لیډ: د هلمند په ځانمرګي برید کې ۹۰ کسانو ته د مرګ ژوبلې اوښتل.

دبې فعل پای ته رسیدلی لیډ: د هلمند په ځانګړي برید کې (۹۰) کسان مړه او ټپیان شول.

دبې فعله سرټکو جوړول قید او شرط نه دی، خو د افغانستان او یو شمېر نورو هیوادونو په ځانګړي توګه انګلیسي رسنیو او انلاین خبریالۍ کې دا ډول سرټکي رواج لري. په دغه ډول سرټکو کې د هیجان او پارونې شونتیا ډېره او د فعل د تمامیدونکو سرټکو په پرتله لنډ راځي.

خبرونه مثبت او منفي دواړه اغېزې لري، خو تاسې کوښښ کوئ، چې لیډونه او سرټکي مو په مثبتو ټکو پیل کړئ. مثبت ټکي مثبت ذهنیت زیږوي او دا د ټولنې پر وړاندې د خبریالانو مسوؤلیت دی. که تاسې وویاست، چې ((د تیلو بیه په یوه لیتر کې پنځه افغانۍ لوړیږي)) ښايي، چې زیات ټکسي چلوونکي ورباندې وځوریږي، خو که خپل سرټکي ((حکومت د تېلو بیې لوړوي)) ښايي، چې منفي اغیزیې هومره زیاتې نه وي.

تاسې باید په خپلو کلمو کې له بې اختیاطي څخه کار وانخلئ دا ځکه، چې هر کله منفي او مثبت دواړه ډوله غبرګونونه درولودلی شي. که چېرته د یوه مجرم غندنه کوئ، د هغه کورنۍ ډېره ورباندې ځوریږي، او هغه نور به ورباندې خوښ شي، چې ورته زیانمن شوي دي.

د خبريالانو دنده يوازې د واقعيتونو را پيدا کول او سپړل دي، قضاوت او بد ويل دا د مسؤلو ادارو، محکمو او نورو خلکو کار دی.
د يو بوليټن په پای کې د راښکونکو او په زړه پوري خبرونو ځايول مخاطب ته يو ډول ارامي وربښي او هغو دې ته اړ باسي، چې د خبرنو پای وګوري. د جرمني دويچه ويله تلويزيون پر خپل هر خبري سرويس کې دا کار کوي او که تاسې هر څومره غمجن خبرونه او راپوټونه اوريدلي وي، د يو بوليټن پای مو شونډو ته موسکا راولي (۱۷۵:۱۹).

**۴، ۱۸- ګرافيک په تلويزيون کې څه رول لوبوي؟**

ګرافيک په تلويزيون کې د تصوير په نشتوالي کې د خبر تر ټولو ستر ملاتړی دی.
تلويزيوني خپرونې زياتره په ګرافيک پيليږي او په ګرافيکي طرحو پای ته رسيږي. زياتره داسې پيښيږي، چې د خبر خونې ته د پيښو انځورونو ونه رسيږي، خو هغوی د نوموړي تشې د ډکولو لپاره ګرافيکي طرحې هم د پيښې نقشه اوباسي. د ارشيفي تصويرونو څخه غوره يې داده، چې د پيښو پر مهال خپلو اصلي بوليټنونو ته ګرافيکي طرحې ولرو، خو په سملاسي خپرونو کې نقشې پکار ورل کيدی شي.
د افغانستان د فوايد عامې وزارت، چې د پاکستان له طورخم څخه د ريل ګاډي د پټلی غزيدل د عربي متحده ايالاتو په بلاعوضه مرستو د نوي کال ۱۳۹۶ څخه پيل بيا مزار شريف او ترميز ته غزيږي. تاسې په دا ډول خبرونو کې يوازې داصلي سرچينې کلپ لرئ خو د ريوټ د ښکلا او تصويري کولو لپاره مجبور ياست، چې د طورخم څخه تر

مزارشریف او ترمیز پورې یوه خوځنده نقشه ولرئ. د ګول ځمکو یا Google Earth په راتګ سره د زیاتو ګرافیکونو ستونزې حل شوي او کولۍ شئ له دې نقشې نه په ګټه اخیستنې سره د سړک د پیل او پای نقطې سره ونښلوئ او دا هم ورسره ولیکي، چې له طورخم څخه یو موټر په څو ساعتونو کې مزارشریف بیا ترمزار ته او بېرته کابل ته را رسیږي.

ګرافیک عموماً په دوو برخو ویشل کیږي، چې یوه یې خبري ګرافیک دی او بل یې معلوماتي. پردې سربېره د ګرافیک نورې بڼې هم شته خو پدې بحث کې مو یوازې پر خبري او معلوماتي ګرافیک غږیږو (۱۷۶:۲۰).

### ۴، ۱۹- خبري ګرافیک کومه دنده پرمخ وړي؟

خبري ګرافیک د یوې پیښې پر خبر ي اړخونو رڼا اچوي او پېښه له تصویر سره یو ځای، یا پرته له تصویره وړاندې کوي. خبري ګرافیک زیاتره د اطلاعاتو د حجم د زیاتوالي پروخت، یا په لنډو ټکو کې د مخاطبانو لپاره د زیات څه ورکولو په موخه کارول کیږي.

د رویټرز تلویزیون یو شمېر ویډیو ګرافیکي طرحې، چې ترې ډې 3D او ټو ډي 2D ګډو بڼو جوړیږي د مخاطبانو لپاره خورا راښکونکي دي. هغوی د ډیورند په دواړو غاړو کې کله نا کله د پېښو ګرافیکي خوځنده تصویرونه ورکوي، چې نظر ارشیفي تصویرونو ته زیات راښکونکي دي.

پر تصویرونو سربېره، په تلویزیون کې ببلا ببل جدولونه، ګرافیکي نقشې، ګرافونه، اسعارو بیې، د اوبو او هوا حالت پکې ښودل کيږي، چې دا ټول په ګرافیک کې را غونډيږي. په رپوټونو کې د ګرافیکي طرحو کارول رپوټونو ته ښکلا او راښکون ورکوي. تاسې، چې په متن کې د یوې پېښې ارقام یا نوملړ وړاندې کوئ د مخاطبانو لپاره به زیات په زړه پورې نه وي، خو که دا کار په ګرافیکي طرحو کې وړاندې کړې راښکون به یې یو پر دوه وي.

د تلویزیون زیاتره خبري زیګنالونه Openers، تصویرونو لپاره فریم، د تلیفوني اړیکو او خبریالانو د ژوندۍ او ثبتي رپورټ ورکوي ګرافیکي چوکاټ، خبري ټایټل، تیکر او دا ډول نورې چارې د څانګو د مدیرانو سره په مشوره په ګرافیک خونه کې ترسره کيږي. په ګرافیک کې د برخې مسؤلان د رنګونو په انتخاب او اډون کې له نورو زیات رول لري دا ځکه، چې زیاتره رنګونې د ګرافیک د برخې کار دی.

ګرافیک په تلویزیون کې له تصویر وروسته، د مخاطبانو د جذب دوېیمه وسیله ګڼل کيږي. دغه ارزښت د رسنیو چلوونکي ښه درک کړي، دا ځکه، چې په هرو دریو– شپږو میاشتو کې د خپرونو په ګرافیکي طرحو کې بدلون راځي. د ټولو خپرونو پېژندګلویز تصویرونه یا هم زیګنالونه او پروموګاني بدليږي او په نوي بڼه جوړيږي. په تلویزیون کې خبري زیګنال opener او د سرویس بیرني خبر زیګنالونه او موسیقي زیات رول لري، ځکه مخاطبان له دې موسیقي او زیګنال سره د خبر ارزښت درک کوي او سمدستي خپل پام ور اړوي. څومره چې د تلویزیون زیګنال opener او

موزیک په زړه پوري او د هغوی خپل کمپوز او تولید وي، هومره د رسنۍ په راښکون کې رول لوبوي. په افغانستان کې د زیاتره رسنیو زیګنالونه او ګرافیکي طرحې په تقلید او Templates یا تیارو طرحو ولاړې دي،خو که د copyright مساله رابرسېره کېږي رسنۍ له قانوني تعقیب سره مخ کیدی شي.

د خبري زیګنالونو ګرافیک او موسیقي تر ډېره په خپل حال کې ساتل کیږي او تر هغو چې د نشراتو مشرتابه ډله د هغه پر بدلیدو پرېکړه ونه کړي، نوی زیګنال نه خپریږي.

زیاتره چینلونه کوښښ کوي، چې دا ډول پېژنګلویز زیګنالونه یې تر زیات وخت پورې دوام وکړي، خو که د مخاطبانو ارزونې په پایله کې مشوره دا وي، چې بدل شي، خبري زیګنالونه او د تلویزیون لوګو یا برانډ هم بدلیږي (۲۱:۱۷۷).

### ۴، ۲۰- خبري ګرافیکي طرحې څه ډول جوړې شي؟

خبر په ساده او روانه ژبه د واقعیتونو بیان دی. تصویر او ګرافیک د دغه بیان د ښه رسیدو په خدمت کې دی. ګرافیک باید دومره ژور او پیچلی نه وي، چې مخاطبانو ته د پیغام په انتقال کې ستونزې پیدا کړي، یا د خبر له متن سره په واقعیت کې متفاوت عمل وکړي.

په خبریالۍ کې د تخیل پکار وړلو یا کارولو بندیز نشته، خو تخیل باید د واقعیتونو او حقایقو په خدمت کې وي او تر سیورې لاندې یې را نه ولي. ګرافیکي طرحې کاریکاتور نه شي، بلکې پداسې بڼه تولید شي، چې مخاطبانو ته یوازې د پیښې پیغام ورسوي. که چېرې تاسې د

رویټرز تري ډي (3D) ویډیویي ګرافیک وګورئ، وسله وال جنګیالي، د پښتو قربانیان او نو راړخونه پکې داسې انځور کیږي، چې د سوژې (کس، اړخ، اداري او ...) د سپکاوي، اړخ نیوی تائید او ډول پکې نه انګیرل کیږي. په ګرافیکي طرحو کې د کاریکاتور پر لوړ تمایل ددې سبب ګرځي، چې خبري اړخ یې شعوري یا غیر شعوري تبلیغاتي بڼه غوره کړي.

کیدای شي یو شمېر ګرافیک کاران کوښښ وکړي، چې خپله طرحه راښکونکي کړي او مخاطبان پرې بوخت وساتي، خو ګرافیک خبري ماهیت له منځه وړي او مخاطبان هم د خبر پر ځای د کاریکاتور په تصویر کې ډوبیږي یا غرق کیږي (۱۷۹:۲۲).

### ۴، ۲۱- معلوماتي ګرافیک Info graphic

په تلویزیون کې پر خبري ګرافیک سربېره یو بل ډول ګرافیک هم کاریږي، چې انفوګرافیک Info graphic یې بولي. انفوګرافیک عموماً د معلوماتو په موخه کارول کیږي، نوموړي معلومات کیدای شي د شینوارو د غني خیلو په ولسوالیو کې د القاعده او طالبانو د ۳۵ وژل شوي مشرانو نوملړ او نیټې وي، یا د مرګ او ژوبلې کلنۍ رپوټ او د سیلانیانو لپاره د ښار نقشه او لارښود. پردې سربېره انفوګرافیک د څېړنې، کلیزو رپوټونو اعلان، د ژورو او پیچلو اطلاعاتو د اسانه څېړولو او ګڼو نورو موضوعاتو په اړه څېړیږي. د انفوګرافیک اصلي موخه مخاطبانو ته په اسانه او لنډه توګه د سختو او پیچلو معلوماتو رسول دي.

ګرافیک هم د رسنیو څرګندتیا ته په پام په هره رسنۍ کې ځانته بېله بڼه غوره کوي. په تلویزیون او انلاین رسنیو کې موږ له خوځنده dynamic یا motion او په انلاین کې هم خوځنده او interactive یا تعاملي ګرافیک کاریږي. راډیو، چې د لیدو وسیله نه ده، ګرافیک په کې نه کاریږي(۲۴:۱۸۰).

**۴، ۲۲- نوې تکنالوژي او تلویزیون**

د تکنالوژي په پرمختګ سره او په رسنیزو وسایلو کې نوموړي تکنالوژي په کارونې د تلویزیوني خبریالۍ یو شمېر ارونه، اخلاق Ethic Codes ټولو برخو کې وي لکه: اخلاق Ethic Code او اصول بدل کړي دي. دتلویزیون لپاره د مخاطبینو پروني تعریف د انترنیټي تلویزیون او نویو تلویزیوني وسیلو په رامنځ ته کیدو سره بدلولو ته اړتیا شته او د بدلون وړ دی ځکه، چې پرونیو مخاطبانو تلویزیون په کور او دفتر پورې منحصراوه، خو نني مخاطبین د تلویزیون د خپرونو په کتلو کې خپلواک دي او هر وخت او هر ځای او آن په خپل ګرځنده تیلیفون کې یې هم کتلی شي. پروني مخاطبین مجبور وو، چې د چینل د بدلولو لپاره له خپل ځای څخه پورته شي تنۍ یا تکمه یې ورکښیکاږي، خو نن سبا دا کار د ریموټ له لارې سرته رسیږي. یو شمېر کمپنۍ پردې باندې کار کوي، چې څنګه تلویزیون د ریموټ پر ځای د سترګو په حرکاتو کنټرول کړي. په دغې پرمختګ سره د رسنیو مسؤلان او تولیدونکي دې ته اړ باسي، چې پر خپلو خپرونو لا زیات کار وکړي او د خپلو مخاطبانو غوښتنې په پام کې ونیسي. (۲۴:۱۸۱).

**۴، ۲۳- انټرنېټي تلويزيون IPTV**

د انټرنيټ د اسانيتاوو په رامنځ ته کيدو سره اوس د تلويزيون مخاطبان د نړۍ په هر ګوټ کې دي. انټرنېټي تلويزيونونه، چې د نوي عصري دتکنالوژۍ لاسته راوړنه ګڼل کيږي، د انټرنيټ له لارې د تلويزيون منځپانګه په ډيجيټل بڼه ويشي.

ITV پر انټرنيټ د يوه انټرنيتي پروتوکول IP له مخې خپرونې کوي. نوموړی پروتوکول ليدونکو ته واک ورکوي، چې په تلويزيون کې د خپلې خوښې وړ خپرونې وګوري. دا ډول تلويزيون د wimax, Wi-Fi, AOSL کيبلي او سپوږمکۍ انټرنيټ له لارې د ليږد او خپريدو وړ دي. انټرنيټي تلويزيون ته Online TV, IPTV او يو مقدار نور نومونه هم اخلي. په انلاين تلويزيون کې په دوو لارو خپرونې کيږي يو له کمپيوټري شبکو له لارې P2P دي، چې په نړۍ کې زيات رواج لري. دوېيمه لار يې د خپلواکې ويب پاڼې درلودل دي، چې ډېر زيات رواج نه لري او مخاطبان يې هم کم وي.

زياتره رسنۍ همدا اوس هم د دويزو خپرونو ترڅنګ يو انټرنيت انلاين ژوندۍ خپرونې لري او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ليدل کيږي. مخاطبان يوازې د انټرنيټ او ميډيا پليير له لارې له کمپيوټر نه نيولي تر موبايل او iPod پورې بېلا بېلو سکرينونو د تلويزيونو ژوندۍ خپرونې کتلی شي. که تاسې د ايفون Apple Store ته لاړ شئ، د بېلا بېلو شبکو انلاين نسخې ډاونلوډ کولی شئ او کولی شئ له ادرس ورکولو نه پرته يې هره شيبه د خپل ايفون په ښيښه وګورئ.

د انلاين تلويزيونونو اوسنۍ نيمګرتيا داده، چې د مخاطبانو په زياتيدو سره يې تصوير خپل کيفيت له لاسه ورکوي او انټرنيټ، چې کمزوری وي، تاسې د خپل ذوق سره سم خپلې خپرونې نه شئ کتلئ، خو د نوري فايبر Fiber optic

انټرنيټ په پراخيدو سره دغه ستونزه اواريږي او څومره، چې نوري فايبر غځيږي، د انټرنيټي تلويزيونونو خدمات به هم ورسره ښه کيږي. سرخط له انټرنيټ سره به د سيالي په عصر کې چاپي خپرونو او راډيويي شبکو خپلې آن لاين نسخې او خپرونې پيل کړي دي او دې کار د هغوی ژوند وژغوره. په اوسني عصر کې، چې وګړي تر زيات حده په انټرنيټ کې بوخت دي او د کيبل او سپوږمکۍ له لارې خپرونې د تلويزيون پر وړاندې يو ګواښ بلل کيږي، نوموړي شبکې هم په دې لټه کې دي، چې په انلاين خپرونو په انټرنيټ کې بوخت مخاطبان له ځان سره ملګري وساتي. انټرنيټي تلويزيون د کيبلي او سپوږمکۍ خپرونو پر وړاندې د تلويزيون خپرندويانو د سيالۍ مهم او اغيزناک ګام د يادو شبکو لپاره د خطر زنګ دی.

په انټرنيټي تلويزيون کې مخاطبان د رسنيو پرمتون يا Information Bank ته ځي او له خپلې خوښې سره سم خپرونې ګوري. همدا راز که وخت نه لري کولی شي د شتو امکاناتو په رڼا کې خپرونه د ځان لپاره ذخيره (ثبت) کړي په دې صورت کې مخاطب مجبور نه دی، چې د خپلې خوښې وړ خپرونې (خبر، بحث، مرکې، ډرامې، سريال) لپاره ټول کارونه پريږدي او تلويزيون ته کښيني. د لايف سټوډيو په پرتله د IPTV يوه ښوالی داده، چې د خپرونې د سملاسي ثبتولو لپاره د ډيجيټل ثبت اسانتياوې (VCR) لري. تاسې په دغه تلويزيون کې د يوې خپرونې د ليدو پر وخت نور د اړتيا وړ شيان او خپرونې هم لټولی شئ او کولی شئ پر يوه وخت نورو چينلونو ته هم لاړ شئ. په انټرنيټي تلويزيونونو کې تاسې کولی شئ خپرونې ودروئ، وځنډوئ، يا يې تيره کړئ او په خپله خوښه يې وګورئ.

همدا اوس په نړۍ کې د IPTV د مخاطبانو شمېر تر ۲۰ ميليونو لوړ دی او دغه شمېر ورځ تر بلې مخ پر ډېريدو دی. په انلاين تلويزيون کې مخاطبان د

خپرونو په لیدو کې د انتخاب ترڅنګ، د خپرونو، فلمونو او اعلانیدنکو توکو د اخیستلو امکانات هم لري. که د چا کومه سندره خوښیږي، پر انټرنیټي تلویزیون یې ټول جزئیات ویني او کولی شي وایې خلي. په افغانستان کې لومړنی انټرنیټي تلویزیون Globox Tv دی، چې د ورځې دوه ساعته خپرونې کوي او هره خپرونه یې د ۱۰ څخه تر ۱۵ دقیقو پورې وخت نیسي. د انلاین تلویزیون په رامنځ ته کیدو سره د خپرونو وخت، خبري، خپرنیزو ځانګړنو، څرګنتیا، پوښښ سیمې، د مخاطب د ډول او عمر په تړاو تاکل شوی ارونه هم مخ په بدلیدو دي، ځکه، چې په انلاین تلویزیون کې د انلاین رسنیو د تګلارو په رڼا کې د مخاطب وخت او پر کمپیوټر د تصویر د لیدو، یا د متن لوستلو په پام کې نیول کیږي او ښایي دلته یو ساعت او (۹۰) دقیقې مناظره وړ نه وي (۱۸۲:۲۵).

**E ډوله لید**

په انلاین رسنیو کې د مطالعې بڼه په F,L,E,O ډلوونو ویشل کیږي، دا کار په انلاین تلویزیوني خپرونو کې هم شوني دی. په E ډوله مطالعه یا لید view کې لوستونکي د متن په سر کې مهم ټکي لولي، چې موږ یې په سخت لیډ تعبیروو. دوییمه برخه منځ او دریمه پای دی یعنې مخاطب په دا ډول مطالعه او تصویر کتو کې پیل، منځ او پای ګوري. که دا درې برخې راښکونکې وي، مخاطبان د ټول تصویر او خپرونې لیدو ته جذبوي، خو که راښکونکي نه هغه یوازې پر خپرونه سرسري نظر اچوي او یا بلې خپرونې یا بل چینل ته ځي. (۱۸۵:۲۶).

**L ډوله لید**

په انلاین رسنیو کې دا ډول مطالعه او د تصویر لیدل د رسنیو لپاره تر ټولو بده وضع انځور وي.

په دا ډول مطالعه او لید کې مخاطبان له لومړني تصویر او متن نه وروسته ټول تصویر او متن پرېږدي او پای ته ځي. دا لکه د خبر لیکنې تاریخي سبک، چې هر څه پکې پای ته ساتل کیږي او مهم شیان یې په پای کې کتل کیږي. د انلاین تلویزیون لیدونکي په دا ډول لید کې د خپرونې پیل ته ګوري ځکه، چې مهم توکي پکې نه شي موندلي، خو ګوري، چې د خپرونې په پای کې مهم څه شته او که نه؟ که چېرته یې پیدا کړل کیدی شي ستاسې خپرونه له سره وګورئ او که راښکونکي کومه شی یې پیدا نکړل په یوه کلیک یې تړي (۱۸۴:).

**F ډوله لید**

په دا ډول لید کې مخاطبان ستاسې د خپرونې پیل (سخت لید او د موضوع سپړل) ګوري او نوریې نه ګوري. د مخاطبانو د راښکون لپاره ښه لاره داده، چې پر دغو دوو برخو ډېر زیات کار وشي، ځکه د دغو برخو له کتلو وروسته مخاطبان تصویر / متن پای ته ځي، تاسې باید په لومړنیو دوو پړاونو کې هغه مجبور کړئ، چې خپرونه او متن مو تر پایه وګوري یا ولولي (۲۷:۱۸۵).

**O ډوله لید**

په دا ډول لید کې مخاطبان په سر سري نظر له سر تر پایه پورې خپرونه / متن ګوري، بیا بېرته د پیل ټکي ته ګرځي. کیدای شي په دغه پړاو کې د ټولې خپرونې د نه لیدو یا متن د لوستلو پرېکړه وکړي او دا د دایروي سبک په شان په همدې کتلو او مطالعې بسنه وکړي. په انلاین تلویزیون / رسنیو کې مخاطبانو د لید او مطالعې E او O بڼې مهمې دي، ځکه پدې دوو لید ډولونو کې هغوی په خپرونه یا متن کې پاتې کیږي او د پای ته رسونې، یا بیا کتلو / لوستلو پریکړه کوي.

د انلاین رسنیو لیکوالان او تولیدونکي باید د مخاطبانو د لید ډول او د مطالعې څرنګتیا ته په پام سره خپرونې تولید کړي. دلته د نویو خبري ــ تولیدي سبکونو اړتیا نشته، خو د وخت او نړیوال مخاطب په پام کې نیولو سره باید په تولید کې د هغوی د لید ډول په پام کې ونیول شي. (۱۸۵:۲۸).

**۴، ۲۴- ویب تلویزیون Web TV**

په ویب تلویزیون Web TV کې زیاتره رسنۍ د یوتیوب په شان ویډیو شریکوونکو سایټونو کې خپل اکاونټونه خلاصوي، یا هم په خپله ویبپاڼه د تلویزیون ثبتي او ژوندۍ خپرونې ورکوي. په دا ډول تلویزیوني خپرونو کې تاسې یوازې د خپلې شبکې تولیدي خپرونې ورکوي او د انلاین مخاطب لپاره کوم ځانګړی فورم او سبک نه غوره کوي (۱۸۶:۲۱).

**۴، ۲۵- ژوندۍ بهیر Live Stream**

په لایف سټریم یا ژوندۍ بهیر کې د تلویزیون او راډیویي خپرونې په ژوندۍ بڼه پر اړوند ویبپاڼه خپریږي. په لایف سټریم کې مخاطبان د یو شي د کاپي کولو جوګه نه دی او هر څه په مستقیمه توګه ګوري او اوري. د نړۍ ټولې لویې یا سترې رسنۍ لایف سټریم خپرونې لري. د لایف سټریم او عادي تلویزیون ترمنځ توپیر نشي ځکه خپرونې د مخاطبانو له مداخلې پرته د خپل مهال وېش مطابق خپریږي، خو امتیاز یې دادی، چې تاسې یې هر ځای په خپل ایفون، ګلیکسي، ایپډ او کمپیوټر کې لیدلی شئ.

د ustream په شان شبکې، چې لایف سټریم خدمات ترسره کوي د خپرونو په مقابل کې خپل ځانګړي فیسونه لري. د افغانستان یو شمېر شبکې پر ustream خپرونې کوي.(۱۸۶:۳۰).

**۴، ۲۶- ځيرک تلويزيون Smart TV**

د تکنالوژي او تلويزيوني خپرونو په پراخيدو سره د تلويزيونونو بڼې (کورنۍ دستګاوې) هم بدلې شوي او د Smart TV او درې بعدي په نومونو نوي تلويزيونونه بازار ته راوتلي دي. په دا ډول تلويزيونونو کې کمپيوټري اسانتياوې نصب شوي او اخيستونکو او کارونکو ته د انټرنيټ له لارې د يوې خپرونې د کتلو، انټرنيټي لټون او IPTV امکانات ورکوي.

په دغه تلويزيون سره تاسې کولی شئ د SET-TOP BOX د وسيلې له نصب کولو پرته خپلې اړتيا وړ خپرونې پر ټاکلي وخت ثبت کړئ او بيايې وګورئ. همدا راز له دغه تلويزيون نه کمپيوټر ته غږ او تصوير ليږدول کيږي او تاسې هم هلته ذخيره کولی شئ، تاسې دې ته اړ نه ياست، چې سندرې يا د خپلې خوښې خپرونې ډاونلوډ کړئ او بيا يې په خپل کمپيوټر يا هارډ ډيسک کې ځای پر ځای کړئ. د Smart TV له لارې تاسې يادو خپرونو او په يوټيوب او نورو شبکو کې سندرو او ويډيوګانو ته په مستقيمه توګه ځي او د تلويزيون په پرده يې ګورئ. همدا راز دا تلويزيون تاسې ته د سکايپ له لارې د خبرو او اترو امکانات هم درکوي.

په نويو تلويزيونونو، موبايل او کمپيوټر کې، چې د اپل او سامسنګ په شان مشهورې کمپنۍ پرې کار کوي دا امکانات سنجول شوي، چې څنګه مخاطبان پر يوه سکرين په يوه وخت څلور يا شپږ تلويزيوني شبکې وګورئ، خبري سرويس او بحث وګورئ او د نورو خلکو نظرونه پرې را واخلئ. د دا ډول پرمختګ هيله په راتلونکو کلونو کې لا ډېره ده او تلويزيوني شبکو او خپرندويانو ته دا واک ورکوي، چې د خپل بحث، مرکې او ګردي ميز ترڅنګ

په ټولینزو شبکو کې پر نوموړي بحث کیدونکي بحثونه او د خلکو نظرونه هم خلکو ته په پرده وښایي (۱۸۷:۳۱).

**۴، ۲۷- له انالوګ نه د دیجیټل پر لور**

موږ دوه ډوله تلویزیونونه لرو، چې یو یې دیجیټل دی او بل یې انالوګ دی.

په انالوګ سیستم کې تصویر او غږ په بریښنایي ولټیج بدلیږي او بیا د هوا څپو ته استول کیږي؛ خو په دیجیټل کې تصویر د صفر او د کمپیوټر په څهره کې راځي او بیا د دیجیټلي وسایلو له لارې خپریږي. په افغانستان کې او ګڼو نورو هیوادونو کې عادي کورني تلویزیونونه په انالوګ سیستم عیار دي او که خپروني دیجیټل کیږي، SET-TOP BOX اړونکو یا converter باید ورته ولګول شي. په دیجیټل سیستم کې د نورو تلویزیوني شکبو د زیاتوالي ترڅنګ موږ دا امکان لرو، چې دتصویر او غږ کیفیت ورسره لوړ شي، راډیو جوړه شي او د ړندو او کڼو لپاره نوي خدمات وړاندې شي. په افغانستان کې د مګړۍ د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ وزارت پر دیجیټل سیستم کار پیل کړی دی (۱۸۸:۳۲).

**۴، ۲۸- لنډیز**

دتلویزیوني ګرافیک نه موخه دا ده چې دپاملرنې وړ موادوڅخه ددقت وړ ګرافیکي طرحې ترکیب بندي ټول علایم اوعوامل یې دپکاروړنې وړ وګرځي،ترکیب بندي دانګلیسي ژبی معادل دي(composition)

اومعنا انتقالولولي شي،چې کلمي یې په مناسب ډول اودژبي داصولوسره مناسبي ځای پرځای شوي وي دګرافیک په طرحه کې همدغه بیلګه صدق کوي.نوپکارده.چې دګرافیکي طرحوپه ترکیب بندي کې آصول یا دطراحي

عناصرووپيژنو تلويزيون پرته له تصويرڅخه معنا نه لري.نو پدي اساس دټولو خپرونولپاره پکار ده، چې ښه زيات تصويرونه په واک کې ولرو.هغه تصويرونه،چې په تلويزيون کې داستفادې وړ ګرځي کله داتصويرونه واقعي وي.او ځيني وختونه بيا منتاژوي،چې دځانګړو انعکاساتوپه استفادي اوسينمايي فنونو په واسطه دغه غېر واقعي تصويرونه دتلويزيون خبرکې په (واقعي)کلمو سره دخبرپه تعريف کې په تضاد کې ګڼي.دخبر په تعريف کې ويل شوي.چې خبر يو واقعي پيښه ده.چې څوخبري ارزښتونو لرونکی دي نوپدي اساس دغيرواقعي تصويرونو پکاروړنه دواقعي کلمي سره په تضاد کې راځي.ولي ځيني اړتياوې وجود لري.اوناچاري دي،چې ځيني يې دخبرجوړونکي دي ته اړ باسي چې ګرافيکي تصاويرخبرکې جوړ کړي.داځکه چې هغه څه،چې دخبر دنشر سرعت ايجابوي په تلويزيون کې اصولاً دټولو پيښو لپاره تصويرونو ته لاس رسی نشي کيدلی اوياهم هغي ته دلاس رسي حق ولري.لکه محکمي اونور...

### ۴، ۲۹- ځلورم څپرکی پوښتني

لومړي پوښتنه: په ګرافیک کې تعادل څه ته وایې؟

الف: پورتني دریواړه پوښتني سمي دي.

ب: دمعلوماتو،اعدادو،او اطلاعاتو همغږي.

ج: په متن کې دټولو معلوماتو هر اړخیزه یوالي.

د: دموضوع اومحتوا هر اړخیزه توازون.

دویمه پوښتنه: دطراحي(خاکې)عناصرعبارت دي له؟

الف: اعداد،ارقام،شمیرې.

ب: پورته دري واړه سم دي

ج: تیاین،یوالي،همغږي،مکمله تشریح.

د:فضأ،شکل،خط فورم،سطحه.

دریمه پوښتنه: دګرافیکي انځورونو اغیزعبارت دي؟

الف: دلیدونکو،کتونکواولوستونکوپاملرني راجلبول.

ب: معلومات په مشرح ډول تشریح او وړاندي کول.

ج: دلیدونکولپاره دانځورونو،شکلونو،اعدادو،ارقامو په لنډ اودقیق اوهر اړخیزډول معلوماتووړاندي کول ترڅو لیدونکي ښه ورباندي پوه شي.

د: پورتني پوښتني دریواړه سمي دي.

ځلورمه پوښتنه: په رسنیو کې خبري بولیتین دورځي څو ځلي خپریږي؟

الف: په هر خبري ساعت کې دورځي خپریږي.

ب: سهار،ماښام په ډیرکم توپیرسره دمهمو پیښو په نظر کې نیولو سره خپریږي.

ج: په ورځ کې یو یا دوه ځلي خپریږي.

د: پورته دریواړه پوښتني سمي دي.

پنځمه پوښتنه: ګرافیک په تلویزیون کې څه ډول رول لوبوي؟

الف: انځورتشریح کوي.

ب: دمعلوماتو تفصیل وړاندي کوي.

ج: پورتني پوښتني دریواړه سمي دي.

د: دتصویرونو په نه شتون کې دپیښي ،معلوماتوپه اړه ښه واضح کوونکي عنصر ګرافیک دي داځکه چې هر اړخیزه معلومات په ډیرو لنډو ساده توګه وړاندي کوي.

شپږمه پوښتنه: خبري ګرافیک کومه دنده پرمخ وړي؟

الف: خبرته تازوالی وربښي او په ژوندۍ بڼه یې خپر وي.

ب: خبر ته ریښتینولي وربښي او حقیقت را څرګندوي.

ج: خبر له نورو لیکنو بیلوي او سوچه خبر خپروي.

د: خبر د ګرافیک د یوې پیښي په خبري اړخونو رڼا اچوي او پیښه له تصویر سره یوځای یا پرته له تصویر ښخه وړاندې کوي.

اومه پوښتنه: ګرافیک په تلویزون کې د کومې وسیلي په توګه کارول کیږي؟

الف: ګرافیک د مخاطبانو نظرونو او غوښتنو ته ځواب وایي.

ب: ګرایک د تلویزون لپاره د واقعیت او حقیقت منبع ده.

ج: ګرافیک په تلویزون کې د خبر د تائید او رد وسیله ده.

د: ګرافیک په تلویزون کې له تصویرنه وروسته د مخاطبانو د جذب دویمه وسیله ګڼل کیږي.

اتمه پوښتنه: د معلوماتي ګرافیک په تلویزون کې په کومو نومونو یادوي؟

الف: معلوماتي ګرافیک په تلویزوني خپرونو کې لیتو ګرافیک په نوم یادوي.

ب: معلوماتي ګرافیک په تلویزون کې د خبري بولیتین په نوم یادوي.

ج: معلوماتي ګرافیک په تلویزیون کې د انفو ګرافیک په نوم یادیږي.

د: معلوماتي ګرافیک په خبرونو کې د زنګو ګرافیک په نوم یادوي.

نهمه پوښتنه: په تلویزني خبرونکې د سرټکیو تعداد څومره وي؟

الف: شلو دقیکو ته ورسیږي.

ب: له شلو د قيقو څخه تر دېرشو د قيقو پورې وي.

ج: له پنځو د قيقو څخه تر اوو د قيقو پورې راسيږي.

د: له پنځه د قيقو څخه تر اوو د قيقو يا لسو ثانيو پورې وي.

لسمه پوښتنه: خبري ګرافيک بايد د کومو ځانګړونو نه برخمن وي؟

الف: د ليکلو شکل يعنې بڼه يې له نورو څخه جداوي.

ب: بايد له صراحت، عينيت او وضاحت برخمن وي.

ج: له تحيلي تصويرونه او نقشونه بر حمن وي.

د : د کاريکتو او نکاشي نه برحمن وي.

**۴، ۳۰- مأخذونه**


۱:سون،جرالدميلر.ترجمه:غلام رضاطبا طبايي.(۱۳۸۱).توليد وكاركرداني درتلويزيون.چاپ وصحافي:شركت چاپ ونشرليلي،تهران.

۲:ترجمه:رحيميان مهدي.(۱۳۸۰).فن برنامه سازي تلويزيون.انتشارات سروش ايران.

۳:حيدري،زبيح اله.(۱۳۹۰).رهنمايي توليد برنامه هاي تلويزيون،انتشارات عازم.كابل.

٤:سهار،نذيراحمد،(۱۳۹۰).تلويزيوني خبريالي.چاپ ځاي:اسد دانش چاپ خونه كابل.

٥:حيدري،زبيح الله.(            ).پيش طرحهاي توليدبرنامه تلويزيون.لكچر نوټ.پوهنتون كابل پوهنځي ژورناليزم.


| پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب |
|---|---|---|---|
| ۱ | الف | ۶ | د |
| ۲ | ب | ۷ | د |
| ۳ | د | ۸ | ج |
| ۴ | د | ۹ | د |
| ۵ | ج | ۱۰ | ب |

## پنځم څپرکی

### ۵، ۱- ویډیویي کیسټ (نوار)

**موخې**

۱: د دې لپاره چې محصلان او مېنوال د خپروني چمتوال وکولي شي. چې خپل راټول شوي توکي په ډاډمنه توګه ثبت او ضبط او د تخنیکي وسایلو سره پوره اشنایي پیداکړي اړ دي چې د ضبط او ثبت وسایل په مسلکي توګه زده کړي.

۲: محصلان مېنوال اوچمتوال د کیسټ د پېژندلونه وروسته پدې بانې قادر وي چې ویډیویي کیسټ تدوین کړی شي اوهم د تدوین لارې چارې زده کړي او د کمپیوټر ویډیویي دستګاه وپېژني د غږ تدوین وکړي شي او د خپروني لپاره عنوانونه جوړکړی شي.

۳: محصلان یا مېنوال پوره پوره هڅه وکړي تر څو د حرفو د تولید دستګاه د حرفه بندي ډولونه د کیسټو ډولونه د ویډیویي دستګاه ځانګړني په ښه توګه وپېژني او ور سره اشنایي پیداکړي.

ویډیویي کیسټ داسي جوړه شوې دي، چې استفادي وړ ستندردونو سره مطابقت ولري. د دغو کیسټونو مختلف ډولونه یودبل سره د تعویض وړ ندي. مقناطیسي کیسټ له مختلفو موادو څخه جوړي شوي دي. له هغې جملي څخه اکسید، پریکدي اکسید، کرومیواکسید، اود او اوکسید، فلزاوګامه. ویډیویي کیسټ په حلقه یې، کارتریج اوکاست بڼو موجود دي په دي وروستیو کې دوه ډوله وروستي یې یعني کارتریج اوکاست په تړلو قوطیو کې وي. او د هغي اسید یا ضرر ډېر کم دي د ویډیویي کیسټ تدوین د حرفوي تدوین ګرپه واسطه صورت مومي نوموړی شخص د ثبت شوي کیسټو سره سرو کار لري. چې په خپله د ضبط په

وخت کې تدوین شوي وي. پدي څپرکی کې د ویډیو کیسټ، د خپروني په تولید کې انعطاف، د ستندرد ستونزه، دویډیو کیسټ پر مخ ضبط څلورباندي جارو وهنه، مار پیچي جارو وهل، د ویډیو مقناطیسي صفحه، ویډیو کیسټ قالبونه، ویډیو کیسټ تدوین، فزیکي تدوین، الکترونکي تدوین، دالکترونکي غوڅونې په واسطه لاسي تدوین، دتدوین تنظیمونکی، دزماني رمز په استفادې سره د پیوند مقاطع دغیر مستقیم تدوین فنون د کمپیوټري ویډیویي د ضبط دستګاه، د غږ تدوین، ګرافیک په تلویزیون کې، دخبرونو د عنوان جوړونې نه مخه د حرفه بندي ډولونه د حرفو د تولید الکترونکي دسګاه په تدریج سره زمینه سازي د عنوان جوړونې لوحې حرکت غږ په تلویزیون کې اونورو برخو باندې پوره بحث شوی دی.

**۵، ۱- ویډیویې کیسټ (نوار)**

د تلویزیوني خپرونو لاسته راوړل له فني نظره د ویډیویي کیسټ پرمخ یوه ډیره پیچلي پدیده دي. ولې خوشبختانه په دې برخه کې تجهیزاتو او امکاناتو په تدریج سره د زیات تکامل د اطمینان وړ کارولو په لحاظ اوس ساده شوي دي.

**۵، ۲- د خپرونې په تولید کې انعطاف**

د یوې تلویزوني خپرونې د لاسته روړولو لپاره څو طریقې وجود لري:

۱:- د خپرونې مسلسل لاسته راوړنه: په نوموړې طریقې کې د خپرونې پیښه پرته له وقفې څخه لاسته راوړل کیږي، څرنګه چې د اصلاحاتو او یا هم د نظرتجدید لپاره ډ ېره اندک اړتیاوې د تولید نه وروسته مرحله کې او یا د تدوین په مرحله کې سرته رسیږي.

۲:- د خپرونې د هرې برخې لاسته راوړل په جلا ډول: په دغې طريقې کې د هرې پيښې يا صحنې لاسته راوړل په مختلفو وختونوکې.

۳:- د خپرونې نا مسلسل لاسته راوړنه: د لنډو برداشتونو لاسته راوړل کله نما په نما حتا کولی شو د يوې صحنې د يوې برخې زړه قاب په قاب لاسته راوړو.

۴:- د وخت د سيرتغيير: په دغې طريقې کې حرکتونو په سريع، ورو، معکوس او ثابت ډول لاسته راوړل کيږي، او کله هم د تيرشوي وخت د بيان لپاره د خپرونې لاسته راوړل په مقطع يعنې غوڅ شوي صورت سرته رسيږي، په زياترو تلويزوني سازمانونوکې خپرونه ددوو ويډيويې دستګاوو په واسطه لاسته راوړل کيږي يعنې په ويډيويي (V T R) کې لاسته راځی تر څو د فني مختلفو شکلونو د رامنځ ته کيدو په وخت کې په يوه دستګاه کې نمونه يې خپرونه وي. (۲۴۵:۱).

**۵، ۳- د ستندرد ستونزه**

سره له دې چې کولی شو صوتي سيګنالونه په مستقيم ډول د يوه صوتي مقناطيسي کيسټ (نوار) په اوږدوکې چې په معقول سرعت سره حرکت کوي لاسته راوړو. ولې دا طريقه د لوړو فريکا نسونو په مورد کې د ويډيو يي سيګنال د څپې طول مننونکي نه دي. نوپه دې وجه تنوع ابتکاري سيستمونه رامنځ ته شوي، چې په هغو کې ويډيويې څپې په (FM) سيګنال باندې بد ليږي د کيسټ په عرض کې د حرکت پروخت کې لاسته راځی يعنې ضبط کيږي، په دغې طريقه کې د ليکلو سرعت ډېر لوړوي په داسې حال کې، چې د کيسټ سرعت نسبتآ کم وي.

لومړنۍ مقناطيسي لاسته راوړنې يا ضبط (په څلور طريقو باندي) وه، چې د راډيو او تلويزيوني د مؤسساتوپه عنوان د تلويزيون د ضبط ستندردپه عنوان

ځای پرځای شوي دي. سره له دې، ساده ترین وسائیل ارزانه او انتقالولو ته یې اړتیاوه نو په دې اساس د یوه بل سیستم طرحه د (د مار پیچې جارو وهلو) په نوم په مختلفو قالبونوکې پراختیا موندلي وه. نوموړو د ستګاوو د انتقال وړ لاسته راوړنه د کار د علومو په زیاتره برخوکې ځان ثابت کړی، ولې څلور باندي ثابت تجهیزات په ښه ډول تصویري کیفیت نلري تر دې اخوا سره له دې چې د تکنالوژئ په پرمختک سره ستندرد دوامداره تصویرونو دا امکان ممکن کړی دی، ولې نوموړي تجهیزات تر اوسه د اشکلاتو لرونکي دي او د ضبط طریقه یي (مارپیچي جارو وهنې) په طریقه د یوه عمومي قالب څخه تابع داري نه کوي. (۲:۲۴۵).

**۵، ۴- د ویډ یویي کیسټ پرمخ ضبطه**

د ویډیو یي کیسټ (نوار) پرمخ ضبطه کولی شو په لاندې توګه خلاصه کړو:

1:- په بهترینو شرایطو کې، د ویډیویې کیسټې د اصلي ویډیویې تصویر څخه د تشخیص وړدي.

2:- د ویډ یویې کیسټ پرمخ د ثبت په مرسته کولی شو خپرونه ننداری ته وړاندې کړو ځینې وختونه کولی شو چې د ضبط پروخت کې هم خپرونه تر نظر لاندې ولرو.

3:- و یډیویې کیسټ کولی شو پاک کړو او دیوې خپرونې د ضبطه لپاره نور موارد هم د استفادې وړ ګرځي.

4:- ویډیویې کیسټ کولی شو په زیات شمېر سره پرته د فاحش اخلال څخه د هغې په کیسټ کې تکثیر کړو.

5:- ویډ یویي کیسټ کولی شو تدوین کړو، او د هغې نا رابلل شوي غیر اړینې برخې له خپروني څخه لرې کوو. د غه تغییرات د لو بغاړو اجرآ یوي کیفیت ته ښه والی ورکوي. د کیفیت په تدوین کې کولی شو اوږده مکثونه غیر اړینې برخې او پخ یعنې ورو د اهنګ ضربات (د بهرني غو ځوالي) په مرسته اصلاح کړو.

د ویډ یو یي کیسټ تدوین په تصویري تداوم کې د خپرونې تګ لوري (سیرکی) خورا زیات تا ثیر لري.

مخنیوي لپاره ددغې محدودې لپاره لازم دي چې په مایکروفون اضافه بار وارد نشي. (مایکروفون) له حده زیات د لوړ غږ سرچینې ته نږدې نه شي) او یا له حده زیات د صوتي سیستم د سیګنال تقویت څخه ډډه وشي. له بل طرفه د مایکروفون د ځای پر ځای کول په مناسب ځای کې او د سیګنال د لازم تقویت څخه ګټه او د سیګنال د ضعیف کولو څخه مخنیوی وشي. پکار نه ده چې د اصلي غږ تاثیر له منځه یوسو.

د خپاره شوي غږ ځانګړتیاوې: بیارغول شوي کولی شو، چې په مختلفو طریقو تنظیم کړو.

۱ـ د غږ لوړوالی، غږ په تقویت شوي تنظیم سره یا د مایکروفون فاصله.

۲ـ د غږ رنګ امیزي ـ د غږ رنګ امیزي کیفیت غږ کولی شو د برخو د تضعیف او تقویت برخې له صوتي طیف څخه او یا په ځینو مواردو کې د پیچلتیا د رامینځته کېدو لپاره قصداً تغیر ورکړو.

۳ـ د اکوستیکي انعکاس د مایکروفون ځانګړي او د هغې استقرار کولی شي د مستقیمو غږونو نسبت د اکوستیکي انعکاساتو سره تنظیم کړو.

۴ـ د اکوستیکي تدابیرونو په مرسته کولی شو ددغو احساساتو اندازه او کیفیت د تنظیم وړ دی. (۲۹:۲۰۰).

**۵، ۳۱ـ اوکوستیک**

**د سټوډیو اکوستیکي خواص له دوو اړخونو څخه د بررسۍ وړ دي:**

۱ـ د سټوډیو صوتي اکوستیک او په هغې کې جوړې شوې صحنې او دا چې څنګه غږ په سټوډیو کې رنګ امیزي کېږي او یا د هغې په واسطه انعکاس

مومي. دغه اړخ د سټوډيو پر طرحې پورې اړه لري اما اصولا بڼه او د صحنې شکل د صحنې مصالح د غږ دکيفيت تر تاثير لاندې راولي،

۲ـ کله چې د سټوډيو صحنه د واقيعت په اصل باندې جوړه شوي وي، لازم دي په هغه ډول غږ چې انسان د هغې د اورېدلو انتظار لري ورته پاملرنه وشي. د ساري په توګه د صحنې تصوير د سيند په غاړه د پڅواک لرونکي غږ سره تاثير اچوي، چې په سختئ سره قانع کونکی وي.

په راډيويي سټوډيو ګانو کې د راماتيدو محيط (اکوستيک) د کنټرول وړ دي. ولې په ټلويزيون کې انعطاف وجود لري.

د اړتيا وړ زياتره اکوستيکي اصول اشنا دي. هر غږ چې اورېدل کيږي د مستقيمو څپو څخه تشکيل شوي دي، چې زياتره يې د انعکاسي څپو د محيط سره ملګري وي ـ په ازاده فضا کې نوموړي حالت کم دی وي. د غږ سطحې زياتره تر يو حده جزبوي هغه شيان لکه بخملي پردې او قالين په شدت سره د غږ جزبونکي دي.

سختې سطحې لکه ـ کاشي کانې، لرګي او. . . زيات اواز منعکس کوي ولې دا ډول سطحې په ټولو فريکانسونو کې په يو ډول عمل نه کوي په داسې حال کې انعکاس شوی غږ د اصلي غږ پرتله د لوړ فريکانسونو څخه خالي دي. کله، چې د فريکانسونو په سطحه په دا ډول سره متمايز کوي، ويل کيږي چې د غږ انعکاس د رنګ اميزي شوي دي.

**د غږ د انعکاس ډول، چې د يوې سطحې څخه په لاس راځي په مختلفو عواملو پورې اړه لري:**

۱ـ د سطحې د صيقل کولو څرنګوالی ـ صافه، قهرجن، ناهواره.

۲ـ د سطحې بڼه مخ په زوړ یا څپه لرونکي.

۳ـ د سطحې جوړښت، ثابت، ځوړند یا نازک

که د جسم جوړښت نازک او نااستوار وي د حرکتونو په مقابل کې مقاومت ونه لري او فریکانسونه تشدید کوي او یا د هغو سره په لړزه کې راځي که چېرته محیط کاملاً د غږ جاذب وي، بې روحه او خفه ښکاري، په کې طنین وجود ونه لري او یوازې مستقیم غږونه اورېدل کېږي څرنګه چې د غږ جذب کم وي اصلي غږ قوي کوو او هغه لوړوو او کله چې دغه انعکاس د اصلي غږونو سره یو ځای شي نو غږ به ژوندي انعکاس وي. د انعکاساتو د قوي کېدو په صورت کې امکان لري چې اصلي غږ پټ او هغه ته مفهوم او ددرک وړ نکړي.

که د انعکاساتو سطحې په لیرې اندازه کې وي، چې د انعکاس شوي او مستقیم غږ د پیدا کېدو په منځ کې ددغو سطحو په واسطه د وخت تیریدو سره برابر دي د ۱/ ۱۰ ثانیو وجود ولري هغه وخت پژواک اورېدل کېږي.

پژواک تر حده زیات د اختلالاتو د رامینځته کېدو باعث په تکراري غږ کې کېږي د غږ کلي تاثیر نا مفهومه کوي نوموړې مواردو ته په نظر کې نیولو سره پیدا کوو د یوې ستوډیو جوړښت په وخت کې په کار ده چې د غږ انعکاس او ماتېدل په خپله خوښه په نظر کې ونیول شي کېدای شي د جاذبو موادو په وسیله دیوالونو او چت ته کموالی ورکړ شي. په دې اړه ښیښني مالوچ او سفنج زیات کارول کېږي. ددغو موادو او متحرکو سطحو په مرسته کولی شو د یوه محیط غږ ماتېدل تر هغې حده ده چې د موقعیت سره متناسب وي تنظیم کړو (۲۰۱:۳۰).

**۵، ۳۲- ژوندی سټوډیو (طنین نه ډکه)**

سره له دې چې له حده زیات پژواک ناخوښی دي ولې زیاتره غږونه که د طنین نه ډک نسبتاً د انعکاس نه ډک محیطونو کې واورېدل شي خوږ آهنګ کیږي په دغسې محیطونو کې د غږونو رنګ آمیزي او تقویت مومي.

د موسیقۍ غږ په ځانګړې توګه اصلاح کیږي د یو غږ د انعکاس د ژوندي کېدو د ژوندی جسم القا کوي له بل اړخه طنین لرونکي محیطونه اشکالات هم لري په دغه محیط کې سټوډیو هر ډول اضافي او مزاهم غږ لکه حرکت او کمرې ځای پرځای کول د کېبلونو کشول د تولیدي ګروپ په لاره تلل د سټوډیو تهیه کوونکو غږ یا د دوربین (کمرې) غږ آورېدل کیږي.

سره له دې ټولو په زیاتره موقعیتونو کې طنین لروکي غږونه په مناسبه شرایطو په نوي د سارې په توګه د سټوډیو نه بهر صحنې په داخل د اوتاقونه یا نقلیه وسائیل.

په کلي توګه بهتر دي چې پرته له طنین لرونکو سټوډیوګانو کې په کار ده، چې د مصنوعي طنین د تولید امکان وجود ولري ترڅو وکولی شو هغه د خپلې خوښې د اندازې سره سم د مستقم غږ سره مخلوط کړو دا ځکه چې د طنین د ترکیب امکان د خفه غږ سره وجود لري اما دطنین لرونکی غږلیدکول غېرممکن دي.

مړه سټوډیو (پرته له طنین څخه) په هغو محیطونو کې، چې طنین نه لري ښه نه منتقل کیږي له دې قبله نا رابلل شوي غږونه د تولید کمتره ښه اشکالوي. په دغه حالت کې طبعي دي چې د اکوستیلي شرایطو له نظره د سټوډیو نه بهر صحنې مناسب کیفیت لري.

د دې ټکي یادول لازم دي چې کار په سټوډیو کې د غږ د ماتېدلو له ( (نظره) ) مړ دي ډېر ناخوښه دي په نامطلوب علت د غږ د انتقال اړتیا اجابوي، چې لوبغاړي په لوړ آواز خبرې وکړي او ځیني وختونه د موسیقي غږوونکی د مختلفو وسایلو د شکلونو سره مخ کیږي (۲۰۲:۳۱).

په ځینو مواردو کې، چې دوربین یا کمره له موضوع څخه لرې کیږي د غږ د پوښښ په مورد کې ستونزې او د بوم د سیوري احتمال وجود لري په دې برخه کې د حساسو مایکرفونونو او کاملاً جهتو څخه ګټه اخیستل کیږي.

### ۵، ۳۳- مایکروفون

مایکروفون هغه اله ده، چې په راډیو کې لومړی مقام لري. نوموړي اله کولی شي صوتي امواج د برقي څپو په مشابه یاهم رنګه تبدیل کړي. یعنې په هره اندازه، چې برقي امواج تولیدیږي او په مایکروفون کې شدید یا ضعیف کیږي. کله، چې موږ یو پیچي سیم ته د مقناطیسي ساحې په داخل کې



(شکل ۵:۱) http://www. themandarin. com.

حرکت ورکړو په نوموړي پیچي سیم کې برق تولیدیږي. مایکروفون هغه اله ده، چې د هغې په داخل کې یعنې په مقناطیسي ساحه کې پیچي سیم حرکت کوي نوموړی پیچي سیم د هغې پردې سره، چې ممبران نومیږي اړیکه لري کله، چې د ممبران په مقابل کې خبرې وشي نوموړي پرده په حرکت راځي. د سیم د حرکت په نتیجه کې د مقناطیسي ساحې په داخل کې برق تولیدیږي، چې نوموړی برق د وینا په نتیجه کې رامنځ ته کیږي، چې په ممبران کې ورداخلیږي.

**مایکروفون باید د لاندینیو شرایطو لرونکی وي**

- امانت ساتنه: یعنې مایکروفون وکولی شي، چې صوتي امواج په هم رنګه برقي څپو بدل کړي پرته له دې، چې کوم تغیر د هغې په اهتزازاتو کې وارد شي.
- حساسیت: باید، چې مایکروفون حساس وي. هرکله، چې د صوتي سرچینې څخه په یوه معینه فاصله کې قرار ولري او وکولی شي، چې خپله دنده په ښه توګه سرته ورسوي.
- مایکروفون پرته د خپل نظر وړ صوت څخه بل صوت یعنې اواز تولید نه کړي.
- مایکروفون باید د استعمال لپاره اسان وي یعنې حجم یې کم وي او په اسانې سره له یو ځای څخه بل ځای ته انتقال شي.
- مایکروفون باید د حرارت او رطوبت څخه ژر متأثر نه شي او یا په مقناطیسي ساحې بد تأثیر ونکړي، چې په ګاونډ کې یې قرار لري.
- مایکروفون باید وکولی شي، چې صوتي فشارونه وزغمي.

**د مایکروفون ډولونه**

**1. نوار لرونکي مایکروفون**

نوموړي مایکروفون له یوې نازکې المونیمي فیتې یعنې کیسټ څخه جوړ شوی، چې ضخامت یې ( (0,002 انچه وي. نوموړي کیسټ کولی شي په داخل د مقناطیسي ساحه کې په ازادانه ډول حرکت وکړي او د هغې حرکت د وارد شوي صوت په شان وي. په نوموړي کیسټ کې برق تولیدیږي او دغه برق بیا د امپلي فایرونو په واسطه تقویه او ثبتیږي او بیا د کیبل یا لین له لارې اړوند استیشن ته استول کیږي او له هغه ځایه بروډکاسټ کیږي. ددغه مایکروفون د

حساسيت شدت د مقناطيسي ساحې په قدرت او د المونيمي كيستې په ضخامت پوري اړه لري. پردې سربېره ددغه ډول مايكروفون حساسيت د تغير په حال كې دی يعنې د مايكروفون د سمت په تغيرولو سره كولی شو، چې د هغه حساسيت كم او يا زيات كړو.

ددغه ډول مايكروفونو حساسيت هغه وخت ډېر لوړيږي، چې صوتي سرچينه د مايكروفون د محور په طرف كې واقع شوي وي. له دې پرته د هغه حساسيت ورو ورو راكميږي ځو، چې صفر ته راټيټ شي. له دغه ډول مايكروفون څخه د راډيو په سټوډيوګانو كې او خصوصاً د ويناوو په ثبتولو او دموسيقي دغليظو الاتو د ثبت پروخت ورڅخه استفاده كيږي. د دې مايكروفون يو ستر خصوصيت دادی، چې غليظه نوسانات په ډيره ښه توګه را كاږي همدا علت دی، چې د سټوډيو څخه بهر نه استعماليږي دا ځكه، چې د هوا فشس او غورس شور او زوږ ځانته راكاږي.

**2. ډيناميک يا الكتروډيناميک مايكروفون**



((شكل ۲:۵ **http://www. alumni. ucsd.**

نوموړی مايكروفون ديوه پيچي سيم څخه جوړ او ديوې نازكې پردې سره، چې ممبران نوميږي اړيكه لري. نوموړی پيچي سيم كولی شي په ازادانه توګه په دايمي مقناطيسي ساحه كې يعني مايكروفون كې حركت وكړي. كله، چې د مايكروفون په مقابل كې صوت توليديږي دممبران پرده په حركت راولي او پيچي سيم كې هم رنګه برق د نوساناتو توليديږي. دغه ډول مايكروفون د نوراي مايكروفون په خلاف كولی شي دې اوازونه راكش كړي. په عموي توګه كله، چې خبرونه د سټوډيو نه بهر بروډكاسټ كيږي نو له دغه

ډول مایکروفون څخه باید کار واخیستل شي. دا ډول مایکروفون د هوا د فشس څخه نه متأثر کیږي او په دې سربېره د رطوبت او حرارت په مقابل کې شدید مقاومت لري. دا ډول مایکروفون کولی شي، چې صوت له هر طرف څخه راکش کړي. دا ډول خاصیت د نوموړي مایکروفون د عیبونو څخه ګڼل کیږي دا ځکه، چې کله نا کله په راډیو کې د ټولو صوتونو یا اوازونو د اخیستلو لپاره اړتیا نه احساس کیږي (۷۵:۳۲).

### 3. چټک مایکروفون Velocity Microphone

دا ډېر حساس دی په هغه کې غږ په خپله اصلي بڼه راځي. دا دسندریزو پروګرامونو لپاره ډېر مناسب دی. د نوموړي مایکروفون کاربن ډېر نازک دی ویاند ته پکار ده، چې له نوموړي مایکروفون څخه دوه فوټه لیري وي، چې ډېر ورته نږدې وي د اواز لړزه یې زیاتیږي.

### 4. خوځنده مایکروفون Dynamic Microphone

دا د درندو غږونو لپاره ډېر مناسب دی. دا ډېر نازک او حساس نه وي د هوا څپې او د باد شنها ډېره نه اخلي بلکې د ویونکي کلمې ډېرې روښانه کوي. په پراخو او عامو ځایونو کې په هغه بڼه ثبت کیږي. د زیات شور او زوږ په وخت کې په سفنج پوښل کیږي.

### 5. کارډیډربن مایکروفون Corded Ribbon Microphone

په دغه مایکروفون کې غږ تر لیري مسافو پوري رسیږي. په نوموړي مایکروفون کي لږ شان (سطحي) غبرګون ښکاره کیږي نو له دې کبله هغه د ډېرو موخو لرونکی (کثیرالمقاصد) ګڼل کیږي. د مایکروفون پورتنی ډول د هغو دداخلي جوړښت له پلوه دی. د غږ او زاویې له لورې لاندې مایکروفونه مهم دي.

#### 1) یو طرفه مایکروفون Unidirectional Mic

د یو کس د خبرو لپاره ډېر مناسب دی. لکه په ویناوو کې او نورو لپاره.

**2) دوه طرفه مایکروفون Bi directional**

په دغه مایکروفون دواړو خواو ته خبرې کیدلی شي. د مرکې او دوه اړخیزه خبرو لپاره نوموړی مایکروفون استعمالیږي.

**3) ګڼ لوري مایکروفونMini Directional**

نوموړي مایکروفون له هر لوري او هر طرفه اواز راکاږي که د پروګرام د وړاندې کوونکو شمېر زیات وي نو هغه ته څلور خواو ته کیناستلی شي او خبرې کولی شي. د موسیقي غڼې ډلې، مذاکراتو، مشاعرو او روانو تبصرو لپاره دا ډېر مناسب دی.

**4) لرلید ډوله (دوربین نما) مایکروفون Para bolo Mic**

نوموړی مایکروفون له ډېر لیرې څخه اواز راکاږي په دې شرط، چې اواز ورته مخامخ وي. دا په عامه توګه د مطبوعاتي کنفرانس لپاره استعمالیږي (۷۸:۲).

**6. قلبي مایکروفون**

نوموړي مایکرفون ددوو مایکروفونو له ترکیب څخه لاسته راغلي. دغه ډول مایکروفون کې هم نوار او هم پیچي سیم موجود دي، چې دواړه په مقناطیسي ساحه کې حرکت کوي. د دا ډول مایکروفونو خاصیت دادی کله، چې د صوت منبع د هغه په مقابل کې واقع وي نو غلیظه او رقیق نوسانات په زیر او بم ډول راکاږلی شي. یعنې دبم صوتونو د اخیستلو لپاره نوار یعنې کیسټ په فعالیت پیل کوي او د زیر صوتونو لپاره پیچي سیم څخه استفاده کیږي او هر کله، چې د صوت منبع له مقابل لوري څخه بل طرف ته تغیر وکړي نو فیته له فعالیت څخه لویږي او یوازې پیچي سیم فعالیت کوي نو په دې ترتیب نوموړی مایکروفون تر یوې اندازې د بم اواز له اخیستلو عاجز پاتې کیږي. کله، چې خبرنګاران له

دغه ډول مایکروفون څخه استفاده کوي باید هغه خپلې خولې ته نږدې ونیسي، چې د مایکروفون او خولې ترمنځ (۹۰) درجې استعمال لپاره زیات ځایونه لري، چې له هغې جملې څخه د سالونونو نوم اخیستلی شو، چې په هغې کې د صوت انعکاس زیات وي او تمثیل په صحنه کې او په هغو ځایونو کې، چې شور او زوږ زیات وي او د راډیو کارکوونکي ونه غواړي، چې ټول اوازونه د خپلو اورېدونکو غوږونو ته ورسوي. (واحدي نوټ)

### 7. عاکس مایکروفون



(شکل ۳:۵)) http://musickitstore.com/product/singing-machine-smm-205-unidirectional-dynamic-microphone-with-10-ft-

نوموړي مایکروفون د یوې فلزي انعکاس لرونکي سطحی څخه جوړ شوی دی، چې اواز په یوه محراق (یوه نقطه) کې راجمع کوي یعني کله، چې اواز په فلزي کچه باندې ولږېږي نو منعکس کیږي او په یوه نقطه کې راجمع کیږي نو د دې لپاره دغه ډول مایکروفون کولی شي، چې اواز له لیرې څخه راکش کړي. ددا ډول مایکروفون د استعمال ځایونه د تمثیل په صحنو کې د ډرام په سټوډیو کې او په راډیویي ډیالوګ کې په کارېږي یعني په هغو ځایونو کې، چې نور مایکروفونونه نه شي کولی، چې کار وکړي نو له دغه مایکروفون څخه کار اخلي.

### 8. د مبصرینو مایکرفوون

د نوموړی مایکرفون له عمده خصلتونو څخه یو دادی، چې حساسیت یې ډېر خفیف دی یعني حساسیت یې ډېر کم دی حتی تبصره کوونکی او خبرنګار دواړه هغه خولې ته نږدې نیسي په ځیني حالاتو کې هغه په تنې (ګریوان) او یا د جامو

په ټيټر کې بندوي څو، چې خولې ته نږدې وي او نه غواړي پرته له خپل اواز څخه بل اواز واورېدل شي نو ددغه ډول مايکروفون څخه استفاده کوي. د نوموړي مايکروفون ساختمان د نوار لرونکو مايکرفونو په شان دی. يوازی په دې توپير، چې نوار يعنې کيسټ يې (پنډ) وي او نه شي کولی، چې صادر شوي نوسانات بير ته راواخلي نو دغه ډول مايکروفون يوازې په ويناوو کې د استفادې وړ دی او په نورو ځايونو کې د استفادې وړ نه دي.

### 9. ذغالي مايکروفون

دغه مايکروفون د يوې وړوکي (کوچنۍ) صندوقچې يا خونې څخه عبارت دی، چې د هغې په داخل کې دګرافيک وړې وړې دانې موجودې وي د کوټې خوله په يوه نازکه پرده پوښلي ده. هر کله، چې اواز نوموړي پردې ته ورسيږي نو هغه په اهتزار راځي نو په داخل د مايکروفون کې، چې کوم سکاره موجود دي هغه هم د ځان سره په حرکت راولي اود ګرافيکو يعنې سکرو دانې په دې وخت کې يو او بل ته سره نږدې او ليرې کيږي په نتيجه کې دغه نږدې والی او ليرې والی د ګرافيکو يعنې سکرو يو متحرک د برق جريان رامينځته کوي، چې د هغې جريان تغير په کامله توګه د صوت د حرکاتو سره متناسب واردېږي نو په دې صورت کې نوموړی مايکروفون صوتي امواج په برقي څپو بدلوي. د دا ډول مايکروفونو استعمال ځايونه، تليفونونه، او راډيويي سټوډيوګانې دي.

### ۵، ۳۴- د مايکروفون ځانګړتياوې

له مايکروفون څخه په مؤثره توګه د استفادې لپاره د هغې د کړنو پيژندل اړين دي د نظر وړ اړخونه عبارت دي:

۱: فزيکي ځانګړتياوې

۲:دغږ کیفیت

۳: د مایکروفون جهت او پر ځانګړتیاوو پورې اړونده حساسیت

**۴: په صحنه کې د مایکروفون د نصب کولو څرنګوالی:** په دغو اړخونو کې کوم یو زیات اهمیت لري. د غږ اخیستل څرنګوالي ډول په محیطي شرایطو پورې عام تام تړاو لري

**فزیکي ځانګړتیاوې:** په هغه موارد کې چې زموږ هڅه د مایکروفون محفي کېدو کې دي یا کله چې غواړو چې مزاحمت زموږ لپاره رامینځته نه کړي او یا کله، چې د هغه اطراف ته نقل کړو د مایکروفون وزن او اندازه یې اساسي ستونزه کیږي.

له یو طرفه کیدای شي د مایکروفون کوچنوالی د هغې ضعیفې کړنې سره مخ شي او له بل اړخه زیاتره مایکروفونونه حساس او له سټوډیو نه بهار په موجوده کار کې خشونت په لرلو سره د کارسره جوړ ندي له دې کبله اړ یو چې د ثبات لرونکو مایکروفونو څخه ولې په ضغیفې کړنې سره استفاده وکړو داسې مایکروفونونه وجود لري چې کړنې یې د محیط د حرارت سره متغییر دي. نو پدې اساس کامل مایکروفون او د استفادې وړ په ټولو شرایطو کې تراوسه د یو شخصي انتخاب دی.

**د غږ کیفیت:** مایکروفون په مطلوب حالت کې په کار ده، چې په ټولو اورېدونکو طیفونو کې متعادل عکس العمل ولري. د هغې عکس العمل باید تیریدونکی او فوري وي صفحه (۲۰۳) وي غږ باید په درستي پرته له رنګ امیزي او پیچلتیا څخه خپور شي.

**د جهتي مایکروفون ځانګړتیا او احساسات:** د یوه مایکروفون حساسیت د دې موضوع تعین کوونکی دی چې مایکروفون په یوه ځانګړي غږ سره یو صوتي

سیګنال په ځومره غځوالي سره تولیدوي سره له دې، چې صوتي تقویه کوونکي ستره مرسته د مایکروفونونو د کم حساسیت سره کوي ولې د نومړو مایکروفونونو له حد نه زیات تقویت سره په صوتي سیګنال کې وز وز او زر زر باندې ګرفتار کیږي.

معمولاً مایکروفونونه د ارامو غږونو ته نږدې او جګو غږونو نه لیري ځای پرځای کوي، او دکم حساسیت مایکروفونونه په کمه فاصله کې د صوتي سرچینې څخه ځای پر ځای کوي. له بل طرفه ډیر کم دا پیښیږي، چې دا ډول مایکروفونونه د اضافه بار سره مخامخ شي او یا هم د جګو غږونو څخه ضرر وومي. په دې اساس امکان لري په ځینو شرایطو کې زیاته په کار وړ نه ولري.

د بوم غږ مایکروفون باید کاملاً حساس وي پرته له دې به اړ یو، چې هغه صوتي سرچینې ته نږدې کړو په دې صورت کې د هغې سیوری د موضوع پرمخ به نه منونکی وي له بل طرفه د بوم د بازو ټکانونه په کار نده، چې په مایکروفون باندې تاثیر وارد کړي. کله چې د بوم بازو شاه خواته حرکت کوي یا د هوا د جریان پر وخت کې، د بوم بازو د عین حرکت پر وخت کې په کار نده، چې پر غږ اخېستلو باندې اثر ولري.

**د مایکروفون جهتي ځانګړتیاوي:** د مایکروفون د حساسیت هماغه الګو په فضا کې دي. د سارې په توګه ځینې وختونه د پرته له یو جهتي مایکروفون (ټول جهتي) ته په اړتیاوي ترځو په ټولو جهتونو کې داستفادې وړ وي په ځینې مواردو کې مایکروفون په لازم جهت سره ځانګړي دي تر څو د ځانګړي صوتي سرچینې غږ پیدا کړي او نوري ګاوندي سرچینې د هغې وانه وربدل شي

البته د ځینو جهتي مایکروفونونو عکس العمل کولی شي تنظیم کړي (۲۰۲:۳۳).

**د مایکروفون څخه د کار اخیستنې څرنګوالی:** د مختلفو قطعاتو په اتصال کې صوتي دستګاه کې ستونزې رامینځته کېږي. د ساري په توګه د کېبلونو د اتصال ځای یو د بل سره ځانګړي ستندرد نه لري او په کار ده، چې د مناسبو اړیکو او تبدیلیو څخه ګټه واخلو. د نوموړو تبدیلیو یا بدلونونو او اړیکو ډولونه عبارت دي له مینې فوتو ار، ا، دین اوګانن د یوې کولي قاعدې په عنوان په ټولو صوتي وسایلو کې د مایکروفون د الکترونیکي تعقیب په اساس باید په خط یا تقویه کوونکي، چې د هغې سره وصل کېږي مطابقت ولري.

**د مایکروفون د غوره کېدو طریقه:** هر حرفوي غږ اخېستونکي د مایکرفون ځانګړي ډول غوره کوي او د هغې سره ځانګړي سره ځانکړي موضوع په نظر کې نیسي. دا ځکه چې هیڅ یو موقعیت تر راتلونکي موقعیت سره یو سان نه دی که چیرته د پیانو غږ ته غوږ ونیسو متوجې به شو چې د هغې د غږ اهنګ په ملاحظې وړ طریقې او مختلف ډول غږول بې تغییر کوي حتا د دغه تغییر د حرارت ترجه، رطوبت او اکوستیک محیط بایې د خوځښت په حالت کې به وي کله چې د متخصصین زیاتره د خازني په ګټه اخستلو سره د ناور سرخ توافق لري. د هغې په کار وړنه د زیاتو عواملو تر پاثیر لاندې راځي ولو چې هیڅ ډول مایکرفون د عمومي په کار وړنې لپاره وجود نلري ولې کولی شو یو ډول د هغې د بې شمیره موضوګانو لپاره پکار یوسو. یو خازینې مایکروفون ډیر ښه د بوم غږ په شرایطو د میز پر مخ ځوړند او یا پایه باندې د استفادې وړ دی ولې دا مایکروفون د حساسیت د دلیل په صوتي اضافه بار سره د ستوډیو نه بهار صحنو لپاره قوي صوتي سرچینې ته نږدې مناسب نه دی (۲۰۳:۳۴).

**د مایکروفون ډولونه**

په کلي توګه څلور ډوله اصلي مایکروفونونه وجود لري

۱: ډینامیک مایکروفون (متحرک پېچي سیم)

۲: خازنی مایکروفون (الکتروستاتیک)

۳: نواري مایکروفون

۴: کرستالي مایکروفون

د دغه مایکروفونونو هر ډول د خپلو ځانګړتیاوو درلودنکي دي، چې د هغې دپکار وړ نه مشخص کوي.

څرنګه چې دلته زموږ موخه د مایکروفونونو د پېژندلو او وړ کړنو څخه دي نه د هغوی د داخلي ځانګړتیاوو څخه ولې د هغوی د وسایلو په پکاروړنې او آګاهي سره موږ د هغوی د استعمال سره زیاتره اشنا کوي (۲۰۴:۰).

**دغږ سیستم:** له فني نظره د روان غږ لمن، د یو محدود سیستم لپاره دي هغه غږونه چې زیات لوړ وي د اضافه بار سیستم د لاسته راغلي سګنال د پېچلتیا سبب ګرځي څرنګه چې که چېرته ډېر زیات آرام غږونه وي نو دا به د زمینې د غږونو سره په ورته شدت سره ادغام کیږي نو بناً د غږ د تجاوز د مخنیوي لپاره له دغو محدودو څخه لازم دي، چې اضافه بار مایکروفون ته داخل نشي په کارده، چې مایکروفون دډېر لوړ آواز د سرچینې څخه لرې وي اویا هم د حده زیات صوتي سیګنال څخه ډه ډه وشي.

له بل طرفه د مایکروفون ځای پرځآی کول په یو مناسب ځای کې او دلازم غږ څخه ګټه اخیستل دلته هم باید چې د غږ د سیګنال د ضعیف کېدو څخه ډه ډه

وشی همدارنګه لکه ځنګه چې بیا وروسته یې غواړو نو په کار نده، چې د اصلي غږ تاثیر له منځه یوسو.

ځرنګه چې دابه بیا وروسته ولولو، د خپاره شوي غږ ځانګړتیا، بیا رغونه، کولای شو په مختلفو لارو سره تنظیم کړو.

۱: **د غږ لوړاوالی:** د غږ د تقویې په تنظیم سره یا د مایکروفون په فاصلې سره

۲: **د غږ رنګ آمیزي:** د غږ د رنګ آمیزي کیفیت کولای شو د غږ د طیف د ضعیفو او قوي برخو په تقوې سره یا قصدي پیچلتیا په ایجادولوسره ورته تغیر ورکړ.

۳: **د غږ د ماتېدو انعکاس:** د مایکروفون د ځانګړې ډولونو او استکرار په وسیله کولای شو د مستقیم غږ نسبت د غږ د ماتېدو د انعکاس سره تنظیم کړو.
۴: **انعکاس:** د تدابیرو په مرسته د دغو انعکاساتو کیفیت او مقدار د تنظیم وړ دي

**انعکاس (اکوستیک)**

د سټوډیو د انعکاس خواص د دواړ اړخونه څخه د بررسي وړ دي.

۱: سټوډیو د جوړو شوو صحنو د غږ انعکاس او داچې په سټوډیو کې غږ ځرنګه رنګ آمیزي کیږي او یا د هغې په واسطه انعکاس کوي دغه اړخ د سټوډیو په طراحې پورې اړه لري ولې د صحنې مصلحت او اصول د غږ اخیستلو کیفیت تر تاثیر لاندې راولي.

۲: کله چې د سټوډیو یو صحنه د واقعیت پر اصل جوړه شوي وي نو لازم دي چې په هغه ډول لکه ځنګه چې د هغې اوربېدو ته انتظار لری پاملرنه وشي.

د ساري په توګه د سيند يو غاړې د صحنې تصوير، چې دېژواک لرونکي غږ سره ملګري اثر رامنځ ته کوي، چې په سختی سره به قانع کوونکي وي (۲۰۵:۳۵)

۳: **اکوستيک:** د غږ ماتېدل يا د غږ د رفتر يا تګ بررسي په مختلفو محيطونو کې تعريف کړو

**۵، ۳۵- لنډيز**

سره له دي چې کولي شو صوتي سيګنلونه په مستقيم ډول ديوه صوتي مقناطسي کيسټ (نوار) په اوږدو کې چې په معقول سرعت سره حرکت کوي لاسته راوړو. ولي داطريقه دلوړو فريکانسونو په اړه دويډيويې سيګنال دځينې طول منونکي نه دي نوپدي وجه تنوب ابتکاري سيستمونه رامنځ ته شوي چې په هغو کې ويډيويي څپې د (FM) سيګنال باندې بدليږي دکيسټ په عرض کې دحرکت په وخت کې لاسته راځې يعنې ضبط کيږي په دي طريقه کې دليکلو سرعت ډير لوړ وي پداسي حال کې چې دکيسټ سرعت نسبتآ کم وي. دويډيويي کيسټ بايد داسي جوړه شوي وي چې داستفادي وړ ستندردونو سره مطابقت ولري. ددغو کيسټونو مختلف ډولونه يودبل سره دتعويض وړ ندي مقناطيسي کيسټي دمختلفو موادو څخه جوړي شوي دي له هغي جملي څخه اکسيد فزيک دي، اسيد کروميوم، داوسپني اوکسايد. دليي کبالت، سينمايي فلمونه معمول دويډيويي نور پرمخ منتقل کيږي دا ددي لپاره چې اړتيا په وخت کې هغي ته مختلف عناوين ور زياتيږي يا يې ويل په بله ژبه واړول شي. مايکروفون هغه اله ده چې په راډيو کې لمړی مقام لري. نوموړی اله کولی شي صوتي امواج دبرقي څپو په مشابه يا هم رنګه تبديل کړي مختلف ډولونه لري.

**۵، ۳۶- د پنځم څپرکی څلور ځوابه پوښتنې**

۱- د یوې تلویزیوني خپرونې د لاسته راوړلو لپاره څو طریقې وجود لري؟

الف: ۳ ب: ۴ ج: ۲ د: ۵

۲- د کوادړ په سیستم کې کومې طریقې په کار وړل کیږي؟

الف: غږ او کنترول ب: غږ، کنټرول او فرمان ج: الف او ب سم دي
د: الف او ب ناسم دي

۳- د الکترونیکي تدوین شکلونه کوم دي؟

الف: د پیوند طریقه ب: د منځکړیتوب طریقه ج: الف او ب سم دي
د: الف او ب ناسم دي

۴- متحرک یا خوځنده ګرافیک په څه شي کې کارول کیږي؟

الف: چاپي رسنۍ ب: تلویزیون ج: تلویزیون او ویب

د: ټول سم دي

۵- د ستوډیو اکوستیکي خواص له څو اړخونو څخه د بررسۍ وړ دي؟

الف: درېيو اړخونو ب: دوو اړخونو ج: څلورو اړخونو

د: هېڅ یو

۶- د انسان غوږ له څو سایکلو تر منځ د اورېدلو قدرت لري؟

الف: له ۲۰ تر ۱۵۰۰۰ ب: له ۱۵ تر ۲۰۰۰۰ ج: الف او ب
ناسم دي د: الف او ب سم دي

۷- د جهت له مخې مایکروفون په څو ډوله دی، را ویې پېژنئ؟

الف: څلور ډوله ب: دوه ډوله ج: درې ډوله
د: ټول غلط دي

۸- د مایکروفون ځانګړتیاوې په څو ډوله دي؟

الف: ۲ ډوله ب: ۳ ډوله ج: ۴ ډوله
د: ۵ ډوله

۹- د خپاره شوي غږ ځانګړتیا، بیا رغونه له څو لارو کولای شو تنظیم کړو؟

الف: ۳ لارو ب: ۴ لارو ج: ۵ لارو د: ټول غلط دي

۱۰- د ستوډیو د انعکاس خواص له څو اړخونو څخه د بررسی وړ دي؟

الف: ۲ اړخونو ب: ۳ اړخونو ج: الف او ب سم دي
د: الف او ب ناسم دي

| پوښتنه | ځواب | پوښتنه | ځواب |
|---|---|---|---|
| ۱ | ب | ۶ | الف |
| ۲ | ب | ۷ | ج |
| ۳ | ج | ۸ | ج |
| ۴ | ج | ۹ | ب |
| ۵ | ب | ۱۰ | الف |

**۵، ۳۷- مأخذونه**

۱: سون، جرالدميلر. ترجمه:رحيميان، مهدي. (۱۳۸۰). فن برنامه سازي تلويزيون، سروش تهران.

۲: بالدوين، هانتلي، ترجمه:شاسي، حميد گر. (۱۳۸۳). انتشارات سروش، اداره قل پژوهش هاي سيما تهران.

۳: تيرل، رابرت، ترجمه، رحيميان، مهدي. (۱۳۷۱). ژورناليزم تلويزيوني. دانشگاه سيما جمهوري اسلامي تهران.

FOR CHARLES AND IRENE MITCHEIL. TELEVISION :4 .THE CRITICAL. VIEW

5:TELEVISION:THE CVITICAL VIEW EDITED BOY HORACF NFWCOMB UNEVERSITY OF TEXAS AT .AUSTIN NEW YORK OXFORD 1982

٦: حيدري، زبيح الله (۱۳۹۰). رهمنايي توليد برنامه هاي تلويزيوني. دپارتمنت راديو تلويزيون پوهنځي ژورناليزم

## شپږم څپرکی

## ۶، ۱- د تلویزیوني خپرونو د تولید مخکې طرح

**موخې**

۱: ددي برخي څخه موخه دا ده ترڅو زده کوونکي په ځانګړي توګه دژورنالیزم پوهنځې محصلان اومینه وال وکړاي شي.دتلویزون دخپرونو دتولید توکي ،مواد او دهغو دثبت وسایل په دقیقه توګه وپیژني او څرنګه چې لازم ده په خپل وخت او ځاې یې وکاروي.

۲: مینوال یاد خپروني چمتوکونکي دثبت تخنیکي وسایل کمره رڼا اچوني او استعمال طریقي ،ډیکورونه او دابې پردې فن یعني پس زمینه یا بګروند لنز،نماګاني وپیژني

۳: چمتوکوونکي درنګ رواني تاثیرات، حرکت اوتناوب،دحرکت مهارتونه،اوتدوین لارې،دحرکت ارزښت،دنماګانو تغیر،درمزونو حرکت،دانځور په ایجادولوکې تنوع او یو رنګ والي،ګرافیک،دطراحي مراحل،په تلویزیون کې دخبري ګرافیک په کاروړنه،دتصویر نه بهر دغږ داستفادي څرنګوالي،مایکروفون،دوبله،دغږ برابرول،لبسینګ،دتلویزیوني ستوډیوکارګردان،اونورو کړنو سره پوره بلدتیا پیدا کړي.

دیوې تلویزیوني خپرونې تولید یوې مخکي طرحې ته اړتیا لري،فکرونه+تصویرونه+غږونه=خپرونه اوبرابرونکي یا جوړونکي چې پورتني درې عناصرپه لازمې بڼې سره ترتیب کړای شي نو د یوې بریالې خپرونې په تولید او چمتوکولو باندې به تل لاس بري وي او که چیرته داکار ونه

شي کړلي نو اړوند توکي او عناصرتول متاثرکړي او ديوي بريالي خپروني دچمتوکولو طمع يا انتظاردنه لري.نوريا رڼا،چې دانسان له بنسټيزواړتياوڅخه ده.دي هغي له شتون نه پرته دهيڅ يوي پديدې دپيژندلو تصور به هم ونه شي کړلې.هغه نقطي يا ټکي چې بايد هير يې نه کړو دادي،چې رڼا اچونه يو ځانګړي تخصص يا مسلک دي،ولي هيڅ کله هم دتلويزيون په سټوډيو کې يو مستقل فعاليت ندي،بلکې درڼا اچونې فعاليتونه بايد دتوليدي ګروپ دفعاليتونوسره همغږې په مشوره او پوره تفاهم سره سرته ورسول شي.پدې څپرکي کې درڼا بنسټيز اصول،محدود وي.کنټرول،درڼا اچوني ليکونه،رڼا جوړونکي،درڼا ضد طريقه،درڼا په مرسته القايي مفاهم،درڼا په مرسته د تصويرافکټونه،پس منظر،مکسر،دابی پردی فن،دصحني جوړوني مهم وسايل،دصحني قطعات،سيکلوراما،دصحني په سطحه داختلاف نظر،دچت دننداري طريقه،دژوري ننداري څرنګوالې،دروغجنه منظره،دمتحرکو واحدونو ننداره،نما يا منظره، دشاټونوپه اړوند اصطلاحات،دنما تاثير په ليدونکو،سريع نما،متوسطه نما، بد خويه نما،هغه شيان چې بايد دهغي څخه ډډه وشي، دشاټ دغوره کيدو په اړه څو ګټور ټکي کمره،دکمري جوړښت،دکمري په اړه څو مهم ټکي، دکمرې پرده،نماپيداکونکي،دسپينوالي توازن،دکمرې حرکتونه،درڼا په اړه څو ګټورې مشورې په تلويزيون کې دخيری جوړول لباس، رنګ،درنګ ځانګړتيا،درنګ او انځور ترمنځ اړيکه اونوري برخې پوره توضيح او تشريح شوي دي.

## ۶، ۲- د تلويزيوني خپرونو د توليد مخکې طرح

د تلويزيوني خپرونې د جوړونکي لپاره پکار ده مخکې له دې، چې د يوې خپرونې د توليد په طرح باندې پيل وکړي لاندينۍ مخکې طرح دا راښايي، چې د يوې خپرونې توليد له کوم ځايه پيل شي تهيه کوونکي يا برابرونکي کومو

نقطو او مسأیلو سره مخ وي، ترڅو په دې برخه کې پوه لاسته راوړي او دیوه مسلکي شخص په توګه اګاهانه د خپرونې په تهیه او برابرولو کې لاس پکار شي او وربانديې پيل وکړي; نه داچې ټولې کړنې يې تصادفي وي. د تلويزيوني خپرونې د مخکې طرحې لپاره کولی شو لاندې فورمول وړاندې کړو:

فکرونه + تصويرونه + اوازونه = خپرونه

د پورتني فورمول پر بنسټ د يوې خپرونې توليد د دريوو (۳) بنسټيزو عناصرو څخه تشکيل شوي دي. لومړی فکر، دويم تصوير، او دريم غږ.

ددغو ټولو محصول يوه خپرونه کيږي، خو هر عناصر ځانته کړنې لري.

لومړی ګام د يوې خپرونې د توليد په اړه د فکر له طرحې څخه پيليږي، هغه فکر، چې د خپرونې د توليد يا برابرولو سبب ګرځي، دا دوه ټکي په بر کې نيسي. نوموړي دوه ټکي عبارت دي له: پيغام – موخه.

**لومړی پيغام:** پيغام بايد دوضاحت لرونکی وي ترڅو اړيکه په ساده او شفاف صورت ټينګه شي.

**دويم تصوير:** د تصوير په اړه نه شو کولی خبرې خلاصې کړو، دا ځکه چې په راتلونکي بحثونو کې د تصوير د جزئياتو او په هغې پورې اړونده مسائلو په اړه پوره وضاحت ورکړ شوی دی. ولی نه شو کولی، چې د تلويزيون ټول ابعاد د طول، عرض او ارتفاع او د تلويزيوني تصوير ځانګړتياوې روښانه کړو. د فني وسايلو نه پرته ځيني نور مواد لکه: تمايلات، احساسات، نړی ليد خلاقيت او د تصوير اخيستونکي د کار څرنګوالی، چې تصوير اخيستنه تأثير لري.

**درېيم عنصر غږ:** له دې څخه د خپرونې په توليد کې په مختلفو ډولونو ګټه اخېستل کيږي او د زيات ارزښت او اهميت نه برخمن دي. د خپرونې

برابرونکي ته پکار ده، چې دغږپه پېژندلو سربېره د ثبت په تخنیکي وسایلو هم وپوهېږي او یا ورسره پوره اشنایي ولري. هر تهیه کوونکی یا د خپرونې چمتو کوونکی، چې پورتني درې عناصر په لازم شکل سره ترتیب کړی شي. نو د یوې بریالۍ خپرونې په تولید او چمتو کولو باندې به تل لاس بري وي او که چېرته دا کار ونه شي وکړای، نو اړونده توکي او عناصر به ټول متأثر کړي او د یوې بریالۍ خپرونې د چمتو کولو طمع یا انتظار د نه لري.

## ۶، ۳- په تلویزیوني تصویر پورې اړونده کړنې او د عناصرو شرح

### په تلویزیون کې د رڼا اچونه

### LIGHTING

کیدای شي انسانانو د نور (رڼا) په مورد کې ډېر کم فکر کړی وي، دا ځکه چې دا غیر لمس کوونکي پدیده ده پرته له حجم څخه، چې ډېره کمه پاملرنه یې ځانته راګرځولي ده. انسانان د هغې پدیدې په اړه، چې نه لمس کیږي او فزیکي فضأ هم نه اشغالوي کمه پاملرنه ورته کوي. راځې چې نړۍ د یوې لحظې لپاره یعنې له رڼا نه پرته پرې فکر وکړو نو دا ډول وضعیت دوام به ډېر وحشتناک وي. کله چې نور یعنې رڼا د انسان له بنسټیزو اړتیاو څخه دی د هغې له شتون نه پرته د هیڅ یوې پدیدې د پېژندلو تصور به هم ونه شي کړلئ. همدا رڼا (نور) دی، چې د هغې په مرسته رنګونه له یو او بل څخه تشخیص او توپیر کولی شو. د هر شي په لېدنه کیدای شي هغې ته په یوه معنا قایل شو. رڼا نه یوازې دا چې په عیني ژوند کې بلکې د انسانانو د تصوراتو په نړۍ کې هم وجود لري. هر کله چې موږ د یوې پدیدې او یا یوه شي په اړه فکر کوو، د موږ به ذهن کې هماغه پدیده د یوې رڼا په بڼه تجسم کیږي. نو رڼایي زموږ د عیني او ذهني ژوند یو جز دی. له بل اړخ د رڼا د پیدا کېدو اختراع یا کشف د شپې تیارو څخه

قرضداره يعنې مديون دی دا ځکه، چې تياره انسان دې ته اړ ايستلی ترڅو هڅه وکړي د رڼايي سرچينو ته لاس رسی پيدا کړي. په اوس وخت کې په سلګونه اختراګانې د بريښنا په شمول کولی شي د انسان د هڅو، ګټو او پلټنو د زخمتونو پايله د انرژي د موندلو او پيدا کولو په هکله وګڼو.

په دې پراخه نړۍ کې د رڼا هنر پراخه معناوې لري. په مخکنيو هنرونو کې لکه نقاشي، رسامي، شعر، او ادبياتو کې به يې د رڼا زياتې معناوې بيانولی. په بله دوره کې، چې سينما او د نوموړي پديدې نور ارزښتونه هم اختراع شول او رڼا اچونه په تلويزيون او سينما کې په يوه پيچلي حرفه يې شغل باندې او په عين حال کې په ظريف او حساس باندې بدل شوه.

هغه څه، چې د تلويزيون پر صفحه لکه ډيکورونه، مجريان، رنګونه او نورهرڅه چې د لېدو وړ دي نو د رڼا په مرسته دي. کله چې په تلويزيون او سينما کې د رڼا يعنې نور د فني ځانګړتياو سره اشنا شو، نو هلته به پوه شو، چې چمتو کوونکي څرنګه د رڼا په واسطه ښکارول او پټول کولی شي مبالغه کوي، د لېدونکي نتجه مغشوش کوي، پاملرنه هغو ټکو يا نقطو ته ور اړوي او ځانګړی وخت القأ کوي او په لسګونه نور مفاهيم د رڼا په مرسته شرح کوي.

رڼا په تلويزيون او سيمنا کې د معناوو د انتقال په معنا هم دی او د هغې په کار وړنه د زياتو تجربو او پېژندنو وړ ده يا لياقت يې لري. هغه نقطې يا ټکی، چې بايد هېر يې نه کړو دادي، چې رڼا اچونه يو ځانګړی تخصص يا مسلک دی، ولې هيڅ کله هم د تلويزيون په سټوډيو کې يو مستقل فعاليت نه دی، بلکې د رڼا اچونې فعاليتونه بايد د توليدي ګروپ د فعاليتونو سره همغږي په مشوره او پوره تفاهم سره سرته ورسول شي.

## ۶، ۴- د رڼا اچونې اړتياوېې

سترګه د کمرې د لنز سره تشبيه يا پرتله کوي ددې لپاره، چې سترګه لکه د کمرې په شان د رڼا يا نور په خپرېدو سره په فضأ کې شيان په ځانګړو خصوصياتو لکه رنګ، بڼه (شکل) او نورو سره ثبت او تشخيص کوي، ولې دغه ورتوالى ډېر زيات نه دى، دا ځکه چې هر هغه شى، چې په سترګو ګورو که چېرته يې تصوير واخلو نو ددې دواړو حاصل به يو له بل څخه توپير وکړي دا ځکه، چې کمره په کامله توګه د سترګې فزيولوژيکي خاصيت نه لري. له بل طرف دا ثابته شوي، چې سترګې هم ځيني نېمګړتياوې لري او کمره هم په ځانګړي توګه پرته له رڼا څخه سمه دنده سرته نه شي رسولى. موږ په دوو بنسټونو د رڼا اچونې ته اړتيا لرو:

1. **د رڼا تخنيکي اړتيا**

تلويزيوني کمره يوازې نسبتاً د محدودې رنګمايي تضادونه قبلوي د ډېر ښه او با کيفيت تصوير د بيا رغونې لپاره يوه تنظيم شوي کاملې رڼا ته اړتيا لېدل کيږي. دلته بايد د ثبت وړ سوژه د کمرې ډول، لنزه رڼا اندازه د رڼا شدت، د رڼا سرچېنه بايد په نظر کې ونيول شي، چې طبيعي رڼا (لمر) لکه څنګه، چې اړتيا ده او ورته اړتيا لرو، که هغه پوره نه شي کړى، نو ناخوښه پايله به ايجاد کړي او يا به د تصوير رنګه کيفيت متأثر کړي، نو بايد پوه شو، چې رڼا يعني طبيعي رڼا بسنه کوي پوره ده او که نه؟ د طبيعې رڼا په هکله په راتلونکو صفحو کې پوره بحث شوى دى.

2. **هنري اړتيا**

رڼا یا نور اچونه په خلقت (پیدایښت) کې مرسته کوي. د صحنې له فضأ څخه، فاصله، ابعاد یعنې طول، عرض د شیانو شکل ته زیاتوالی ورکوي. رڼا اچونه کولی شي محیطي ځلاوې او ځانګړي سبک رامنځ ته کړي او ځانګړي محیطه بیا ورغوي یا یې تقلید کړي، حتا یو ځانګړي وخت او خاصو شرایطو او هوا حالاتو ته اشاره وکړي. رڼا کولی شي نکتي برجسته یعنې واضح کړي او یا هغه پنهان یعنې پټي کړي. د تصویر په ښایسته والي کې مرسته وکړي او عملاً او یا قصداً هغې ته ناخوښي حالت ورکړي.

د پورتنیو دلالیلو په نظر کې نېولوسره د رڼا د تنظیم پروخت کې د تخنیکي او هنري اړتیاوو سره پکار ده، چې څو بنیادي ټکو ته پاملرنه وکړو: کیفت، جهت یا لوری، شدت یعنې تېزوالی، او د رڼا د پوښښ د لوري تأثیر ته.

**1- د رڼا کیفیت**

د رڼا کیفیت تر هر څه زیات د رڼا په سرچینې پوري اړه لري په منل شوي ترکیب کې په صفحه کې دوه ډوله رڼا وجود لري سخته یا شدیده رڼا (مستقیم) او نرمه یا ملایمه رڼا (تیته)

شدیده په عمومي توګه د موضوع بڼه (شکل) او پیوند ښکاره وي او نرمه یا ملایمه رڼا تضادونو ته کموالی ورکوي. شدیده یا تېزه رڼا سیوری ایجادوي په داسې حال کې، چې نرمه یا ملایمه رڼا پرته له سیوری نه وي. پاتې دې نه وي، چې شدیده رڼا د طبیعي او مصنوعي سرچینو څخه راتیت کیږي او هر څومره، چې د رڼا سرچینه کوچنی وي د هغې شدت یا تېزوالی زیات وي؛ لکه: چې شمع یو سیوری لرونکې رڼا ده په داسې حال کې، چې ځیني د رڼا سرچینې په پراخه

مجرا سره او د نرمو یا ملایمو رڼاګانو له جملې څخه پېژندل شوي دی.

**2- د رڼا لورۍ**

د رڼا یا نور اچونې تأثیر د هغې زاویې سره کومه، چې د کمرې د محل سره متناسب تغییر کوي د رڼا لوری یا طرف ددې ټکي یا نقطې په تعیین سره، چې د موضوع کومې برخې روښانه کیږي او کومې برخې په سیوریو کې پاتې کیږي او همدارنګه د سطحې د پیوند د بیا رغونې د څرنګوالي سره عمده رول لري، د موضوع واضح کېدل ځانګړتیاوې د رڼا، د ځلاګانو لوری د موقت وخت لپاره پټوي. د بېلګې په توګه، کله چې یوه فلزي سکه یعنې فلزي روپۍ د پورته خوا څخه په عمودي توګه او یا د څنګ (اړخ) له خوا ورته په افقي ډول رڼا ورکړو، د زاویې او تصویر د تفاوت نتیجه یا حاصل یې کولی شو په تصویر کې مشاهده یعنې وګورو.

**3- د رڼا شدت**

د نور شدت یا تېزوالی د هغه مقدار نور څخه عبارت دي، چې رڼا اچوونکی یې د صحنې د اړتیا او غوښتنې په اساس د هغې مقدار یعنې اندازه تعینوي، ولې دا باید هېر نه کړو، چې د نور شدت یعنې تېزوالی، سرچینې، فاصلې او د صحنې د موجودو رنګونو سره اړیکه لري. رڼا اچوونکي یو متناسب مقدار رڼا د خپرونې د اړتیا سره سرم تعینوي، چې دغه معین تعین شوی مېزان یا اندازه له یو طرف هنري تصمیم دی، چې د خپرونې کارګردان د هغې زیات مسؤل دی او له بل طرف تخنیکي اړخ هم لري، چې اچوونکي خپل تصمیم د

کارګردان له مشورې سره همغږي کوي او وروستي یعنې نهایي تصمیم نېول کیږي.

### 4- د رڼا د پوښښ طرف

د رڼا په اچونه کې دا یو له پیچلي مسایلو څخه دي، ولې تل هم پیچلي نه وي. کله چې سوژه پیچلتیا ولري د رڼا اچونې کار هم پیچلی وي که چېرته سوژه محدوده او محدود شیان ولري نو د رڼا تنظیم به هم محدود وي. د رڼا اچونې د پوښښ له ناحیې یا اړخ څخه مقصد دادی، چې د کمرې محدوده کې تنظیم شي. رڼا اچونه د رڼا د رنګارنګ وسایلو لرونکي خونه ده، چې رڼا اچونه وکولی شي ترڅو رومانتیکو، فضایي، رمز لرونکي او نورو مقاصد القأ یا راونغاړي ډېره ستونزمنه ده د رڼا اچونې مرکه یا ګردی مېز.

د رڼا اچونې په بنسټیزې طرح کې درې ډوله رڼا شته: اصلي، ډکوونکي یا فرعي او شاتنۍ رڼا اړتیا ده، چې په معمول ډول په مثلثي بڼه تنظمیږي.

### ۶، ۵- د رڼا اچونې بنسټیز اُصول

شاید د رڼا اچونې ټول بنسټیز اُصول، چې وکړی شي په ټولو برخو کې د هغې څخه د یو ثابت فرمول په توګه استفاده وکړو، ستونزمنه به وي؛ دا ځکه چې د ستوډیو په داخل او بهر ته شرایط یا د ستوډیوګانو جوړښت، ډېکورونه او ټول امکانات، پر هر ځای کې یو شان نه دي، چې یوه واحده طرحه وړاندې کړي، نو په هکله به یې ځانګړي او مطلقه قاعده له ستونزو خالي نه وي. سره له دې لاندې ټکي د رڼا اچونې د بنسټیزو اصولو په توګه پېژندل شوي دي:

1. د کمرې حساسیت
2. پسزمینه Background
3. د رڼا اچونې وسایل اصلي نور (کلید)
4. ډکوونکي رڼا
5. شاتنۍ رڼا
6. د پس زمینې رڼا

## ۶، ۶- د رڼا محدودول او کنټرول

ددې لپاره چې د اړتیا وړ رڼا ته لاس رسۍ پیدا کړو او وکولی شو، چې متوازنه رڼا پکار یوسو اړ یو، چې د رڼا د سرچینو رڼا یې کنټرول کړو، کنټرول په مختلفو لارو سرته رسیږي:

1. د څراغ د توازن او ډول سره غوره شي؛
2. د څراغ د فاصلې تنظیم تر موضوع پوري؛
3. د رڼا تیت پرک کیدو په استفادې سره؛
4. د رڼا د تمرکز په تغییر سره (د رڼا نقطه کول یا د رڼا تیت کول)
5. د څراغونو غوره کول د رڼا د یوې مجموعې څخه څوڅراغونه؛
6. د دیمر په استفادې سره (کاهنده)چې د رڼا د شدت د کنټرول لپاره

سره له دې،چې پرته له دیمر څخه هم کولی شو، چې موثرې رڼا ته لاس رسۍ پیدا کړوو اما تکنیکي کیفیت او ښوالۍ او د رڼا اچونې هنر د رڼا د کنټرول کاملو امکاناتو ته اړتیا لري، تر څو د رڼا اچونې اندازه، د څراغونو توازن، د مختلفو صحنو لپاره د رڼا د سرچینو تنظیم د صحنې د حالت صیقلول او اریش باید ترکنټرول لاندې وي.

## ۶، ۷- د رڼا د کنټرول طریقې او وسایل

د مختلفو طریقو او وسایلو په مرسته کولی شو رڼا کنټرول کړو، چې دلته د هغې څو طریقې ذکر کوو:

1. **د رڼا د برخې صافي:** د رڼا د برخې صافي په مختلفو ډولو وجود لري؛ لکه: د ښیښې وړې Spam Glass د زنګ ضد د فولادو سیمي شبکه Stainless Steel Wire Mesh، برفک لرونکي پلاستیکي وسیلې Forested Plastic Medium، غوړه وریښمه ښیښه Oiled Silk، د ژلاتین سیمي شبکه Gelatins Wire Mesh، د لنډ وخت د استفادې لپاره نیمه شفافه نازک کاغذي پارچه Tracing





(شکل ۶:۲https://www.dhgate.com/product/continous-lighting-kit-

https://www.alzodigital.com/collections/studio-lights(شکل ۶:۱)

Paper or Cloth، چې د سیوری لرونکي څوکی په وسیله په دروازې کې وصل کیږي ګټور دي، اما دا ډول صافي زیان یعنې تاوان لري دا څکه، چې (اور اخیستونکي) دي.

2. **برقي يا الکترونيکي کنټرول:**

د برقي کنټرولونکي په واسطه کولی شو، چې د رڼا د جريان هغه مقدار يا اندازه، چې د يوه څراغ څخه د تېرېدو وړ وي کنټرول او په نتيجه کې کولی شو د څراغ د رڼا شدت تنظيم کړو. د دغو وسايلو بې شمېره يې د کلنو په اوږدو کې په تدريج سره تکامل کړی دی. د کاهندي يعني مقاومتي کاهندي Resistance Dimmer په نوبت سره برق يا د مستقيم جريان لپاره مناسب دی او همدارنګه ارزانه او د اعتماد وړ هم ده.

3. **د رڼا اچونې د کنټرول مېز Dimmer:** د رڼا د کنټرول د وسايلو له جملې څخه دي، چې نن سبا به تلويزيوني سټوډيوګانو کې د استفادې وړ ګرځي د رڼا اچونې د کنټرول مېز دی په دغې طريقې سره کولی شو، چې په ساده ګی سره رڼا اچونه تنظيم کړو يعنې په مجموعي صورت سره او يا په مجرد ډول به د رڼا د کنټرول سرچينې به کنټرول کړو.

4. **د رڼا اچونې د کنټرول بڼه او کنټرول مېز:** د هغو وسايلو له جملې څخه دي، چې د رڼا د ځلا د کنټرول، او رڼا اچونه کې مرسته کوي هغه وسايل دي، چې د څراغ په غاړه کې داغ يعنې (لکه) پيدا کوي.

د دغو وسایلو له جملې ښخه عمومي ترین یې د دروازې سیورى اچونکي دي. نوموړي وسېله له یوې ښخه تر څلورلوله یې پرو



(شکل۶:۴)http://vizorio.com
/نورپردازی-در-عکاسی-پرتره/



(شکل
۶:۳)http://www.freeimages.com/search/flower-on-black-

لرونکي دي، چې د قاب سره وصل دي، چې دوراني ډول د څراغ په لاستې کې تاویږي او د سیورو اچونکو ښخه په مختلفو طریقو په ستوډیو ګانو کې ګټه اخیستل کیږي.

### ٦, ٨- د رڼا اچونې سبکونه

رڼا اچونه په کلي توګه په دریو سبکونو سره صورت مومي:

1. رڼا اچوونکي Motan
2. د رڼا ضد
3. روښانه سیورى

### د رڼا جوړونکی

په دغې طريقې کې مرکزي خطونو ، جزيئات او سطحو ته پاملرنه کوي. دلته موضو، بڼه او مخکې طرح او الګو مطرح دي. ددې سبک ځلاوې د اصلي رڼا يعنې شديدې رڼا پناه کېدل، واضح کېدل، د شاتنی رڼا کمېدل او د تيت شوي رڼا زياتېدل په صحنه کې رامنځ ته کيږي.

**د رڼا ضد طريقه**

د رڼا ضد روښنايي په مرکزي خطونو باندې اتکا لري. د موضوع واضح ښودل او پيوند د رنګ علت د موضوع سطحه په کلي توګه حذف کوي. د رڼا ضد روښنايي په زيني مواردو کې او يا هم په زينتي سيورو کې اسرار لرونکي نمايشي ځلاګانې، د تصوير د اخېستلو پر وخت کې د لمر د مخامخ کېدو سره مواجه يو. په دغو ټولو مواردو کې موضوع پخپله پرته له رڼا څخه د پسزميني په مقابل کې روښانه قرار لري.

**روښانه سيورى**

د نوموړي سبک څخه د استحکام، عمق او احساس د ايجاد لپاره کار اخلي او په دقيق کنټرول سره درجه بندی سبب ګرځي او د دوه بُعدي ځلاګانو او سيورو جوړولو تفکيک لاسته راځي. زياتره عکاسان او نقاشان هم له همدې سبک څخه ګټه اخلي او نوموړي سبک زيات لېدونکي لري، دغه طريقه که چېرته په ماهرانه توګه وکارول شي نو په زړه پوري پارونکې نېرو لري.

یا په بل عبارت کله، چې د رڼا سرچینه کوچنۍ احاطه د رڼا رامنځ ته کوي او



سایه-روشن-فرهنگ-در-
رادیو/
http://jamejamonline.ir/sima/2127012617771319605(شک
ل ۶:۵)



(شکل
(۶:۶http://vizorio.com-نورپردازی/
در-عکاسی-پرتره/

رڼا اچونه دلته د روښانه سیورو په نوم یادوي، نو په دغې حالت کې نوموړي احاطه تیاره سیوري نیسي. دغه هنري اصطلاح ته د رڼا او تیارو د تمرکز عکس کې ویل کیږي. دغه سبک د غم، بدبیني او نامیدي د احساس راوړونکی دی. رڼا اچونه کاملاً په دغه سبک ددې باعث ګرځي، چې د روان شناسي عمق او د صحنې عاطفې ته

زیاتوالی ورکوي.

**د رڼا په مرسته د مفاهمو موخي ټاکل**

رڼا نه یوازې دا چې د سوژه د وضاحت او جزئیاتو لپاره پکار وړل کیږي، بلکې مفاهیم هم خلکو ته ورښايي، څرنګه چې رڼا اچونه په روښانه سبب یا علت د خوشبختی مفهوم ورکوي په داسې حال کې، چې تېنګه مایه د رڼا د نا امیدی سبب ګرځي. رڼا اچونه په تضادي سمبول د تیار او ډرامایتک سمبول څخه دي او کم تضاد یې د واقعیت بنسټ او مستند افاده کوي.

**د رڼا په مرسته د تصویري افکټونو پیدایښت**

د پروجکټورنو په مرسته،چې د تولیدونکو شرکتونو له خوا، چې کوم د رڼا یي وسایل تولیديږي او د متحرکو او رنګارنګ ځلاګاني په داخل د سټوډیو کې یا ستيژ کې ایجاد کړي؛ لکه: بريښنا، وريځ، توفان، باران، واوره، رواني اوبه، شغلې، دود او نور. دغه پروجکټورونه د معمول سره سم په داسې ځایونو کې ځای پر ځای کوي، چې وکولای شي د سیکلوراما د پردې پراخه برخه وپوښي، د اړتیا په صورت کې کولی شو د پراخه ناحیې د پوښښ لپاره څو دستګاوې د همدې ډول څخه ځای پر ځای کړو. دغه پروجکټورونه کولی شي په ساعتونو ساعتونو پرته له څارنې څخه کار وکړي او داسې ځلاګاني ایجاد کړي، چې د منلو وړ وي او لیدونکي د هغې پر مصنوعي کیدو باندې بلکل پوي نه شي.

## د رڼا د اچونې په موارد کې د پام وړ څو ټکي

له هغه ځایه چې د لاندینیو ټکي مراعت د تلویزیوني سټوډیو د بنسټیزو کارونو له جملې څخه دي او په هر کاري مورد کې باید دغه ټکي په نظر کې ونيول شي: د رڼا دتولید سرچینه په سټوډیو کې برق دی او له برق څخه ګټه اخیستنه پرته له خطره نه ده. نو په دې اساس باید دغې امر ته جدي پاملرنه ولرو. د برق د سیمونو انتقال رڼا سرچینې او یا نورو وسایلو او تجهیزاتو ته یوازې داچې سیمونه باید پوښښ ولري بلکې د اضافي محافظه یي سیستم لرونکي باید هم وي او د برق د سیستم تمدید د مسلکي اشخاصو له خوا باید صورت نیولی وي، د سیمونو له ګډوډۍ او پیچلتیا څخه باید مخنیوی وشي. د برق سیمونه تنظیم شي نه یوازې دا چې د تولیدي ګروپ او مجریانو سره په تماس کې وي، بلکې د تلو راتلو لپاره هم موانع ایجاد نه کړي، د کمرو کارکوونکي او د غږ اخیستونکي یعنې سونډ مینان حرکت وکړی شي، دا ځکه، چې کیدای شي، چې د دوامداره تماس په صورت کې امکان لري سیمونه ازاد او همدارنګه د کمرې د حرکت په وخت کې د تصویر د فلمبردارۍ کې دټکان د رامینځته کېدو سبب شي.

د رڼا سرچينې بايد د کمرې له ديد څخه بهر وي. د رڼا سرچينې حرارت توليدوي او دغه حرارت کېدی شي د سټوډيو پر وسايلو باندې بد تاثير وغورزوي، مجريانو او همکارانو د ناراحتی سبب شي او پر مېک اپ او مجريانو باندې بد تاثير اچوي، د رڼا د سرچينو په نظر کې نېولو او د هغوی حرارت د توليدولو د لارو وړاندوينه ولري.

داومداره ګټه اخېستنه ممکن د څراغونو د انفجار يا سوزولو سبب شي، نو په کار ده، چې د څراغونو مقاومت په نظر کې ولرو او د هغوی مقاومت او د ګټې اخېستنې وخت بايد وسنجول شي. کله نا کله يا وخت نا وخت د معمولي فلترونو (کاغذي) څخه د څراغونو په مقابل کې ګټه اخېستل کيږي. د دغو فلترونو ساتنې ته هم بايد متوجه واوسو دا څکه، چې هغوی څراغونوته نېږدې قرار لري او کېدای شي د څراغونو له حرارت څخه اُورو اخلي.

د رڼا سرچينې بايد داسې تنظيم شي، چې د غږ، کمرې د حرکت او تصوير اخېستلو ته کومه موانع رامنځ ته نه کړي، د ډيکورو د انتقال او نصب لپاره مزاحم نه شي. د رڼا د زياتو سرچينو تنظيم د برق د توليدسرچينې په نظر کې نېولو سره صورت ومومي.

د رڼا شدت بايد د لنز د حساسيت او دکمرې د ډول سره وسنجول شي، کله د رڼا څخه د زمان او مکان يعنې د وخت او ځای لپاره هم ګټه اخېستل کيږي. په داسې مواردو کې بايد زيات دقيق واوسو، چې زمان او مکان حساسيت هېر نه کړو، رڼا د سهار په وخت کې او وروسته له غرمې څخه د غرمې د رڼا سره توپير لري. دغه توپير په رنګ او ځلاوو په وخت کې وي رڼا د غرمې په وروستيو کې زياتره د سوروالي علت زيات او ټيټې زاويې لرونکې وي. په داسې حال کې، چې په غرمه کې رڼا په عمودي زاويه کې وي او سوروالي

علت يې کم وي. همدارنګه د اسماني رنګ په ژمي کې د محيطه وضعيت داوړي د وضعيت سره توپير لري او د رڼا اچونې طرح بايد دغه موضوع په نظر کې ولري، حتا جغرافياوي محيطونه هم تفاوتونه لري کله، چې د داسې مناطقو د بيا رغونې يا را پيدا کېدو په وخت واقعيت بايد په نظر کې ونيول شي. د سارې په توګه د اروپا اسمان د حاره منطقو د اسمان سره توپير لري.

د پورتنيو ټکو يا ډول د ټولو محافظتي ټکو او د رڼا د اچونې په مورد کې توصيه نه ده بلکې بې شمېر نور موضوعات هم وجود لري، چې د تلويزيون په ستوډيو کې بايد هغې ته پاملرنه وشي.

## ۶، ۹- پس منظر Background

د صحنې جوړونه په خپله هره بڼه کې د پسزمينې يعنې بګراونډ لرونکي وي او نوموړي پسزمينه په لېدونکي باندې تاثير لري، دا ځکه که ځوک وغواړي يا ونه غواړي د کتوونکي د ليدو لورى ورته ورښوئيږي او له هغې څخه متاثر کيږي. يوه ټکې بايد په ياد ولرو، چې يو شمېر ځيني وخت د پسزمينې په عوض د (صحنې شاه) عبارت په کار وړي، چې دغه دواړه يو د بل څخه توپير لري. د صحنې شاه هغو سطحو ته ويل کيږي، چې د صحنې په انتها کې قرار لري؛ بلکې هغه پنجرې او دوراوزې ، چې د عمق او فضأ د ايجاد لپاره په کار وړل کيږي. په تېرو وختونو کې چمتو کوونکي دې ته اړ ول، چې تر څو د پسزمينې په اړه زيات فکر وکړي تر څو مطلوبه نما د هغې څخه په لاس راشي، ولې اوس د کروماکي په مرسته د (آبي فن پرده) او معاصره تکنالوژي په زياتره خپرونو کې په ځانګړي توګه خبري خپرونې د پسزمينې ستونزه د کروماکي په مرسته حل شوي ده. ولې په مخکنيو په نورو خپرونو کې لکه تلويزيوني ننداري، ډرامې، سريالونه او نورو کې ساده او پيچلي پسزمينې ته اړتيا شته

ترڅو مطلوبه محیطه سترګو مننونکي، د نظر وړ مفاهیم، چې پیغام تقویه او رامنځ ته کړي. لکه څرنګه، چې پورته یې یادونه وشوه په سټوډیوګانو کې پرته له کروماکي څخه د غیر الکترونیکي پسزمینې څخه استفاده کیږي، چې د هغې ساده بڼه ځوړنده پردې تر څو، چې پیچلي پسزمینه د مختلفو مقاصدو لپاره پکار یوړل شي، ولو چې نن ورځ له کروماکي څخه پراخه ګټه اخېستل کیږي، او الکترونیکي امکانات د صحنې جوړونې یو شمېر اړتیاوې نه شي پوره کولی، په کروماکي سربېره څو ډوله کروماکي وجود لري، چې په لاندې ډول دي:

1. قهرجنه پسزمینه
2. تصویري پسزمینه
3. د نقاشۍ پردې
4. عکسونه

دا باید هېر نه کړو کله چې وغوښتل شي پسزمینه په زیاتو صنفونو وویشو، د هغې هر ډول نوي کیدای شي، چې د ذکر شوو ډولونو له یوه سره اړیکه ولري، نو په دې اساس په پورتني تصنیف باندې تاکید صورت نه مومي، چې د پسزمینې ټول ذکر شوي ډولونه یې خلاصه کړي دي. له بلې خوا د تولیدونکو نوي لاسته راوړنې او د تکنالوژي د پرمختګ په حال کې امکانات او د بې شمېره نورو امکاناتو د برابرولو لپاره په دې اړه مطلق حکم ورکول د تېروتنې نه به خالي نه وي.

### ۶، ۱۰- الکترونیکي پرده جوړونه او کروماکي

نور نو د تلویزیون ساده انځورونه ولاړې یو رنګ یا یو نواخت پسزمینې یا بګراونډ سره د لېدونکي لپاره د منلو وړ نه دي، ځکه چې د یوې کمرې خپرونې نن سبا لېدونکي نه شي رضا کولی. نوې تکنالوژۍ د خپرونې جوړونکو ته دا

هوښيارتيا يعنې قابليت ورکړی ترڅو هغه څه، چې يو وخت ورته ارزو او خيال وه نن ورځ په واقعيت باندې بدل شوي دي. هغه څه، چې په تېرو وختونو کې د تصوير يا انځور ترکيب يا ښودل يوه پيچلي دنده وه او محدوديت سره به ناقص سرته رسېدل اما نن ورځ آساني سره او په طبيعي بڼه هر څه توليديږي. دا نو نوره زياتي کومه ستونزه نه ده، چې شين اسمان کې وريځې راپيدا شي او يا هم د ستوډيو په داخل کې د ګچ چت جوړول او يا هم د کروماکي يا آبي پردې په مرسته يوه کوچنی ستوډيو دومره لويه او پراخه وښودل شي، چې تصوير يې لېدونکي ته ستونزمن وي د کروماکي په مرسته د خپرونو د نشر ستوډيوګانې او خبرونه په داسې ډول ديکور کړو، چې په حقيقت کې د دا ډول ستوډيو ايجادول ستونزمن او حتا ناممکن دي.

په تلويزيون کې ددغې دندې کار يا سرته رسول د الکترونيکي تجهيزاتو په غاړه دي. اصل ترين سېستم ددغې کار تر دوو عنوانونو لاندې مطرح دي:

1. **پټول Overlay:** په داسې برخو کې د يو انځور په واسطه د بل انځور برخې پټوي
2. **ځک کول (توږل) Imlay:** په دا ډول برخو کې د يوه انځور څخه د بل انځور خالي فضأ ته بل انځور پيوست يا رسيږي په زياتره مواردو کې نوموړي امکانات په يوه ميکسر پورې تړاو لري ( Electronic Switch). نوموړی عمل په مختلفو نومونو سره پېژندل کيږي، چې له هغې جملې څخه يوه يې کروماکي Chromate دی يا هم د آبي صفحې فن او نقاب جوړنه

**۶، ۱۱- ميکسر**

د تلویزیوني سټوډیوګانو اړینو او اساسي وسایلو څخه یو هم میکسر دی. هر هغه څه، چې نن سبا د تلویزیون پر صفحه لېدل کیږي پرته له میکسر څخه د دا ډول تصویرونو تولید ناممکن دی. د الکترونیکي انځورونو د ترکیب د ځانګړو وسائیلو غوښتونکي دي، چې ټولو کې میکسر د زړه حیثیت لري. کله، چې د تصویر د لیږدولو څو سرچینې موجودې وي یعنې یوه یا دوه کمرې وي او ورسره د تیلي سنیما دستګاه هم د استفادې وړ وګرځي هغوی ټولې میکسر سره وصل دي او یو تغییر ورکوونکی سویچ کولی شي په سرعت سره د یوې سرچینې څخه بلې سرچینې ته تغییر ورکړي پرته له



(شکل ۶:۸httpswww.avolites.comproductslightingtiger-touch-ii)





(شکل ۶:۷httpswww.avolites.comproductslightingtiger-touch-ii)

دې، چې احساس یې وشي هغه سویچ، چې دوه الکترونیکي تصویرونه په خپل وار یا نوبت د یو او بل ځای ناستی ګرځوي نو پکار ده، چې دی هم پخپله الکترونیکي وي بل هیڅ ډول میخانیکي وسیله په دا ډول سرعت سره ددې کار په سرته رسولو باندې قادره نه ده.

## د آبي پردی فن Chromakey

کروماکي یا (آبي پرده) فن دا هم د الکترونیکي سویچ په واسطه د دوو تصویرنو برخې یو له بل سره ترکیب کوي. کروماکي د متحرکو موضوعاتو ترکیب په هر سرعت او پیچلتیا ظرافت یا نازک والي سره قابلیت یعنې لیاقت په مرکزي خطوطو کې هم لري.

(د کروماکي لازم مراحل او ټول اطلاعات) له اصلي تصویر څخه اخلي او په دا ډول عمل کوي. لومړی ګڼه انځور (۱) (انسان یا مجري) د آبي رنګ پسزمینې په مقابل کې واقع کیږي، کمره د آبي خواوو اطلاعات (په هره لحظه کې انځور په هر ځای کې) په مرتب طریقې سره سویچ ته منتقل کوي. سویچ په داسې ډول عیار شوي وي، چې آبي رنګ حذف کوي او دهغې پرځای دویمه ګڼه انځور یا نهایي انځور، چې د آبي پسزمینې پر ځای دی ښکاروي مجري د پسزمینې پر مقابل کې ننداري ته وړاندې کیږي، چې د آبي رنګ ځای نوي انځورونو نیولی وي. له مجرې څخه د تصویر امتیاز اخیستل د ډیکور په مقابل کې، چې بل شی ندی یواځې یوه آبي پرده کاملاً ښکاره ده او دغه فن تلویزیوني تولیداتو ته لیاقت او توان وربښي. په هیڅ وجه کومې بلې وسیله سره پرتلنې وړنده. آبي رنګ په دې دلیل د معیاري رنګ په عنوان پکار وړل کیږي، چې د هغې حذف کول د اصلي انځور څخه ساده نظر نورو دوو اصلي رنګونو (سور او ژیړ) ته دي. د انسان د پوستکي رنګ ناچیز یعنې ډېر لږ آبي رنګ د (صفر) په حدودو کې لري. د پرمختللو وسائیلو او تجهیزاتو په اساس کروماکي کولی شي د نورو رنګونو څخه په پسزمینه کې ګټه پورته کړي. البته د کروماکي څخه په ګټې اخیستنې سره پکار ده، چې ځینې ټکي مراعت یا رعایت کړو؛ د ساري په توګه: پکار ندي، چې د پسزمینې پر مقابل کې د داسې ځلا لرونکو شیانو څخه، چې خپل برق پسزمینې ته ور انعکاس کړي او همدارنګه د لوبغاړو

او مجريانو لباسونه پکار ندي، چې آبي او يا آبي ته ډېر ورته وي استفاده وشي.

بله ستونزه د شيانو په مرکزي خطوطو پورې اړه لري، چې د پسزمينې مخ ته راځي د مرکزي خطوطو نامشخص مبهم کيدل. د سيګنالونو د تداخل سبب ګرځي او د لړزه لرونکو انځورنو سبب ګرځي د مجريانو د سر ويښتان هم امکان لري، چې په انځور کې همدا ډول ښکاره شي.

که چېرته لوبغاړي د جادي په اوږدو کې دکمرې په لوري حرکت وکړي نو د سټوډيو ورغوي يا سطحه هم بايد په آبي رنګ باندې وپوښل شي. ددې صحنې لپاره دوامدراه طريقه يا لاره د آبي پارچې پهن کول د سټوډيو په ورغوي يعنې سطحې باندې دي. د هغې رنګ کولو لپاره ولې په دې صورت کې بايد متوجه واوسو، چې د پردې د وصل کيدو ځای د پسزمينې د ديوال سره چت او چميوله نوي داځکه، چې د کمرې سيګنال چت او چميول ځايونه په واقعيت کې تور ارزيابي کوي نظر آبي ته. ټول چت او چميول ځايونه پکار ده په دقت سره رڼا ورکړو ترڅو، چې ټول ستونزمن سيوري جوړونکي د کمرې څخه حذف شي داځکه، چې ټول د انځور په ميدان کې او يا په ځانګړي توګه په ورغوي کې راولو واقعيت بايد ولري او د لوبغاړو سيوري وکولی شي د اندامونو لاندې ولېدل شي څرنګه کوم سړی، چې سيوری نلري لکه انګار، چې په هوا کې لامبو وهي.

الکترونيکي سويچ کوم، چې له آبي پسزمينې څخه مخکې زمينې کنټرولوي د مختلفو رنګو په پيژندلو کې هم قادره وي. دغه وسيله د هر ځلا انعکاس لپاره له يوې څخه زياتې د کنټرول تکمې لري او د دستګاه د سيوري په لېدو سره توپير په آبي غليظ کيدو کې تشخيص کوي د دستګا د خپرونې

ليکل په داسې توګه دي، چې په دغې نقطې کې (د سيورو تورواڵي) متشغلي سرچينې ته منتقل يعنې تور سويچ کوي اما تور سيوري غليظه بدتر د مکمل سيوري د ورکيدو څخه دي. نو په دې اساس تور ه مايه کولی شو ابرو رنګي ته تقليل ورکړو – سربېره پردې کروماکي د يوه نوي توليد سره (soft edged generator)په دې باندې قادر دي د حذف شويو سيورو په ځای نور سيوري جعل يا دوکه کړي په درجو باندې راکم کړو د کروماکي سيستم سربېره کروماکي د نرمې غاړې په راپيدا کيدو Soft Edged Generator قادره ده، چې د حذف شويو سيورو پرځای نور ستوري (جعل) يعنې توليد کړي.

کروماکي د صحنې د جوړونې له محبوبو طريقو څخه دي. دغه فن نه يوازې داچې د پسزمينې په جوړونه کې بلکې د مخکې زمينه کې هم دځانګړي ځلاګانو د انځور جوړونې لپاره پکار وړل کيږي. د کروماکي په مرسته کولی شو په يوه صحنه کې يوه مجري اوه يا اته ځلې تکثير کړو. د شيانو غټ جوړول نظر انسان ته الوتونکی قالينچه او لسګونه نور موارد د کروماکي کيدای شي د استفادې وړ وګرځي.

## ۶، ۱۲- د صحنې جوړونې مهم وسايل

کله چې کارګردان د خپلې خپرونې په مورد کې فکر کوي او د نظر وړ صحنې په مورد کې تصميم نيول کيږي او د صحنې جوړونې د متخصصاتو د نظر تبادل پيل کوي او کله د خپرونې متن د اړتيا پر بنياد د کارګردان ته وړاندې کيږي په دغې وخت کې د ټولو امکاناتو په اړه او محدوديتونه لکه د سټوډيو جوړښت، مساحت، د کمرو حرکت، د بوم اواز،

د رڼا اچونه، بودجه، کاري نیرو او اړونده نور مواد په نظر کې نیول کیږي.

هغه وسایل کوم، چې د صحنې د جوړونې لپاره د استفادې وړ ګرځي ډېر زیات دي د مختلفو مواردو او وسایلو څخه، چې هره ورځ ورڅخه د تولیدي موسساتو په مرسته لخوا د هغوی پر شمېر کې زیاتوالی راځي. د ټولو کارونو او کړنو نوم اخیستل ستونزمن کار دی ولې په کلي توګه هغه، چې په کلي توګه د صحنې جوړولو لپاره د استفادې وړ ګرځي عبارت دي له:

1. تختونه Flat
2. د صحنې قطعات یعنې وړې پارچې، چې مخکې تر مخکې جوړې شوي درې بعدي یعنې درې روخه درې مخه
3. نیم روخه قطعات
4. د سټوډیو د اطراف پردې
5. پسزمینې یا بګراونډ
6. الکترونیکي پسزمینې
7. د متحرک تصویر پسزمینې یا بګراونډ

**مستطیلې تختې Flats**

ستندردې تختې یا قطعات دي یو وخت دا د تلویزیون په صحنو کې د استفادې وړ وسایلو له جملې څخه وه. ولې نن سبا د عدم استحکام او بې ثباتي د نه لرلو سره ډېر کم د استفادې وړ ګرځي. پاتې دې نه وي، چې د لتو یعنې تختو استعمال له سیمنا څخه تلویزیون ته لاره پیدا کړې ده.

لتي يعنې تختې، چې د لرګي د قاب څخه چې سپک وزن لرګي پرمخ د درې مخه تختې او يا هم د نه سوزيدونکي ضمتا څخه جوړيږي. نوموړي څلور اړخه سطحه کله د نيمه شفاف کاغذ په واسطه هم پوښل کيږي. ددې پرځای، چې په ديوال باندې نصب شي يا هر ډول بله ځلا، چې د هغې پرمخ ور برابره شي. په معمول ډول د تختو د تينګولو لپاره د تکراري طريقو څخه استفاده کيږي.

**د تختو ډولونه**

زياتره تختې يا لتې يوه مخه وي ولې کله، چې تختې يا لتې د ديوال د داخلي او بهرني سطحو ځای ناستی شي د دوه روخه يا دوه مخه تختو څخه استفاده کيږي. منځنی تختې هم وجود لري، چې ډېر کم استعماليږي يوازې د ډيکور د ښايست او د تنوع يعنې رنګا رنګ د رامنځ ته کېدو لپاره دغه طريقه د تختو د وړوکي سيکلوراما ځای هم نيسي.

## ۶، ۱۳- د صحنې قطعات

په سټوډيو کې زياتره قطعات مخکې جوړ شوي وجود لري. دغه قطعات په مختلفو شکلونو لکه ددروازه، پنجره، الماری، تاقچه، ديوالي بخاري او نور وجود لري، چې د اړتيا سره سم دغه قطعات د دوه مخه تختو پرمنځ کې ځای پر ځای کيږي. د يوې خونې د ديوال مکمل نما برابره وي، اما امکان لري، چې د نوموړو قطعاتو ځيني د پکار وړنې عيبونه ولري، چې قطعات يو ځای شي او ډېر وزن پيدا کړي او موازينه له لاسه ورکړي.

د مخکې جوړو شو قطعاتو بل ډول ازاد قطعات نوميږي په دغو قطعاتو کې درې روخه په مختلفو مقياسونو وجود لري؛ لکه: زينې، منځنی سرطاقونه،

مکعبونه، او مستطیلونه، له دغو قطعاتو څخه کولی شو د صحنې ارتفاع د زیاتوالي لپاره د شاخي یا چنګک په شان استفاده کوو.

**نیمه روخه قطعات**

نیمه روخه قطعات د څو پوسته تختو له ورقو یا هغې ته ورته موادو څخه جوړیږي. دغه قطعات د نظر وړ روخه د نظر وړ نماکې راځي او د لرګي د وسیلې په واسطه دریږي او یا د تختې یعنې لتي سره نږدې د یوه وزن لرونکي پایې په واسطه ساتل کیږي. ولو چې نیم روخه قطعات په دروغجن ډول په صحنه کې ځای پر ځای کیږي. اما په ننداره کې له لیرې فاصلې څخه په ځانګړي توګه له مقابل لورې څخه واقعیت ته نږدې دی په داسې حال کې، چې زاویه لرونکي ننداري کې نوموړي قطعات د نظر وړ ګمان له منځه وړي.

**۶، ۱٤- سیکلوراما**

(سیکلو) سیکلوراما د U په شان نازک جوړښت لري، چې په وړوکو سټوډیوګانو کې د بګراونډ په عنوان وجود لري. سیکلو د صحنې جوړونې د ډېرو مهمو وسایلو له جملې څخه دي. صافه او یو لاسي سطحه یې په عادي صورت یو خنثی یعنې بې ګټې بګراونډ جوړوي. همدارنګه کولی شو سیکلو د رڼا مقابل کې زینتي صحنو بدله کړو. سیکلو پکار ده، چې صافه او پرته له ګونزو یعنې کات او ماته نوي، رنګونه یې سپین، روښانه ایرورنګي، تینګ ایرورنګي، توره، روښانه او تینګه آبي وي. د سیکلو لپاره په اوس وخت کې زیاتره آبي رنګ غوره کوي. داځکه چې د کروماکي رنګ آبي وي.



(شکل
(۶:۹https://listings.concourse.co/e



(شکل
(۶:۱۰https://www.bcu.ac.uk/cur

## ۶، ۱۵- د صحنې د ورغوي په صیقل یا آرایش په مورد څو ټکي

د تلویزیوني سټوډیو زیاتره ورغوي یوه ځانګړي طبقې تشکیلوي، چې یوه نه خویدونکي رنګ مسطح اوله اکوستیک نظره لږ شان ارتجاعي دروازي د انعکاس د کموالي لپاره د حرکت لپاره مناسب دي. د سټوډیو ورغوي زیاتره د لینو (Linomal) (له بې ګټې پارچې یعنې ټوټې څخه،چې له موم څخه جوړ شوي وي) د کمرې حرکت د اسانتیا لپاره اړین دي.

**د صحنې د ورغوي د طراحي طریقه**

د اړتیا په صورت کې کله، چې د صحنې ورغوي انځور په قاب کې ځای نیسي په مختلفو طریقو سره کولی شو هغه طراحي کړو لکه: د کاغذ فرش، د کاڼو چغل، خاوره، قالین،سترنجي الګو ، کاشې، خښتې او نور. په ځینو سټوډیوګانو کې د الګو جوړونې ماشینونه وجود لري، چې مختلف تزئینونه د صحنې پر ورغوي لکه د کاڼو فرش، خښې لګول او نور تزئینوي. دا ډول نقشونه یوه اسانتیا لري هغه داده، چې د کمرې د حرکت په لار کې موانع نه ایجادوي. ولې ددې ډولونو نږدې نما قانع کوونکې نوي او په بې رنګه نیم مرطوب کیدو سره پاکیږي.

د هغو فرشونو څخه لکه: قالینه، اوټغر کله، چې کمره په درې پایو باندې حرکت کوي غږ د هغوی لپاره اجباري نوي کیدی شي، چې د صحنې د ډیکور په ورغوي کې ورڅخه استفاده وشي غږ اخیستوونکي د هغې پکار وړنې څخه راضي دي دا ځکه،چې اتوستیک یعنې د غږ ماتولو خصلت نلري.

همدارنګه د صحنې د ورغویې موقت ارایش د هغو رنګونو په مرسته، چې په اسانۍ سره پاکیږي نږدې ځلا چې واقعیت ته نږدې وي لکه: پیاده رو، سرک او نور ایجاد کړو. د صحنې د ورغویې د پوښلو لپاره د نورو موادو څخه هم استفاده کیږي، چې دغه مواد ولو چې پخوانۍ طریقه ده ولې تر اوسه له دې چې قالبي پارچې یا قطعات لکه مجسمې، ستنې، د ګاڼو فرشونه او نور په داسې ظرافت سره وجود لري، چې حتی له نږدې څخه نشو کولی، چې د هغې مصنوعي والی احساس کړو، سره له دې د اړتیا پر بنیاد د صحنې د ورغویې د پوښلو لپاره،چې لاندې یې نومونه اخیستل شوي کار اخیستل کیږي.

1. Peat (تورب) د وښو سره نا رسيدلی سکاره، د خاورې په ځای.
2. د اري خاوره يا بور، د واورې پر ځای، (په سپين ژېړ قهويي ته مايل او تينګ قهويي)؛
3. د پښې لرګي، د جغل پر ځای له اواز پرته (واقعي جغل غږ توليدوي)؛
4. د پولي دانی استرين (يو ډول پلاستيک دی) ځيني وختونه دغه عناصر د واورې په ځای کارول کيږي (اما امکان لري ډېر سپين وي)؛
5. وچې پاڼې د بهرنۍ صحنې لپاره واقعيت وربښي په اطراف کې تيت کيږي.

هغه مهمې نکتې، چې مختلفو موادو د تيت کولو لپاره د صحنې په ورغوي باندې په نظر کې لرو دادي: نوموړي مواد بايد اور اخيستونکي نه وي، چې وسايلو ته کومه صدمه يعنې ضررونه ورسوي، د کمرې داخل يا څراغونه او يا د کمرې پايې ټيرونه او يا دغږ بوم ته ستونزه ايجاد نه کړي او زنګو ضد وي او سوليدلي نه وي نو په همدې دليل له مالګې او شګې څخه د صحنې ورغوي لپاره ګټه نه اخيستل کيږي.

**د رڼا په مرسته د صحنې د ورغوي طراحي**

رڼا د تلويزيوني توليد د عمده وسايلو له جملې څخه دي ددغې وسيلې څخه، چې د صحنې د جوړولو سره نږدې پيوند لري د صحنې د ورغوي په طراحي کې هم بې شمېره په کار وړنې لري، ولې د تجهيزاتو په واک لرل دقت او کافي تجربې لرل غواړي.

د رڼا په واسطه زينتي الګوګانې د سيوري اچوونکو په صورت کې د رڼا د مستقيمې ځلا په صورت کې رڼا د ځانګړو ځراغونو په مرسته (ځلا لرونکي ځراغونه الګولرونکي) پيدا کوو. په دغې مورد کې د ځراغ او غوځ شوي شکل په منځ کې فاصله متناسبه وي چې رڼا د وړوکي سرچينې ځخه په عمودي صورت وځليږي. د رڼا ځخه استفاده کول ستونزې او محدوديتونه هم لري.

1. سطحه په کار ده، چې په روښانه رنګ پرته له الګو ځخه وي. د رڼا الګوګانې د ټينګو اطرافو پرمخ جل او بل تزيني انعکاس نلري؛
2. د رڼا د ځلا په مسير يا لاره کې په کار نه ده، چې ډيکور او يا نور شيان ځای پر ځای شي؛
3. په عمودي زاويه کې پرته له ځلا ځخه به مطلوبه ځلا لاسته را نه وړي؛
4. محافظتي ټکي له هغې جملې ځخه د ځراغونو زيات حرارت، چې غوره ځلا په نظر کې وي.

**د صحنې په ورغوي کې د اختلاف رامينځته کېدل**

کله داسې پيښيږي، چې د نمايش پروخت کې د صحنې ورغوي د ناهموارې ځمکې، چې لاندې ژوروالی ولري نما ښايي. په دغې حالت کې د سټوډيو يو مسطح ورغوي نه شي کولی د نما د واقعيت ځواب ورکوونکي وي او له بل اړخ ظاهراً د صحنې په ورغوي کې د اختلاف رامينځته کېدل په داخل د سټوډيو کې ناممکن انعکاس کوي، ولې داسې نه دي. د داسې حالت د نمايش لپاره مختلفې طريقې وجود لري.

ددغو طريقو ځخه يوه طريقه داده، چې د مکعبونو ځخه ګټه اخيستل، مايلې سطحې د آرې بور خلطي بله طريقه غوځول يا cut دي، يعني کله چې لوبغاړي

دروازه خلاصوي په هماغه ځای کې په غوځولو سره کولی شو بلې نما ته لاړ شو، حتی کله کله لوبغاړي د خپل زنګون په قاتولو سره داسې تمثیل کوي، چې ګویا لاندې منزل ته دکوزیدو مفهوم لیدونکو ته ورښايي.

## ۶، ١٦- د چت د ننداري طریقه

زیاتره برابرونکي دا هڅه کوي ترڅو د چت د ډیکور مساله یو طرف ته



(شکل ۶:۱۱)http://writeteens.com/15244/trailer-home-inside/inside-trailer-house-vintage-



(شکل ۶:۱۲)http://www.biodiversityworldtour.com/luxury-mediterranean-style-house-room-decorating-ideas-e551c7a279b98ea6.html

پرېږدي. ولې کله کله د چت ننداري ته هم اړتیا لېدل کیږي؛ څرنګه چې د انځور اخیستنې پر وخت کې د پورتنۍ زاویې او ولاړو ډیکورونو د انځور څخه

تجاوز د چټ وجود مجبوروي. حتی د صحنې ځیني طراحان د چټ لپاره په زیات ارزښت باندې قایل دي نسبت ورغوي ته.

د تلویزیون په صحنه کې دچټ د ځای ناستې د دوو علتونو پر اساس په کار وړل کیږي:

لومړی ــ د صحنې له حدودو څخه د صحنې تجاوز، دویم ــ د ځانګړو محیطي ځلاګانو لپاره.

د چټ موجودیت په صحنه کې دغږ اخیستلو او رڼا اچونې ته ستونزې راولاړوي. داځکه، چې د چټ وجود د رڼا اچونې لمن محدودوي، ولو کله په چټ کې د څراغونو ځای پر ځای کول د یوالونه او مجرا کولی شي، چې د حل لاره وي.

### ۶، ۱۷- د ژوري ننداري څرنګوالی

د تلویزیوني خپرونو د تولیدونکو یوه هڅه دادی، چې د ژوري ننداری ښودنه د تلویزیون انځور لاندې په مسطح صحنه کې دي. مخکې له دې په سینما کې سینماکارانو د ژوري ننداري عرض او ارتفاع لپاره په صحنه کې به د ستونزو سره مخ ول په ورو ورو د وخت په تیریدو سره دغه ستونزه حل شوه او نن ورځ په تلویزیون کې هم مختلفې طریقې د عمق د نندارې لپاره پکار وړل کیږي. ددغو طریقو یوه د شیانو او اشخاصو لیري والی او نږدیوالی د صحنې پرمخ دی. یعني دبګراونډ او مخکې بګراونډ د فاصلې په ایجادولو سره کولی شو، چې د صحنې ژوري ننداري رامنځ ته کړو، ولې د انځور اخیستنې پروخت کې د کمرې زاویې لپاره باید دقیق واوسو داځکه، چې د نامناسبو موقعیتونو څخه نه یوازې داچې په انځور کې ژوري ننداري احساس له منځه وړي بلکې

ځينې نور نامناسب تأثيرات هم رامنځ ته کوي. همدارنګه پکار نه ده، چې د ژوري ننداري لپاره په مخکې زمينه کې افراط وشي په هغې صورت کې به دانځور د اخيستلو لپاره موانع رامنځ ته شي.

همدارنګه ژوري ننداره په صحنه کې کولی شو په اسانې سره نقاشي شوي د بګراونډ څخه د يوه غټ عکس له منظرې سره وصل کړو. د عکس يا تختو د ښکتنی غاړې د ځلاګانو په منظور د نقاشی شوي ستوډيو د صحنې د ورغوي سره ادغام شي او يا هم په مناسبه طريقه مخفي شي او يا هم د مخکې زمنيې په مخکې د غټو شيانو او يا وړوکوو انځورونو ځای پر ځای کول د فاصلې په منطقي رعايت سره او په پسزمينه يا بګراونډ کې اندازې سره هم کولی شو، چې عمق ته زياتوالی ورکړو.

## ۶، ۱۸- درواغجنه منظره يا (پرسپيکتيف)

د انځورنو د ننداري لمن د تلويزيوني مختلفو سوژو سره ددې غوښتنه کوي، چې پرسپيکتيف يعني منظره تحريف



(شکل ۶:۱۳http://shahrang.ir/painting/kermanshah-painting/نقاشی-کناف-کرمانشاه/)



(شکل ۶:۱۴)http://www.home-designing.com/2014/03/sophisticated-home-with-asian-tone

کوي سر ځوړنده ننداره ورکوي، موږ ددې شاهد يو، چې کله د تلويزيون ښخه د اندازې او شکلونو لکه انسان او نورو شيانو ننداره کوو، چې باور مو ورباندې نه کيږي او دا پوښتنه د ټولو سره راپيدا کيږي، چې څرنګه انسان دومره غټ يا کوچنی ښودل کيږي؟ کيدای شي ددې پوښتنې ځواب په لاندې انځورونو کې پيدا کړئ. په ۲۵ صفحه کې انځور شته.

اما د صحنې د منظرې ننداره او د شیانو فضایي اړیکه عمدتاً په لاندې عواملو پورې اړه لري:

د کمرې فاصله له صحنې څخه دکمرې د فاصلې په پاملرنې سره کولی شو، چې د صحنې پرسپیکتیف یعنې منظره کمه یا زیاته کړو. له بل اړخ، متحرکه کمره د شخصیتونو په موازاتو یعنې مخامخ کېدو سره صحنې ته عمق ورښيي او په ضمن کې په دوامداره توګه د انځور مقیاس او د شیانو فضایي اړیکه بدلوي او په دې ترتیب یو ډول دوامداره پرسپیکتیف یعنې منظره ایجادوي.

## ۶، ۱۹- د متحرکو واحدونو ننداره

برابرونکی (یعنې تهیه کوونکی) تر اعظمي حده زیار باسي ترڅو په ستوډیو کې د هر ډول محیطي ځلاګانو او هر ډول محیطه را پیدا کیدو زمینه برابره کړي. یو ددغو انعکاساتو څخه هم د وسایطو حرکت لکه موټر، رېل، کشتي، او نور دي، چې د دا ډول انځورنو نمایش لکه، چې لیدونکي د هغې د واقعي کیدو احساس وکړي دا په ستوډیو کې امکان لري. ولې د نقلیه وسایلو د حرکت د القأ یعنې ښودلو لپاره بې شمېره عواملو ته اړتیا دی. پسزمینه یا بګراونډ باید، چې متحرک وي، د نقلیه وسایلو ځینې برخې باید ځانګړی لړزش ولري، هغه کسان، چې د نقلیه وسایلو څخه بهر دي په سرعت سره د ګرزیدو په حال کې وي. رڼا او سیوری باید، چې متحرک وي، د موټر او وسایلو غږ باید، چې واورېدل شي، محیطي غږونه لکه د نورو موټرو غږ هم باید، چې د اورېدلو وړ وي، پېښه او بګراونډ باید هماهنګ یعنې هم غږي وي، یعنې د نقلیه وسیلې د توقف په صورت کې پسزمینه یعنې بګراونډ هم باید، چې متوقف یعنې ودریږي. کله چې د پسزمینې یعنې بګراونډ ننداره د فلم د نوار یعنې کیسټ څخه جلا صورت مومي پکار ده، چې د مخکې زمینې یعنې مخکې بګراونډ دقیق زمان بندي

ولري يعنې د وخت وېشل ولري. ځانګړي فنردار چنګکونه د حرکتونو د وړاندې کولو لپاره زياته پکار وړنه لري. په داسې حالاتو کې د کمرې عمودي حرکت په درې پايې باندې يعنې (تيلت) پيروي کيږي او حتا د رڼا او لوبغاړو حرکات هم د هغو سره هم غږي وي.

## ۶، ۲۰- ځلورم ديوال

هغه شيان او پسزمينه يعنې بګراونډ، چې د صحنې په جوړونه کې د استفادې وړ ګرځي په قوي توګه ځلورم ديوال د انسان په ذهن کې ايجادوي. همدارنګه د انځور اخيستنې په طريقه په مختلفو برخو کې او ددغې صحنې په غوځولو او پيوند سره د هغوی د همسايګی يا ګاونډيتوب احساس برابروي، ولې کله کله ځلورم ديوال ته هم اړتيا لېدل کيږي. په دې صورت کې د کمرو تحرک، کړنې رڼا اچونونه او د غږاخيستنه ستونزمنه او محدوده وي. ددغې ستونزې د حل يوه طريقه د کمرې لپاره د ديوال په مخفي ځايونو کې د سوريو اماده کول دي. همدارنګه په داسې حال کې، چې د يوالونه په ساده ګی سره حرکت وکړي. په دې اړه بل وړانديز دادی، چې انځور اخيستنه بايد مسلسل او وصل شوي نه وي او رڼا اچونه په دقت سره سرته ورسيږي.

## ۶، ۲۱- د صحنې په جوړونه کې د آينې ځخه ګټه اخيستنه

آينه د بشر په زړه پوري اختراعاتو ځخه دی، چې اوس همدغه اختراع د فزيک د علم يو په زړه پوري بحث تشکيلوي. نن ورخ د تلويزيون صحنه جوړونه کې ورځخه په زړه پوري استفاده کيږي. د سارې په توګه د ديوالي آينو په مرسته کولی شو يو معمولي اطاق يا خونه وسيع يعنې پراخه وښايو اما د آينې پکار وړنه په صحنه جوړونه کې عيبونه هم لري له هغې جملې ځخه د صحنې ځخه

بهر د انځور انعکاس ، چې اړین نه وي. ولې د آینې د زاویې په تغییر سره کولی شو ددې ستونزې د رامنځ ته کیدو څخه مخنیوی وکړو. په صحنه جوړونه کې د آینې څخه د استفادې لپاره پکار ده، چې ددغې پدیدې د فزیکي تجربو او ځانګړتیاو څخه خبر واوسو.

**د صحنې په جوړونه کې د آینې پکار وړنې څو موارد**

له آینې څخه د پورته خوا څخه د نما د ښودنې لپاره د اشپزې د زده کړې د خپرونې دنمایش لپاره، د پیانو د غږولو لپاره، د نڅا یعنې رقص د صحنو لپاره او نور کې استفاده کیږي. د دا ډول انځورونو د اخیستلو لپاره د کمرې ځای پر ځای کول په داسې موقعیتونو کې ډېر زیات ستونزمن وي.

البته د سټوډیوګانو آینې زیاتره لوی او د (8-6 فټ) په اندازې سره وي. د غټوالي او یا لویوالي پر اساس د هغو وزن د زیاتوالي او مساحت سبب شوي، د وړلو او راوړلو پروخت کې ستونزې ایجادوي او سیوری ایجادول په تعقیب کې له ځانه سره لري.

په کوچنیو سټوډیوګانو کې د فاصلې د زیاتوالي لپاره د آینې څخه کار اخلي. د دوو آینو په مخامخ کیدو سره مسافه اوږدیدلی شي. آینې فاصلې د ډیکور په یوه برخه کې وړوکي او یا دوه چنده کوي. ددې تجربې څخه په ګټه اخیستنه د صحنې د ګوتو په شمېر جمعیت دوه برابره کوي او له آینې څخه کیدلی شي په سلګونو نورو مواردو کې ګټه واخلو.

**۶، ۲۲- په داخل د سټوډیو کې شنه فضأ**

په مخکینو بحثونو کې د سټوډیو په داخل کې د تپو د ایجاد په مورد کې خبرې وشوې، بله اړتیا د بهرنی فضأ د بیا رغونې لپاره لکه: باغ، چمن، ګل خانه،

ونې او نور د تلويزيوني سټوډيو په داخل کې د اجرا وړ دي. د طبيعي ګیاه او ګلانو پکار وړنه سره له دې، چې د صحنې په جوړونه کې امکان لري، ولې تر هغې ځایه، چې د خپرونې ثبت وخت اخلي او د څراغونو حرارت کيدی شي ګلان مړاوې کړي او دهغو تازه والی له منځ یوسي له بل اړخه امکان لري، چې د ګلانو طبيعي رنګونه د کمرې په واسطه مبالغه امېزه وړاندې شي نو په دې اساس زياتره د شنې فضأ د بیا رغونې لپاره د شنې ګیا او تازه ګلانو چې واقعي وي نو ښه نتيجه نه ورکوي.

**د تلويزيون په صحنه جوړونه کې د درې ډوله شنې ګیاه څخه استفاده کيږي:**

1. ژوندی شنې ګیاوې: چمنونه، بوټي، ګل دانی، نباتات او نور؛
2. وچې ګیاوې : د ونو شاخونه ـ د وښو ګیډی، رېژول شوي پاڼې او نور؛
3. مصنوعي واښه: ګلان ـ مصنوعي شاخونه او پاڼې، د چمن مصنوعي پاڼې او نور.

## ۶، ۲۳- نما (Shot)

د انګليسي کلمې معادل shot دی، چې د توليدي ګروپ په منځ کې هم په همدې نوم يعنې په انګليسي استعماليږي. تلويزيوني خپرونې په حقيقت کې د غوره شويو نماګانو مجموعه ده (نه تصادفي)،چې د تصوير اخيستوونکي له خوا د کارګردان په هدايت سره ثبت کيږي، البته دا يو ټکی بايد هير نه کړو، چې هر هغه څه چې په تلويزيون کې مشاهده کيږي تصادفي نماګانې نه دي، چې هر سړی کمره په اوږه کړي د انځورونو په اخيستلو فکر وکړي او ووايي، چې تلويزيوني خپرونه يې فلمبرداري کړي ده! د تلويزيون د کلونونو په ايجاد کې او تر هغې مخکې په نما کې د نماګانو لپاره طبقه بندي رامينځته شوي، چې هره

نما يې د خپروني د اړتياوو او ځانګړتياوو په اساس انتخابيږي. دا بايد په ياد ولرو، چې د انسان په مورد کې د نماو دسته بندي د اجرا وړ دي او دشيانو په مورد کې دغه دسته بندي ارزښت نه لري.

د نهايي خپروني د ثبت او تمرين په جريان کې د تهيه کوونکو ټولې هڅې په دې باندې دي، چې ترڅو يوه ښه او د لېدلو وړ خپرونه برابره کړي. لکه څنګه، چې د يوې خپروني د متن په اړه فکر کيږي ترڅو په بهترينو او مناسب ترينو کلمو يعنې واژو باندې پيغام انتقال شي ترڅو مخاطب تر تأثير لاندې راشي، د انځورنو په اړه هم په همدې ډول فکر کيږي، چې په کومو نماګانو (د انځور ژبې واژه) سره اړيکه ونيول شي ترڅو نه يوازې داچې د ښايست له نظره، بلکې د پيغام د انتقال او معنا د افادې لپاره مناسب وي. دغه آمر د تصوير اخيستوونکي او زيباشناسي او د کارګردان **په اسشمبر پورې اړه لري، چې څومره کولی شي په پدې برخه کې موفق وي. په ساده ډول لکه څنګه، چې کولی شو يو مفهوم په ليکلي يا ويلي بڼو ښه بيان کړو؛ کيدای شي پدې کې، چې د ډېر ظريف بيان طريقه هم وجود ولري خو پکار ده، چې هغه پيدا کړو.**

**کله چې خبره له نما يعنې شاټ څخه وي نو مقصد دادی، چې دتلويزيون د صفحې کوم مقدار د انځور په کومو ځانګړنو باندې ډکه شي او اصلي سوژه په کوم مقدار او کومه بڼه ننداريې ته وړاندې شي. له بل اړخه دغه شاټونه نه يوازې داچې د څرنګوالي او بڼې له نظره نمايش ته مطرح دي، بلکې هغه معنا کومه، چې بيانوي هم په نظر کې نيول کيږي او کارګردان د شاټونو د ځای پر ځای کولو په اساس کولی شي، چې پاملرنه هغو ټکو ته راجلب کړي او بل اړخ ته کم ارزښته انعکاس ورکړي**

په پورتینو خطونو کې وویل شول، چې یوه واحده طبقه بندي، چې په زیاتره تلویزیوني ستوډیوګانو کې، چې د انسان انځور اخیستنې په مورد کې وجود لري عبارت دي له:

1. فوق العاده ستره نما **Extreme Close Up(ECU)**: کاملاً نږدې نما، چې ټول زیاتره جزیئات په ښکاره توګه وړاندې کوي. لکه: د شونډو انځور، د لاس ګوتې...



(شکل ۶:۱۵)https://www.mediacollege.com/video/shots/extreme-closeup.html

2. ډېره واضح نما یا شاټ **Very Close Up(VCU)**: د شا واضح نما یعني شاټ (د وچلي له وسطه څخه د ځینې تر پورتنۍ برخې).



(شکل ۶:۱۷) http://jackwhale.blogspot.com/2015/10/basic-camera-shots.html

3. ډېره واضح نما يا شاټ (BCU) Big Close Up:د انسان د ټول بدن شاټ head room په لرو سره.



(شکل ۶:۱۶) http://mediastudiestvdramas.blogspot.com/2014/09/more-basic-terminology-mcu-this-is.html

4. سخته (درشت) نما يا شاټ (CU) Close up نږدې نما د head rom په لرلو سره د سينې تر سره پورې



(شکل ۶:۱۹)
http://www.slavia.info/gallery/medium-shot-

5. نږدې متوسطه نما يا شاټ (MCU) Medium Close up: نږدې نما يا نيمه تنه يي، چې د سينې په ښکتنی برخه باندې ختميږي.



(شکل ۶:۱۸) http://asmediaslaterme.blogspot.com

6. متوسطه نما یا شاټ Medium Shot(MU) : د انسان نیمه تنه يي شاټ یعني د ملا تیر تر ښکتنۍ برخې پورې.

7. د زنګون نما یا شات ۳/۴ Knee Shot: ۳/۴ شاټ یعني شخص له



(شکل ۶۰۲۲ https://www.thehindubusinessline.com/blink/watch/the-

زنګون څخه پورته د انځور په قاب کې ځای نیسي.

8. لیرې متوسطه نما یا شاټ Medium Long Shot (MLS): لیرې متوسطه نما یا د ټول قد نما په دغې نما کې بدن په زیات مقدار لږ شان پورته head room زیاتره دوه برابره د foot room وي.

9. لیرې نما یا شاټ Long Shot (LS): په دغې شاټ کې شخص ۳/۴



(شکل ۶:۲۱) https://www.flickr.com/photos/42824027@N07/4029129010/

یا ۱/۳ د صحنې ارتفاع ډکوي.

10. کاملاً لیرې نما یا شاټ Extreme Long Shot (ELS): دغه د wide shot په نوم هم یادوي.



(شکل ۶:۲۳) https://www.shutterstock.com/video/search/extreme-long-shot

د یادولو وړ خبره داده، چې غوڅول یعنې cut د هرې نما لپاره پکار نده، چې د مفاصلو او مقاطع نقطو کې صورت ومومي. څرنګه چې غوڅول د

بدن اعضأ قطع شوي ننداري ته وړاند ې کوي. لکه: ورمېږ، څنګل، د لاس بندونه، ملا، زنګونونه، او د پښو بندونه دي.



(شکل ۶:۲۰)
https://www.flickr.com/photos/matt023/5498550869/lightbox/

## ۶، ۲۴- په شاټونو پورې اړوند اصطلاحات

څرنګه چې هره ژبه او مسلک ځانته ځانګړي واژې او کلمې لري او هماغه مسلک کارکوونکي په خپله تخصصي ژبه هغه کاروي، د تلويزيون په ستوډيو ګانو کې هم خپله تخصصي ژبه وجود لري، چې شايد د هغو خلکو لپاره، چې له مسلک څخه بهر او ورته د فهم وړ نه وي. دغه




(شکل ۶:۲۴)http://myinfo.vcp.ir/posts/116477-فن-بیر نامه-

واژې کله په محلي ژبه اړول شوي او هم زياتره په هماغه انګليسي ژبه ورڅخه کار اخيستل کيږي. د نماګانو او کمرو په اړه هم واژې يعني کلمې وجود لري، چې د خپرونې د ثبت پر وخت کې رد بدل کيږي. ځيني دا واژې، چې زياتې معمول دي:

1. يو نفري نما يا Single Shot
2. دوه نفري نما Two Shot
3. درې نفري نما Three Shot
4. ډليزه نما Group Shot
5. کامله يا خلاصه نما Long Shot, Full Shot
6. تړلي يا واضح نما (درشت) Close Shot, tight shot
7. Wide Shot, Over Shot
8. د پورته خوا ځخه نما په تيرو غاړو سره ښکته خواته د 40 څخه تر 60 درجو پورې
9. ناهمواره نما Level Shot: د سترګې د ديد سره موازي يا د سينې خط، چې هيڅ زاويه د افقي خط سره نه جوړوي
10. د ښکته خوا څخه نما Low shot, Depressed Shot: دکمرې سر پورته خواته او ارتفاع يې د انسان له قد يا ونې څخه لنډه يا 20 څخه تر 60 درجو د افقي خط سره وي.
11. د انځور د قاب پورته فاصله له سوژې څخه head room
12. د انځور د قاب ښکته فاصله له سوژې څخه foot room

**۶، ۳۲- د نما يا shot اندازه او دهغې تأثير په لېدونکي**

**ډېر ليرې نما يا شاټ (ELS)**

ددغې نما ځخه د پراخه فضأ د ښودلو لپاره استفاده کيږي. ځيني کارګردانان ددغې نما د پکار وړنې ځخه راضي نه دي، هغوی استدلال کوي، چې انځور د اجزاؤ کوچنيوالي صحنې ته خنثی حالت ورکوي يعنې بې ګټې حالات ورکوي او دغه کارنه يوازي داچې د لېدونکي د ستړيا سبب ګرځي، بلکې د پاملرنې وړ هم وي. ځرنګه چې په تلويزيون او سينما کې ددغې نما ځخه د عظمت يا د ستروالي ــ د صحنې د غټوالي يا لويوالي لکه: قصرونه، دښتې، بيابانونه، او نورو لپاره پکار وړ کيږي او لېدونکي د هغې محيطه يا منطقې سره، چې پېښه پکې پېښه شوي يا پېښيږي اشنا کوي.

**ليرې نما يا شاټ (LS)**

په سيمنا او تلويزيون کې د ديکور تختې هغه وسايل دي، چې په صحنه کې ورته ځای ورکړل شوي دي او د ليرې نما يعنې Long Shot په مرسته د تلويزيون په صفحه کې نمايش ورکول کيږي او د محيطه معرفي صورت نيسي. د محيطه په نمايش او صحنې په فضأ سره لېدونکي کولی شي حرکات او محيطي فضأ تشخيص کړي په اصطلاح ګبچ نه پاتې کيږي. نو ددې نما ځخه نږدې او واضح (درشت) انځورونه د جزئياتو په معرفي باندې پيل کوي.

د صحنې په ليري نما کې زياتره اهميت پيدا کوي، دا ځکه چې مجري سر تر پای ښودل کيږي او پر مهمو شيانو باندې تاکيد صورت نه مومي. انځور کولی شي، چې له توازن يعنې موازنې ځخه برخمن وي، ولې دا بايد هېر نه کړو، چې که مقدمه چيني لکه ځرنګه، چې په داستان ليکنه کې اړتيا ځخه زياته وي نو لوستونکی ستړی کوي په

همدې شان که همدغه مقدمه چيني په سينما يا تلويزيون کې په ليرې نما سره ډېر وخت ونيسي نو د لېدونکي لپاره به ستړی کوونکی وي،نو د ليرې نما څخه بايد په مناسب وخت کې نږدې نما ته انتقال وشي البته دا يو ټکی بايد، هېر نه کړو چې د نماګانو بدلول د رڼا اچونه متأثره کوي، چې دغه تغيير بايد له مخکې څخه په نظر کې ولرو، له بل اړخه د ليرې نما په بدلولو سره نږدې ته د انځور ارزښت هم مجريانو ته تغيير کوي او حرکات او د مجريانو حرکات زيات ارزښت پيدا کوي او د تصوير توازن ګډوډ کيږي.

### متوسط شاټ (MS)

په متوسطه نما کې افراد له زنګون څخه پورته ښودل کيږي. دا ډول نما د صحنې د پېښو او د لېدونکي اړيکه د خلکو سره او د صحنې په داخل کې عناصرو لپاره پکار وړل کيږي. په متوسطه نما کې لکه څنګه، چې انسان د انځور د قاب زيات ځای اشغالوي، د فضأ يوه برخه حذف کيږي او انځور په قاب کې شخصيتونه د فضأ پر اړه غلبه لري يعنې بريا لري. د تياتر او تلويزيون نمايش نامو لپاره دغې نما څخه زياته ګټه اخلي، په دا ډول نما کې دخبرو پروخت کې لوبغاړي احساس او درول اجرأ وضاحت پيدا کوي.

### تند خويه شاټ (CU)

بدخويه شاټ لېدونکي د سوژې سره په نږدې اړيکه کې واقع کوي او د موضوع جزئيات د لېدونکي لپاره ښکاره کوي. په دې حالت کې لېدونکي کولی شي، چې د لوبغاړو حالت او عکس العملونه په وضاحت سره ننداره کړي. دا ډول نما دلېدونکي د پاملرنې په راجلبولو

کې خورا زيات اهميت لري. ولې د هغې په کار ورنه کې بايد دقيق واوسوو، که تصوير اخيستنه له موضوع څخه د دا ډول نما غوښتنه وکړي نو په دې صورت کې نه يوازې داچې بې فايدې کار به مو سرته رسولی وي بلکې د ليدونکي علاقه به مو هم له لاسه ورکړي وي له بل اړخه دا ډول نما د څهرې د عيبونو د را برسېره کيدو سبب هم ګرځي. البته د دا ډول نما په انتخاب سره د نندارچيانو ديد د وسيع محيطې څخه محدوده وي او د ليدونکي پاملرنه اصلي موضوع ته را کموي، نو دغه نما د وخت له نظره پکار نه ده، چې هغومره طولاني وي، چې ليدونکی اصلي موضوع هېره کړي.

## ۶، ۲۵- د کمرې زاويه

يوه بل عوامل، چې دشاټ په ښائيست او ښوالي باندې تأثير لري د کمرې د زاويې غوره کول دي. زاويه عبارت د کمرې د نيولي طريقه نسبت موضوع ته، چې هغې څخه انځور اخيستنه کيږي. د کمرې زاويه د ليدونکي عکس العمل ته تأثير لري. د کمرې د زاويې په غوره کيدو سره دا تعين کيږي، چې ليدونکی سوژه څرنګه ننداره کړي. د کمرې زاويه د انځور په احساس، کيفيت او پرسپيکتيف يعنې منظرې په توازن او ترتيب کې زيات تأثير لري، دا ځکه، امکان لري چې ناسمه زاويه د انځور او شيانو د ګدوډۍ خرابۍ باعث وګرځي او برعکس مناسبه زاويه د شيانوله موخي او وضاحت سره مرسته کوي.

نامناسبه زاويه نه يوازې دا چې سترې کوونکي او زړه تنګي وي، بلکې د ليدونکي د سرګنګسي سبب هم ګرځي، پردې اساس د زاويې غوره کول د ښائيست عوامل، احساس او فني احساس، دتدوين مراحل

یعنې آب او هوا یا اوبه او هوا اود فزیکي وضعې په نظر کې نیولو سره سرته رسیږي ترڅو د انځور دراماتیک کیفیت لوړ شي، او په بهترینه وجه اعمال، وضعیتونه، حالتونه، د لوبغاړو احساسات او د پېښې لاره او ځرنګوالی تر ټولو مهمه د شاټ د مضوع موخه لېدنکي ته ارأیه یا وړاندې شي او دهغه پاملرنه صحنې ته راجلب کړي.

طبیعي عوامل لکه: لمر د کمرې د زاویې په غوره کولو کې باید تل په نظر کې وي. د کمرې د زاویې رول د هغه حالت په هکله کې، چې د کمرې زاویه د صحنې په مقابل کې دنده سرته رسوي درې ډوله دي:

1. (Objective): بې پرې ناظره کمره د صحنې بهر خواته ځای پر ځای شوي وي.
2. (Subjective): کمره د شخص ځای ناستی کیږي.
3. د دید د نقطې زاویه Point of View (POV): لېدونکي د دید له زاویې څخه او لوبغاړي صحنې ته ګوري.

**۶، ۲۶- هغه شاټونه، چې د هغو څخه باید ډډه وشي**

د انځورونو د اخېستلو پروخت کې باید له دا ډول شاټونو څخه ډډه وشي:

1. هغه شاټونه، چې یوه له افرادو څخه د نیم سر اوپرته له بدن څخه ښکاره شي؛
2. د سر د پاسه فضأ زیاته ده د قاب په داخل کې موضوع پکار نده، چې ساکنه او پرته له حرکته وي؛

3. د سوژو په منځ کې د بې مورده اضافي فضأ، چې په قاب کې دې ډېره وشي. د افرادو له حد نه زيات نږدېواي څخه د قاب په خوا کې هم ډېره وشي. ؛
4. د ډېرې کمې فضأ لرونکي شاټ له پورته او ښکته خوا څخه دقاب نه ډېر کم بهرمن دي؛
5. تل نيم روخه انځور يا درې اړخه د تصوير په قاب کې ځای پر ځای او متوازن کړي، چې د ليدو فضأ په قاب کې حفظ شي ؛
6. د انځور افقي خطوط بايد غوڅ يعنې پرې نه شي؛
7. که چېرته انځور د قانون مطابق يو دريېمه نه متوازن کوي نو موضوع يا اصلي شخص د انځور په مرکز کې راولي؛
8. متوجې واوسئ، چې د شخص انځور د شا طرف ته کس شاتنی برخه ونه پوښي ددې لپاره که چېرته ځانګړی مرام پکار وي؛
9. سر او اورمېږ د اشخاصو له تنې څخه جلا نه کړي؛
10. افرادو باندې خط مه ورکاږی که چېرته ځانګړی مرام مو پکار وي؛
11. د نامناسبې صحنې د ډيکور او نورو غير اړينو وسايلو څخه پرهيز وکړي.

## ۶، ۲۷- د شاټ د غوره کيدو په اړه څو ګټور ټکي

د لېدونکي سترګې په لومړي قدم کې صحنې ته دقيق کيږي. ارزيابي کوي يې، تحليلوي او د اړوندو شاټونو اړيکه يو د بل سره سنجوي، په دغې حالت کې که چېرته د هغې پاملرنه اصلي سوژې ته ورو‌ا نه ړول شوه نو لېدونکي فرعي ځانګړي صحنې ته ورځي او هغه څه، چې موږ يې غواړو د هغو ليد لاره منحرف کيږي. په داسې حال کې، چې خپرونه اود اوږده وخت لپاره په همدې

طریقه دوام وکړي نو انځورونه به د لېدونکي لپاره ګمراه کوونکي وي او دهغه د غوسي او قهر سبب هم ګرځي، نو د نماګانو د وضاحت او بصري تأثیراتو لپاره لاندې ټکي د مشورې په توګه کولی شو په نظر کې ولرو:

1. کوښښ مه کوئ، چې په هر شاټ کې بې شمېره سوژې ځای پر ځای کړئ.
2. پر هر ځای کې امکان لري د انځور په قاب کې د موضوع د سته بندي ساده تره کړئ او بې نظمي او تیت شوي انځورونه راجمع او جوړ کړئ.
3. د څو سوژو طرح کول او پیچلی ترکیب په یوه وخت کې ګیچ کوونکي دي.
4. په لاندې سوژو کې د زمیني د رنګ مخالف رنګ، برجسته تر په نظر کې راځي. مسطح زمیني او ډېر ساده او پرته له انعطاف څخه په نظر کې راځي، ولې که چېرته په منظم صورت او هنري رڼا اچونه وشي نو ډېر مؤثر انعکاس به وکړي.
5. پکارنده چې زمینه پرصحنه اوپیښوباندي غالب وي. د ډېرو روښانه او ځلادارو ،جل اوبل اوزینتي رنګونونه باید ډډ وشي.
6. د شاټ مفهوم لرل د دید نقطې ته، د کمرې په ځای او دید پورې اړیکه لري، که چېرته شاټ د مناسبې زاویې څخه انځور وانه خیستل شي امکان لري، چې سوژه یې کاملاً عادي او معمولي او انځورنه مبهم په نظر کې راشي.
7. د سوژې په سیورو کې راوستل او پټ ساتلو څخه ډډه وکړئ.
8. په نږدې نما کې جزئیات د معمول حد نه زیات او عادي به وي، هغه انځورونه، چې د ډېرې نږدې نما څخه واخیستل شي، مبهم سیوری به

پرته له جزئياتو څخه وي او انځورونه او د ورځپاڼې انځورنه غټ ښودل به مبهم او نا واضح وړاندې شي او برعکس او په ډېره لیرې نما کې جزئيات نه لیدل کیږي.

9. متوجه واوسئ کله، چې لېدونکو ته د سوژې ډېره کمه برخه وښايې، او لېدونکي ددې برخه اړيکه تصويري سوژې سره بايد تشخيص کړي.

10. له منطقي نظره تر هغې وخت، چې مخاطب لازم او موجود اطلاعات په یوه نما کې پيدا کړي نه وي او يا حرکت د پای ته رسيدلو په حال کې وي او ختم شوي نوي پکار نه ده، چې نما غوڅه کړئ.

11. که چېرته نما په کافي اندازه او له حده زياته د تلويزيون پر صفحه وګوري نو لېدونکي به سرګردانه او عصباني شي.

12. په عمل کې دا چې تاسې تر څه وخت، کومه نما د صفحې په مخ وساتي د مختلفو عواملو سره تړاو لري له هغې جملې څخه، چې شاتې تر کومه حده په زړه پورې دی؟ نوي حرکتونه او يا هم د هنرمندانو فعاليت څرنګه دی؟ د نما ارزښت د ټولو خپرونو سره په اړيکه کې تر کومه حده دی؟ د نما مسلطه بڼه او حالت نسبت نورو نماګانو ته څرنګه توصيف کیږي؟

## ۶، ۲۸- کمره Camera

لکه څومره، چې په تخنيکي برخو کې عام او تام مسلطه کیدل د تلويزيون د کارکوونکو لپاره اړين نه دي، ولې د دغو وسائيلو سره اشنايي او بلدتيا په ځانګړي توګه د کارګردان او دخپرونې د پروډيوسر لپاره مهمه ده، دا ځکه چې ددغو وسايلو څخه بې خبري، د تهيه کوونکي يا د خپرونې د برابرونکي امکانات د تهيه کولو پر وخت کې محدوديت سره مخامخ کوي او د ستونزو سره

يې مخامخ کوي. په ځانګړي توګه کارګردان، چې د رهنمايي او هدايت مسوؤليت په غاړه لري پکار ده، چې اګاه او پوه رهنما وي. له بل اړخه دا چې په تلويزيون کې کار کول ډلييز دي پدې اساس اړينه ده، چې د توليد ګروپ د يو او بل له کارونو نه خبروي او ورسره بلدتيا او اشنايي ولري ترڅو وکولی شي، چې يو او بل ته ګټور او په زړه پورې وړانديزونه وړاندې کړي، او د اشتباهاتو څخه مخنيوی وکړي. په هغه وخت کې داسې کار به ممکن وي، چې ټول د يو او بل د کار آموز اساساتو سره اشنايي ولري. همدارنګه پکار ده، چې کارګردان د ټولو توليدي ګروپ د وسايلو سره کامله اشنايي ولري.

دداسې اګاهي او خبرتيا په درلودلو سره کارګردان کولی شي د توليد ګروپ خپل منزل ته ورسوي او رهبري يې کړي پرته له دې نه به ناآشنا قافلې والا به کاروان کوم ځای ته وروسوي؟ کارګردان بايد پوه شي، چې د خپرونې نهايي مسوؤل دی او هغه وخت ټول کارکوونکي له دې څخه اطاعت وکړي، چې دی له نورو څخه زياته پوه او تجربه ولري، پرته له هغې نه يوازې داچې خپرونه به يې بلکې دی هم پخپله مسخره او د خندا شي. کارګردان د تلويزيون د يوه کليدي وسيلې په مورد کې، چې پکار ده اګاهي يا خبرتيا ولري، هغه کمره ده. کمره د کار مهمه وسيله ده له تاريخي نظره هم لومړۍ کمره جوړه شوي، ورپسې تلويزيون پرته له کمرې څخه به تلويزيون وجود لرلی وه؟ ځواب واضح ده، چې نه.

ننۍ کمرې ډېرې پيچلي دي او زياتو سيستمونو لرونکي دي پکار ده د هغو کمرو د خصوصيات يعنې ځانګړتياوو څخه باخبر واوسو، چې ورڅخه استفاده کوو، پرته له دې ټول ثبت شوي مواد کيدای شي د استفادې وړ نه وي او ټول سرته رسيدلي فعاليتونه به بې فايدې او بې ګټې شي. تلويزيوني ويديويي کمرې د نورو کمرو سره زيات تفاوت نه لري. په کلي توګه ټولې کمرې مشابه يعنې

ورته ځانګړتیاو لرونکي دي ډېر کم توپیر د هغو پرمنځ کې وجود لري. پدې بحث کې د تلویزیوني کمرې سره د اشنایي په اړه مهم ټکي غوره شوي دي.

### ۶، ۲۹- د کمرې ساختمان (جوړښت)

په کلي توګه د لاندې برخو څخه تشکیل شوي ده:

الف: د کمرې سر چې د زوم له عدسیې څخه تشکیل شوي (Z)، د کمرې څراغونه (T) نما پیدا کوونکي، (V) د کمرې کیبل (C) چې د دوه طرفه اړیکې په حیث، چې د کمرې او کمرې د تنظیم په واحد کې عمل کوي.

ب: د پن سر ـ دغه میکانېزم (P) د کمرې د سر افقي او عمودي حرکت ته امکان ورکوي دغه حرکت کولی شو، چې مقطعي یې او یا هم په ورو سرته ورسوي. د پن سر کولی شو قفل کړو.

ج: د کمرې پښې، چې مختلفې بڼې لري، چې په راتلونکو بحثونو کې به دهغې په مورد کې بحث کیږي.

((ولو چې د کمرې د طراحي بڼه متفاوتې دي، ولې هغه څه چې په معمول ډول په ویډیویي کمرو کې دي په لاندې توګه دي)):

1. میکروفون، چې په الکتریک (electret) یعني یو اړخه (یو طرفه) په نوم.
2. لمر نیوونکي.
3. د لنز دیافراګم.
4. د زوم لاستۍ او حلقه.
5. د حلقې د تنظیم واضح (focus control).
6. د دیافراګم کړکۍ.یالنزسترګه

7. د انځور د توریدو او سپنیدو تکمې او کلئ او د تصویر توروالی.
8. د رنګه پهن کیسټې color bat – د کمرې د رنګ د تنظیم لپاره د الکترونیکي وسایلو سره په ویډیو کې ورڅخه ګټه اخیستل کیږي.
9. د رنګ دبدلیدو د جبران فلترونه (ND (Natural Density)- ایرورنګي فلترونه دي، چې د رڼا د مقدار د کمېدو لپاره پرته له دې، چې د رڼا د کیفیت پرمخ پرته له تأثیر څخه د کمرې پرمخ او یا هم د لنز پر پوستکي باندې نصب کیږي.
10. د تنظیم وړ نما پیدا کوونکي د کوچنئ رڼا ښودونکي (LAD) Visor یا view finder
11. د کمرې د نیرو د غوره کیدو کلي، داخلي اړیکه، د دوه ځلي اوریدلو وسیله Audio Monitoring Jack
12. د کمرې شاته، د ضبطه دستګاه سره اړیکه، د ویډیویي سګنالونو، د بهرني کیبل اړیکه (جک) کاملاً بهرنئ جک د ویډیویي سګنال د ننداري لپاره. د ډلییزه عمومي جک اړیکه، د څو کمرو د خپریدو او اخیستو د سیستم لپاره.
13. د سترګې عدسیه.
14. د بطرئ د خلاصیدو ځای.
15. د کمرې مقابل بدنه (تنه) د میکروفون داخلي اړیکه جک، د ساکن جریان د کیبل جک (DC) د کمرې څخه بهر.
16. د نما پیدا کیدو د کنترول تکمه.
17. اتومات خودکار او د زوم کلي، چې د بطرئ په واسطه کار کوي.
18. د اتومات دیافراګم یالنز د خاموشه کیدو کلي.

## ۶، ۳۰- د کمرې په مورد څو مهم ټکي

**لنز(د کمرې سترګه):**



(شکل ۶:۲۵)https://spfl.co.uk/news/article/spfl-on-tv-this-week-63/

د کمرې د کار لپاره لازم دي، چې د هغې توانايي او قدرت د موضوع د سطحو د انعکاس په تمرکز کې دی ترڅو د انځور د انعکاس طریقه رامنځ ته شي. نوموړي کړنې په کمرې د لنز د (عدسيې) له لارې برابريږي. عدسيه د عناصر د اپتيکي يا لاستيکي بنيښي آيني د عناصرو مجموعه ده، چې يو دبل سره نښلول شوي ترڅو وکولی شي رڼا د ځراغونو په سطحه کې تبديل يا تراش يعني توږل د هغو کمرو د لنز (واضح) کوونکی، چې په د هغو کيفيت د مصرف کوونکو په حد کې عادي دي ، چې په دايمي توګه د کمرې په شا کې نصب شوي دي، ولې په هغو وسايلو کې، چې په حرفوي سطحه پکار وړل کيږي کولی شو، چې د تبديل شوو لنزونو څخه استفاده وکړو. دي اصلي ځانګړتياوې د هرې عدسيې عبارت دي له: قانوي فاصله، د ښکاره کيدو لمن، او د ديافراګم له درجې څخه. په يو بل تعبير کې د کمرې عدسيې عبارت دي د نورو منفردو عدسيو له مجموعې څخه دلوله يي محفظې په بنه قرار لري. د منفردو عدسيو دنده داده تر

ځو هر ډول اپټکي عيب تر حد اقل پورې راکم کړي. د عمق فاصله او دانځور اندازه کاملاً د عدسيې د ديد له زاويې څخه متأثره دي څرنګه، چې يوه عادي عدسيه (ستندرد) صحنه په طبيعي ابعادو يعني طول او عرض باندې ښايي په داسې حال کې، چې د زاويې عدسيې بل ورقی پرسپيکتيف يعني منظرې ته تغير ورکوي. د خلاصې زاويې عدسيه (لوړکانون) يعني مرکز يې بې نظيره ښايي.



(شکل ۶:۲۶)https://www.redsharknews.comproductionitem1552-sony-captures-el-cl%C3%A1sico-in-4k

## ۶، ۳۱- کانوني فاصله (مرکزي فاصله)

د عدسيې قانوني فاصله هغه اندازه نده، چې د عدسيې د قطر په منځ کې او د هغې د اپټيکي مرکز فاصله تر قانوني سطحې توږول شوی د ځای پر ځای کيدو دي، چې په معمولي توګه په ملي متر سره ورکول کيږي. مهم ټکي، چې د کانوني فاصلې په مورد کې بايد په ياد ولرو دادي لکه څنګه، چې دغه اندازه زياته وي د موضوع لوړ ښودل زيات دي او هر څومره، چې لاندې اندازه کوچنۍ ښکاريږي، ولې برعکسيو لړ موضوعاتو ته زياتره د انځور په قاب کې

ځای ورکوي. هر څومره، چې کانوني فاصله زیاته وي نو فاصلې لنډیږي او داسې ښکاري، چې د کمرې څخه لیرې کیږو.

**کانوني کولfocal**

دعدسیه توانایي د رڼا په تمرکز کې انعکاس کړي له موضوع څخه د واضح ترین انځور د را پیدا کیدو د کانوني کیدلو لپاره (Focal) نوموي. په نسبي اصطلاح کې فوکس دی دا ځکه، چې عدسیه په هغه وخت کې د موضوع پرمخ په فوکس کې راځي، چې هغه موضوع په دقت د تصویري څراغ په واسطه په تمام ډول واضح او یا هم توړل راښکاریږي. فوکس په دوو طریقو سره صورت مومي او په دواړو طریقو کې پکار ده، چې دقت صورت ومومي. د فوکس ډېر ښکاره طریقه د شاه لخوا څخه فوکس نومیږي فوکس د شاه له خوا د وسیلې سره تنظیم کیږي (معمولاً د استواني د څرخونو په واسطه له عدسیې څخه) عملي کیږي.

دویمه لار د فوکس د کانوني کیدو لپاره د شا له خوا څخه دي، چې د عدسیې له تنې څخه شامله ده، یا د څراغ سطحه یا توړل دي تر هغې ځایه، چې د واقعي موضوع انځور په معین یا نا معلومه فاصله کې د کمرې څخه د توړل پرسطح فوکس شي. فوکس د شاه لخوا ځانګړي تکنشن دی او په کار نده، چې نوموړی تنظیم تجدید کړو مګر ددې لپاره، چې د کمرې ټکان خوړلی وي او فوکس بهر شوي یعنې خارج شوی وي. د زوم عدسیې کانوني کول پیچلې کار ده تر کانوني کیدو د عدسیې prime ( عدسیه یا قاوني فاصله ثابته) دي. عدسیه باید تر اکثر حده پورې د هغې کانوني فاصله او بیا وروسته د قاب تر رسیدولو د خپلې خوښې قاب کې بندي شي او د زوم د شاته شي په دې وخت کې ټول موضوعات به ورته فاصله کې د کمرې سره به فوکس کې وي.

د تراشه یا CHIPS په ۱۹۸۴ م کال کې نوموړي ویډیویي کمرې پرته له ځراغ څخه تولید شوې او تبدیل ځراغونو خپل ځای CCD (Charged Coupled Device) ته پرېښود، چې نوموړي وسایل د تراشو یعنې (توړلو) په نوم هم یادوي. نوموړي وسایل د سلنیوم او د مختلفو حساسو سلولونو دتصویررڼا دفلزي کرستال له جنس څخه دي. د الکترونیکي باریکۍ پرځای د تراشي د مسکن لپاره د نوي تکنالوژۍ لپاره، له تراشي څخه کار اخلي. تراشه د برق انرژي ته کمه اړتیا لري د کمرې د وړوکي ځراغ په نسبت په برق باندې کم کار کوي. نسبت ځراغونو ته کلک دي او د کمرې مقاومت زیاتوي او نسبت ځراغونو ته د ورستیدو او سوزیدو په مقابل کې نه راځي یعنې سوزي.

## ۶، ۳۲- دیافراگم یا د کمرې پرده Iris

د عدسیې په خوله کې دیافراګم، چې له لنزسره ځای پر ځای کیږي، وجود لري. نوموړي وسیله د رڼا د بهتر ورکولو په موخه، چې د ځراغ پر سطح یا په تراشه باندې نومیږي نو دلنز د Iris په نوم هم یادیږي، F-stop د عدسیې د غاړې قطر د رڼا د ورکولو د کنټرول لپاره د تراشي سطحې ته تغییر ورکوي.

دیافراګم د تړلو او خلاصولو څخه موخه (Iris)، چې انځور د رڼایي نظره په ستندرد سطح کې د کمرې نورو برخو ته انتقالیږي. دغه سیستم زیاتره عالي عمل کوي اما داسې وخت هم راځي، چې پخپله باید Iris تنظیم کړو. ویډیویي کمرې د لاسي کنټرول لرونکي برخې لرونکي دي، چې د (manual) په نوم دي، چې تاسو ته دا اجازه درکوي، چې پخپله دا کار سرته ورسوئ. د لاسي کنټرول ساده ترینه لاره د رڼا د تکمې یا بټنې Back light (BLC) په نوم دي، چې د هغې په وسیله کولی شو کله، چې د شاه خواته رڼا د فلمبردارۍ په موضوع باندې لګیږي او تیاره سیورې تولیدوي د رڼا ورکولو اندازه په ثابتې

اندازې سره زیاتوو. په زیاتره ویډیویي کمرو کې یو څرخ وجود لري او ددغې څرخ په مقابل کې د -/+F علامه یا نښه لیکل شوي وي. ددغو څرخونو په حرکت سره کولی شو د رڼا اچونې اندازه په کمره کې کنټرول کړو. په ځینې ماډلونو کې د رڼا اچونې قلف Exposure Lock وجود لري، چې د هغې څخه د ګټې اخیستلو پروخت کې کولی شو رڼا اچونه په ټولو خپرونو کې ثابت حفظ کړو (۴۰، حیدري)

د دیافراګم د غاړې تغییر د هغو درجو په مرسته سرته رسیږي، چې دغه درجې



(شکل ۲۷:۶)http://dailywildlifephoto.nathab.com/photography-guide/taking-the-shot/aperture-f-stops/

په F سره ښودل کیږي. د F اعداد ستندرد او د عدسیې پرمخ عبارت دي له ۱/۴، ۲/۶، ۳/۵، ۴، ۵/۶، ۸، ۱۱، ۱۸، ۲۲، ۳۲ دي. د یادولو وړ ټکی دادی، چې د اندازو په زیاتوالي سره دلنزغاړې پراخوالی راکمیږي او رڼا له عدسیې څخه لږ وځي او برعکس هرڅومره، چې د F درجه کمه وي رڼا له عدسیې

ځخه زیاته وځي. په پورتنیو اعدادو سربېره (step down) اصطلاح د لنز دخولې د تړلو په معنا دی او open up د لنز دخولی د خلاصیدو او زیاتولو په معنا دي.

همدرانګه په دې برخه کې د gain د کړنو ځخه یادول هم اړین دي تر ځو انځور د ستندردې سطحې له نظره رڼايې د کمرې نورو برخو ته استوي البته gain بهر له ستوډيو ځخه د gain دنده دادی تر ځو تصویر په ستندرد د رڼايي له نظره د کمرې نورو برخو ته واستوي او تیارو ځایونو کې له کمې رڼا ځخه ګټه اخیستل کیږي او درې درجې: ښکته، متوسطه، او لوړه لري. البته د gain په خلاص انځور بیا هم د پیکسلونو او یا په اصطلاح د برفک لرونکی دی. Gain چې کله د (sensitive) باندې معرفي کیږي د 4db، 9db، 18db درجو باندې مشخص وي.

## ۶، ۳۳- نما پیداکوونکی View Finder

ددې لپاره، چې ولیدل شي چې کومو موضوعاتو د انځور په قاب کې ځای نیولی دی په یو نمایاب یا view finder ته اړتیا شته. نمایاب یا نما پیداکوونکی په معمول ډول د کمرې په بدن باندې نصب وي او د کمرې په هر حالت کې (د لاس په مخکې) یا درې پایې پرمخ په راحتۍ سره کولی شو د هغې ځخه ګټه واخلو.

نمایاب یا نما پیداکوونکی په واقعیت کې یوه کوچنی مانیتورکورني تلویزیون ته ورته دی. د نمایاب د تنظیم کلي ( د رڼا تنظیم، ځلا، او تصویر د کنتراست انځور د کمرې په بهرني سیګنال باندې تأثیر نلري، اما دنمایاب پرمخ علامې او نښانونه وجود لري. د انځور اخیستنې د عملیاتو جریان راښکاروي. هغه اطلاعات، چې دنمایاب له صفحې ځخه د ښودونکې صفحې لخوا وړاندې کیږي

معمولاً دادي: د کمرې پرمخ د فرمان څراغ روښانه یا ګل (خاموش) وي؛ د فریکونسۍ توازن سپینه او توره رڼا یا هم وایټ بیلانس درست وي یا نه؟ د بطرۍ چارج ښودونکي، د لازمې رڼا د کمبود اخطار، یا خبرتیا د کار د محیطه، د الکترونیک شاټر سرعت ـ د لازمې رڼا مقدار د کمرې د حساسو تراشو لپاره د ضبطه دستګاه د رڼا د خلاصیدو لپاره د ضبطه او خپریدو حالت د ویډویویي دستګاه کاستر د کیست پاتې وخت او نور د کیسټونو دنما و یډیو دستګاه راخیستل، د ویډیویي کاسټ ، د کیسټ پاتې وخت او نور ځیني نمایاب د ګرځیدو قابلیت یا لیاقت لري ترڅو په مختلفو برخو کې تصویر اخیستنه ځای پر ځای کړي او کولی شي، چې د هغې کار ته مواظف وي. زیاتره نمایابونه د رڼایي د کنټرول لرونکې او تضاد (کنتراست) د نمایاب میتود د تنظیم لپاره دي دغه کنټرول هغه وخت تنظیم کولی شو، چې کمرو د (ازمایښت د طراحۍ پرمخ، چې کافي رڼا لري فوکس شوی وي او یا پخپله (د ازمون طرح) داخلي درنګي کیسټو په نوم (color bar) ایجاد کړي. پرته له دغو مواردونه پکار نده، چې دا ډول تنظیم سرته ورسوو. که تنظیمونه د تصویر اخیستنې پروخت کې د بل هر شي له لارې پرته د (ازمون له طرح) څخه سرته ورسیږي نمایاب د موضوع د جبران لپاره، چې مناسبه رڼا لري په نا درسته بڼه تنظمیږي.

## ۶، ۳٤- د سپینوالي توازن (White Balance(WB

که د وایټ بلانس عمل درست سرته ونه رسیږي رنګونه به د عادي حالت څخه بهر شي او د ژېړ رنګ اندازه زیاتوالی مومي. د سپینوالي د تنظیم میزان لومړۍ کمره د manual په وضعیت کې راولو او مخکې مخفي کلي ته د فشار ورکولو نه هغه (MAN) (غیر اتوماتیک) کمره کاملاً د یوې سپینې موضوع پرمخ (یوه کاغذي صفحه) فوکس کوو او د نمایاب سترګې ته ګورو او د WB

کلۍ ته فشار ورکول کيږ او د څو ثانيو لپاره هماغه ډول پاتې کيږي. په صحنه کې علامه لرونکې سترګه سترګک وهي هر وخت، چې سترګک وهل ودريږي د WB کلي خلاصيږي او په کمرو کې د داخلي محيطه لپاره د رنګ د تنظيم کار صورت مومي.

Shutter معمولاً د لنز په داخل کې رپيږي او يا هم د رپيدو تداوم د اطراف رڼا د کمرې داخل ته ورکوي. څرنګه، چې د هغې سرعت زيات وي د انځور د شفافيت ميزان هم زيات وي. که چېرته کم وي نو د انځور شفافيت هم کم وي د هغې په کلي سره کولی شو د هغې سرعت تنظيم کړو. د WB د کړنو يوه نمونه په tracking out نوم مشهوره ده، چې په اتوماتيک ډول صحنه ارزيابي کوي او د رڼا تغيرات اصلاح کوي، البته پاتې دې نه وي، چې WB بايد د مصنوعي رڼا لپاره او طبيعي رڼا د ستوډيو په داخل کې او يا بهر له ستوډيو څخه په جلا توګه صورت وموموي.

High Speed Shutter: کله چې کمره manual (غير اتوماتيک) کار وکړي، چې فعاله شي نو انځور په زيات مقدار سره تياره کيږي او تل بايد د فلمبردار د پاملرنې وړ وي. د انځور اخيستنې لپاره د شديد لمر په وخت کې او سريع سوژې لکه: اسپ ځغلول، اخطار ورکوونکي اطلاعات، ښکاريږي. په ځينو کمرو کې داسې حالتونه د اعدادو په ښودلو سره ۱۰۰۰، ۱۵۰۰، ۱۲۰۰ او په ځينو کمرو کې په ۱۱۲۰، ۱۱۲۵، ۱۱۵۰۰، ۱۱۱۰۰، ۱۱۲۰۰، ۱۱۴۰۰، ۱۱۸۰۰ اعدادو باندې مشاهده کيږي.

په کمرو کې يوه بله تکمه د full cut په نوم وجود لري يعنې د کمرې ټول تنظميونکي په اتوماتيک ډول سرته رسيږي. دې کلۍ ته په فشار ورکولو سره د رڼا اچونې کارونه، فوکس او WB په اتوماتيک ډول عياريږي. د ستوډيو نه

بهر پکار ده، چې د OUT له کلۍ څخه ګټه واخیستل شي او out door عبارت په نمایاب کې معلومیږي. په همدې ترتیب د سټوډیو په داخل کې مصنوعي څراغ باید د (IN) کلي فعال وي او په نمایاب کې د (Indoor) معلومیږي، پرته له هغې سم کار نه کوي.

## ۶, ۳۵- د کمرې سره د لا زیاتې اشنایي لپاره څو نور ټکي

### Rehearsal Standby (د انتظار حالت):

ددغې تکمې په وهلو سره انځور اخیستنه قطع کیږي او د بطرۍ مصرف حد اقل راکمیږي. د نوموړي کلي په وهلو سره انځور په سترګه کې ښکاریږي ولې کیسټ یانوارد د کمرې د هیډ سره په تماس کې نه وي. دغه عمل پرته د pause د تکمې له فشار څخه صورت مومي.

### :Telephoto

په ویډیویي کمرو کې د Telephoto په نوم یعنې د غټیدلو کلي، د T په حرف ښودل کیږي او همدارنګه wide یعنې لیرې کولو کلي د w په حرف باندې ښودل شوي دي.

### :Auto Focus

یعنې د کمرې د فاصلې تنظیم د موضوع سره په اتوماتیکه بڼه په کلي فشار سره دغه سیستم فعال شوی او د تصویر اخیستونکي دخالت ته اړتیا نشته ولې auto د هغې فعالیدل باید په نمایاب کې مشاهده کړو او پرته له هغې کمره د auto سیستم ته نده داخل شوی.

### د کمرې بطرې:

د کمرې بطري په نمایاب کې په څلور خطو او علامو (F) د (Full) په معنا یعنې (ډکه) لېدل کیږي. څومره چې له کمرې څخه استفاده وشي او بطري خپل چارچ له لاسه ورکړی د څلور خطو څخه راکمیږي او مخکې له دې څخه، چې د بطرۍ چارچ صفر ته ورسیږي د batt کلمه یعنې battery په نمایاب کې ښکاریږي او پټیږي یعنې ګل او بل کیږي او د بطري د ختمېدو اخطار ورکوي، که چېرته دغې علامې ته پاملرنه ونه شي نو د (E) حرف یعنې end راښکاریږي او کمره چپ کیږي. ښه دادی، چې مخکې له دې څخه، چې د بطرۍ چارچ صفر شي باید هغه چارچ کړو. هغه بطري، چې د طولاني یا اوږد وخت لپاره ورڅخه استفاده ونه شي او چارچ نه شي د هغه داخلي برخه په اصطلاح وچیږي. د بطرۍ په اړه ښه خبره داده، چې پکار نده چې بطري وغورځول شي؛ بلکې باید بطري په ارامۍ او پرته له غوریزیدو او خرابي څخه په یو مناسب ځای کې کېښودل شي.

## ۶، ۳٦- Lux

په رڼا پورې اړه لري او یا ددغې تکمې فشار په نمایاب کې راښکاریږي، دغه کلي یا کنجي د رڼا اچونې یا ورکونې لپاره ډېره اړینه دی. Lux د رڼا د اندازه کولو واحد دی او یوه Lux برابر دی د یو شعمې سره، په پر مختللو کمرو سره کولی شو د رڼا په یوه Lux سره نسبتاً ښه تصویر اخیستنه وکړو نو په دې اساس هر څومره، چې Lux د کمرې (رڼا) ښکته وي او کمې رڼا باندې کولی شو، چې فلمبرداري وکړو او برعکس هرڅومره، چې د رڼا (Lux) لوړ وي کمره زیاتې رڼا ته اړتیا لري.

## ۶، ۳۷- Picture Insert او Audio Dob

همدارنګه په کمره کې یوه بله تکمه د (audio dob) په نوم مشاهده کیږي، چې د هغې دنده عبارت دی له د اخیستل شوي غږ پاکول د فلم پرمخ د نوي ثبت شوي نوار یا کیستې پاکول پرته له دې، چې انځور ته صدمه ورسیږي. Picture inserts برعکس دنده لري یعنې ورته عمل د انځور په مورد کې سرته رسوي پرته له هغې، چې ثبت شوی اواز یا غږ ته صدمه یا زیان ورسیږي.

## ۶، ۳۸- میکروفون

ټولې ویډیویي کمرې د میکروفون لرونکي دي ځینې کمرې سربېره په نصب شوي میکروفون، چې په کمرې باندې نصب دي په خپل سر کولی شي یعنې په اُتوماتیک ډول او په جلا توګه د نورو میکروفونونو د ځانګړي وسیلې په توګه د (تنې، بي سیم) په یو وخت د کلي په فشار سره د (rec) غږ د انځور سره ثبت کړي او هم په دوو طریقو memo او stereo باندي امکان لري.

ځیني نېک او ښه ټکي د کمرې په مورد کې باید مراعت کړو. لومړی داچې کمره باید، چې تل پاکه وساتل شي او په هر ډول شرایطو کې باید ضربه ونه خوري. ددې دندې په وخت هم باید یو کس موظف وي، د شدیدې رڼا د لګیدو یا ځلا څخه داخل عدسې یعنې د کمرې په سترګې کې مخنیوی وکړي او د CCD (وسیله بدله کړي د فوټو علایم په الکترونیکي علایمو ( Changed coupled device) ته په داخل د لنز ته صدمه یا ضربه ونه رسیږي. کمره د حرارت د درجې په خورا زیات تغییر سره حساسیت پیدا کوي دساري په توګه هر کله، چې کمره د ګرم محیطه، چې د حرارت درجه ګرمه وي او یا هم نا څاپي، چې

هغه محیطه چې د حرارت درجه یې تر صفر لاندې وي لاړه شي نه یوازې دا چې له کاره پاتې کیږي؛ بلکې شاید جدي عوارض هم پیدا کړي.

### ۶، ۳۹- د کمرې حرکتونه

کمره د انځورونو د اخیستلو پر وخت کې څو ډوله حرکتونه کولی شي ولري. دغه حرکتونه کله د کمرې په واسطه او کله د رڼا د وسایلو په واسطه صورت مومي. په کلي توګه د کمرې حرکت باید د علت لرونکي وي او دقت او درستي سره اجرأ شي او د لازم سرعت لرونکې وي پرته له هغې هر ډول حرکت د هغې په زوروونکی او بې معنا وي. د کمرې حرکتونه په مختلفو نومونو یادیږي:

#### د افقي حرکتPan

په دغې حرکت کې کمره په افقي ډول موضوع تعقیبوي. افقي حرکت باید نرم او ارام امتداد لروني او پرته له وقفې څخه وي. په دغې حرکت کې کمره انتقالي حرکت نلري؛ بلکه د داسې کسانو انځور واخیستل شي، چې په یو قطار کې د یو او بل په خوا کې ناست وي. سریع افقي حرکت د حیرانوونکي ډوله او سریع بیان لپاره په کار وړل کیږي.

#### د عمودي حرکتTilt

د کمرې عمودي څرخښ د سوژې پرمخ له پورته خوا څخه ښکته خوا ته او یا هم له پورته خوا څخه ښکته خواته په ملایم ډول او پرته له لړزې او غوځولو څخه وي. پورتني حرکتونه کولی شي د crane کرین په واسطه د تیلت لپاره په عمودي بڼه او د pan لپاره په travelling د ربل پرمخ سوژه په تعجب لرونکي بڼه سرته ورسیږی.

**تراولینګ Travelling**

((د ځانګړي رېل پرمخ د کمرې حرکت د سوژې لپاره د کمرې د نه لړزیدو او د لاس د ټکان نه خوړلو په منظور)).

**جرثقیل Crane**

((کمره د نوموړي دستګاه په واسطه له ځمکې څخه ارتفاع اخلي او یا د فلمبرداري په وخت کې ښکته او پورته کیږي، کله درېل پرمخ راځي او په ښکته او پورته حرکت کې چپ او ښي لورته کیږي.))

**انحنايي حرکت**

((کله چې کمره د سوژې په شاه وخوا کې څرخیږي داسې ښکاري، چې سوژه د انځور په قاب کې څرخیږي.))

**تقلیدي حرکت**

کمره کولی شي د موضوع له په حرکت سره ذهني اړیکه ولري. متعادل او نامنظم حرکتونو شتوالی کمره د هغه کس په تعقیب، چې ضربه یې خوړلي وي یا هم د کمرې موزون حرکت د یوه شیک او مدرن لباس اغوستوونکی سړي په ناز ناز تلل په کلي توګه دکمرې حرکت سرببره پردې، چې لیدونکي په ښکاره ځانته راجلبوي یو ډول ذهني اړیکه د کارګردان او لیدونکي ترمنځ ټینګوي.

## ۶، ٤٠- د کمرې پایه (تکیه ځای)

څرنګه چې سپکې لاسي کمرې کولی شو د یو څه وخت لپاره په خپل اوږې یا ولي باندې وګرځو او انځورونه واخلو، ولې کله،چې د اوږد وخت لپاره تصویر یا انځور اخیستنه کیږي، او یا کله چې یوه خلاصه نما تړلي نما ته زوم کیږي د

ټکان او لړزش د مخنیوي لپاره اړین دي او حتمي ده، چې تکیه ځای کمره ولري. د تلویزیوني اوږدو طولاني خپرونو ثبت په داخل او بهر د سټوډیو کې، د ورزشي ژوندۍ خپرونو نمایش او خبر لپاره پکار ده، چې کمره د درېِ پایي پرمخ او د اړتیا وړ تکیه ځای باندې نصب وي. د کمرې پایې په ځانګړو خصوصیاتو او محدودیتونو او مختلفو ډولونو سره وجود لري:

-جرثقیل crane

-پدستال (ستنې واله پایه)

- درې پایه



(شکل ۶:۲۹)http://www.shutterfeet.com/best-manfrotto-camera-tripod-reviews/-



(شکل ۶:۲۸)https://www.pearl.at/at-a-NC1823-1303.shtml?vid=&vid=



(شکل ۶:۳۰http://www.outletvideo.com/product/12m)




(شکل ۶:۳۱)https://www.proaim.ca/camera-cranes-jibs/camera-jibs/proaim-10-wave-2-plus-

## ۶، ۴۱- د تصویر اخیستنې په مورد کې څو ګټورې مشورې

سربېره پردې، چې فلم اخیستونکي فني پوه، د انتقال سرعت، هنري نظر، د وړاندوینې قدرت، احتمالي خطرونه او د هغې د لیرې کولو لپاره تیاری ولري. کله چې د کمرې شاته ولاړ واوسي پکار ده، چې لاندنیو ټکو ته متوجه واوسي:

1. تل د کمرې د فرمان څراغ ته متوجه واوسئ تر هغې وخت، چې څراغ روښانه وي پرته د کارګردان له هدایت څخه له کمرې څخه مه لیرې کیږئ.
2. د کار پروخت کې خپله ارامتیا او صبر او حوصله حفظ کړئ او پر نفس باندې اعتماد نسبت دکمرې کار او پیچیلتیا نه برخمن وي.
3. د پن سر او هوار تلیت  حرکت ته اماده وي یوازې د تنفس پروخت کې او یا هم د کمرې د پایې د بدلولو پروخت کې او یا هم د ثابتو نماګانو د ثبت پروخت کې (لوحه، عکس) هغه قلف کړئ.

4. متحرک نمایاب په داسې ډول عیار کړئ، چې پر هغې مسلطه وي.
5. په دوامداره توګه عدسیې (قانوني فاصلې) ته متوجه واوسئ.
6. د نماګانو په تنظیم کې دقت ولرئ او موضوع تل په کامله وضوع یعنې ښکاره کیدو کې وي او میدان کافي عمق ولري؛ د سوژې د حرکت پروخت کې وضاحت ورکولو هم اماده وي.

که د زوم په عدسیې باندې کار کوي او په تړلي زاویې کې واضح کړي تر څو په زوم کولو کې انځور شاه ته مختل نه شي د زیاتو حرکتونو په صورت کې د متحرکو موضوعاتو لپاره د کمرې د حرکت مسیر باید علامه ګذاري شي، د (head rom) فضأ او د تصویر نورې ځانګړتیاوې د نورو کمرو سره یو شان وي تر هغې وخت، چې د یوې کمرې څخه انتقال بلې کمرې ته په منیتور کې انځور کیفي تغییر ونه لري.

7. مزاهم عوامل لکه: د مایکروفون سیوري، نورې کمرې، په نما کې موجود خطونه د ځراغ سیوري په نما کې وجود ونه لري، هر کله، چې رڼا مزاحمه د مزاهمت سبب د دید په نما کې کیږي نو د نمایاب زاویې ته تغییر ورکړي.
8. د کمرې د تکیه کوونکې د استفادې مهارت ولري او په اسانه ډول له هرې یوې څخه باید ګټه واخیستلی شي او دهغوی حرکتاتو ته متوجه واوسي، د پن سر باید خلاص یا قلف وي.
9. د داخلي اړیکو د سیستم له لارې (غوږه کي) او دکنټرول د خونې او کارګردان هدایت ته غوږ ونیسي.
10. د کمرې دنماګانو فهرست (کمرې کارت) تل په نظر کې ولري او په مناسب وخت کې په نوي موافقیت (کامیابۍ) سره حرکت وکړي.

11. د کمرې سیمونه او کیبلونه کنترول کړي او د هغې په اړه ځان مطمن کړي، چې د حرکت پروخت کې غوټه نه شي، اواز تولید نکړي ددې کار لپاره یوه همکار یعنې ملګري ته اړتیا شته.
12. د حرکت پر وخت کې موانع لکه: د صحنې وسایل او سیمونه، د صحنې افراد او د بوم غړ باید په نظر کې ولري.
13. د اشتباه د رامنځ ته کیدو پر وخت کې خپله ارامتیا حفظ کړي او پاملرنه وکړي، چې راتلونکي نما په خپل وخت او درسته توګه ثبت کړي.

## ۶، ۴۲- په تلویزیون کې د څهرې جوړول

په تلویزیون کې زیاتره کړنې د سینما څخه تقلید کیږي. په تلویزیون کې څهره جوړونه د هغې ورتوالی په فلم او سینما کې دي. یوازې په دې توپیر، چې په سیمنا کې څهره جوړونه په سیمنا کې د وقفه یي او لنډو رولونو لپاره سرته رسیږي، ولې په تلویزیون کې د خپرونې دوامداره ثبت لپاره او پرته له وقفې څخه صورت مومي. نو له دې کبله امکان لري، چې په تلویزیون کې څهره جوړونه له پیل څخه تر پایه د خپرونې تر رسیدو پورې خپل حالت له لاسه ورکړي ځیني عوامل لکه: د سټوډیو د څراغ حرارت میک آپ متأثر کوي له بل طرفه د مجریانو ریښه هم د خپرونې ثبت پروخت کې د هغوی سمې څهرې ته تغییر ورکړي او یا د هغوی د ویښتانو حالت د خپرونې د اوږد یعنې طولاني وخت سره بر هم شي او ځیني برخې یې خپله بڼه له لاسه ورکړي.

څهره جوړونه پکار نده، چې ورته په کم نظر وګوري. ددې برخې مسوؤل کارګردان ته پکار ده، چې د څهرې د څرنګوالي په اړه او هغه وخت، چې لوبغاړي رول لوبوي خبرې وکړي او لازم هدایت لاسته راوړي، حتا د خپرونې

د تمرین پروخت کې هم د کمرې په مقابل کې کسان باید څهره پردازي شي تر څو عملي نستیج را ظاهر یا ښکاره شي او د نهایي ثبت لپاره نور نو کمبود او اشتباه وجود ونلري دا ځکه په هغې صورت کې د تصویر په لیدلو سره په مانیتور کې کولی شو د رنګونو شدت او د رڼا مقدار نسبت ارائیش ته مطمین کړو.

## ۶، ۴۳- د څهرې جوړونې ډولونه

د تلویزیونو لپاره څهره جوړونه په درې ډوله صورت مومي:

1. **ساده څهره جوړونه**

دا په حقیقت کې یوه ساده او معمولي جلد دی، چې په ظاهره د بدن بنسټ ته تغییر ورکوي. ساده څهره جوړونه په دوو طریقو سره صورت مومي:

- د جلد یا پوستکي د رنګ تنظیم: د متعادلې رنګمایي د ایجاد لپاره په انځور کې یعنې د رنګ الوتونکي څهرې د رنګ تینګیدل او یا هم د تیارو پوستکو روښانه کیدل
- معمولي اصلاحات لکه: د داغونو او سترو چلی (پشناني) پټول د کم ویښتانو لرونکوو ورځو رنګول، د سترګې په شا وخوا کې د حلقو له منخ وړل، د ږیرې د خطونو اصلاح کول، بریتونو او نورو. د ساده څهرې جوړونه سرته رسیدل ډېر وخت نه نیسي او په عادي مواردو لکه: پوډر، میک آپ سره په سرعت سره سرته رسیږي.

2. **اصلاحي څهره جوړونه یا متوازن کیدل**

د دا ډول څېره جوړونې دنده د ناخوښو ځلاو د أثر کمول او د ښه صورت د ځانګړنو زیاتول او د بدن د اعضاؤو معتادل کیدل دي. د دا ډول څهرې جوړونې څخه موخه عبارت دی له: د شونډو د خط تصحیح، پوزې، سترګو، د سن خطوطه، یعنې د صحنې خطوطه، د غاړې ګونځي، د غوړ.ونو اصلاح د سر د کاسې پوښل، ځیني وختونه د پوستکي د رنګ متعادل کیدل د بدن د برخو رنګ لکه: لاسونه، متې او غوړ.ونه دي.

### 3. د شخصیت جوړنې لپاره څهره جوړونه

د لوبغاړی ظاهری تغیر لکه څرنکه چی له نظر وړ شخصیت سره برابر وی په دا ډول څهره کی لوبغاړی په بشپړ ډول بدلیږ.ي د ویښتانو، رنګ او صورت په تغیر سره د پیژندلو وړ نوي.

**هغه عوامل چی څهره جوړونه متآثره کوي**

پرته له هنري ملاحظاتو څخه تخنیکي او حتی نور مسایل هم څهره جوړونه متاثره کوي:

1) رڼا اچونه، شدت، تعادل، طرف (جهت) او نور.
2) صحنه ـ نسبي تضادمندي د څهرې د پسزمینې سره.
3) د انځور تنظیم ـ رڼا ورکول، د رنګ توازن او د سطحې توروالی.
4) لباس ـ نسبي تضاد مندي د څهرو د رنګما یو او اجراکوونکو د لباسونو سره.

د ذکر شوو عواملو په نظر کې نیولو سره د خپرونې د یوه لوبغاړي څهره جوړونه دبلې خپرونې ترجوړونې پورې توپیر کوي.

**د څهرې جوړونې د اصولو په موارد کې لارښوونې**

ځېره جوړونه د ډېرو ساده اصولو پر مجموعه باندې استواره وي، اما هنر او مهم رموزد ځېره جوړونې په ډېره ظریفه پکاروړنه کې دغه اصول نغښتي دي:

- روښانه رنګونه د انسان سترګې زیاتې راجلبوي او برجسته او اوستره ښکاریږي.
- برعکس تېنګ رنګونه او له نظره پټ ساتل شوي او پرته له برجستګي ځخه معلومیږي یعني تخفیف ورکوونکي دي.
- کله چې ځېره جوړونکی ماهر او پوه وي د سیورو په رامینځته کیدو سره کولی شي د ځېرې اصلي جوړښت ته تغییر ورکړي؛ لکه زنه کوچنی وښايي.
- کله کولی شي، چې بانه يې حذف کړي په مطلوبه پکار وړنه د کاري سیورو په واسطه هغه بېرته ایجاد کړي.
- په لازم صورت کې ځېره جوړونه کولی شي د ځېرې په یو ځانګړتیا سره تأکید وکړي؛ لکه سترګې.
- د ځېرې جوړونې په مرسته کولی شو د ظاهري بدن جوړښت تر زیات حدوده ورته تغییر ورکړو.
- د ځېرې جوړونې په مرسته کولی شو د غاړې ګونځې جوړول او مصنوعي داغونه او زخمونه ایجاد کړو.
- یو په زړه پورې ټکی دادی د Latex په نوم وسیلې په مرسته هغه دویښتانو پرمخ ووهو، چې د ځلا رامنځ ته کړي.
- د پوستکي د سوریو په منظور سریښناکه ماده د (کولودیون) په نوم که د ویښتانو برس د پوستکي پرمخ ومښو. دغه محلول جلا راجمع کوي

انقباض يعنې نيول پرته د بدن له درد څخه په جلد کې د زياتو محلولونو سبب ګرځي. ولوچې دغه محلول پاکيدونکی دی، اما حساس پوستکي لپاره زوره وونکی دی يعنې ازار وونکي دي.

- د ويښتانو ارايش هم په ځهره جوړونه کې شامل دي په زياترو استيشنونو کې د ويښتانو آرايشګر يو ځانګړی تخصص لري. د ويښتانو آرأيش نسبت خپروني ته فرق کوي په معمولي توګه د ويښتانو د آرأيش لپاره او د هغې د رنګ د تغيير کيدو لپاره هم د مختلفو موادو څخه لکه: د سپرۍ نه ګټه اخلي.
- ږيره او بريت هم بايد په ځهره جوړونه کې هېر نکړی شي. دږيرې او بريتونو د اړتيا وړ بڼې ته د لاس رسۍ لپاره هم ډېر پراخه وسيع مصنوعي امکانات په واک کې شته او دا چې د هغې مصنوعي کېدل يا ساختاګي کيدل د لېدونکي لپاره ښکاره نه شي د آرايشګر په مهارت پورې اړه لري، چې دغه دنده څرنګه سرته ورسوي.

## ۶، ٤٤- لباس (جامې)

ولوچې د لباس يعنې جامو مسله په تلويزيون کې ظاهراً ډېره مهمه په نظر کې نه راځي، اما واقعيت پرته له دې دادی دا بايد ومنو هر هغه څه يا شي، چې د تلويزيون په صفحه کې راښکاريږي دا د رنګ او پيوند لرونې وي چې پر لېدلونکي تأثير پر ځای غورځوي او د هغې عکس العمل ددې سبب ګرځي څرنګه، چې د لباس موضوع په تلويزيون کې نن ورځ په نړيواله سرګرمۍ باندې بدله شوي ده،حتا ځيني وخت په ځيني اجتماعو کې د جامو (لباس) موضوع په مساوي توګه د خپرونې د محتوا سره د بحث وړ ګرځي. د سارې په توګه هرکلله، چې د لېدونکې سترګې د نامنظمې تړنې نامناسبی نکتايي او لباس

په اصلاح قات او کوت يعنې چت او چمبولو د مجرۍ باندې ولګيږي نور نو د خپرونې محتوا ته پاملرنه نه شي کولی. په همدې دليل کله، چې د لباس د متناسبو اغوستلو طريقه د خپرونې په روحيه باندې د مجرۍ لپاره غوره کيږي. پردې اساس لازم دي هغه څه، چې ګزارشګر يا د تلويزيوني خپرونې مجري اغوندي بايد چې د نظر وړ موضوع لپاره مناسب وي او بايد د خلکو نظر ځانته راجلب کړي رنګارنګ او مست لباسونه امکان لري د هغې خپرونې لپاره، چې ليدونکي يې چې عمرونه يې ديارلسو او يا نولسو کلونو په منځ کې وي، چې د مود په لټه کې دي ورته مناسب وي ولې د خپرونې لپاره د منلو وړ نده په داسې حال کې، چې لباس په روښانه رنګ او د دوو لويو جبونو سره د ريپوټ د برابرولو لپاره د يوه مناسب ځنګل څخه په نظر کې راځي ولې دا لباس د يوې رسمي مرکې د سرته رسولو د يوه سياسي رهبر سره په داخل د سټوډيو کې په درد نه خوري. برعکس د نکټايي تړل د ريپوټ د برابرولو لپاره له بازار څخه بې معنا دي. په دواړو مواردو کې د اجتماعي طريقې او آدب ددې موجب کيږي ترڅو د مرکه کوونکي او تلويزيون ليدونکي ته توهين ونه شي. ولو چې په يو شمېر تلويزيونو کې د منل شويو معيارونو څخه انحراف شوي او ليدونکو ته توهين کيږي.

## ۶، ۴۵- هغه لباسونه، چې له اغوستلو څخه يې بايد ډډه وشي

1. ډېر لوی او ستر لباسونه يا جامې اغوستل، چې نسبت بدن ته ناخوښه حالت لري.
2. د تېينګ رنګ او ساده جامې اغوستل د کمرې په مقابل کې بهتره نما لري او برعکس د روښانه رنګ لرولو جامو اغوستلو څخه بايد ډډه وشي. تېينګ رنګه لباس يا جامې د څهرې رنګ هم روښانه ښکاروي

په داسې حال کې، چې د روښانه رنګ لباس یا جامې اغوستل څهره تیټنګه یعنې تیاره ښايي.

3. د ځینو رنګونو سیګنالونه لکه ارغواني او بنفش د کمرې د تدوین پروخت کې لږ شاته تغییر پیدا کوي.

4. د آبي رنګونو له موجودیت، چې کروماکي ته ورته وي ډېره وکړي او پرته له دې تداخل رامنځ ته کیږي.

5. که د جامو یا لباس رنګ د پسزمنې یا بګروند له رنګ سره تضاد ولري نو ښه به وي.

6. د رنګ د ډېر شدید تضاد څخه باید ډډه وشي دا ځکه، چې په داسې شرایطو کې روښانه رنګونه سوزیدلي او د تورې سیاهي په شکل ښکاریږي.

7. هرکله، چې د ننداريې یا نمایش پروخت کې د مجرې رنګ یوازې د تړلي تنې (یخن) رنګ سپین معلوم شي ستونزه نلري، ولې که د ننداريې په جریان کې مجرې خپله کرتي له تن نه باسي نو سپین کمیس یعنې یخن کاک یې متغییر حالت رامنځ ته کوي څرنګه، چې د سپینوالي مقدار یعنې ناڅاپي زیاتیږي او سپینه برخه په اصطلاح سوزي.

8. په لویو او واضح نماګانو کې لوبغاړي د لوي تنې یا غاړې سره پرته له لباس یا جامو څخه ښکاري.

9. لباسونه یا جامې د قهرجنوتکو څخه جوړ شوي مزاحم اواز د حرکت په وخت کې تولیدوي، چې به خورا اساني سره د تنې یا ټټر د وړوکې ذغالي میکروفون په واسطه اخیستل کیږي.

10. تیز بړک او بړوک یعنې هغه لباسونه یا جامې، چې روښانه رنګ او تینګ وي او رڼا انعکاسوي تصویرونه به نامطلوب وړاندې کړي.
11. نخي تار یا ورښیمني ټکي زیاته رڼا جذبوي تردې حده، چې انځور خپل حجم او برجستوالی له لاسه ورکوي.
12. چهارخانه یا څلورخانه یي لباس یا جامې یا سطرنجي ـ ټکي په ټکي ورته باید ورڅخه ګټه وانه خیستل شي داځکه،چې انځورونه څپه لرونکي (موج لرونکي) کوي که په لیري نماګانو کې په فوکس کې وي په نږدې نماګانو کې د سترګو لپاره زورونکي دي.
13. د تلویزیون په صفحه کې د آرایش (زیوري) شیان رڼا ته له حده زیات انعکاس ورکوي او په ناخوښه حالت کې سترګګ وهي نامطلوبه سیوری ایجادوي.

**۶، ٤٦- رنګ**

موږ په رنګا رنګ نړی کې ژوند کوو او د رنګونو سره مو عادت کړي، له هغوی څخه خوند اخلو او متأثر کیږو، او حتا د ژوند تصور پرته رنګ څخه ستړي کیدونکي او زړه تنګوونکي دي. انسان رنګونه له طبعیت څخه تقلید کړي دي او د ژوند په انکشاف کې یې د طبیعي رنګونو له ترکیب څخه بې شمېره نور ایجاد شوي دي، چې نن ورځ نه شو کولی د رنګونو د ټولو ډولونو نومونه واخلو. رنګ په پیل کې یوازې د هنري اثارو په دایره کې په ځانګړې توګه نقاشي او رسامي کې مطرح دي هغه هم د زیبایي له نظره، مفاهیم او تأثیرات پاتې د نه وي، چې بیان کې هم مرسته کړي ده. رنګونه یو ډول ژبه ده، چې د احساس په واسطه یې تغییر کیږي او دغه ژبه د کافي سواد لپاره اړتیا نه لري.

دا ځکه، چې د احساس مفاهیم د هر لیدونکي په ذهن کې عاطفي د هغه د درک په اندازه معنا مني او پر ځای تأثیر پریږدي.

سترګه د انسان د بدن لومړنی عضو ده، چې د رنګ په مقابل کې عکس العمل ښايي سترګه لکه د انسان د بدن بله هره عضوه له فزیولوژیکي لحاظ محدود ظرفیت او تر محدود فعالیت نه وروسته ستړي کیږي، اما د بدن فزیولوژیکي نیرو تعادل ته علاقه لري، چې نظامونه په ذاتي توګه د هغو ساتل حفظ کړي. ګوته وايي ((هر مشخص رنګ معینه ضربه په سترګې واردوي او اندامونه مقابلې ته راهڅوي)) ښايي په دستګاه کې د هر سخت کار نه وروسته او د فوتو کمیاویي د معینو موادو له خرابي نه وروسته Photo Chimes هغه مواد، چې کار یې د رڼا خپریدل او جذبول دي په هغه شبکه کې، چې په دغه او یا هغه رنګ غیر احساس کوي د فزیولوژیکي تعادل کامل حساسیت د لومړني نظم د بیا رغوني لپاره روانه اراده منځ ته راوړي

همدا ډول رنګ انځور ته روح (جان) ورکوي، احساستي حالت رامنځ ته کوي او کوچني توپیرونه، ظریف، دقیق او مختلف تلویزیوني انځورونه وړاندې کوي اما دا یو ټکی باید، چې هیر نه کړو، چې ډیر نږدې اړیکه د رڼا او رنګ ترمنځ وجود لري د رنګ تجربه یوازې د رڼا په موجودیت کې امکان لري. رنګ په لیدونکي او د هغه په پاملرنه باندې تأثیر لري او مختلف حالت، احساس، عاطفه، معنا او دعوا کول په هغې کې رامنځ ته کړي.

## ۶، ۴۷- د رنګ ځانګړتیاوې

لکه څرنګه، چې مو مخکې وویل رنګ د اثارو په طراحي کې ارزښتناک رول لوبوي او پر هغې سر بېره پر تزین او ښایست کې د پیغام لرونکي هم دي. رنګونه د دریو نقطو له نظره بررسي کولی شو:

1. کروما ډوله رنګ: د رنګ له نقطه نظره، طراح د سلګونه ډوله رنګونو سره لاس او ګریوان دي په همدې دلیل رنګونه په مختلفو کورونیو کې ځای پر ځای شوي دي، چې د هرې کورنۍ او ګروپ رنګونه یو بل ته ورته خواص لري. د ټولو رنګونو له منځ درې رنګونه د اصلي رنګونو په نوم پيژندل کيږي (ژېړ، سور او آبي)

د رنګ د څرخ په ملاحظې سره مشاهده کیږي، چې درې اصلي رنګونه د څرخ په واسطه کې ځای پر ځای شوي او د هغو پرمنځ کې فاصلې په مختلفو درجو سره په دویم قطار کې ډک شوي دي په دغه یو ځای کیدو سره کولی شو، چې یو شمېر زیات رنګونه په لاس راوړو د نوم کېښودنې له نظره اصلي رنګونه ته (لومړي) دویم قطار رنګونو ته چې د یو ځای کیدو له لارې ایجاد شوي دي (ثانوي) رنګ نوموي ثانوي رنګونه عبارت دي له: نارنجي، شین، او بنفش څخه، چې نارنجي یې د ژېړ او سور د فاصلو په حدودو کې او شین د ژېړ او نارنجي او بنفش د ژېړ او آبي د فاصلې په حد کې قرار لري. د دویم قطار رنګونه عبارت دي د ژېړ، نارنجي او نارنجي، ژېړ او شین، آبي بنفش، بنفش، سور بنفش او سور نارنجي د مکمل رنګونو په نوم یادیږي. د رنګ د څرخ په نظر کې نیولو سره کولی شو، چې اختلافاتو ته زیاتوالی ورکړو او مختلفو رنګمایو څخه ګټه واخلو.

- سپین د تور مقابل کې
- سور د شین په مقابل کې
- ژېړ د بنفش په مقال کې
- نارنجي د آبي په مقابل کې

د رنګونو د تضاد څخه ګټه اخیستل د تاکید د ایجادولو لپاره هم صورت مومي، اما برعکس که وغواړو، چې د تضاد اندازې ته کموالی ورکړو او د همغږي او تضاد له نظره رنګ ته زیاتوالی ورکړو کولی شو، چې د یوې کورنۍ له رنګونو څخه هم ګټه واخلو.

دویم اړخ د رنګونو د بررسي څخه د هغې په تغییر پوري اړه لري، چې مسله کاملاً مستقله د سیورو ـ له روښانه رنګ څخه دي او هغه دواړه هیڅ ډول تأثیر پر یو او بل باندې نلري. بهترین مثال د دا ډول موضوع د ښودلو لپاره د رنګه تلویزیون انځور دي. کله، چې ځلا راکموو په یو ډول رنګ د انځور له مخې الوزي او د هغې پر ځای په تدریج سره تور او سپین انځور (د ثابتې رنګمایي) په مقدار د رنګه انځور ځای ناستی ګرځي ددغې پدیدې په مشاهدې سره متوجه کیږو، چې کولی شو د رنګمایي په حفظ سره په ثابت صورت د تصویر د رنګ ځلا زیاته یا کمه کړو.

### ۶، ۴۸ـ د انځور او رنګ ترمنځ اړیکه

کله کله خلک رنګ په انځور کې په هماغه ډول، چې ویني یې هماغه ډول یې مني. په داسې حال کې چې داسې نه وي هغه شی، چې سترګه د شنه رنګ په ډول تغییر کوي هغه ډول نوي ځرنګه، چې د رڼا د رنګ عوامل، چې پر هغې سطحه ورلګیږي، د ځلا زاویه،ګاونډي یا ګاونډ رنګونه او د رنګ نور اصلي عوامل متأثر کړي وي او تغییر یې ورکړی وي. یوه همواره سطحه د خالص رنګ لرونکي (د تک لاره یې تغییر) نسبت ناهمواري سطحې نه په نظر کې راځي، ددغې سطحې رڼا یې د جهت په تغییر سره رڼا هم تغییر وي. د انسان سترګه کله، چې صحنه د کوچنیو اړخونو لرونکي رنګه وي په اسانې سره تشخیص کولی نه شي او هر څومره، چې دغه اړخونه واړه وي یا کوچني وي

په همااغه اندازه رنګ خپل کیفیت له لاسه ورکوي په ورته ځانګړي رنګونه به په مشکل سره یو د بل څخه تشخیص شي حتا کله د دوو کورنیو رنګونه د یو د بل سره په جلا یا بېله توګه ادعام کیږي.

یوه بله رواني ځانګړنه هغه رنګ دي، چې د ځینو رنګونو په مقابل کې د حرارت او نږدیوالي احساس کوي او د بلې برخې په مقابل کې د سوړوالي او لیریوالي احساس کوي. نو په همدې دلیل ځیني رنګونو ته ګرم رنګونه او نورو ته ساړه رنګونه یعنې یخ رنګونه وایي. ګرم رنګونه عبارت دي له: سور، ژېړ او نارنجي او نور دي او یخ رنګونه لکه: شین، آبي، بنفش او هغې ته ورته رنګونه دي. ګرم رنګونه ستر او غټ او نږدې نسبت یخو رنګونو ته په نظر کې راځي. د ګرمو رنګونو وزن زیات نسبت یخو رنګونو ته احساس کیږي او دا د ذهني او بصري احساس له بې تجربه ګي څخه دي.

د رنګ یو اړخیزه برابري او یا د هر رنګ ظاهر تر زیات حده له پسزمینې څخه متأثر دي؛ د ساړې په توګه یو شین شي د پسزمینې په مقابل کې ایرورنګي د معمولي حد څخه زیات شین معلومیږي یعنې ممکن، چې یو رنګ د پسزمینې په برابر کې یعنې مقابل کې متفاوت اومتفاوتې ځلاګانې و لري. هغه څه، چې په تجربه کې ولیدل شو دادي، چې قوي رنګونه د پسزمینې په مقابل کې سپین لړزیدلي د هغه وخت څخه دي، چې د تورې پسزمینې په مقابل کې واقع کیږي. هر څومره، چې پسزمینه تېنګه وي د موضوع رنګمایي روښانه ښکاریږي. د رنګ نواحي یعنې اطراف لوی په نظر کې راځي. تینګې رنګمایي لکه څنګه، چې یې ذکر وشو وزن لرونکي یعنې سنګینه یا درنده معلومیږي په دې اساس ټول دغه عوامل د لیدونکي احساس د تصویر د توازن له فاصلې څخه شدیداً تر تأثیر لاندنې راولي.

## ۶، ۴۹- پر انسان باندې د رنګ رواني تأثيرات

لکه څرنګه، چې په مخکنيو بحثونو کې يادونه وشوه، چې هيڅ ډول عمل او اقدام په تلويزيون کې تصادفي او اتفاق ندي بلکې ټول وړانديزونه په دې مورد کې، چې اګاهانه د اړتيا مطابق او خپرونې غوښتنه وي. د رنګ غوره کيدل هم يو اګاهانه عمل او پلان شوی ده. پر فني اړخونو سر بېره چې د رنګ په مورد کې وجود لري پکار ده، چې د رنګ رواني تأثيرات هم پر انسان باندې په نظر کې ونيول شي. ولو شايد، چې د هر فرد ذهني تمايل نسبت نورو رنګو ته وي. اما متخصصانو د رنګ لپاره رواني ځانګړتياو باندې قايل شوي دي، چې ورته تأثيرات په زياتره انسانانو باندې لري په دې ځای کې ځانګړې روانيځانګړتياوي د يو شمېر رنګونو په خلاصه توګه ذکر کيږي.

1. **آبي:** دغه رنګ يې ارامش ورکوونکی پيژندل دي. ددې رنګ په مورد کې فکر کول او د هغې مشاهده کول د وينې د فشار د کموالي باعث ګرځي، د تنفس او نبض شمېر ګرځي. ډاکټران متعقد دي، چې د مريضې پر وخت کې او سټرېا پر وخت کې دا ډول رنګ مشاهدې ته زياته اړتيا شته.
2. **شين:** شين رنګ آبي ته مايل د عزم، استقامت، او پايداری ښودونکی د تغييراتو په مقابل کې دی. پردې اساس د ځان پيژندنې، عقيدې او ثبات بيانوونکي دي. دغه رنګ د امنيت احساس او ځانته د احترام د تاييدو وړ ګرځوي.
3. **سور:** سور رنګ انرژي ايجادوي. ددې رنګ د ليدلو پروخت کې کيدی شي افراد وينې فشار د زياتوالي سره مخ شي او د قلب د ضربان ميزان يا د قلب ټکان اندازې شمېر يې زيات شي. سور رنګ يوازې د

حياتي نيرو، د عصبي فعاليت او د داخلي غوټو د نظر وړ نتايجو د لاسته راوړولو په مورد کې برياليي دي.

4. **ژېړ:** د ژېړ رنګ اثر د خوشحالي په صورت کې او رڼا يې ښکاره کوي د سره رنګ په پرتله بڼه يې غليظه او سنګينه تر له ژېړ څخه وي. د زيات تحريک کوونکي قدرت څخه برخمن دي برعکس ژېړ رنګ د خپل غلظت او دروندوالي ډېر لږ د قدرت د تحريک کولو پرځای د يو ځای کيدو قدرت زيات لري. يعنې پرته د سطحې د استفادې څخه د افرادو د جبر او فشار په واسطه د يوه عمل سرته رسول، يا د يوه فکر تشويق قبلوي.
5. **بنفش:** داچې بنفش د دوو رنګونوله ترکيب څخه يعنې سره او آبي څخه منځ ته راځي نو پدې اساس کولی شو د دواړو د خواصو حفظ ته په علاقې سره چې دواړه رنګونه ولري يعنې د قدرت د غير ارادي حفظ کولو د اړخ په نظر کې نيول سره سور رنګ دابي رنګ متانت يا دروندوالي يا وقارولري اوپه ښکاره ډول ورتوالي انعکاس کوي .
6. **قهوه يي:** په دې نظر، چې قهوه يي رنګ هماغه (سور، ژېړ) تېنګ شوی رنګ ده نو په دې اساس د ځانګړي بې ارادې سره رنګ ژوند او شور مخ کميدو راولي او د سره فعاله او خلق شوي ځانګړتيا صنايع کوي.
7. **تور:** تور تېنګ ترين رنګ دی او هغه مرز ښودونکي دي ،چې پر هغي ځاي کې ژوند پای ته رسيږي نو کېداي شي چې دپوچو اونابوده نماينده وي. ((لوشر) عقيده لري، چې تور د (نه) نښه او د سپين رنګ په مقابل کې د (بلې) نښه ده. هغه وايي (سپين سپينې صفحې ته پاتې کيږي چې داستان د هغې پرمخ وليکل شي ولې تور د پای ټکی دی،

چې د هغې نه هغې خواته هيڅ شي وجود نلري) تور رنګ خپل ځان ليرې ګڼي (يعنې) او د هر رنګ په وجود کې، چې راشي په همدې دليل هغه د تاکيد وړ ګرځوي.

## ۶، ۵۰- حرکت او رنګارنګي

د تلويزيون د ځانګړنو څخه يوه يې نسبت نورو رسنيو ته د متحرکو او خوزندو تصويرونو لرل دي، چې تلويزيون يې د ډله ييزو اړيکو د وسايلو د کورنۍ د غړو په منځ کې لوړ ځای ورکړی دی.

په همدې دليل تلويزيون او سينما روان يعنې ځغلنده رسنۍ په نوم مشورې دي. دا چې ولي متحرک انځورونه نسبت ولاړو ياثابتوانځورونوته ښوالي يعني برتري لري بايد چې د هغو توپيرونو ته اشاره وکړو. لومړي ثابتو انځورونو په مورد کې بايد ووايو د دا ډول انځورونو ښه والی په دې کې دی، چې ليدونکي په ساده ګي سره پرته له بېړي څخه کولی شي، چې د انځور جزيات بررسي کړي د انځور پر اړخونو چې پاملرنه يې جلبوي، متمرکز شي په داسې حال کې چې د ليدونکي لپاره متحرک انځور د غسي فرصت ډېر اندک او کم وي. شايد د درسي مطلب قبلول لږ غوندې ستونزمن په نظر کې راشي، چې ولاړ انځوروونه کله د پېښې د پېښېدو پر وخت کې د ديد حرکت وربانديې زيات تاثير لري. د ساري په توګه دعراق دجنګ خشونت  هر خبري انځوردتلويزيون پر صفحه مشاهده کيږي عراق په جنګ کې له جنګ او تاوتريخوالي د تلويزيون په صفحه چې مشاهده کيږي خپل تاثير لري، ولې کله چې د ورځپاڼې پر صفحه کې د يوې ښځې عکس چې په وينو لړلی او زخمي وښايي  چې په پارچه، پارچه شوي جسد  د مېړه ته ناسته او په ليونتوب او قهر د خپل مېړه جسد ته ګوري د فوق العاده معنا او تاثير څخه برخمند دي، پردې اساس کله کارګردان

او د تلويزيون د خپروني برابروونکي د انځور له تحرک څخه راکموي او انځورونو ته ولاړ حالت او ورو حرکت (سلوموشن) ورکوي د ساري په توګه په سينمايي فلمونو کې او يا هم ورزشي خپرونه کله چې يو ورزشکار د خپل حريف مغلوب کوي او يا هم په فوټبال کې کله چې توپ ګول ته داخل کيږي د دا ډول طريقې څخه استفاده کيږي او د انځور له حرکت څخه را کميږي او هغه نيرو چې په ولاړ انځور کې په داسې حالتو کې وجود لري امکان نلري چې د تحرک په حالت کې دغه نيرو حفظ شي . په همدې دليل ښايست او جذابيت چې د نقاشي په اثارو کې وجود لري په امر کې نغښتي دي.

متحرک انځور د داسې ځانګړتياوو لرونکي دي، چې ولاړې نماګان د هغې څخه خالي دي.متحرک انځور د تغييراتو ښودونکی دي يعنې ليدونکي د داسي تغييراتو شاهد دي، چې په داخل کې د نما کې رامنځ ته کيږي او په عين وخت کې چې انځور نمايش ته ورکول کيږي امکان لري چې هغه اصلاح کړو او د ليدونکي پاملرنه مطلوب شي ته ور وګرځوو يعنې جلب کوونکي عناصر امکان لري چې دقيقه په دقيقه په نما کې ورزياتيږي په داسې حال کې د ثابت انځور جذابيت په سرعت سره کميږي. کار ګردان کولی شي په دوامدراو حرکتونو سره د انځور دوامدار جذابيت ته دوام ورکړي. او د ليدونکي لپاره هره لحظه کې نوی علت د انځور د ليدلو لپاره ايجاد شي په داسې حال کې چې په ثابت انځور کې د ليدونکي علت د لحظو څخه وروسته پای ته رسيږي بل ټکي د ځانګړي توګه په ثابتو تصويرونو کې دا دی چې ليدونکي دا ازادي لري چې په انځورونو باندې دقت وکړي او ارزيابي باندې پيل وکړي اما متحرک انځورونه د عواملو د پيدا کيدو اړين عوامل ليدونکي ته ورکوي په ځانګړې توګه که چيرته پيښنه سري او لنډه وي بايد چې متوجه واوسو چې د نما په سري غوځولو سره د هغوی ځای ناستي په نويو نماګانو سره ناخوښه حالت رامنځ ته نه

شي.دولاړو اومتحركوتصويرونوپه پيژندلوسره كولي شو ووايودفلمبرداري شويو تصويرونونماګانومجموعه چې دخپروني طراحي دساكن او ولاړو كمروددید له نقطي څخه دي.ددغو تصويرونو په زړه پوري والي اوجذابيت دلوبغاړودكمري حركتونو،دنما دتغيير په اصل پوري تړلي دي.نو پردي اساس هر كار،چې دتوليد په جريان كې سرته رسيږي بايد،چې مواجه هنري دليل ولري.او يوازي دبصري تنوع دايجادولواوديو رنګي دمخنيوي په خاطرځيني نماګاني بايد تغيير نه كړو.يو شمېر متخصيصان په دي باور دي،چې غږ اوحركت پر صحنه باندي دتاثيراوجذب عوامل دي.دغه محققان وايي،چې دكمريدحركت مؤثرترين جهت يالوري ګيچ مسير يالوري دي دو دخپروني دمجري يا لوبغاړي حركت دصحني په اوږدوكې كار دقاعدي سره موازي وي صورت كې څرنګه چې دمجري يالوبغاړي اندازه دموازي كيدوپه دليل دهغه له كمري سره تغيير نكوي نوپدي اساس داسي كوم شي وجود نلري چې دليدونكي پاملرنه جلب كړي،دمجري مستقيم حركت دكمري په طرف په ځيني مواردوكې په ځانګړي توګه كله چې ديوه ځانګړي ډراماتيک ايجاد اودتصويرداندازي په مورد كې سريع تغييرپه نظركې وي ګټوردي.همدارنګه دكمري په درست حركت سره اوپه يوه زماني فاصله كې دنظر وړ شخص اندک له حاشيي څخه خارج كړواوصحنه په تصرف كې راوړو ولي دغه حركت بايدپه كامل دقت سره اجراشي پرته له هغي به دهغي بصري تايدمطلوب نوي.

### ۶، ۵۱- د حركت ظرافتونوته پاملرنه

كله،چې دليدونكي دانتظار خلاف دخپروني په رول كې تغيير ايجاد كړو،چې ليدونكي هغي ته علاقه ونلري اويا دهغي له درک څخه عاجزوي بايد دهغه ناراحتي اوعصبانيت ته منتظرواوسو،دساري په توګه هركله چې دخپروني مجري هغه وسيله لكه مايكروسكوپ

معرفي کوي تغيير ورکونکي تصوير دهغه ځهري ته فوکس کيږي نو دليدونکي دعصبانيت اوناراحتي انتظارباید ولري.نوبيا دحرکت په وخت کې کمره اومجري بايد لاندي ټکي په نظر کې ولري :

- کله،چې مجري ديوه شي دجزياتوپه هکله خبري کوي پکارده په عادي اونرم ډول په همغي سوژي باندي زوم وکړي.دساري په توګه که چېرته وړتيا ديوه وښودافت په اړه وي او ويائد په مزرعه کې ولاړ دي تصوير بايد دپانواو وښو پر هغوډنډونو باندي،چې متضرري شوي اوبيماري زوم وي.
- دحرکت لپاره بايد انګيزه ياعلت راپيداکړو.دساري په توګه مجري دکتابتون په يوه څنډه کې ولاړ دي او خپرونه پرمخ وړي.يوه لحظه وروسته دکتابتون دالماري په لورحرکت کوي يو کتاب دالماري څخه را اخلي او دهغه په معرفي کولوپيل کوي په دغي حالت خپرونه له سکون څخه راوځي.
- دخپروني په جريان کې بايد کوښښ وشي،چې په داخل دقاب کې اشخاص موزون اومنطقي حرکات ولري.دساري په توګه:کله چې په داخل دکورکې يواودکوردغړوسره مرکه حالت بايدپه داسي ډول عيارکړو،چې دکورني دغړوطبيعي اومنطقي حرکت په نظرکې نيول شوي وي په دي برخه کې ارزانه توصيه دادي،چې دغه حرکت پکارنده،چې ته ډيرپڅ اونه ډيرتيزوي.ددي لپاره دداډول حرکت په اړه بايد زيات فکروکړو.

• دسينماياتلويزيون يو ښه لوبغاړي هغه شخص دي.چې دکمري دحرکت اړتيا درک کوي.اوخپل حرکات په متناسب ډول دهغي سره تنظيموي.په همدي دليل زاړه يا تجربه لوبغاړي نسبت نويولوبغاړوته يوبل څخه توپير کوي.

• متوجه باید واوسوکله،چې دحرکت سرعت کمیرې دوینا ریتم باید،چې کم نه شي د(کارکردان دستور)به داوي،سریع وینااو وروحرکت په مختلفوحالاتوکې دمختلفو موخواومختلف موقیعتونه په مسلم ډول توپیرکوي.

### ۶، ۵۲- د حرکت طریقي

د حرکت د ټولو ډولو لپاره چې په صحنه کې صورت مومي ستونزمن دي، فهرست باید ورته جوړ کړو لکه څنګه چې په تلویزیون کې کار هنري اړخ لري باید ویې منو، د هنر لپاره نشو کولای، چوکاټ وضع کړو، ولې سره له دي، دوه اصلي طریقي په یوه تصویر کې د ګټې اخیستلو لپاره د اصلې سوژي د تاکید په منظور وجود لري:

- په صحنه کې د عمومي حرکت او لوبغاړو د حرکت د مسیر ترمنځ تضاد او د تفاوت دایجاد په وسیله.
- په صحنه کې د اصلې موضوع د ثابت ساتلو په وسیله، چې ټول عوامل په حرکت کې دي، او برعکس په صحنه کې د موضوع د متحرک کیدو په وسیله چې ټول عوامل ثابت دي.

### ۶، ۵۳- د حرکت رامینځته کیدل

ولو، چې ویډیو پخپله متحرک هنري بڼه دي، ولې فرم یا انځوري قاب اساساً یو بې حرکته عکس دي، دا انځور رقاب بندي طریقه کیدای شي چې په هغه کې احساس شوي حرکت ته زیاتوالی یا کموالی ورکړي، په فلم یا ویډیو کې حرکت په دریو اساسي طریقو سره سرته رسیږي: د موضوع د حرکت له لارې، د کمرې د حرکت او تدوین له لارې، د دري واړو په هر یوه ډول کې اساسي حرکتونه فرعي او نور هم وجود لري.

1. موضوع ګاني کولای شي په دريو اړخونو د تصوير رقاب په داخل کې حرکت وکړي،«x» او عمودي محور «y»د کمري شاته او حرکت د کمرې په لور او يا ليري کيدل د هغې له «z» محور څخه، د z محور په دي منځ کې له ټولو څخه قوي دي او بايد په معقوله بڼه د هغې څخه استفاده وشي، حرکت د چپ خوا څخه ښي خوا ته، د غرب د لغاتو په کتاب کې د مخکې تللو او برعکس هغې د ښې خوا څخه چپ خوا ته راګرځيدل او يا شاته تلل دي.

د x د محور حرکت پيچلی او نړيواله مننه يې کمه ده، يوازې دا چې د ښي اړخ څخه حرکت د پورته خوا څخه د قوي ترين حرکت د د شاوخواه ته دي، مګر داچې د کمري په طرف مستقيم حرکت وي.

فرهنګي ارزښتونه نسبت دغو حرکتونو ته هم د ښې حرکتونو يو ارزښت د انځور دقاب په داخل کې تاثير غورزوي، که د انځور قاب په نهو برخو وويشو:

| | | |
|---|---|---|
| په ښې لورې باندې | په مرکز باندې | په چپ لورې باندې |
| د راسته لورې وسط | د مرکز وسط | د چپ لورې وسط |
| د راسته لورې ښکته | د مرکز ښکته | د چپ لورې ښکته |

بهترينه او ګټوره موضوع د اطلاعاتو د استولو لپاره ننداره چيانو ته، د ښې لورې ښکته خواته د انځور رقاب دي پورتني نتيجه ګيري د فلسفې پورې اړه لري، چې په غربي فرهنګ کې سترګه لومړی د پورته چپ خوا رقاب څخه پيل کوي، او د ښې

خوا ښکته لورته مخکې ځي په همدې دليل د تلويزيون خپرونې جوړونکې په دي ټينګار کوي، چې په ښې خوا کې قاب بندي شي، خبري د انځور بهتر عناصر په ښې طرف کې ورته ځای ورکوي او تقريباً د نړۍ ټول تلويزيونونه د اجناسو بيې (قيمتي) ادرسونه او مهيم تجارتي اطلاعات د انځور رقاب په ښې خوا کې قاب بندي کيږي.

تر هغې ځايه چې په تلويزيون کې لکه نقاشي، عکاسي او د سينما د شکل له نظره، هنري دوه اړخه دي، انځور هغه ډول چې په کې ښکاريږي او يا هم په پرده کې ښودل کيږي، يوازې دوه طرفه (طول او عرض) لري، عمق چې د انځور دريم اړخ پيدا کوونکي او پوهوونکي دي، د عنوان لپاره.

په حقيقې ډول دريم اړخ د تلويزيون په صفحه کې وجود نه لري، بلکې داسې په نظر کې راځي. دغه دري اړخه ښکاره کيدل د ټولو انځوريزه رسنيو لپاره د اهميت وړ دي، په ځانګړي توګه تلويزيون د سينما په تناسب وړکي صفحه لري، او کمې ښکارونې څخه برخمن دي، بايد د Z محور په مورد کې زيات فکر وکړي او نما په داسی ډول طراحي شی حداکثر ګټه اخستنی ته لاره مساعده کړي

د شيان ځای پرځای کول د Z په محور کې او يا عمق په ايجاد کې حرکت زيات اهميت لري په داسې حال کې چې د صحنې د شيانو ټولول په يوه صف کې په مساوي فاصلو سره له کمرې څخه او د هغو ځای پر ځای کول په يوه ارتفاع او اندازې د محور پيدا کولو څخه راکموي. د شيانو ارايش بايد داسې وي چې د حرکت ځانګړې ځلا د سکون په حالت کې ورکړي. د شخص يا شيانو څخه په مستقيم ډول بايد تصوير اخيستنه و نه شي دا ډول يوازې دا نه چې نا خوښی حالت دی بلکې د شخص پر غرض او وزن باندې( پرته له دې چې وغواړو) ور زياتوي دا بهتره ده چې کمره په داسې ځای کې ځای پر ځای شي چې د يوه شخص درې پر ځلورمه برخه د ديد وړ وګرځوي.

**۲:دکمري حرکت**

دحرکت دایجاد بله لاره،کمري ته حرکت ورکول په کلګي یاتیلت باندي دي.یادجرثقیل په واسطه،پدستال،دترک ډالی،کراب،(څرخکي پایه)یاتراولینګ وي.بیا وروسته یي شرح کوو.

**۳:دتدوین له لاري دحرکت په نظرکې نیول:**

یوازي دکارګردان اوتصویراخیستونکي له نظره دنماپه قاب بندي اوطراحي کې پکارده،چې فلمبردارنماګاني په درسي ډول ثبت کړي وي چې دتدوین راتلونکي مراحل یې په نظر کې وي یعني که چېرته نما دتدوین اوپیوند په منظوریودبل سره ضبط نه شي دهغي دزیباشناسي ارزښت له منځ تللي دي.دEFP په تولید کې دالکترونیکي تولید په محل کې (electronic field production)دهري نما په جلاتوګه او غالباً پرته له ترتیب څخه ضبط کیږي ددي لپاره،چې وکولي شي چې نماګاني په معنا لرونکي طریقي اصلي تولید ته نږدي کړي پکارده چې هغه دتدوین په ذهنیت سره فلمبرداري کړي.په شروع اوپاي کې پنځه ثانیي زیات ریکارډ شي.دویم عملي اړخ یې باید په نظرکې ونیول شي هره نما باید په داسي طریقه ثبت شي.چې کړني یې دمخکي اوراتلونکي نما سره پوښښ ولري.دغه کار دتدوینګرمصؤونیت په داسي صورت کې چې وړاندویني مطابق په دقیقه توګه پیل یا پاي ته رسیدلي وي.زیاتوي،دغه پوښښ له بل طرفه کارګردان ته دا امکان ورکوي،چې دپیښي دبهترین‌ي نقطي په تعین کې دوسیع ګزارشونو په غوڅولوکې په واک کې ولري.دریم اړخ یې چې باید په نظر کې ونیسو هغه زیبا شناسي کاردي.ددي لپاره چې تدوین په پاکیزه بڼه اوپرته له نقص څخه سرته ورسیږي دپیښي دوام باید حفظ شي .دپیښي کړني یایوه نما دبلي پیښي په نما کې روانه شي مګرداچې دمخي بدلیدل یا انتقال ولرو.

**۶، ٥٤- د حرکت ارزښت**

ځرنګه چې په مخکينيو بحثونو کې ورته اشاره وشوه پکار نه ده چې د نماګانو ولاړ حالت دوامدار شي دا ځکه چې دغه امر د ليدونکي لپاره ستړی کيدونکي وي. د دې ستونزې د حل لپاره بايد هم سوژه او يا هم کمره حرکت وکړي. زياتره حرکتونه د کمرې په ليدونکي کې هيجان رامنځ ته کيدو سبب ګرځي. او هغه د پيښې د پيښيدو انتظار لري.همدارنګه زوم کول او له زوم څخه راوتل هم د حرکت يو ډول پيژندل کيږي. په خلاصو نماګانو کې ليدونکي د محيط تر تاثير لاندې راځي اوپه داسې حال کې چې په تړلو نماګانو کې يا زوم کې د انځور توازن برهم کيږي او مفهوم تغير کوي او د براسي حالت ځانته نيسي په دې بڼه يعني د فاصلې په ايجادولو سره د شيانو او هغوی ته نږدېوالي په واسطه د سلو يعني ورو حالت را منځ ته يا ماتيږي او د ليدونکي پر جلب باندې تاثير غورځوي. يو نواخت انځورونه ليدونکي ستړي کوي او هغوی پوهه محدودوي؛ په داسې حال کې چې د لوبغاړو حرکت له يوې نقطې څخه تر بلې که اګاهانه وي نو د ليدونکي پاملرنه نويو پيښو ته ور کاږي او نوې اګاهي هم هغه ته وړاندې کوي. لوبغاړي په خپل حرکت سره کولی شي چې د کمرې لپاره يوه نوې نقطه ايجاد کړي په متدحه توګه د تلويزيوني انځورونو د تحريک حصلت بايد په مطلوبو طريقو، موجه، هندي او سنجول شوي حفظ کړي اوپرته له هغې د پاملرنې وړ ګرځيدل له ځانه لرې کړي.

حتی د ډله ييزو نماګانو، ګردي ميزونوڅخه هم دافرادوپه صنف بندي کې دزاويي تغيير،يونفري نما،دګډونوالوعکس العملونه دنماګانوحرکت اوتنوع دتړلواوخلاصولو نماګانوتغييرده اونورکولي شي دغسي خپرونوته ځاي پرځاي تغيير ورکړي.دحرکت اوتنوع درامينځته کولولپاره دکمري له امکاناتوڅخه هم

کولي شوګټه واخلو.معموله طريقه عبارت ده ديوي نما څخه تغييربلي نماته،زوم کول اوبرعکس،دکمري حرکت شالورته،دکمري څرخيدل،دکمري دارتفاع تغييراونوروڅخه استفاده وکړو.

## ۶، ۵۵- د نماګانو تغيير او د رمزونو حرکت

دا بايد ومنو چې نن ورځ د تلويزيون دخپرونوتوليد اوسينمايي فلمونه هيڅ داسي کومه کړنه لکه صحنه جوړونه،دصحني په داخل کې دشيانوځاي پرځاي کول،حرکتونه،رڼا،رنګ،غږاونورمسآيل دمخکې پلان په اساس غوره کيږي.يعني ټول هغه شيان چې اوريدل اوليدل کيږي ټول په اګاهانه ډول تنظيم شوي وي.اونومو ړي مسايل دمفاهيموپه تقويت اوانتقال کې برخه لري.نو په همدي دليل په اوس يعني حاضروخت کې دتصويري ژبي په نوم واژه په ژورناليستي او هنري محافلوکې پکاروړل کيږي.حرکت په تلويزون کې يوازي د وروکيدومخنيوي په خاطرندي بلکي په معنااورمزونه هم په حرکت کې نغښتي دي،چې يوشمېر ته يې دتلويزيون دبرسي درهنما دکتاب په صورت په لاندي ډول شرح شوي دي.

دشا لور ته زوم: بررسي

شاخواته زوم: زمينه (اوبدل)بافت

افقيحرکت(چپ يا ښی لورته)مرور، تعقيب

عموديحرکت(مخ پورته يا مخ ښکته)مرور، تعقيب

تدريجيښکاره کيدلfeed in:پيل

په تدريج سرهله مينځه وړلfeed out: پايان

تېرېدل desolve دوخت تیرېدل،د صحني اړیکه

نظارت(wipe): له بېخه

ترلیسترګه iris out: د دوربین د سترګو پرده

غوڅولcut:توجو او پاملرنه

به تلویزیون کې دصحنې تعیرلپاره تدابیر وجود لري چه دغه طریقی تیریدل یا ګزاریابیانوونکي وسېله دیوحالت څخه بل خالت ته نومیرى دبیان یاګزاروسایل به محتلفو صورتونو تلویزیون کې داستفادی وړ دی

۱-عوڅولcut

۲-ددووصحنو یوځای کېدل تېرېدلdesolve

۳-سوپرکولeffect

۴-تدریجبینکاره کیدلfeed in

۵-په تدریج سرهله مینځه وړلfeed out

۶-ښي اوچپ لورته افقیحرکتPAM

۷-ښکته پورته عمودیحرکتTELTUP DOWN

۸-وحشت(کرب)ښي اوچپ لورته

۹-ښي اوچپ لورته ماتیدل.

۱۰-کرین پورته اوښکته لورتهcrane up/ down

11-زومZoom:غټول یا پراخول

12-زوم این zoom in: داخل لورته نږدې کیدل

13- زوم اوټ zoom out: له زوم نه وتل

14- ماتیدلWipe: له بیخه

**۶، ۵۶- د انځور په ایجادولو کې تنوع او یو رنګوالې څخه مخنیوی**

د ټلویزیوني ولاړو انځورونو او د یو رنګی څخه د مخنیوي د طریقو څخه یو دی، چې په دې نوم پیژندل شوی دی. اما سربیره پردې باید د تصویر د تنوع یعنې رنګا رنګی په مورد کې د لیدونکو د غوښتنو او علایقو په نظر کې نیولو سره هم باید فکر وشي، چې په څه ډول سره کولی شو د موضوع اهمیت د تصویرونو په تنوع سره حفظ کړای شو او لیدونکې راضي وساتو. ددې لپاره چې لیدونکې له ځان سره ولرو نو په کار ده چې کلیشه يي طریقې له ځان څخه لیرې کړو اوامکان لري نویوالي په لومړیو ورځوکې دمنلووړونه ګرځي او د نوي کېدو په لټه کې واوسو دا ځکه چې، لیدونکې د کلیشه يي خبرونو د لیدو سره عادت کړي دي، ولې د لږ وخت په تیریدو سره لیدونکې د نویو طریقو سره عادت کیږي، بیا نو د تیرې طریقې منل ورته ستونزمن وي. لکه دا چې طراح هره ورځ یوه نوې بڼه د لباسونو بازار ته وړاندې کوي، د تنوع یا رنګارنګی د رامنځ ته کیدو طریقې وجود لري، چې په لاندې ډول په مختصر ډول ذکر شوي دي.

**1- د طراحی له لارې:-** په کار ده چې کلیشه يي خبرونو نه مخنیوی وشي.

زیاتره کار ګردانان او پرډیوسران د میاشتې په اوږدو کې د خپلې خپرونې د طراحی په اړه فکر نه کوي، په داسې حال کې د وخت په تیریدو سره د خپرونې یو رنګي طرح په کار وړل په یو شمېر لیدونکو باندې بده اغیزه شیندي، حتا د

ورځنيو خپرونو د طرحې په مورد کې لکه خبرونه، د زده کړې خپرونې، مرکې او جذابيت د ټلويزيوني خپرونو سره ملګري کړو.

2- **د حرکت د ايجاد له لارې:-** د حرکت ايجاد په ښکاره کولو سره، چې

تصوير تنوع قبلوي، د نا خوښه حالت انتظار بايد وباسي؛ د ساري په توګه کله چې، د نقاشۍ د اثر په اړه خبرې کيږي او وياند به ورو ورو د هغه اثر په طرف، چې ديوال کې نصب شوی دی ورځي دغه حرکت منطقي دی او په همدې ترتيب بايد د حرکت لپاره منطقي علت ايجاد شي.

3- **د ديد د نقطې د تعبير له لارې:-** هر کله چې ولاړ ساکن او بې حرکته تصويرونه د اوږدې مودې يا وخت لپاره د ټلويزيون په صفحه پاتې شي او صفحه اشغال کړي، نو د ليدونکې د پاملرنې خطرله حده زيات د ټلويزيون په پرصفحه پاتې کيږي د يونواختې يا يو رنګي د راکميدو لپاره په داسې ډول خپرونه په کار ده،چې د دوو يا دريو کمرو په واسطه ثبت شي، ترڅو د ديد متنوع نقطې ايجاد شي

نو په هغه ځای کې د خپرونې د ديد لمن محدودوي د څو کمرو په واسطه کولی شو د ليدونکې د ديد محدوديت ته پراختيا ورکړو تر څو هغه خپل ځان مقيد يعنی قيد احساس نه کړي.

4- **د تصوير د ځانګړو ښکارونو له لارې:-** د ځينې تصويري افکټونو په کار وړنې سره، کله کله دغه افکټونه د تنوع لپاره او کله هم د معينو مقاصد لپاره په کار وړل کيږي، د ساري په توګه د صفحې ويشل په دوو برخو او په عين وخت کې د دوو جريانونو ښودل، د يادولو ټکې دادي، چې بايد د دغو ښکاريدو څخه هم د تصوير د ايجاب او محتوا له نظره له برنامې څخه ګټه واخيستل شي.

**5ـ د کمرې د امکاناتو له لارې:-** تصوير اخيستنې کولای شي د کمرې په امکاناتو سره تنوع رامنځ ته کړي او د تصوير د کليشه کيدو څخه مخنيوی وشي.

يوازې د کمرې د داخلي امکاناتو له لارې د تصويرونو غوره کول د مختلفو ځايونو څخه د خپل جذابيت او ارزښت لرونکی وي، د ساري په توګه د هغو ماشومانو تصوير چې د ښوونځي په لور ځي د شاه خوا څخه غوريدلي او تازه ګلان د تصوير اخيستنې لپاره دغه طريقه بايد موخې لرونکې وي او پرته له دې زمونږ کار به بې ګټې او مسخره کار به مو سرته رسولی وي.

## ۶، ۵۷- غږ (د تصوير روح)

د تلويزيون بې غږ کيدل کيدی شي تصور کړو څکه چې د صامت فلم د ليدلو ټولو تجربې لرو سره له دې چه انسان د انسان د بينايي په حس زيات تاکيد دی ولې په تلويزيون کې پکار نده چې د اوريدو حس په کم ارزښت وګڼو کله چې تلويزيون د تخنيکي عوارضو په آساس خپل غږ له لاسه ورکړي زياتره خلک خپل تلويزيونه خاموش کوي ياهم بل کانال ته مخه کوي غږ په تلويزيون کې خپل تازوالي لري هغه تصوير چې د غږ (آواز) په څنګ کې واقعي ارزښت او اهميت پيدا کوي او بالاخره کولی شو ادعا وکړو چې غږ د تلويزيوني تصويرونو روح چې د تلويزيون ليدل پرته له غږ څخه (زياتره) نه تحمل کيدونکي کيږي په ځينې تلويزيوني خپرونو کې لکه :خبرونه، مرکې، ويناوې، موسيقي او داسې نور د تصوير په نشتوالي کې د مخاطب سره د اړيکې د تامينولو او پيغام پرته له کومې ستونزې منتقل کيږي دا بايد ومنو چې غږ تصوير تقويه کوي د هغې تاثير ته زياتوالی ورکوي دغږ رول په کار ندی چه حتمي وګڼل شي د برابرونکي مهارت او شدت د تصويري غږ په غوره کيدو

کې زیات اهمیت لري د ساري په توګه باید چه وپوهېږو چې د جنازي د تشیع مراسموکې دکوم ډول صوتي عناصروڅخه ګټه واخلو یا د تصاویرو د نمایش پر وخت کې له موزیم څخه ډول موسیقي غږ غوره کړی د ورزشي نمایش یا سرکس د کومې موسیقي څخه باید کار واخلو پدغې برخه کې د عاطفي ، روزنې، منطقي، زیبا پیژندنې او ددغو دوو عناصرو ریښه پیوندونه د درک په برخه کې کار کولی شي د برابرونکي سره مرسته وکړي غږ د تصویر په خوا کې کولی شي د درسي حالت بیانوونکی وي د ساري په توګه : غږ د مظاهره کوونکو او دهغوی شعارونه او د مظاهرو وضعیت برملا کړي کله یې تفسیر کوي او شرحه ورکوونکي وي او داخلي حالت او د انسان احساس وي او یاهم د زیبایي یا ښایست د تاثیر د زیاتوالي لپاره راوړل کیږي یا لکه : د مرغانو آوازونه یا ملایمه او نرمه موسیقي د آواز په بګراونډ کې .

## ۶، ۵۸- په تلویزیون کې د (غږ ) ډولونه

تلویزیون دا نیکبختي لري چې د خپل پیدایښت له لومړیو ورځو څخه غږ یا آواز ورسره ملګری دی او د سینما په شان یې د صامت یعنی چوپتیا یا خاموشی دوره نده تیره کړي او سربیره پر دې ډیر ګټور تجارب یې هم د تلویزیون کارکوونکي د سینما او راډیو د کړنو څخه په واک کې لري. او مختلفې لارې یې د راډیو او سینما څخه تقلید کړیدي او همدا ډول د غږونو تصنیف د غږ د تجربې په لرلو سره د سینما او تلویزیون د مخکښانو لپاره خورا ستونزمن کار ؤ نو په همدې دلیل نن ورځ غږ یا آواز په تلویزیون کې په لاندې ډولونو صنف بندي شویدی چې شاید د سینما سره مشابهت یا ورته والی ولري

۱ـــــ ویل یا وینا

۲ـــــ افکت یا صوتي آثار

۳ـــــ موسيقي

۴ـــــ سکوت يا چوپتيا

## ۶، ۵۹ـ د تصوير اړيکه له غږ سره

څرنګه چې مخکې هم اشاره وشوه چې د غږ او تصوير ترکيب د هنري معيارونو پر اساس منطقي، فني، زيبا پيژندنې ريښې دي نو پدې اساس ترکيب په اتفاقي ډول صورت نه مومي پدې ځای کې ځينې اصول موجود دي چې د تصوير غږ د ترکيب پر وخت کې بايد په نظر کې ونيول شي

۱ــ ايعاد (اندازه) شدت او د غږ کيفيت او تصوير بايد د يو اوبل سره برابر وي (شدت تعادل برابريدل، پر سپيکتيف يا منظره)

۲ــ د غږ او تصوير حرکت په يوه وخت کې بايد حفظ شي البته کله چې د يوبل سره په اړيکه کې وي لکه د غاړو حرکت چې په يوه وخت کې (سنګ کول) غږ او تصوير بايد رعايت شي

۳ــ زياتره دا معمول دي چې د تصويرونو په منځ کې غوڅول د موسيقي د ضرب سره په پاملرنه سرته رسوي د تصوير غوڅول بهتر ګڼل کيږي چې د موسيقی د جملې په پای کې صورت مومي. د تصويرونو غوڅول په لږ د موسيقی د ضرب څخه کمزوري ده

۴ــ کيدای شي غږ د خپرونې د پيدا کيدو د تداوم لپاره د اړيکې د پل په عنوان ورڅخه ګټه واخيستل شي لکه: د جهتونو پيوستول د نماګانو مفهوم چې چندان نيږديوالی يو د بل سره نلري په هر حال په ځانګړي طريقې سره يو دبل سره مربوط دي

۵ــ غږ او تصویر په معمول ډول باید یو دبل سره پیل شي او یود بل سره پای ته ورسیږي په دغه مورد په ځانګړي ډول په ابتدا او انتها کې په خپرونه کې باید مراعت شي

۶_ که دصحني دیوي برخي غږ وروسته دخپل وخت څخه پیل شي اودمخکي تصویرپر یوه برخه ځاي پرځاي شي.دا احتمال لري،چې تصویر له تداوم څخه القأ کړي،ولې تل داسي نوي اوزیاتره وخت لیدونکي ګیچ اوسربدحاله کوي.

## ۶، ٦٠- د تصویر نه بهر د غږ د استفادې څرنګوالی

تلویزیوني تصویر په معمول ډول د غږ پر سرچینه باندې فوکس کوي ولې کله نا کله دغه امر نه یوازې دا چې مړاوی کیږي بلکې تصویري اطلاعات په محدوده کې راولي، نو پدې اساس کله چې د غږ د سرچینې نمایش ورکول کیږي تصویر د غږ د سرچینې څخه حرکت کوي سره له دې چې غږ هماغسې ادامه لري دې ته د تصویر نه بهر غږ وایي د تصویر نه بهر غږ د تاثیر په زیاتوالي د پاملرنې راګرځول په مختلفو طریقو ورڅخه ګټه اخیستل کیږي

۱ــ وروسته یو د نمایش څخه د هغه شخص څخه چې خبرې کوي کولی شي هغه کسان چې مخاطب دي غوږ یې کړي، اصلي غږ ادامه لري ولې بل ویاند نه لیدل کیږي پدې ترتیب کولی شو چې د موضوګانو پر منځ کې اړیکه برقراره کړو حتا که دغه دوه موضوګانې په یوه نمایش کې یو دبل سره نمایش ته نوي ورکړل شوي وي.

۲ــ ذمیني غږ کولی شي د محیط او ځای په پیژندلو کې مرسته وکړي څرنګه چې که یوه نما د منځیني تصویر سره دوه نفري ډکه شوي وي دغه غږونه

لیدونکي ته دا په ذهن کې القا کوي چې هغوی د ساحل ته نیږدې یا کارخانه کې دي.

۳ــ کله کله د تصویر نه د بهر غږ څخه د تحلیل دتحریک اودلیدونکي دکنجکاوي لپاره استفاده کیږي.

۴ــ زمیني غږ کولی شي مخکې د موضوع له لیدلو څخه موږ د هغې سره آشنا کړي او د راتلوونکي پیښو څخه یا د راتلونکي اتفاقاتو څخه خبر ورکړی.

۵ــ کله چې د داستان شخصیت هغه غږ چې د لیدونکي لپاره واضح ندی و پیژني او عکس العمل وښایي دصحني خوځښت زیاتوالی مومي. له بل اړخه امکان لري چې لیدونکي دیوغږځرنګوالي درک کړي. په داسې حال کې چې د انسان شخصیت هغه نه وي اوریدلي او یا وربانديې نه وي پوه شوي.

۶ــ دنماګانو د سریع غوځولو باوجود د زمیني غږ یو د بل سره د غږ تداوم حفظ کوي.

### ۶، ٦١- مایکروفون

له یوه طرفه په تلویزیون کې د غږ کړنه یو فني عمل دی دا ځکه چې د هرې خپرونې د غږ د ثبت لپاره فني وسایلو ته اړتیا ده چې خورا ډیر مهم یې مایکروفون دی. تر هغې وخت پورې چې برابر کوونکی د مایکروفونونو سره او د هغه د ځانګړتیاؤ سره آشنایي ونلري کیدای شي د هغه غږ سره چې کیفیت یې مطلوب وي لاس رسی پیدا نکړو د مایکروفون څخه د ګټې اخیستنې لپاره دغه لاندې اړخونه باید په نظر کې ونیول شي.

۱ــ فزیکي ځانګړتیاوې

٢ــ د غږ کیفیت




(شکل ۶:۳۲https://www.alibaba.com/product-detail/Professional-Condenser-Microphone-BM-800-




(شکل۶:۳۳)http://www.abarbuy.com/ضبط-صدا-زوم-iq7

٣ــ د مایکوفون حساسیت

۴ــ د مایکروفون د سمنت پورې اړوند ځانګړتیاوې

۵ــ د مایکروفون د نصب څرنګوالی




(شکل۶:۳۵)http://www.abarbuy.c



(شکل ۶:۳۶http://www

## ۶، ۲۶- په صحنه کې د مایکروفون د نصب کولو څرنګوالی

د مایکروفون د ځای غوره کول د هغه د ځانګړتیاؤ په نظر کې نیولو سره د ښه غږ د پیداکیدو لپاره پخپله یو هنر دب دا ځکه چې په اوسني وخت کې د تلویزیون کارونه له ستوډیو څخه بهر اطرافو یا محلاتو نه بهر پېښه ایښي ده چې له ستوډیو بهر د غږ اخیستل ساده کار نه دی په یوه ستر تالار کې یو محفل په لار اچول کیږي او یا په ژوندی بڼه خپریږي د



(شکل۶:۳۴)https://www.holdenhillmusic.com.au/products/audio-tech-atr2020-

مایکروفونونو نصب کول په ساده کیفیت سره او د تالار د جوړښت څرنګوالی پیچلی دی په هر ځای کې  ستوډیو شته چې وکولی شي د غږ د انګازې په مورد کې او یا ددیوالونو جوړښت او د هغې فضاء مطمئینه ده ځکه چې پرته د جهتي ځانګړتیاؤ حساسیت په نظر کې نیولو نه که چیرته مایکروفون په داسي ځای کې ځای پر ځای شي دروند کیفیت تغیر مومي څرنګه چې دچنګ غږ په پیانو باندې بدل شي نو پدې اساس د مایکروفون کیښودل یو حساس او پیچلی هنر یا فن دی چې زیاتې هوښیار غواړي حتا په ساده بڼه کې د مایکروفون ځای د اهمیت وړ دی دا ځکه چې لږ غونډې هم مایکروفون د هغې د تاکل شوي زاویې څخه بهر شي نو غږ به ثبت نه شي د مایکروفون کیښودل پدې موخه چې تولید شوی غږ د سرچینې سره ورته والی لري دا د تجربې او دغږ په صحي کارولو پورې کاملاً اړه لري.

## ۶، ٦٣- د مایکروفون ډولونه

د تکنالوژی په اوسني عصر کې او داختراعاتو سرعت او پراختیا موندل چې خورا ستونزمن کار دی چې د هغې لاسته راوړنې یې دسته بندي کړو په همدې بڼه د ژوند اهنګ د تکنالوژی په مرسته هم تیز شویدي وسایل او تجهیزات هره ورځ تغیر مومي او نوي کیږي نو بناً هغه څه ته چه پدې کربنو کې څو ډوله مایکروفونو ته اشاره کیږي مطمئیناً ددی کتاب تر ختم پورې کیدای شي د مایکروفون په ډولونو کې زیاتوالی راشي. دلته په لنډ ډول څو ډوله مصنوي مایکروفونو ته دهغوی د ځانګړیو حساسیتونو کې نیولو سره د هغوی جهت د لاس ته راوړنې موارد یې معرفي کیږي د هغوی دفزیکي او داخلی جوړښت یو بیل بحث دی چې موږ یې دلته کوو به کلي ډول مایکروفون په څلورو اساسي برخو باندې ویشل شوي او ټول موجود مایکروفونونه د خپل جوړښت او کړنو له نظره یوه اصلي ډول پورې اړه لري.

دغه څلور ډوله عبارت دي:

۱ــ مایکروفون ډینامیک پیچي سیم والا

۲ــ خازني مایکروفون

۳ــ نوري مایکروفون

۴ــ کریستالي مایکروفون

## ۶، ٦٤- د مایکروفون د نصب کولو وسایل

۱ــ **د ځمکې پر مخ پایې :-** ستنډرډ پایی دي چې د (۳۰) سانتیو څخه تر یو نیم متر پورې وجود لري ، مایکروفون ، پخپله پورتنیی برخه کې د ګیرا پوسطه

کلکیږي د نوموړي پایې لاندې برخه معمولاً ستناد د دریدو لپاره یې وي د نوموړي پایې څخه استفادي په وخت کې پکار ده چه دپایې سره د مایکروفون سیم لګیدلی په ځمکه باندې مخکم شي تر څو ستونزې رامینځته نه کړي او مجري هم د هغې د کار وړنې په وخت کې د خپرونې د غږ پیدا کیدل پخپل حد کې سرته ورسوي یعنی د مایکروفون له ځان څخه چې ثابت دی زیاته فاصله ونه نیسي

٢ــ **د میز پر سر پایې** :- د میز پر سر پایې د مایکروفون د نصب کولو لپاره یوه وسیله ده چه په محتلفو اندازو سره وجود لري . ددغو پایو معلومیدل نماګانو کې په ځانګړو خبري نماګانو کې ستونزه نلري ولې په نورو خپرونو کې هغومره مطلوبه نده نو په همدې دلیل کوښښ دې وشي ترڅوپه وسایلو کې مخفي شي د دا ډول پایو څخه د ګټې اخیستلو په وخت کې به ګوته باندې د میز پر مخ چیغې ما چیغې مکوی او د خبر وخت کې خپل مخ د مایکروفون له طرف یا جهت ته مه وراړوی.

